م. احمد زیار

# پښتو او پښتانه
# د ژبپوهنې په رڼا کې

## (له ساکي مخینې سره)


د یوناني سکندر باختري مېرمن روښانه Roxana

یم څو سهاکه، ستانه نه یم
ښېرې مې وکړې ژنې وینې غورځوینه

# پښتو او پښتانه

# د ژبپوهنې په رڼاکې

(له ساکې مخينې سره)

PROPERTY OF ACKU
33492

پوهاند دوکتور م. احمد زيار

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00033492 9

د چاپ رښتې(حقوق) د ساپي د پښتو څېړنواوپراختيا مرکز سره خوندي دي. ترې په ګټه اخيستنه کې د اخځ ښوونه اړينه ده.

## ليکـې پـوهـه:


ليکی : پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې (له ساکي مخينې سره)

ليکوال : پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار

خپرندوی : د ساپي پښتو څېړنو او پراختيا مرکز

نومليك اوډونکی : محمد آصف صميم

اوډګر : حفيظ الله غښتلی، محمد سعيد "حسيني"

چاپنېټه : ۱۳۷۹ - 2001

چاپشمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

بيه :

پته : د ساپي دپښتوڅېړنو او پراختيا مرکز، دوتر ۳۱۴ درېيم پوړ، ګل حاجي پلازه، يونيورسټي روډ، پېښور ښار

خپورځی : شينواری پرنټينګ پريس


## د پښتنې د لومړي مخ د عکس شرحه

داچې روښانـه (Roxana) د مقدونـي سـکندر مېرمـن، د بدخشــان د يـوه کېسارتيس نومي سرغنه لور ښوول شوې، په زيات باورله هماغه ساکي ټبر سره تړاو درلوداى شي چې په پښتنو يې اړه درلوده (د مورګنسـتيرنې او پوهـاند جـاويد، آسـمايي، د ۱۳۷۹ پسـرلنی ګڼه يــې ۴۳ مــخ اړونـدې څرګندونې).

بسم الله الرحمن الرحيم

د نومهالي پښتو ژبپوهنې مخکښانو:
دارمستېتر، ګايګر او ګران استاد مورګنستيرنې ته
چې زه يې په آر او رښتيني ډول
له خپلې ژبې او تېر مهاله خبر کړم.

*زيار*

## منـــنـــه

ددغـه تـاريخي ښـير په کمپيوټري لـګښت کې د پښتنـې مينـې سـاډوبي هنرمند او ليکوال لطيف بـابي او په چاپي لګښت کې د پښتو پرمختيـا د منځي د څښتن امام الدين ساپي د پښتني پېرزوينو درناوی او مننه خپله پښتني پازه ګڼم.

*پوهاند مجاور احمد زيار*

ACKU

# نيو ليك

| سرليک | مخکنه |
|---|---|
| دژبېوهنې په رڼاکې پښتو او پښتانه (پوهاند دوکتور محمد رحیم الهام) | یووم |
| سریزه | الف- ی |


## ۱ – څپرکی

**ساکان (سکه، ساک، سیتان، سکېستیان، سکیتیان...)**

| | |
|---|---|
| **د خپل تېر مهال په کړ کېچو کې** | ۱ |
| ۱ – ۱ : تولیزه (عمومي) پېژندنه | ۱ |
| ۱-۱--۱: بېلابېل نومونه | ۲ |
| ۱-۱-۲ : له قفقاز ( کوکاس ) تر آریانا | ۲ |
| ۱-۱-۳: ګروهې او خدایګوتې یا ارباب الانواع | ۴ |
| ۱_۱_۴ : ژبه | ۶ |
| ۱- ۱- ۵ : د سیاسي غورځنګ پیلامه | ۷ |
| ۱-۱-۶ : ساکان که کاسیان؟ | ۷ |
| ۱-۲ : ساك او ساکي په آریاني ژبتو کمیزه اډانه کې | ۸ |
| ۱-۲-۱: هندو اروپایي ژبنۍ کورنۍ | ۸ |
| ۱-۲-۲ زوړ پېر (- ۲م ز) : ۱- اوستا ، ۲ – زړه پارسي، ۳- مادي یا میدي ژبه ، ۴ – پارتي، ۵- ساکي | ۸ |
| ۱-۲-۳ : ډلبندي | ۱۰ |
| ۱-۳: د ساکي ژبې او فرهنګ پاتمرې (میراث) | ۱۱ |
| ۱-۳-۱ : هنر و ادب | ۱۱ |
| ۱-۳-۲ : له اوسیتي او پښتني فرهنګ سره اړیکي | ۱۲ |

۱-۳-۳: سکه د "څکېدونکي"، "خوځنده" او "کوچي" په مانا ۱۲
۱-۳-۴: کاسپین او کوکاس ۱۴
۱-۳-۵ : دکوکاس او خوتن اساطیراو افسانې ۱۵
۱-۳-۶ : اساطیرې او افسانې (ققفاز- ختن) ۱۶
۱-۳-۷: په تکله مان کي د مومیایي درنګو څرك ۱۷
۱-۴ : د ساکانو ټاټوبی او ټبر ۱۷
۱-۴-۱ : ځایونه او نومونه ۱۷
۱-۴-۲ :کشم او اشکاشم یا کسم او سکاسم ۱۹
۱-۴-۳ :ټبرنی وېش ۲۰
۱-۴-۴: کڅوال (ساحلي) ساکان ۲۰
۱-۴-۴-۱: سیستان ۲۱
۱-۴-۴-۲: دریا (سمندر که سیند؟) ۲۲
۱-۴-۴-۳: د اوستا سوکه Sauka ۲۳
۱-۴-۴-۴: تور سمندرګی که د سیستان سیندګی ۲۵
۱-۴-۴-۵: له بابله تر چینه ۲۶
۱-۴-۴-۶: د هومه ورګه ساکوټلواله (په پامیر کې ۱۰۰۰م ز) ۲۷
۱-۴-۵ : ساکان او زرتشتی دین ، اوستا ۲۸
۱-۴-۵-۱: د اوستا سیریم او ساکي سیریمان> سلیمان ۲۸
۱-۴-۵-۲ :له بابله تر مصره ۲۹
۱-۴-۵-۳ :له دونه تر والګا ۳۰
۱-۴-۵-۴ :له پارسیانو، پارتیانو او میدیانو سره جنګ جګړې ۳۰
۱-۴-۵-۴-۱ : له کوروشه تر داریوشه ۳۱
۱-۴-۵-۴-۲: د ساکو د ټولواکمنې تامیریس (زرینې) له خوا
د کوروش وژنه ۳۱
۱-۴-۵-۵ : د ساکستان او پامیر بېلتون ۳۳
۱-۴-۵-۶ : له مقدوني سکندر سره ۳۳

## ۲- څپرکی

### ساکان د افغاني دولت د پیلامګرو او پاینتګرو په توګه


۲-۱ :له آریاتوبي ( ختیزې آریانا ) سره ژبنو کمیز اړیکي ۳۵
۲-۱-۱ : له زرتشتبزم څانژغورنه ۳۶
۲-۱-۲ : له سکندره تر یونان - باختري دولته ۳۶
۲-۱-۳ : له ساکستانه تر هندو ساکایي دولته ۳۷
۲-۲: ساکان او زوزات یې ۳۹
۲-۲-۱ : ساکان اوافغاني تاریخپوهان ۳۹
۲-۲-۲ : د ساکانو یولنډتاریخی جغرافیایي انځور ۴۰
۲-۲-۳ : د یونان - باختري واکمنۍ راپرځونه ۴۲
۲-۲-۴ : له موګا تر دویم از پس ساکي واکمن ۴۲
۲-۲-۵ : پهلوایان ۴۳
۲-۳ : کوشاني دولت (۴۰-۲۲۰ ز) ۴۴
۲-۳-۱ : له کجولوکدفیزس تر کنیشکا پورې ۴۴
۲-۳-۲ : لوی او کوشني واکمنان ۴۵
۲-۴ : کوشني کوشانیان (کیداریان) ۴۶
۲-۴-۱ : د ساسانیانو پرمختګ ۴۶
۲-۴-۲ : له دروګونو د بنو سره نرمښت ۴۶
۲-۵ : یپتلي دولت (۲۲۰-۴۲۵ ز) ۴۷
۲-۵-۱ : یپتلان د کوشانیانو د یوې څانګې په توګه ۴۷
۲-۵-۲ : له ایتالیتو تر مهیراکولا ۴۷
۲-۶ : سیمه واکۍ او تېرواکۍ (بدخشان، غرجستان، بامیان،...) ۴۹
۲-۶-۱ : د پردیو اغېز ۴۹
۲-۶-۲ : د کابلستان دولتي واك ځواك ۵۰
۲-۷ : د تورکي توکمو لومړی څرك ۵۱
۲-۷-۱ : تورکي ـ ساساني تړلواله ۵۱

۲-۷-۲ : په شمال کې ۲۷ تورکي خانخانۍ ۵۲

**۳- څپرکی**

**سکه ژبې (د ساکانو ژبې)** ۵۳
۳-۱ : زوړ ژبنی یا ګړدودي پړاو ۵۳
۳-۱-۱ :منځنی پړاو (خوتن، تو مشوق او مورتوق...) ۵۳
۳-۱-۲ : هندي ـ بودايي متنونه ۵۶
۳-۱-۳ : له ۷مې تر ۱۰ مې زېږدي پېړۍ ۵۶
۳-۱-۴ : د سکه Saka مانا (وجه تسمیه) ۵۷
۳-۲: خوتنو، خوتني یا خوتن ساکي د منځنۍ شمال ختيزې ۵۷
آرياني ژبې په توګه ۵۸
۳-۲-۱ : خوتني د ګڼو ساکي ژبو یوه بېلګه ۵۸
۳-۲-۲ : ادبي لاسوندونه ۶۰
۳-۲-۳ : لیکنۍ مخینه ۶۰
۳-۲-۴ : خوتني د بودايي دین د یوې ژبې په توګه ۶۰
۳-۲-۵: د خوتنۍ د ګړدودونو د شتوالي کېدون ۶۱
۳-۲-۶ : د زړې آريانۍ ( ساکۍ ) وییپانګه ۶۲
۳-۲-۷ : تارم، خوتن، کاشغر ۶۳
۳-۲-۸ : د خوتنۍ نوې بڼې ۶۴
۳-۲-۹ : په خروشتي متنو کې ۶۵
۳-۲-۱۰: خوتني لیك ۶۶
۳-۲-۱۱: په هندي براهمي لیك کې ۶۸
۳-۲-۱۲: خپلواك (واولونه) ۷۰
۳-۲-۱۳: بېواك (کنسونټونه) ۷۰
۳-۲-۱۴: غږ ارزښتونه ۷۰
۳-۲-۱۴-۱ :د خپلواکو غږ ارزښت ۷۱
۳-۲-۱۴-۲ :دبېواکو غږ ارزښت ۷۲
۳-۲-۱۴-۳ :د خوتن ساکي بېواك (غبرګ او یووستوي سېمبولونه) ۷۴



ACKU

## ۴ ـ څپرکی


د پښتو شمال ختیز آریاني دریځ د ساکیوالي د بنسټ په توګه ۷۵
۴-۱ : د پښتو آریانیوالی ۷۵
۴-۱-۱ : د پښتو شمال ختیزوالی ۷۶
۴-۱-۲ : غړ پوهه او ګړ پوهه د ژبات غوره لاسوندونه ۷۶
۴-۱-۳ : دارمستېټر له هندیوالي او نیم هندیوالي څخه تر بشپړ آریانیوالي او شمال ختیژ والي پورې ۸۱
۴-۱-۴ : د پښتوانا د اوستا د خور په توګه (د څ ـ خ بېلتون) ۸۶
۴-۱-۵ : د ګایګر پخلی (اوستا ū - پښتو i) ۸۷
۴-۱-۶ : مورګنستیرنې د پښتو د ساکیوالي د لیدتوګې نوښتګر ۹۲
۴-۱-۷ : د ترې څرګندونې او ارزونې ۹۵
۴-۱-۸ : د پښتو ـ هندي وېله اغېزې ۱۰۱
۴-۱-۹ : د پښتو سیاسي ـ فرهنګي ستونزې ۱۰۲
۴-۱-۱۰ : د تولنیز تاریخ له پلوه ۱۰۴
۴-۱-۱۱ : د پښتو ګرامري او لېکزیکي ارکایېزم ۱۰۵
۴ - ۲ : د هخامنشي (پارسي) مېخي ډېرلیکونو راپښتو کول ۱۰۷
۴-۲-۱ : له ګلجنان ظریفه تر پروېش شاهینه ۱۰۷
۴-۲-۲ : د راخپلونې بېځایه هڅې ۱۱۰
۴ -۳ : د پکهت او پکتویس زړه ببولاله ۱۱۲
۴ -۳-۱ : له پکتویسه تر پرثوانه ۱۱۲
۴ -۳-۲ : له هېرودته تر تاینبي پورې ۱۱۵
۴- ۴ : د "پښتانه = پرثانه" نوې ببولاله (پالوال) ۱۱۹
۴-۴ -۱ : یو نوی چېلنج ۱۱۹
۴-۴-۲ : له پرثانه تر ارسکه (اڅکه) ۱۲۵
۴-۵ : پښتو او پښتانه له شمال ختیځه تر سوېل ختیځه ۱۳۱
۴-۵-۱ : د ډلبندۍ تاکنده سرغړونه ۱۳۱


ACKU

۴-۵-۲: په ځاینومونو (هېلمند، خاشرود، ژوب، اورګون، پښین...)
کې د پښتو او پښتنو ځرك ۱۳۴
۴-۵-۳ : ونېځي (ترینو) د منځني پېرپښتو ګړدود ۱۳۶
۴-۵-۴ پښتني ادب او فولکلور دیوې سرچينې په توګه ۱۳۷
۴-۵-۵ : دپښتو ادب لانجمنه مخینه ۱۳۸
۴-۶: غور د پښتنو د یوه لرغوني ټاټوبي په توګه ۱۳۹
۴-۶-۱ : د رېګوني پښتانه ایماقه ۱۳۹
۴-۶-۲ : له ضحاکه تر سهاکه (ساینسي افسانه) ۱۴۱
۴-۶-۳: د غورشاهزی او بي بي متو ۱۴۴
۴-۶-۴ : اوسني ځاینومونه او تېرنومونه (ساك او كاس) ۱۴۶
۴-۶-۵ : اتنوګرافیکي څېړنې ۱۴۷
۴-۶-۶ : پښتو ارکایېزمونه د پښتنو تاریخي جغرافیا ۱۴۸
۴ – ۷ : د ساکي – پښتو اتیمولوجیك اړیکي ۱۵۰
۴- ۸ : د ساکي –پښتو فونولوجیك اړیکي ۱۶۴
۴-۸-۱ : ونجېدونکې غږپوهې ۱۶۴
۴-۸-۲: د غږونج ورتوالی ۱۶۵
۴-۸-۲-۱: د څپلواکونج (واولي تغییر) له پلوه ۱۶۵
۴-۸-۲-۲ : د بېواکونج (کنسوننتي تغییر) له پلوه ۱۶۵
۴-۸-۲-۳: سربېواکوړي (initialclusters) ۱۶۶
۴-۸-۲-۴: څ (ts) او ځ (dz) ۱۶۶
۴-۸-۲-۵: ند-، و نګ- ۱۶۶
۴-۸-۲-۶: سرغږ –ی > ج ۱۶۷
۴-۸-۲-۷ :سرغږ –υ > –او- ۱۶۷
۴-۸-۲-۸:رك > رګ او رپ -> رب- ۱۶۷
۴-۸-۲-۹ –رت-> ډ او -رد-> ل ۱۶۷
۴-۸-۲-۱۰ : خش-اوفش-> کښ- ۱۶۷
۴-۸-۲-۱۱ : -خت-او-غد-> - خ-اوغ ۱۶۷

ACKU

۴-۸-۲-۱۲: - سر-> ښ ۱۶۸
۴-۸-۲-۱۳: ګن-> ن ۱۶۸
۴-۸-۲-۱۴: - ثو-> - ه- ۱۶۸
۴-۸-۲-۱۵: رن-او رشن> ر ۱۶۸
۴-۸-۲-۱۶: رش> ر ۱۶۸
۴-۸-۲-۱۷: دځپلواکو (واولو) غورځېدنه ۱۶۸
۴- ۹: نوم او ړون یا اسمی ګردان (nominaldeclination) ۱۶۸
۴-۹-۱: یو لوړ اوړوني (تصریفي) پړاو ۱۶۹
۴-۹-۲: ځانګړي نومځري (شخصي ضمیرونه) ۱۶۹
۴-۹-۳: شمېرنومونه ۱۶۹
۴- ۱۰: کړاوړون یا د فعل ګردان (conjugation) ۱۷۰
۴-۱۰-۱: وسمهالکړستاینوم (فاعلی صفت) ۱۷۰
۴-۱۰-۲: نوموال او کړوال روستاړي ۱۷۰
۴-۱۱: له پامیري ژبوسره نژدېوالی د پښتو د ساکیوالي یو بل لاسوند ۱۷۱
۴-۱۱-۱: له پامیره تر خوتنه ۱۷۱
۴-۱۱-۲: د پښتو – مونجی "ل" <ذ ۱۷۱
۴-۱۱-۳: "زه" < "ازه" ۱۷۲
۴-۱۱-۴: "ل" < ث ۱۷۲
۴-۱۱-۵: "څلور" < چشیر (یبدغا) ۱۷۲
۴-۱۱-۶: -در- < -ثر-، ور < فر ۱۷۲
۴-۱۱-۷: ست / زد (سنګلېچي) ۱۷۲
۴-۱۱-۸: -رس-> ښ+س> س+ خ او ږ+ز ۱۷۳
۴-۱۱-۹: څنګ تر څنګ ټاټوبي ۱۷۳
۴-۱۱-۱۰: زړه پښتو او زړه اوستا ۱۷۳
۴-۱۱-۱۱: پښتواو شوغني ۱۷۴
۴-۱۱-۱۱-۱: د "ښ، څ، ځ، ږ" ګډون ۱۷۵
۴-۱۱-۱۱-۲: غوږ، ناست، خورم، یوسه، ځم، څه، مېه، پرخه، مږ... ۱۷۵

ACKU

| | |
|---|---|
| ۴-۱۱-۱۱-۳ : خوشنظرد مورگنستیرنې پرېله | ۱۷۷ |
| ۴-۱۱-۱۱-۴: د پښتو او واخی (ښیك) غبرگژبیزښ، ډ ، ټ | ۱۷۷ |
| ۴-۱۲ : ساکي ستي او آرياني آري پښتواو پښتانه | ۱۷۸ |
| ۴-۱۲-۱: ژبتوکمیزسمون | ۱۷۸ |
| ۴-۱۲-۲: د پښتنو دآرې شخړه | ۱۷۸ |
| ۴-۱۳ : پښتانه ټول سکه دي، ناسکه پکې نشته | ۱۸۱ |
| ۴-۱۳-۱: د پښتنو برخیز ساکیوالی؟ | ۱۸۱ |
| ۴-۱۳-۲: له بشپړ ساکیوالي سره نابانډوالی | ۱۸۱ |
| ۴-۱۳-۳: د ښنو ته پلمه برابرول | ۱۸۳ |
| ۴-۱۳-۴: پنځگوني پښتني ټبرونه | ۱۸۵ |
| ۴-۱۳-۵: د پښتني ټبرئومونوارکاییزم | ۱۸۹ |
| ۴-۱۳-۶: پرتلیزسوچوالی | ۱۹۰ |
| ۴-۱۳-۷: پر "پکت او پکتویس" ټینگار د لرغونپالنې زېږنده! | ۱۹۳ |
| ۴-۱۴ : پښتو او پښتانه سره نه بېلېدونکي دي | ۱۹۵ |
| ۴-۱۴-۱: پښتون او پښتو یوراز مخینه لري | ۱۹۶ |
| ۴-۱۴-۲: پښتانه د پښتو ژبې جوړوونکي | ۱۹۷ |
| ۴-۱۴-۳: د "افغان" او " پښتون " مانیزیووالی | ۲۰۱ |
| ۴-۱۵-: د غلجي او ابدالي د تورکیوالي زړه ببولاله | ۲۰۲ |
| ۴-۱۵-۱: د بېلتو پالنې انگېزه | ۲۰۲ |
| ۴-۱۵-۲: پرزړو شخوندوهنه | ۲۰۳ |
| ۴-۱۵-۳: سپین هونان او یوچیان ناسمې چیني نومونې دي | ۲۰۳ |
| ۴-۱۵-۴: له فوکس اتېمولوجۍ تر علمي اتېمولوجۍ | ۲۰۴ |
| ۴-۱۵-۵: ټکرویيونه (accidental words) | ۲۰۶ |
| ۴-۱۵-۶: له منطقي او علمي پلوه | ۲۰۹ |
| ۴-۱۵-۷: ټول ساکان پرېده وهل | ۲۱۲ |
| ۴-۱۵-۸: دیورنگی (assimilation) څنډن بهیر | ۲۱۳ |
| ۴-۱۵-۹: پښتو نولي لکه پولادي دېوال | ۲۱۶ |


ACKU

۴-۱۵-۱۰: سکه او ناسکه ۲۱۷
۴-۱۵-۱۱: تورك -مغولي توکم نه پتېږي ۲۱۸
۴-۱۵-۱۲: د نوم او نومولي نه سمون ۲۱۹
۴-۱۶: د هزاره وو د تورکیوالي تېرس او د پښتنو د تورکیوالي
بې سربوله هڅې ۲۲۲
۴-۱۶-۱: پامور توپیرونه ۲۲۲
۴-۱۶-۲: له شهرستاني تراعی ۲۲۶

## ۵- څپرکی

پښتواو پښتانه په دربم ژبني" اسلامي" پېرکې ۲۳۳
۵-۱ : تاريخي - جغرافيايي سرچينې ۲۳۳
۵-۱-۱: سيمه واکۍ او بلواکۍ ۲۳۳
۵-۱-۲: له عربوسره دوه پېړيزې جنګ جګړې ۲۳۴
۵-۱-۳: ملي غورځنګونه او پښتني ټبرواکۍ ۲۳۴
۵-۱-۴: د شتوالي او مېشتوالي څرکونه ۲۳۶
۵-۱-۵: پټه خزانه له غورو ادبي -تاريخي سرچينو څخه ۲۳۹
۵-۱-۶: تذکره الاولياء د ليکنۍ پښتو لومړنی لاسوند ۲۴۰
۵-۲: پېټال او ابدال ۲۴۲
۵-۲-۱: د ناڅرګند تاريخي څپرکي څرك ۲۴۲
۵-۲-۲: دابدالو او پېټلو ژبتوکميز يووالی ۲۴۳
۵-۳ : پښتانه د اسلام په درشل کې ۲۴۷
۵-۴ : يو يوازينی ملي دولت او کنفدراسي، د پښتنويو
بشپړتيايي پړاو ۲۴۸
۵-۴-۱ : يوه منطقي پايله ۲۴۸
۵-۴-۲: د امير عبرالرحمان زورواکي که تولواکي؟ ۲۵۰
۵-۴-۳ : د پښتنو لوړه سياسي خانخبري ۲۵۱



ACKU

۵ - ۵ : د "پښتون" څرمه نومونه: افغان، اوغان، روهي، روهیلی، سلیماني، پټهان ۲۵۲
۵ - ۵ -۱ : آر او پردي نومونه ۲۵۲
۵-۵-۲: ګډ غرنی جاج ۲۵۳
۵-۵-۳: پټهان د <"پښتانه " هندي وینګ دی ۲۵۴
۵-۵-۴ : د سلیمان او سلیماني آره او ریښه ۲۵۴
۵ -۵-۵ ap+ xan "پټمن خان" ۲۵۵
۵-۵-۶ : افــغان او افــغاني د ملي - هېوادني وکــــر (هویت) پخوانی پیلامه ۲۵۶
۵ -۶ : د سلیمان او سلیماني آره او ریښه ۲۵۷
۵-۶-۱: د اسراییلوالي دمامه د شپارسمې پېړۍ زېږنده ۲۵۷
۵-۶-۲ : له ساکی سریمان تر سلیمان ۲۵۹
۵-۷: د افغانستان او پښتونخوانومونه ۲۶۰
۵-۷-۱: د مخیني شخړه ۲۶۰
۵-۷-۲ : له بابا هوتکه تر خوشال ختیکه ۲۶۲
۵-۸ : خراسان (خوراسان) ۲۶۴
۵-۸-۱: له خراسان سره د پښتنو اړوندي ۲۶۴
۵-۸-۲: له برخیزوالي تر ټولیزوالي ۲۶۶

## ٦- څپرکی

### د افغانستان اوسنی ژبتوکمیزرغښت

(Ethno –linguistic composition of Afghanisgan)

۶-۱: په افغانستان کې د ژبتوکمیزي رنګارنګۍ پیلامه ۲۶۸
۶-۱-۱ : بېلابېل توکمونه ،ژبې او دینونه ۲۶۸
۶-۱-۲ : د پېتل -کوشاني (باختري) ژبې پایله ۲۶۹
۶-۱-۳: د پرسنایزښن بهیر ۲۶۹
۶-۱-۴ : له پارسۍ سره د پښتو ملي ، فرهنګي او سیاسي سیالي ۲۷۰

۶-۲-: له چنګېزه تر انګرېزه ۲۷۰
۶-۲-۱: مغول او مغولواله ۲۷۰
۶-۲-۲ : د شلمې پېړۍ درېګوني غورځنګونه ۲۷۲
۶-۲-۳: " افغان " ګډه ملي پېژندنښه ۲۷۲
۶-۲-۴:د بېلتونپالنې ناکامې هڅې ۲۷۳
۶-۳-: څلورګونې ژبتوکميزې ډلې ۲۷۴
۶-۳-۱: دډېرتوکمۍ او ډېر ژبۍ لاملونه ۲۷۴
۶-۳-۲: توکمپوهنيزې او ژبپوهنيزې پلټنې ۲۷۴
۶-۳-۳ : د افغانستان بېلابېلې اوسنۍ ژبې ۲۷۵
۶-۳-۴: لويې او کوشنۍ ډلې ټپلې ۲۷۵
۶-۳-۵: وګړشمېرنې او سلنې (فيصدۍ) ۲۷۶
۶-۳-۶ : د انقلاب او ضد انقلاب ناسکيندی ناتار ۲۷۷
۶-۳-۷: د " مليت " دنومونې تخنيکي نيمګړتيا ۲۷۹
۶-۳-۸: د شمال او سوېل تاريخي ـ جغرافيايي اړوندي ۲۸۰
۶-۳-۹: پاړکيزې که توکميزې ربړې؟ ۲۸۲
۶-۳-۱۰: وګړني ضداو ژبني ضد سياستونه ۲۸۵
۶-۳-۱۱:له توکميزکه له ژبيز اړخه؟ ۲۸۷
۶-۳-۱۲: د وګړشمېرنې ليکلړ ۲۸۸
۶-۳-۱۳: د افغانسان د بېلابېلو توکمونواو ژبتوکميزو ډلو شمېرې او سلنې ۲۹۰
۶-۴: پنځګوني پښتني ټبرونه ۲۹۱
۶-۴-۱: پښتونې (شجرې) ۲۹۱
۶-۴-۲: ۲۹۲
۶-۴-۳: ۲۹۳
۶-۴-۴: ۲۹۴
۶-۴-۵: ۲۹۵

## ۷ - څپرکی


د پښتو ګړدودي وېش، د تېرني او سیمه ییز وېش ښکارندوی ۲۹۶
۷-۱: د ښ او ږ څلورګونی وېش ۲۹۶
۷-۱-۱: لومړۍ ډله (لویدیز یا کندهاري، ګړدودونه ۲۹۸
۷-۱-۲: دویمه ډله (سوېل ختیز) ګړدودونه ۲۹۹
۷-۱-۳: درېیمه ډله (منځني) ګړدودونه ۲۹۹
۷-۱-۴: څلورمه ډله (شمال ختیز یا ننګرهاري) ګړدودونه ۳۰۰
۷-۲: یوازې د "ښ" پربنسټ څلورګونې ډلې ۳۰۰
۷-۲-۱: له لویدیځه تر ختیځه ۳۰۱
۷-۳: بدلونونه پرشانه ځي ۳۰۲
۷-۳-۱: منځنی س <ش <س (دېرس، مسر، کسر...) ۳۰۲
۷-۳-۲: ننګرهاری ج < ژ < ج ۳۰۲
۷-۴: تېرنۍ اروندي او کوچیانۍ ډلې ۳۰۳
۷-۴-۱: د شمال پښتانه له خپلو ګړدودونو سره ۳۰۳
۷-۴-۲: د شمال لویدیځ پښتانه ۳۰۴
۷-۵: د ګډژوند او یووالې نښانې ۳۰۵
۷-۶: د یوې یوازېنۍ کره لیکنۍ پښتو پرمختیایي بهیر ۳۰۶
۷-۶-۱: له ګړدودي ښوتر ژبنۍ ښې ۳۰۶
۷-۶-۲: پښوییزه (ګرامري) یورنګي - وییزه (لغوي) رنګارنګي ۳۰۶
۷-۶-۳: کره لیکنۍ پښتو له ۱۹۱۵ ز تراوسه ۳۰۷
۷-۶-۴: کره لیکنۍ ښه په خپل سر منځته نه راځي ۳۰۸
۷-۶-۵: د یوه یوازیني ګړدود پرځای د ټولو ګړدودو غورچاڼ ۳۰۹
۷-۶-۶: پروسیجر (چلند ښېلګه) ۳۰۹
۷-۶-۷: د باره ګلې لیکلار، یو نیمګړی لیکدودي سمون ۳۱۰
۷-۶-۸: له شمالي تر سوېلي پښتو نخوا ۳۱۱
۷-۷: نوې وییرغاونه یا نیولوجېزم (Neologism) ۳۱۲
۷-۷-۱: د مخبېلګوله مخې ۳۱۲

۷-۷-۲: بېلنګ (اشتقاق) او ترنګ (ترکيب) ۳۱۳
۷-۷-۲-۱: بېلنګ = يووستوی ويی + تاړی ۳۱۳
۷-۷-۲-۲: ترنګ=ويی + ويی ۳۱۳
۷-۷-۳: په پښتو کې د نوې ويېرغاونې مخينه ۳۱۳
۷-۷-۴: له اميرشېرعليخانه تر وسمهاله ۳۱۴
۷-۷-۵: وروستنی علمي – مېتوديك غورځنګ ۳۱۵
۷-۷-۶: څلورګونی انډول ۳۱۶
۷-۷-۷: نړيوېزونه (انترنېشنلېزمونه) ۳۱۶
**پايځوړ** ۳۱۸
آريا ۳۱۸
اريانا ۳۱۹
ارياني ۳۲۰
افغان ۳۲۲
افغانستان ۳۲۳
آمو سيند ۳۲۴
اوېستا ۳۲۵
آهورا مزدا ۳۲۶
باختر ۳۲۸
پارسي (فارسي) ۳۲۹
پښتو ۳۳۱
پښتون ۳۳۳
تخاري (توخاري) ۳۳۴
تور سمندرګی ۳۳۵
چيني تورکستان ۳۳۶
خراسان (خوراسان) ۳۳۷
ختن (خوتن) ۳۳۸
زرتشت ۳۳۹

ACKU

| | |
|---|---|
| زرتشتیزم | ۳۴۱ |
| زړه پښتو | ۳۴۲ |
| ساك، ساکان، ساکه | ۳۴۴ |
| ساکي ژبه | ۳۴۵ |
| سردریا | ۳۴۶ |
| سیستان | ۳۴۷ |
| قفقاز، کوکاس | ۳۴۸ |
| کاسپین، کسپین | ۳۴۹ |
| کشمیر، کاشمیر | ۳۵۰ |
| منځنۍ پښتو | ۳۵۱ |
| هندو اروپايي کورنۍ | ۳۵۳ |
| د غړونج له مخې ډلبندي | ۳۵۵ |
| ۱) هندو آرياني لښتيليك | ۳۵۶ |
| ۲) آرياني لښتيليك | ۳۵۷ |
| جېمزدار مستېتر | ۳۵۸ |
| ویلهلم ګایګر | ۳۶۴ |
| ګیورك مورګنستیرنې | ۳۶۹ |
| وګړ نومونه | ۳۸۳ |
| ژبنومونه | ۴۱۰ |
| ټبرنومونه | ۴۱۸ |
| کتابنومونه | ۴۳۳ |
| دينونه، مذهبونه او نومونه | ۴۳۷ |
| پوهنيزې،ټولنې، منځنۍ او ځانګې | ۴۳۹ |
| اخځليك | ۴۴۰ |


ACKU

# د خپرندوی سریزه

دا زما او زما دنورو همکارانو لپاره د خوښۍ ځای دی چې د پښتني- افغاني فرهنګ او تاریخ په اړه دعلمي لیکنو څېړنو په لړ کې دغه ګټور او درون اثر د درنو مینه والو مخې ته ږدو. لکه څنګه چې له اړوندې سریزې څرګندیږي، دغه نوښتګرانه اثرد پښتو ژبې او پښتنو په باب د پوهاند دوکتور زیار دکلونو کلونو د اتنولېنګو یستیکي څېړنو پلټنو ببره ده. پوهاند صاحب په ټوله مانا پردې برې موندلی چې په دغه برخه کې هغو ټولو دودیزو "تا ویلیو- ما ویلیو" ته د پای ټکی کېږدي چې یو ګڼ شمېر ختېزو، لویدیزو او بیا خپلو پښتني او افغاني لیکوالو او تاریخوالو پرې څه نا څه نیمه زړی ځانونه ستړي کړي دي.

د ښاغلي لیکوال په خپله وینا کومه ستره انګیزه چې دی یې ددغه ژبني- وګړني تاریخي اثر کښلوته رالمسولی، هغه پښتني- افغاني ضد مورچه بندي ( جبهه ګیري ) ده چې دهېواد له تېرو او روانو ناخوالو او ناورینو څخه په ناسمه ګټه اخېستنه د یو شمېر افغان دښمنو بهرنیو او لنډ اندوکورنیو بېلتونپالو له خوا را مینځ ته شوې او نن سبا یې ورته بیا د جلاوطنۍ تر چتر لاندې یوه پرله غښتې ( سېستماتیکه ) بڼه ورکړې ده. د ملي یو والی، ځمکنۍ بشپړتیا، ملي واکمنۍ او بیا ملي – تاریخي وکر (هویت) په وړاندې ددغو دښمنانه انګروزو یو څرك دپوهاند دوکتور محمدحسن کاکړ له هغه غبرګون څخه هم راڅرګندېږي. چې تېرکال له

همدغه ( ساپي ) مرکز څخه دېبلا بېلو ځوابيه ليکنو او تاريخي لاسوندو ديوه غونډ په بڼه خپور شوی دی.

پوهاند زيار په دې ګروهه دی، چې که څه هم په نړيواله کچه په هر ځوتوکميز او ځوتېريز هېواد کې د ډېر ښتي بومي واکمنو په وړاندې د لړه کيو ناخوښي او سرغړاوی لړ و ډېر دود لري، خو په افغانستان کې د نورو ګڼو لاملونو تر څنګه زموږ د خپلو ليکوالو او تاريخوالو يو لړ لمسوونکې او ناپوهنيزې ليکنې څېړنې هم دلته پوره ونډه درلودای شي. زموږ دوديزو پوهانو او په سر کې علامه حبيبي د دوديزو سرچينو او يا په ځانګړي ډول د نولسمې پيړۍ دختيځپوهانو دناسمو ليکنو څېړنو په لاسوند تل داهڅه کړې چې پښتو له پښتنو سره دزبات شويو دوه ګونو، هندو آرياني، ژبتوکميزو ډلو تر مينځ يوه ګرد سره جلا او خپلواکه او بيا تر ټولو لرغونې و ښيي او په دې توګه د جلال الدين صديقي، صديق فرهنګ يا د پوهاند کاکړ په اخځ سيد فرهاد ، پوهيالی امين فرهنګ، سمندر غورياني يا سيد عسکر موسوی، راعی برلاس او نجيب مايل هروي ( د څرګند ايرانې افغان - دښمن افشاريزدي انډيوال) غوندې لنډ اندي پښتني - افغاني ضد قلمي ټلوالې ته را ولمسوي.

پوهاند زيار ترهر څه له مخه د دروګونو وسمهالو لويديزو اريانپوهانو اوبيا پښتو پوهانو د انکار نه منونکو علمي بنسټونو، فونولوجيکو او اتېمولوجيکو څېړنو او ګروېږنو په رڼا کې پښتو ساکي ستې زباته کړې او همهال يې ورسره د توکمپوهنې ( اتنالوجي ) دمنليو آرونو ( اصولو ) له مخې پښتانه هم په تړاو کې راوستې دي. په ترڅ کې يې ديوه نيم نوي اکادميك پښتانه ليکوال دانوی تېزس هم ناسم زبات کړی چې ګوندې پښتانه د پنځګونو اريانې ( ايراني ) ټبرونو دننه دننه له ساکو او بيا پارتيانو سره توکميز يا په بله وينا ژبتوکميز تړاو لري. دوکتور زيار دنورو لاسوندو تر څنګه د هغې ټولنملې ارياني ژب- ډلبندۍ لښتليك ( جدول ) هم دکتاب په پای کې راوړې چې پارتي له پارسي او مادي ژبې سره په پرسيکه او ساکي د پښتو دنيا په توګه له اوستا سره په باختري ډله کې ښيي.

پوهاند زیار د هېواد د یوازیني آریاني فیلا لوجیت او په څرمه ډول اتنالوجیست په توګه دا علمي واك ځانته ورکړی چې ړومبی ځل داراز ژبتوکمپوهنیزه سکالو تر څېړنې او لیکنې لاندې ونیسي او په پوره بریالیتوب یې له توغه هم ووتلای شي.

مونږ باور لرو چې ددغه نوښتګرانه علمي اثر له خپرېدو سره به د غرض لیونیان نور دربښتیني علمي او قلمي مخامختیا (مقابلي) لپاره تشبانېي (خلع سلاح) شي او که د پخوا غوندې له دې سره سره له خپلولنډاندیو لاس هم وانه خلي. په علمي فرهنګي کړیو کې خو به په هیواد واله او نړیواله کچه خپل اعتباراو ویسا له لاسه ورکړي او آرو اصلي شوم نیت و نمات به یې ټولوته نور هم ډاګیزه شي.

د پوهاند زیار د لاډېرو علمي بریو او بریاوو په هیله
امام الدین ساپی، المان ۲۰۰۱

# پر دې کتاب یوه لنډه یادونه

دا ځل پوهاند ډاکټر زیار له یوې خورا ارزښتمندې ډالۍ سره له یورپ نه پېښور ته راغلی دی. دا ډالۍ همدغه کتاب دی، چې تاسې یې لولئ.

موږ به چې کله له مورګن سټیرنې او هربرټ پنزل سره، د خپلو تحصیلاتو په لومړنیو دورو کې، یا په ادبي، فلالوجیکي او ژبنیو څېړنیزو سیمینارونو، یا په درسي ټولګیو کې د دوی د لکچرونو په ترڅ کې مخامخ کېدو، نو راته ویل به یې چې: "موږ د لوېدیزې نړۍ د ختیځپوهانو ډلې ستاسې پر ژبو، تاریخ او فرهنګ باندې یو څه کار او څېړنې کړې دي، خو دا ستاسو خپل کار دی چې د خپلو قومونو او ژبو منشاء او تاریخ وڅېړئ؛ ځکه تاسې پخپله تر موږ ښه کولای شئ، دغه ډول څېړنې په کره او باوري توګه تر سره کړئ. تاسې په خپل فرهنګ کې دننه روزل شوي یاست، لیکلي او نالیکلي روایتي او تاریخي منابع درسره دي، خو باید صرف د دغو پوهنو اصول او علمي څېړندودونه له موږ څخه زده او بیا یې په خپلو څېړنو کې تطبیق کړئ." دوی به دا هم ویل: "موږ په دې تمه یو چې ستاسې څېړنې په دې برخه کې وګورو او موږ هم ترې ګټه واخلو."

لوېدیز ختیځپوهانو، په تېره بیا مورګن سټیرنې، دا خبره هم کوله چې افغانستان د قومونو، ژبو او فرهنګونو یو لوی میوزیم دی، په دې وطن کې کم یا زیات ۳۲ بېلا بېلې ژبې ویل کېږي، چې ځینې یې د ترې تم کېدو په حالت کې دي. تاسې باید ژر تر ژره دا ژبې ثبتې کړئ، فوکلوري ادب یې راغونډ کړئ، ګرامرونه او لغتنامې یې ولیکئ او خوندي یې کړئ. دا

ستاسې يو داسې ارزښتناك ميراث دى، چې د تاريخ، فرهنګپوهنې، ټېرپوهنې، ژبپوهنې او د قومونو د مهاجرتونو او ميشت كېدنو او ستاسې د تاريخي تكامل او ټولنيز جوړښت د راسپړلو په برخه كې، نه يوازې د افغانستان، بلكې د ټولې نړۍ د پوهانو او څېړونكو لپاره د ګټې اخېستنې سترې سرچينې وې. دغو ختيځپوهانو د افغانستان د دولتي مقاماتو، كابل پوهنتون او پښتو ټولنې اداري چارواكو پام هم د دغه ډول څېړنو او ورته د ځوانانو د روزنې لوري ته واړاوه. په پاى كې د روان فرهادي او سيد بهاء الدين مجروح په وړانديز او د افغانستان د هغه وخت د معارف د وزير ډاكټر علي احمد پوپل په سپارښتنه په كابل پوهنتون كې د افغانستان د ژبپوهنې انستيتيوت پر ۱۹۶۱م كال منځ ته راغى او د انستيتيوت شورى زه د دې موسسې د مدير په توګه وټاكلم. دغې پېښې، كه څه هم زموږ استادانو په روايتي څېړندودونو ژبپوهنيزې څېړنې كړې وې او كولې يې، په افغانستان كې يې د علمي او معاصرې ژبپوهنې يو بنسټ رامنځته كړ. د افغانستان د ژبپوهنې په انستيتوت كې د كار يو پراخ پلان جوړ شو، چې په هېواد كې دننه او بهر د افغاني ژبپوهانو د روزنې توك هم په كې و. له يورپ، امريكې او روسيې څخه افغانستان پېژندونكي راوبلل شول چې د كابل پوهنتون او پښتو ټولنې فلالوجېستانو ته سيمينارونه جوړ او لكچرونه په كې وركړي. يو كال وروسته، د يونسكو په مالي مرسته د ژبپوهنې انستيتيوت د افغانستان د ژبو اطلس جوړولو پروژه ومنله، د كابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو د پوهنځي له ځلمو پوهانو څخه يو ټيم جوړ شو، چې اول وروزل شي او بيا د ژبو په ثبتولو لګيا شي. په دې ډله كې زيار، اڅك او پالوال هم برخه لرله. دې ډلې د افغانستان درو او بانډو ته مخه وكړه او د ګړدود پوهنې د څېړندود له علمي اصولو سره سم، په ډېرو ناخوالو شرايطو كې د آرياني ژبو د ګړدودونو په ثبتولو لګيا شول او د ژبني (ګړدوديز) اطلس د تدوين لپاره يې ښايسته ښه مواد ثبت كړل. په آخر كې دغه مواد يونسكو ته وسپارل شول چې د افغانستان د آرياني ژبو اطلس

ورڅخه تدوین او بیا خپور شي. خو له بده مرغه تر اوسه پورې د هغه څرک ما ته و نه لګېده.

زه نه پوهېږم چې دغه مواد اوس چېرې او د چا په لاس کې دي؟[1]

په همدې ترڅ کې د انستیتیوت تر جوړېدو مخکې او وروسته ډېر کسان د عصري ژبپوهنې د زده کړې لپاره بهرنیو هېوادونو ته لېږل شوي وو او ولېږل شول، چې په هغوکې عبدالاحد یارې، نور احمد شاکر، حبیب الله تږی او ما پخپله په امریکا کې، عبد الحکیم هلالي، لودین، پولاد، ماه ګل، په شوروي اتحاد کې، اڅك، په هندوستان کې او زیار په یورپ کې د ژبپوهنیزو علمونو لوړې زده کړې تر سره کړې.

دا خلك په هېواد کې د ژبپوهنې په بېلا بېلو څانګو کې په تدریس، تحقیق او ترجمو بوخت شول او له خپلې وسې سره سم یې کم یا زیات علمي خدمتونه وکړل. د تږي او زما توجه او تمرکز به زیاتره پر عمومي او تشریحي ژبپوهنه باندې و او تدریس مو کاوه. ما د پنزل پښتو ګرامر مخکې ژباړلی و او د دري ګرامر طرحه مې ولیکله. د پښو د تشریحي ګرامر په برخه کې مې پر فونولوجي باندې کار وکړ او چاپ شو، د صرف برخه مې بشپړه کړې وه، خو د افغانستان په کورنیو جنګونو کې زما له نورو آثارو له شخصي کتابتون سره یو ځای چور او تلف شو. حبیب الله تږي د پښتو ژبې پر ارګاتیف جوړښت باندې او ما د دري ګرامرونو پر علمي او متدولوژیکي بنسټونو باندې د داکترۍ رسالې وکښلې. خو د دوو مهمو موضوعګانو څېړنه لا پاتې وه او هغه دا چې پښتانه څوك دي او پښتو ژبه څه وخت، چېرته او څنګه پیدا شوې ده؟

پر لومړي سوال باندې تږي خپل ځواب د "پښتانه" په نامه پروسږ کال د کتاب په توګ چاپ کړ. کېدای شي، ووایو چې د پښتانه کتاب له دې امله بې ساری برېښي چې د پښتنو (افغانانو) په باب تقریبا ټول روایتي – تاریخي نظریات له خورا زیاتو منابعو څخه په کې را غونډ شوي دي. د تږي څېړندود په دې کتاب کې "تشریحي" دی او عندي قضاوتونه په کې نشته. له

---

۱ - د استاد الهام د دغو پوهنتنو غبرګون د کتاب په متن کې دی.

همدې امله د څېړونکو او عامو خلکو لپاره يو باوري منبع او د ببليوګرافۍ بشپړه مرجع ګڼل کېدای شي. خو ځينو خلکو له ترې څخه ګيله کړې ده چې تر کومه پورې دې له عندي قضاوتونو او حکمونو څخه او د څه لپاره ډډه کوي؟ يو ځلمي، چې نوم يې نه اخلم، په يوه مجله کې ليکلي دي چې "سعد الدين شپون او محمد رحيم الهام، د روزي په ګټلو خپل وخت تېروي او علمي کار نه کوي خو چې حبيب الله ترې يې کوي، صرف نقل قول کوي او قضاوت نه کوي. نو عندي قضاوتونه به څوك راته وکړي" د ده مطلب دا دی چې ولې ترې موږ ته نه وايي، چې اخر دا پښتانه څوك دي. خو زموږ دا ځلمی ليکوال دې دا خبره هم په پام کې ولري چې که ترې د پښتنو د اصل و نسب په باب خپل عندي حکم کړی وای، ما او ما غوندې نورو خلکو به ور دانګلي وای چې: سخن چون بگفتی دليلش بيار!

د همدغه ځلمي د تسل لپاره زه ورته وايم چې ترې په خپل دغه کتاب کې له خپلې موضوع سره سمه ميتودولوژي (څېړندود) لري او کتاب يې په همدې توګه چې دی سم دی، نور څېړونکي کولای شي نور څه وربانديې زيات کړي؛ خو خپل منابع او دلايل دې وښيي.

پاتې شوه دا مساله چې پښتو ژبه څه وخت، چېرته او څنګه پيدا شوې ده؟ د دې سوال ځواب ته زيار، ان ۳۰ کاله پخوا ملاتړلې وه چې ځواب ووايي، په هغه وخت کې چې ده په افغانستان کې د آرياني ژبو ګردودونه لټول، خو ايله سږ کال بريالی شو، چې خپل ځواب د دې کتاب په بڼه سوالګرو ته وړاندې کړي. زيار پوهېږي (که موږ نه پوهېږو) چې ژبه خو خلك وايي، يعنې پښتو خو پښتانه وايي. نو څوك چې د پښتو آره وڅېړي، بايد د پښتنو آره دې وڅېړي. نو ده په دې (حاضر) کتاب کې هڅه کړې ده، چې د رواياتو، تاريخي اسنادو، اتنولوژيکو (او اتنوګرافيکو) بېلګو او ژبپوهنيزو اصولو او څېړنو په رڼا کې لومړی د پښتنو او بيا د پښتو آره له پښتنو سره په اړه وڅېړي. زيار په دې خبره زور اچوي چې پښتانه ساك" دي. خو دی د دې ګروهې نوښتګر نه دی. دغه خبره نورو پوهانو مخکې تر زياره کړې او مورګن ستيرنې هم د همدې خبرې پلوی و.

خو زيار د دې فرضيې د زباتولو او ملاتړ لپاره بلا ډېر لاسوندونه او بېلګې نورې هم راغونډې کړې دي.

کېدای شي چې د مقايسي ژبپوهنې د قواعدو او څېړنو په رڼا کې، چې د هندو - آروپايي او بيا د هندو - آرياني او آرياني ژبو په بابله تر اوسه پورې را برسېره او منل شوي دي د پښتنو ساکيتوب او دا چې پښتو د ساکي ژبو په کوم ګړدودو پورې اړه لري، ومنو، خو يوازې د لاس ته راغليو سندونو او بېلګو څخه د پښتو ژبې تاريخ او تاريخي بدلونونه او تکامل نه شو کره کولای، ځکه هغومره کافي ثبت شوي ژبني مواد راسره نشته، چې د پښتو د منځنۍ مرحلې رغيز، صرفي او نحوي جوړښتونه پرې بنا او له هغو څخه د پښتو د لرغوني جوړښت بيا رغونه وکړو. له بل پلوه، زياتره هغه لغوي بېلګې چې کېدای شي د اوسنۍ پښتو ريښې يې وبولو او زيار يا تر ده څه مخکينيو څېړونکو په خپلو آثاراو کې راوړي دي له نورو ژبو څخه پور شوي مفردات هم ګڼل کېدای شي او دا، زما په اند د نتيجه ګيريو پر کره والي باندې باور او ټينګار سستولای شي؛ خو زيار که څه هم په ځينو برخو کې پر خپلو نتيجه ګيريو او د نورو پر هغو، له شك او احتياط څخه کار اخلي، په ډېرو برخو کې په خورا زيات باور او ټينګار غوڅ حکمونه کوي او ښايي کومه ورځ دی پخپله هم يو ځل بيا پرې وکتنه کړي. ګونډې د زيار دغه هڅې د هغه ځلمې د زړه تسل شي چې وايي ترې، شپون او زه (الهام) له عندي قضاوتونو څخه، په علمي پېچلو مسالو کې ځانونه ژغورو.

د زيار پر دې (حاضر) څېړنيز کتاب باندې د متخصص ژبپوه له خوا (که څه هم زيار موږ، د ترې په شمول د تاريخي - مقايسي ژبپوهنې متخصصان نه ګڼي او ښايي چې رښتيا به هم وايي) علمي تحليل او کره کتنه همهغومره فرصت حوصله، څېرکي، منابع او هاند غواړي، څومره چې زيار پخپله د دې کتاب په تدوين کې ور څخه برخمن و او دی. د کتاب له محتوا څخه که تېر شو، پخپله پاڼې يې هم ډېرې او حجم يې ښايسته زيات پرېږ دی. که څه هم د کتاب د حجم پرېړوالی د ساکو د تاريخ او اتنوګرافۍ

په څېړکو کې د مکرر تفصيل له املا برېښي؛ خو زيار، په هر صورت د ستاينې حق لري.

ده خپل زيار او څېړنيز ربړ او نارامۍ نه دي سپمولي، راځئ چې دا کتاب په دقت سره ولولو او بيا په سړه سينه ورباندې علمي او صادقانه قضاوت وکړو.

علمي تيورۍ او څېړنې او له هغو څخه کره نتيجه اخېستنې، نه يو دم رامنځته شوي دي او نه ژر پاخه او بشپړ شوي دي. بنيادمانو خپلو سوالونو ته زياتره د پېړيو - پېړو او د ډېرو نسلونو د تګ راتګ په بهير کې څه ناڅه خام، نيمخام او پاخه ځوابونه موندلي دي او ډېر سوالونه ورته مخې ته پراته دي چې خدايزده څه وخت به ورته ځوابونه پيدا کړي، يا يې بيخي پيدا نه کړي. سخ د هغه چا چې سوال کوي او په ځواب پسې يې ګرځي او په خپلو ګرويزنو کې زغمناکي او تداوم څرګندوي!

*زياره، خير او برکت او نيکمرغي دې تل نصيب شه!*

*پوهاند داکتر محمد رحيم الهام*

*اپريل ۲۰۰۰ م کال*

سریزه

## د ژبپوهنې په رڼا کې:

# پښتو او پښتانه

# ساکي ـ آرياني دي

نن سبا د پوهې او تخنيك د ټولنيز هڅنده پرمختګ او پرمختيا په لړ کې وګړپوهنې دومره پرمخ تللې دي چې د نړۍ د بېلا بېلو توکمونو او ان خورا کوشنيو کوشنيو وګړډلو د سمې او ربښتينې پېژندنې لاره يې هواره کړې او په دې برخه کې يې د پېړيو پېړيو بې کچه دوديزو کړنوانګېرنو، افسانو، اساطيرو او ما ويليو تا ويليو ته پای ټکی ايښی، اړوند جوړ کړي او ليکلي تاريخونه يې ورسم کړي او کره کړي دي.

په دغه سمونه او کرونه کې د وګړپوهنې او توکمپوهنې (انتراپالوجي او اتنالوجي)، لرغونپوهنې (ارکيالوجي) او ټولنپوهنې (سوسيالوجي) تر څنګه نوې ژبپوهنې، په تېره تاريخي ژبپوهنې کله ناکله دومره غوڅه او پرېکړونې ونډه اخيستې چې دغه نورې پوهنې يې هم تر خپل سيوري لاندې راوستې دي.

په دې لړ کې د آریانپوهنې (ایرانشناسي) وروستنیو یو پېړییزو بریاوو د اړوندو پوهانو پرمخ ډېر نوي نوي څنډونه (افقونه) را پرانېستل چې د نورو آریاني ژبتوکمیزو (اتنولینګویستیکي) ډلو تېلو تر څنګه یې د پښتنې دې ډېر تیاره ګوټونه له تاریخي تورتمونو څخه را وکښل اوله دې سره یې په دغه اړه ډېرې بې شمېره ساینس ـ افسانې (The Scince-fictions) هم پوهنیز (سانتیفیك) ډګرته راواېستې.

ما د ژبپوهنې او بیا آریانپوهنې او په ځرمه ډول توکمپوهنې د زده کوونکي او څېړونکي په توګه له کلو کلو راهیسې دا خپله ځانګیزه پازه (مسوولیت) ګڼلی و، چې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو ژبې او ادب څانګې د لوستلیکیو (تکستبو کونو) په لړ کې د پښوېي (ګرامر)، ګړدود پوهنې، ویي پوهنې (لېکز یکالوجي)، لیکلار (stylistics)، پښتو بدلمېچ، یا "پښتو شعر څنګه جوړېږي؟" او آرپوهې (etymology) تر څنګه د پښتو ژبې تاریخ کښلو ته هم متې را ونغاړم. په دغه اړه مې تر هر څه له مخه د خپل اروابناد استاد مورګن ستیرنې هغه "حجة الوداع" ډوله وینا او لیکنه ځانته مخبېلګه وګرځوله چې تر مړینې یې درې کاله له مخه پر ۱۹۷۵ کال په کابل کې د پښتو نړیوال سیمنار ګډونوالو ته واوروله او په هغه کې یې د پښتو او پښتنو د ساکیوالي پرېکړه د خپلو شپېته کلنو آریاني او پښتو څېړنو د پایلې په توګه ډاګیزه کړه - هرګوره دغه ټولمنلي ناروېژي آریانپوهاند او پښتو پوهاند له ډېر پخوا راهیسې دغه لید توګه راخپله کړې وه، خو دا لومړی ځل و، چې هغې ته یې رښتینوالی وبانبه او په ټوله ځانګیزه (مسلکي) واکمنۍ (اتاریتۍ) یې په زغرده رامیدان ته کړه. له دې سره پتلیز راته دا هم اړینه واېسېده چې د پښتو په څېر د پښتنو تاریخ هم په تورتم کې پاتې دی او کوم دودیز تاریخونه چې پرې تر اوسه کښل شوي، دومره باور وړ نه دي او ترټولو مخکې یې کورنیو تنګ لیدو ته دا پلمه برابره کړې چې پښتانه "بلځایي کډوال" وبولي او پښتو یې دویمه زده کړې ژبه. نو له دې کبله مې هم مهال

پښتو او پښتانه سره د یوه یوازیني ژبتوکمیز یوون (واحد) په توګه تر ژبتوکمیزې څېړنې پلټنې لاندې ونیول. ما له هغه راهیسې په دغه برخه کې د څو نورو لنډو تنګو اخځونو په همغاړه کولو سره یو لړ ازمایښتي لوستونه برابر کړل، او ورسره ورسره مې ورته لیکنې څېړنې په تولیزو خپرونو کې هم خپرې کړې، خو د هېواد د وروستیو لسیزو او بیا د تېرو څو کلونو اړودوړ نوره دا کابو رانه کړه چې هغه بشپړې او کره کړای شم. په برلین پوهنتون کې مې له دوه درې کلنې استادۍ څخه همدومره ګټه تر لاسه کړه چې د ستن کونو Sten konow ختن –ساکي ګرامر او ویي پانګه هم پر خپلو اړتیا وړو اخځونو ورزیات کړم. له دې نا خبره چې استاد مورګن ستیرنې د همدغه کتاب له لیکوال سره د همدې پېړۍ په دویمه لسیزه کې سانسکرېت او ساکي لوستې وه او هملته یې د همدغو زده کړو په پای کې زوم شوی هم و او بیا یې له ۱۹۲۱ څخه تر ۱۹۲۶ له الماني استاد اندریاس او ګایګر سره د نورو آریاني ژبو تر یو کلنو تولیزو زده کړو وروسته پر پښتو زده کړه هم پیل وکړ چې د پښتو آرپوهې (EVP) په دفاع یې دویمه دوکتورا تر لاسه کړه، نو دا کومه هېښنده خبره نه وه چې د آریانیوالي تر زبات وروسته یې د پښتو (او پښتنو) د ساکیوالي لیدتوکې ته مخه وکړه او په پای کې یې هم خپله پرېکړه په زغرده اعلام کړه. (روان فرهادي. دویم ټوک ۳۰۵-۳۰۶ مخ)

د ساکي ژبې او ساکانو په اړه لاخه چې د آریاني ژبو په باب په افغانستان کې د دورن، راورټي، بوپ، ترومپ، میولر، بېلیو، دارمستېټر، لاریمر، استاد مورګنستیرنې او یو نیم بل آریانپوه او پښتو پوه له آثارو پرته نور څه نه وو، چې هغه هم په وروستیو کې له سمتو کتابتونو سره د جنګ جهل و جنایت تورو لوخړو پوپنا کړل. د چا خبره په هماغه "سمسور" شاهي پېرکې هم د نوې ژبپوهنې او بیا آریانپوهنې په اړه لیکنې څېړنې له نشت سره برابرې وې او د هر زاړه خندونه یې مخې ته پراته وو. ان تردې چې د استاد مورګنستیرنې د یادې شوې وینا په وړاندې د

زورپالو او دودپالو پوهانو تلوالـې (ګډې جبهې) د اړونـدې نړیوالـې غونډې بهرني مېلمانـه لـه نهیلۍ سره مخـامخ کـړل. دا پـه دې چې هغـو زوړپـالو د ژوند تر وروستۍ سلګیو پښتو او پښتانه، لکه درد‌ي او نورستاني هغه، لـه هندو اریـاني ژبتوکمیزې څانګې څخـه ګرد سره جلا پـه "دریمې خپلواکـې منځنۍ" څانګې پورې اړوند ګڼل. که څه هم یو نیم پکې لکه مولانا خـادم او غوریاخېل په پټو سترګو د ساکیوالي لیدتـوګه هم را خپلـه کړې وه. علامـه حبیبي صاحب خو په خپل پېښلیك کې د ساکانو همدومره لنډه یادونه کړې چـې پـه دریمـــه مخـزېږدي پـېړۍ (۲۵۶-۱۳۰م ز) کـې یـې د ساکـسـتـان (سیستان) ټولواکمني رامنځته کړه او له پښتنو سره یې "یو څه" اړوندي او خپلوي هم درلوده، په کوزو نیم اکاډېمیکو کې د کوثر تر څنګه ظفر بیـا پـه خپل "پښتانه د تاریخ پـه رڼا کـې" د پښتنو ساکیوالی تر ډېره ځایـه ډاګیـزه کړې دی.

هغـو ټولـو دودیـزو لیکوالـو د همـاغې بې سرو بولـه خپلواکیوالـې لیدتـوګې تراغـېز لانـدې ګردسره نـه غوښتـل. لـه ټولـیزې آریـانپوهنې او بیااړوندې ډلبندۍ خانونـه خبر کړي او بیـا دې تـه غـاړه کـېږدي یـا پاملرنـه وکړي چې پښتواو پښتـانه د ختیزې آریانا په وېش کې راځي او پـه دې توګه بـاید پـه دوه ګونـو زړو (اوستایي او سـاکي) ژبتـو کمـیزو ډلـو کې پـه دې یـا هغې اړه ولري. اوستا خـو ورتـه کـورټه د کفر "زرتشت" ژبـه اېسـېده او بیـا داچې ایرانیانو هغه له هخامنشي پېره رانیولې، تر اسلامه پورې له زرتشتي دین سره یو ځای را خپله کړې وه او تر اوسه یې دواړه اړخه د ملي ویاړونو پـه توګه د خپـل تـاریخ او فرهنګ پـه چوکـاټ کـې تـر څېړنـو او پلټنو لانـدې نیولي او سمبال کړي دي.

ان د آمو آ غـاړه پارسي ژبو "تاجیکانو" ورسـره هم ملګرتیـا کـړې او لـه دغه پلوه یې د پخوانـي شوروي پـېر لـه بـډایې ختیـځپوهنې او آریـانپوهنې څخه په ګټه اخېستنه له خپلو پخوانیو لویدیزو آریائي خپلوانو سره سیالي پرځای کړې ده، که څه هم تاجیك ځانونه د راوروسته مېشتېدنې له کبلـه پـه

ختیزو آریانیانو (باختریانو) کې شمېرې او د زړې پارسۍ پر ځای اوستا او ساکي له ټولو فرهنګي، تاریخي او دیني ویاړونو سره د تاجیکۍ آره او بنسټ ګڼي، لکه څنګه یې چې د همبورګ په تېره نړیواله غونډه (پژوهش در فرهنګ باستاني وشناخت اوستا، ۳-۸ اکتوبر ۱۹۹۸) کې د ډېرو ګډونوالو له څرګندونو څخه جوته شوه، که څه هم ورسره ورسره له لویدیزو آریانیانو، یا په بله وینا پارسیوانانو سره پرګډ تېرمهال هم تر ټولو زیات ویاړي، خو د نورو ځانګوالو په توپیر یې ژبپوهان بیا له داسې ګډوله اندتوکې هرومرو ډډه کوي او له بده مرغه چې په دغه نړیواله پوهنغونډه کې په ټولیز ډول د ژبپوهانو او بیا آریاني فیلالوجېستانو څرک دومره نه لګېده، خو سره له دې یې له ګڼو خپرونو څخه دومره په زړه پورې توکي (مواد) لاسته راغلل چې زما د تر لاسلاندې سکالو (موضوع) خبرتیایي زېرمه (دېتا) یې ښه ترارا بډایه کړه. وروسته مې د یوه لیکوال دوست "رهپو" په مرسته د ګیوتینګن له کتابتونونو هم ډېر څه را تر لاسه کړل.

پخپله په انګلستان او بیا د لندن او اکسفورډ په اړوندو کتابتونو کې زما ورته پلټنې له هره پلوه ګټورې وې چې د ۱۹۹۶ کال په وروستیو کې مې له پناراوړنې سره سمې راپیل کړې وې. په ترڅ کې د یوازینې ژوندي پاتې انګرېز پښتو پوهاند استا دیوېډ دانیل مکنزي مرستې او لارښوونې لاریات پراخ لرلیدونه زما پر مخ پرانېستل.

دا هم یوه په زړه پورې ناببري (تصادف) و چې مېرمنې مې تر راتګ له مخه دازېرې پېښور ته له ځان سره راوړې و چې ان په انټرنېټ (Internet) کې یې د افغانستان تر نامه لاندې وار له واره پر ساکانو سترګې لګېدلې وې: "...یونان ـ باختري دولت بیا پرخپل وار ساکه نومیو آریانې کوچیانو او وروستې یې اړوندو کوشانیانو ته ورولېږدېد..." له بشپړ متن څخه یې راته دا پته پوره ولګېده، چې د جهان پر نقشه باندې د افغانستان لومړنۍ راڅرګندېدنه له ساکانو او بیا د هغو له ځایناستو بچیانو

(کوشانیانو ـ یپتلیانو) سره نه شلېدونکی تړاو لري او دا هم له کېدونه لري نه ده چې پښتانه د همدغه تاریخي زنځیر پایځوړ اوسي!

له همدې کبله را ته بیا دا تر ټولو په زړه پورې او اړینه وبرېښېده چې د ساکي او پښتو داړوندې تر څېړنې او سپړنې له مخې د ساکانو او پښتنو تر مینځه د همتبرې سپیناوې تر څېړنې، ځیرنې او شننې لاندې ونېول شي او په سرسر کې د ساکانو پر تاریخ او ژوند وژواك هر اړخیزه رڼا واچول شي او وروسته ورسره پښتانه پرتله کړشي، چې کوم ګډ او ورته اړخونه او ځانګړتیاوې سره لري او پر ژبنی اړوندې سربېره یې توکمیزه (اتنیکي)، یا په بله وینا تبریزه خپلوي څومره زباتېدای شي.

له بنه مرغه ساکان تر ساکي ژبې هم زیات ځلان او روښان تاریخ او تېرمهال لري او تر نورو څلورو آریاني تېرونو (پارسیانو، پارتیانو، مادیانو او اوستاییانو) یې تاریخي، جغرافیایي، ټولنیز، سیاسي او فرهنګي تېرمهال له ټولو رنګارنګیو او بدلونونو سره ښه ترا پېژندل شوي دي په دې کتاب کې تر وسې وسې هڅه شوې چې په دې اړه هم لاسته راغلې خبرتیاوې او توکي په ژور ډول تر څیرنې او شننې لاندې ونیول شي او په تېره د شمال ختیزو آریانیانو او بیا د افغاني ټولنې او دولت د بنسټوالو او پر مخوړونکیو په توګه پرې له خپل اړوند زوزات او ځایناستو کوشانیانو. یپتلانو او بیا پښتنو سره د ژبتوکمیزې اړوندې له پلوه رڼا واچول شي.

دلته تر هر څه زیات پر ژبپوهنیزو توکیو او لاسوندونو زور اچول شوی او له همدې کبله ورته د کتاب زیاته برخه ځانګړې شوې ده. څکه ژبپوهنه د ژبني ساینس په توګه له ژبې او ژبنیو سکالوو (مسالو) سره کار لري او ازمېښتون (لابراتوار) یې همدا ژبه او ژبني توکي دي. په دې لړ کې تاریخي هغه بیا داسې انکار نه منونکي لاسوندونه پر لاس راکوي چې د اړوندو ویونکیو د تېر مهال ډېر تیاره ګوټونه رڼا کولای او پر تاریخوالو سربېره د ځمکپوهانو، توکمپوهانو، فرهنګپوهانو او ادبپوهانو ډېرې ښوېېدنې او تېروتنې ورسمولای شي.

پـه دې لړکـې د زړې ژبپوهنـې او بيااريـانې فيلالوجـۍ د کورنيــو او بهرنيو استازيو د ناسموليد توګو او پايلنيويو (نتيجه ګيريو) د سپيناوي لپاره د شلمې پېړۍ د نوې ژبپوهنې او فيلالوجۍ لـه سـانتيفيکو، پـه تېره فونېتيکي او اتېمولوجيکي ارونو او دويونو (اصولـو او قوانينـو) څخـه ډېره ګټه اخېستـل شوې او لـه ډېرو روايتـي او تـاريخي پـړ پـړو ډډه شـوې ده. د ساري په توګه ما ددې پر ځای چې د پښتو او پښتنو د اړې په اړه د نولسمې پېړۍ د ټولو لويديزو ارياپوهانو او توکمپوهانو د څرګندونو او ليدتوګو يو اوږد پېر او وېر ليکلړ وړانـدې کړم، د نـو مـهالو فيلالوجپـستـانو پـه تـېره د فرانسي دارمستېتر، الماني ګايگر او ناروېژي مورګنسيترنې پر هغـو مـې زيات لنګر اچولی او د شمال ختيز اريانيوالي او بيا ساکيوالي پرتېرس مې را څرخولې ده.

هر ګوره، دا راتــه هـم اړينـه وه چـې د زاړه دوديـز او نـوي اکـاديمک پښتني پښت او نورو کورنيو ليکوالو اړوندې څېړنې او ليکنـې هـم تر لنډو لنډو کره کتنو تېرې کړم او خپلو ناسمو او ناځانګيزو تېروتنو ته يـې ورځير کړم. لکه واخلـې، د پکـهت او پکتويـس، غلجـي او خلجـي، يـا د اسـتاد حبيبي او ډاکټر ګلجنان ظريف د پارسي مېخي ډبرليکونو د پښتو انګېرلو ببولالـه او پـه ځانګړې ډول د ډاکتر پـالوال د سـاکو ـ پښتنـو ـ پارتيـانو بـې سرو بوله درې توکيزه څېړنه او شننه چې له بده مرغه ډېر وروسـتـه، هغـه هـم متې يې دويم توك را تر لاسه شو. خو سره لـه دې يې تولـيزه اډانـه (عمومي طرح) له همدغه يوه توکه پوره را څرګنده شوه او مـا يـې هـم همدغـه تولـيزه اډانه تر څېرنې او ارزونې لاندې ونيوله او د بې بنستيوالي لپاره يې تر هرڅه له مخه له ساکي او پښتو سره د پارتي ژبې نا اړوندي يو بنستيز لاسوند ورپه ګوته کړشو.

دوست شينواري يوازينی افغـان او بيـا پښتـون ليکـوال دی چې خپـل غبرګ کتابونه، "افغانستان په او ښستا کې ۱۹۹۰" او "پښتـانـه څوك دي؟ ۱۹۹۸" يې د اريـاني فيلالوجۍ پر بنسټ کښلي، هغـه هـم بيـا څه نـاڅه د

ټالاسبرو روسي – شوروي سرچينو له مخې، خو دا چې تر يوې کچې يې د دوديزو او ناڅانګيزو ليکوالو غونډې پکې خپلې پښتنې انګېرنې هم اخښلې راخښلې دي ، نو بيا هم تر ژورې ارزونې لاندې ونيول شول او يو لړ ناسمې يې کره کړ شوې.

پوهاند تړي په خپل کتاب "پښتانه ۱۹۹۹" کې که څه هم د سپړنيزې (تشريحي) ژبپوهنې د څانګوال په توګه د آرياني فيلالوجۍ په اړه د نورو کورنيو او بهرنيو الواکونه سره رالړۍ کړې او تر وسې وسې يې له خپلې شننې او ورمندانه (قضاوت) څخه ډډه کړې ده. خو په هره توګه يې د پښتنې تاريخ او فرهنګ د ځلندويۍ په برخه کې د يوه لړ کم پېښو (نادرو) او لومړي لاس توکو او سرچينو په کار اچونې سره، لږ تر لږه په اسلامي پېړکې، د يوه رښتيني علمي تاريخ لومړنۍ بنسټ ډېره اېښې ده چې له همدغه پلوه تړې په دغه کتاب کې پوره ګټه اخېستل شوې ده.

په تاريخي برخه کې له نيم دوديزو تاريخپوهانو څخه د مير غلام محمد غبار اړوندې څېړنې هم ددغه کتاب يو غوره اخځ ګڼل کېداى شي ، ځکه د لومړني تاريخ ليکونکي په توګه يې لکه ظفر د افغاني تاريخ اډانه د ساکو او ساکي آرو کوشانيانو، يپتلانو، کابلشاهانو او نورو پر بنسټ ايښې ده.

ښاغلي نوميالي چې د اروانباد غبار په څېر يې په ځانګړو هاندوهڅو خپلې فلسفي او ټولنپوهنيزې څېړنې له نومهالې مېتادولوجۍ او علمي څېړندود سره برابرې کړې دي، پر خپل وار پښتو ژبه او ادب او پښتنې ټولنه تر هر څه له مخه د ژب ـ ټولنپوهنيز يا سوسيولېنګوېستيکي پلوه تر څېړنې او شننې لاندې نيولې او په دغه اړه يې د ګڼو ليکنو څېړنو په لړ کې په کتابي بڼه "د پښتنو د ټولنيز تاريخ مبادي" نومې نوى اثر زموږ له غورو اخځو څخه ګڼل کېږي دغه ليکوال تر ژبپوهنې، توکمپوهنې او ادبپوهنې پورې له باوري ځانګيزو سرچينو څخه په ګټه اخېستنه د پښتنې ټولنې يو په زړه پورې ژب ـ ټولنيز او ورسره ورسره لړوډ پر ژبتوکميز انځور وړاندې

کړي او په دې ترڅ کې یې د پښتو – پښتون وبله اړوندې ښه ترا زبات کړې ده. له دغو ټولو تاریخي، اتنولېنګویستیکو او سوسیولېنګوېستیکو سرچینو او د پتاوو آره، زړې او اخځ، لکه څنګه چې په سرکې ورته نغوته وشوه، بیا هم آریاني فېلالوجي جوړوي او په دغه برخه کې تر وروستي بریده هڅه شوې چې د هماغو وتلیو او نومیالیو آریانیستانو پر آثارو او لیدتوګو او بیا د هغو د غوځو او ټاکندو پایلو پر غورچاڼ ډډه ولګول شي.

په ټولیز ډول په دغه کتاب کې درې ګوني آریاني ژبپېرونه (ژبنۍ دورې) په پرله غښتې توګه تر سکالو او څېړني لاندې نیول شوې او په درو واړو پېرو کې همزمان، یو خوا له ساکي ژبې، په بله وینا ژبو سره د پښتو پراړوندۍ رڼا اچول شوې او بل خوا ورسره پټلیز له ساکو او ساکي تېرونو سره د تېرنۍ، تاریخي، جغرافیایي، سیاسي، فرهنګي او ټولنیزې اړوندۍ د زبات او سپیناوي لپاره اړتیا وړ لاسوندونه وړاندې شوي دي.

د کتاب په وروستیو برخو او څپرکو کې دا هڅه شوې چې پښتانه په ځانګړې توګه تر سکالو لاندې ونیول شي او د کوشانیانو، یپتلانو (یفتلانو) او د هغوی د پاتې شونیو آر او رښتیني ساکي ستې پاتوړي (وارثین) او ځایناستي ونومېرل شي او له دې سره د لرغوني افغانستان تر ټل هر توکم و تېر پخوانی‌او بومي ډېرۍ (اکثریت) وارزول شي.

پایمخ څپرکی هم جغرافیایي ژبپوهنې ته ځانګړی شوی او په دې ترڅ کې پښتو ګړدودي وېش او د پښتنو د تېرني وېش تر منځ پرتلیزه (نسبي) اړوندې تر څېړنې لاندې راغلې ده. همدارنګه په دغه برخه کې د یوې هېوادنۍ، ملي او رسمي ژبې په توګه د پښتو د رامنځته کېدنې ربړې هم څېرل شوې او نومېرل شوې دي.

او تر ټولو وروسته اووم څپرکی دا فغانستان د ژبتوکمیز رغښت پر یوه لنډ انځور او ژبتوکمیزو سکالوو او ستونزو پای ته رسېدلی دی.

په هره توګه د نورو یاد وشویو څېړنو په څېر دغه څېړنه هم له ټولو هاند و هڅو سره سره بیا هم له نیمګړتیاوو څخه بچېدای نه شي، هغه هم له

دې لامله چې په خپل ډول کې يوه ګرد سره نوې هڅه او نوې سکالو بلل کېږي او د يوې نوې ليد توګې پر بنسټ تيکاولري. خو هيله ده، د راتلونکو ورته څېړنولپاره يوکوشنی پيليځ هومره وګرځي او د پښتو او پښتنو د آرې او تېر مهال په اړه د نورو څېړونکيو پرمخ څه ناڅه نوي ځنډونه پرانېزي.

د کتاب ترآرمتن وروسته اړوندو لښتليکونو(جدولونو)، انځورونو، او بيا شمېرنو ته ځای ورکړ شوی او ورپسې بيا پايځوږ، نومليك، وييليك (لغتنامې)، اخځليك او فونيميکي لاربود ته له دې سره سره ښايي ځينې ځانګړې ژبپوهنيزې، په تېره غږ پوهيزې (فونېتيکي) او آرپوهيزې (اتېمولوجيکي) سکالو وې له اړوندو نومونو(تر مونو= اصطلاحاتو) او بېلابېلو فونېتيکي، فونيميکي او الفبايي ليکني ډولونو(سېستمونو) سره د ناځانګوالو لوستونکيو لپاره دومره د پوهېدنې او سهنې وړاو يا هم له آره ګرد سره په زړه پورې نه اوسي او له دې سره يې د مينه والو او ګټه اخيستونکيوکړه هم لنډه تنګه پاتې شي. خو بيا هم کېدای شي، هر څوك پکې خپل اړتيا وړ توکي او ځيزونه ومومي او ګټه ترې واخلي.

*پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار*
*اکسفورډ، ۱-۱-۲۰۰۰ ز*

# ۱_ څپرکی

## ساکان (سکه، ساک، سیتان، سکتیان،سکیتیان...)
## د خپل تېر مهال په کړلېچوکې
(د ایراني لیدتوګې له مخې)

### ۱-۱: تولیزه پېژندنه:

(فرهنګ فارسي "متوسط" تالیف دکتر محمد معین، جلد پنجم اعلام، ۲۷۲-۲۷۵ مخ، انتشارات امیر کبیر، تهران ۱۳۷۱)

سکا Sakā [سکه= سکز، پب –Saka، فر Scythe، Sake.sace]

د یوه داسې ګډوله تېر نوم و چې اریایي توك پکې زیات و. دا تېر د هخامنشیانو په زمانه کې او تر هغو له مخه د اریانا (ایران) شاوخواته اوسېدلی دی. د سکا تېر په تاریخي زمانو کې د منځنۍ اسیا، یانې له چیني تورکستانه تر اورال سیندګي او پخپله اریانا او بیا له دغو سیمو څخه تر دون سینده او له هغه سینده ان د دانیوب تر ستر سینده خور و ور و.

د دغو وېړو سیمو او پراخو دښتو په بېلا بېلو برخو کې یې نوم ادلون بدلون مونده، هغه سکایان چې له منځنۍ اسیا څخه یې له

آریانا سره اړ او تړاو درلود. پخوانیو څمکپوهانو ساك (Sake) یا ساس (Sace) نومولي دي.

۱-۱-۱: داریوش سکه (Saka) بلل. هغه ورته وګړي چې په ختیزه اروپا کې اوسېدل، د هیروتس په کتابونو کې سکت یا سیت (Scyth) یاد شوي دي، "سیت" بیا د همدغه نامه پرانسي بڼه ده. یونانیانو دغه نوم ځکه پر دغو وګړو ایښی دی چې (سکوت) په یوناني کې پیاله مانا لري او د دغه ټبر وګړو به له ځان سره تل یوه پیاله ګرځوله. داسې انګېرل کېږي چې د دغه ټبر خلکو خپل ځانونه هماغه سکه بلل. هېرودت د اروپايي ساکانو په اړه وايي چې هغوی ځانته "سکلت" (Scoolotes) ویل (داریوش هم هغه ساکان "سکه" بلل). د ساکانو (سکایانو) په اړه بقراط، ارسطو، سترابون او بطلیموس هم لږ و ډېر معلومات خپاره کړي، خو کومې خبرتیاوې چې هېرودتس را کړي دي، ډېرې پراخې دي.

۱-۱-۲: د اوومې مخزېږدي پېړۍ په ړومبیو کې ساکان د قفقاز له غرونو را واوښتل او په اذربایجان او د آریانا په شمال کې په تاړاك او چور چپاول بوخت شول. دماد پاچا هووخشتره چې د آشور (آتور) د سوبې لپاره مخ پر بره روان و، ناڅاپه له هغو تاړاکونو خبر شو او ویې لیدل چې له دې پرته بله چاره نه لري چې د نینوا له کلابندۍ لاس واخلي او د خپل هېواد په ساتنه بوخت شي. هغه وو چې له خپل لښکر سره یې پر دښمن ور ودانګل. دا رومیه سمندرګي څرمه یې له ساکانو سره په جنګ لاس پورې کړ او له ماتې سره اړ ووت چې د هغوي درنو اړونو (شرطونو) ته غاړه کېږدي.

ساکان تر دغې سوبې وروسته پوه شول چې څوك یې نور د مخنیوي توان نه لري. او آشور (آثوریان) خو بې له هغې د مادیانو له لاسه کمزوري شوي وو او مادیان د سوبمنو په توګه هم له ساکانو ماته خوړلې وه، دا چې له بله پلوه ساکانو ته له اشوره دومره ولجه په لاس ورنغله، نو د آریانا تولې شمال لوېدیزې سیمې یې، لکه آشور،

وان، کاپادوکیه... یو په بل پسې لاندې کړل او وران ویجاړ او لوټ یې کړل او ان تر لوېدیز سمندرګي (مدیترانې) ورسېدل. په دغه سیمو کې یې هم پر هېڅه اړې و نه کړه او یو مخیز یې ټول لوټ و سوټ کړل. تش هماغه وګړي تري بچ پاتې شول چې کوټونو ته یې پناه یوړه. د مصر پادشاه پسامتیك (فسمتیخ) چې تر شامه سوبمن را رسېدلی و، د ساکانو له تاړاکونو څخه له خبرېدو سره په بیړه پر شا شو او بیا یې ساکي سردار ته ډالۍ را واستولې او په دې توګه یې مصر ته له ورننوتو څخه لاس پر سر کړل.

د ایران نجد ته د ساکانو د تګ لامل جوت نه دی. هېرودت وایي، چې هغوی کیمریان پسې را واخېستل او لوېدیزې اسیا ته ورسېدل. ځینې په دې اټکل دي، آشوریانو چې ولیدل کیمریانو او مادیانو پرې بده ورځ راوستې، نو ساکانو ته یې د مرستې غوښتنې لپاره لاس وغځاوه. خو ربښتیا خبره داده چې لوېدیځ ته د ساکانو رسېدنه د هماغه آریایي غورځنګ پایڅوړ و چې له مخنیو پېړیو راهیسې را پیل شوی و او آریاییان په ټولیز ډول د ایران نجد او لوېدیزې اسیا ته ډله ډله را رسېدل.

په دې توګه یې په ماد او کوشنۍ اسیا (تورکیه)) کې تاړاکونو کلونه کلونه ونیول. له توراته ښه ترا څرګندېږي چې هغه مهال د خلکو په زړونو کې له ساکانو او د هغوی له یرغلونو او لوټمارۍ څخه څومره تراه او بوږنۍ ځای نیولی و.

د هېرودت په وینا دغو تاړاکونو ۲۸ کاله اوږدوالي وموند. په دغه پېر کې ساکانو له اړوندو لاسکتویو ولسونو باج اخېست او له دې سره سره یې لوټل هم. په پای کې د مادیانو پادشاه مادیس (Madyes) چې د (بارتاتو) زوی و، د ساکانو سردار له ټولو لښکریانو سره مېلمه کړاو ټول یې د مستۍ پر وخت اټ سټ کړل. تر دغه کار وروسته د مادیانو پادشاه له ساکانو سره وجنګېد او څنګه چې هغوبې سر و سرداره شوي وو، پر ماته له ماد څخه ووتل.

لوی کوروش د بابل له نیواك وروسته د آریانا (ایران) په شمال او لویدیځ کې پر ساکانو را باندې کړل او یو لړ ساکی تېرونه یې لاسکتوي کړل. ځینې د کوروش مرګ د ساکانو په جنګ پورې تړي، د بېستون په ډبرلیك (۵ ستون ۳ بند) کې داسې راغلي دي:

"داریوش شاه وایي: له لښکر سره مې د ساکانو هېواد ته ولاړم، په سکاییه... دجله... کې له سمندره... په بېړیو کې پورې وتم او یوه برخه مې ونیوله او ښکېللي یې ماته راوستل او ومې وژل... "سکون خا" نومی مې ونیوه... لکه څنګه چې اراده مې وه، بل چاته مې مشري (ریاست) ورکړ. بیا نو ایالت زما په لاس کې شو".

۱-۱-۳: د هېرودت په وینا ساکانو دا لاندې خدایګوتې یا ارباب انواع پرښتل:

۱- تابیت تي (یوه یونانۍ خدایګوتې وه چې په یونان کې یې ویراهستیا - د کورنۍ د اورغالي یا اجاق خدایګوتې بلله).

۲- پاپاي، د اسمان خدای.

۳- آپي، د ځمکې خدای، چې د اسمان دخدای میرمن یې ګڼله.

۴- هی تسر (Hoytoser) د لمر خدای.

۵- آرهیم پاسا، د ښکلا خدایګوتې (د یونانیانو آفرودیتا).

۶- تاهیس ماساد، د سیندونو (سمندرونو) خدای.

ساکان دا لوښه (عادت) نه لري چې مزدك یا د خدایانو پژۍ (هیکلونه) جوړ کړي. د آرس له پژۍ او مزدك پرته (Ares د جنګ خدایګوتې) هراکلس ورته هم د پرښتنې وړ و. ساکانو دغې خدایګوتې ته بلهاري (قرباني) کوله. او د درود لپاره یې له اېلخارو یو او آسانو څخه کار اخېست، خو د "آرېس" لپاره د انسان درود‌ونه هم روا وه، داسې چې له هرو سلو تنو (جنګي) بندیانو څخه به یې یو وواژه او وینه به یې په توري سره چې ددغه خدای پیلامه وه، ورتویه کړه. د خوګ درود‌ول روانه وو او له آره یې خوګ هم نه ساته. عادتونه یې په دې ډول وو، ساکانو د هغه رومبنې دښمن وینه چې

واژه یـې، څښلـه او د مـړو سـرونه یـې پادشـاه تـه وړل، څکـه دوی (قـانون) یـې دا و چې تـر څو بـه یـې ددښمنـه سـر را نـه وړ، پـه ولجـو کـې ورتـه ونـډه نـه ورکـول کـېده. د وژلیـو پوسـتکي بـه یـې کـښل او بیـا بـه یې د څپوڼو (دستمالو) پـه تـوګه کـارول. ځینـو تـرې جـامې هـم جوړولـې. د هغـه دښمن لـه سـره بـه یـې چې یېنګـی یـې ورتـه ایشـېده، یـوه کاسـه جوړولـه. شـتمنو سـاکانو دغـه راز کاسـې پـه سـرو زرو اخېسـتې او کلـه بـه چې کـوم مېلمـه ورکـره راغـی، هغـه ټولـې کاسـې بـه یـې ور وښوولـې او ویـل بـه یې چې هغـه هـره یـوه کاسـه یـې د هماغـه یـوه خپلـوان ده چې جنـګ یـې کـړی او ماتـه یـې خوړلـې ده او هـر څومـره یـې چې ددغـو کاسـو شـمېر زیـات و، همـاغو مـره یـې ویاړونـه هـم زیـات وو. کلـه بـه چې د سـاکانو پادشـاه ناروغـه شـو، درې خـورا نـو مـاند پالیـان بـه یـې راوسـتل او هغـوي هـم زیـاتره داسـې ویـل چـې پلانـي سـړي د پادشـاه د کورنـی پـر خـدای د دروغـو لـوړه کـړې، څکـه د سـاکانو دود دا و چې پـه ارزښتنـاکو وختـو کې بـه یـې د شـاهي کورنـۍ پـر خدایـګوټې لـوړل او، پـه دې خبره بـه کـه کـوم یـو ونیـول شـو. تـر ورمندانـه (محـاکمې) لانـدې یـې نیوه او پالیـانو هـم تورنـوه. کـه تـورن بـه منکـر شـو، پادشـاه بـه د راوسـتو پالیـانو دوه ګرایـه نـور را غوښتـل، نـو کـه هغـوی بـه هـم تـورن ګرم وګـاڼه، سـر یـې ور پریکـوه، مـال یـې پالیـانو تـه ورکـاوه او کـه دغـه پالیـانو بـه هغـه بېګنـاه وبالـه، بیـا بـه یـې هم نـور پالیـان را غوښتـل او کـه هغـوی بـه هـم تـورن بېګنـاه وښووه، لومړنـي پالیـان بـه لـه اعـدام سـره مـخ کېدل. کـه کله بـه ساکانو لـه چا سره پـر یـوه تـړون بـاندې ولـوړل، پـه یـوه کنډول کې بـه یې شراب واچول بیـا بـه یې پـه چـړې یـا کـوم بـل تـېره څیـز د تړونوالـو پـرې(بـدن) پـز وهـل، وینـې بـه یـې لـه شـرابو سـره ګډې کـړي، ورپسې بـه یې توره او ژوبیـن پـه شـرابو کـې ومنـډل او پـه دعـا بـه یې لاس پورتـه کـړ چې دا دود پـر ځای کـړي، نـو تړونوالـو اوغـوره سـوبو کسـانو هغـه شـراب څښـل. سـاکان (لـه آره) بېوزلـه او بـې شـتو دي او

زیاتره لـه خپلـو کورنیـو سـره یـو ځای پراسـانو ګرځي او د مـزدورۍ ژوند کوي. په غشـي ویشـتنه کـې تکلاسـي دي.

۱-۱-۴ : د ساکانو ژبه سره توپیر لـري ځکـه چـې لویدیـز سـاکان لـه ختیزو ساکانو سـره د ژبـاړن پـه وسـیله خبرې اترې کـوي. د داریـوش پـه زمانـه کـې د سـاکانو هـېواد (پنځلسـم ایـالت) ګڼل کـېده. کلـه چـې سـکندر د سـیحون سـیند تـه ورسـېد، د سـاکانو د اسـتازي د وینـا تـر اغېز لاندې د خپلو سـردارانو د ورمنـد (حکـم) پـر خـلاف لـه هغـه سـینده پورېووت. (سـاکان) تـر یـو څه جنګ وروسـته پـر شـا شـول او مقدونیـانو ور پسـې ور واخېسـتل، خـو سـترې شـول او بیرتـه تـش لاس راسـتانه شول. ددغه جنګ په پایله کې سکندر پـوه شـو چـې د منځنۍ اسـیا پـه هغـو نـاپـایو دښتـو کـې جنګ بې ګټې دی او خطرونـه یـې هـم ځرګنـد دي، نـو لـه واره یـې لـه سـاکانو سـره یـوه روغـه غونـدې وکـړه او لـه سـیحونه بېرتـه را پورېوتـل او مـخ پـه هنـد یـې ور واچـول. (دپارتیـانو) اووم اشـك، دویـم فرهـاد هغـه مـهال چـې لـه انتیـو خـوس سـره جنګېده. سـاکان مرسـتې تـه راوبلـل، خـو هغـوی داسـې مـهال راورسـېدل چـې شـتوالي یـې کومـه ګټه ونـه کـړه. هغـوی د خپلـو ربنتـو (حقوقـو) او خیـرې غوښتنـه وکـړه، پـه ځواب کـې یـې ورتـه وویـل، ځنګه چـې ځنـډن را ورسېدل، نو د کـوم پـاداش برخمـن کـېداي نـه شـي. هغـوی ور غبرګه کړه، دا دومره لاره یې وهلې ده، کـه څه هـم پـه دغـه جنګ کـې یـې کـوم اغېزونـه ښانـده، فرهـاد کـولای شـي، پـه کـوم بـل ځای کـې تـرې ګټه واخلـي. خو پارتیـانو یـې کـوم بسـند غـبرګون ونـه کـړ. سـکایان لـه دې پېښـه (کبره) ناخوښه شـول او پـر پـارت یـې بریـد وکـړ، چـې چـور چپـاول وکـړي. فرهـاد یـې مخامختیـا (مقـابلې) تـه ور ودانـګل او دا چـې پـه دغه لام کې یـې د هغـو یونـاني سـر تـېرو یـوه ډلـه لـه ځان سره بېولـې وه چې بندیـان یې نیولي وو، هغوي لـه سـاکانو سـره لاس یـو کـړ او پـه هغـه چړاو (کشـتار) کـې یـې چـې پـه پارتیـانو کـې ګډ کـړ، د فرهـاد پـه وژنـه خپل غـج واخېسـت. کلـه چـې اتـم اشـك دویـم اردوان د فرهـاد ځایناسـتی

شو. ساکانو نور د پارتیانو لـه سوبې. مرګ ژوبلې او چور چپاولـه لاس واخیست او خپـل تاتوبـي تـه ستانه شـول. د وروستي (پارتي) شاه، پـه زمانـه کې هونـانو پریـوچیانو فشـار راوړ او دوي د مغولستان پـه لویدیـځ کې د خپلـو استوګنځایونو پـه بـایللو سره اړوتـل، جلاوطـن شي او نـوې ځمکې لاسته راوړي، نو لـه دې کبلـه پـر دوو برخـو وویشـل شـول. زیاتـه برخـه یـې سـویل لویدیـځ تـه ولاړه او پـر خپـل وار یـې پـر ساکانو فشـار راوست او دا (سکایي) ټبر هـم دېتـه اړووت چې د نویـو ځمکو پـه تکل کې شي او یکې ټیکـاو وموـمي.

۱-۱-۵ : پـه دې تـوګه د ساکانو غورځنګ هـم پیـل شـو او ساکانو لـه یوچیانو سره پـه ګډه پـر پـارت او بـاختر فشـار راوړ. دا یـوه لویـه خطـره وه، ځکـه ددغـو نیـم وحشـي وګړو لـه یـري سره د لویدیـزې اسـیا تمدن لـه منځه تـه، خـو لـه ښه مرغـه پارتیـان تـر اوږدو جنـګ جګړو وروسته پـه دې بریـالي شول چې د هغـه ستر سېلاو مخـه ونیسي. خـو یونـاني بـاختري دولـت ونـه شـو کـړای. کـوم دېوال یـې مخـې تـه جـوړ کـړي او یـو مخـیز یـې بیـخ و بنسـټ لـه منـځه یوسي. هـم دا چې دغـه شـمالي وګړو (پارتیـانو)، د باختریـانو ټینـګار لـه منـځه یـوړ او ساکان یـې د سوېل پـر لـوري وشـړل. نـو سـاکان پـه "زرنـګ" کې ځای پـر ځای شـول او لـه هماغـه وختـه زرنـګ (د رنګیانـا) د ساکانو پـه نـوم "ساکستان" (سیستان) ونوموـل شـو. پـر هغـې سربېره ساکان مـخ پـر ختیـځ وړانـدې ولاړل او کـابل یـې لاسته راوړ. بیـا یـې د هنـد خواتـه پـر مختـګ وکـړ او ځینـي برخـې یـې تـرې ونیولـې او یـو دولـت یـې را منځتـه کـړ چې د "هندوسکایي" دولـت پـه نامـه یـادېږي. نـور لیکـوال لکـه: بیکـن (۳۶۹ – ۲۰) بیـا داسي لیکـي: "یـوچیـانو پـر ساکو فشـار راوسـت او لـه منځنـی اسـیا (تورکستانونو) یـې لـېږد تـه اړ ایسـتل" دلتـه کـه بیـا هـم د چینـي تـاریخونو لـه نومونـې سره سم لـه "یـوچیـانو" څخه موخه "کوشـانیان" وي، نـو خـبره ګرد سره پـر بلـه اوړي.

۱-۱-۶: دکتـــور معیـــن (ج ۶ ص ۱۵۱۸) د دوســـت شـــینواري (پښتانــه څوك دي؟ ۳۱-۳۲ مـخ) پـه تـوپـیر او د جـاجرمي (۶۵ ۴ مـخ) په همغاړۍ "کاسیان" یـو بـل پخوانـی تېـر بللي چې د لورستان خـوا تـه د زاګرس غرونـو پـه سیمو کـي اوسـېدل او د دوېمـې مخزيـږدي زرۍ پـه وروستۍ نیمـایي کې یې د ایران لویدیځ (نجد) شـا خـوا تـه ځواك تـر لاسـه کړ، پـه اتلسـمه (مـز) پـېړۍ کـې بـابل تـه ورسـېدل او تـر ۱۱۷۱ (مـز) یـې ۵۷۶ کالـه پـه بیـن النـهرینو کـې. تـر تولـو اوږده واکمنـي وچلولـه.

## ۱-۲: ساك او ساکي پـه آریـایي ژبنوکمیزه ادانـه کـې:

۱-۲-۱: هنـدو اروپـایي ژبنۍ کورنـۍ د نړۍ تـر ټولـو سـتره ژبنـۍ کورنـۍ ده چـې د نـړۍ د نـژدي نیمـو اسـتوګنو مورنـۍ ژبـې ور پـورې اړه لـري او لـه پنـځو لویـو وچـو څخـه د اروپـا، امریکـا (شـمالي او سویلي) او اسـترالیا اوسـېدونکي یـو مخـیز او د آسـیا یـو جـوت ډېرى (اکـثریت) او همدا رنـګه د افریقـا یـو پـاموړ شـمېر اوسـېدونکي پـرې غـږېږي او د لاسـته راغلیـو لاسـوندو لـه مخـې یـې پیلامـه شـپږ زره کالـه پـر شـاځي. (د هنـدو اروپـایي ژبـو لرغونـی تـاریخ. کـابل مجلـه ۱۳۷۰ دربمــــه ګڼه او اړونــــد انځورونــــه) آریــــاني (Aryanian)، یــــا د ختیـځپوهـانو لـه خـوا پـه یـوه پېږیـزه نومونـه ایرانـي "Iranian" ژبنـۍ څانـګه څه نـاځه دري نیـم زره کالـه پخـوا لـه آریـایي ښرانـګې را بېلـه شـوې ده. لـه آریـاني ژبنـۍ څانـګې څخـه پـه درو ګونـو مـهالپېرونو (زمـاني دورو) کـې خـورا ډیـرې ژبـې رامنځتـه شـوې چـې لـه سـوریې را نیولـې تـر تکسـیلا او لـه عربـي سـمندرګي تـر سـینکیانګ، منځنـۍ اسیا اوان قفقـازه پـورې ویونکـي لـري.

۱-۲-۲: پـه زاړه پـېر (۵۲۰-۲۰۰۰ مخـزېږدي) کـې د آریـاني ژبـو شـمېر پنـځو تـه رسـي:

۱-اوستا Avesta، ۲- زړه پاړسي Old Persian یا د هخامنشـــیانو ژبــه، ۳- میـدي Median، ۴- پارتي Parthian او ۵- ساکي یا سکه Saka (=سیتي Scythian).

پـه دغـو پنځګونـو زړو آریـاني ژبـو کـې یـوازې لومړنـی. دوه د متنونو لـه مخـې ښه تـرا جوتـې شـوې دي؛ مـادي یـا میـدي یـوازې د یـو لـړ را پـاتې ویپونـو او نومونـو او د یونانیـانو لـه خـوا د یـو لـړ ګړنیـو کیسـو افسـانو لـه مخـې نومـیرل شـوې او اوسنی. کـوردي او بلـوڅي یـې لـه نمسـیانو څخـه ګڼل کـېږي؛ پـارتي یـوازې پـه منځنـي پـېر (۲ مـې مـز - ۷مـې ز) کـې متنـي او ادبـي جوتتیـا مونـدلـې، بـې لـه دې یـې چـې د زړې یـا نـوې بـڼې څرک ولـګېدای شـي. سـاکي ژبـه هـم پـه زاړه پېرکـې دومـره نـښې نښانـې نـه لـري خـو دا چـې ویونکـي یـې یـو خـورا سـتر تـاریخي بـرم تـر شـا لـري او د وګړو شـمېر او مېشـت ډګر (مسـکوني ساحې) له پلوه تـر ټولـو لـوی ټېـر تـېر شـوی دی، نـو د یونـاني، پارسـي، سـامي، هنـدي، چینـي.. تـارېخي لاسـوندونو پـه تـرڅ کـې یـې یـو لـړ ویپونـه پـه تـېره ټېرنومونـه او ځاینومونـه پـه زړه بـڼه را خونـدي شـوي دي او پـه منځنـي پـېر کـې یـې خوتـن سـاکي، سـوغدي، بـاختري (یفتـل - کوشـاني)، الانـي... د لـوېو او اوسـیتي (پـه ققفـاز کـې)، پښتـو او پـامیري ژبـې او یغنوبـي د نمسـیانو پـه تـوګه ژونـدي یادګارونـه بلـل کـېدای شـي. لکـه څنـګه چـې ګېر شـویچ (۳ مـخ) پـه دغـه اړه وایـې: "هغـه دودونـه جالونـه چـې هـېرودت د سـیتیانو پـه نامـه څرګنـد کـړي دي، پـه اوسیتي نـارت سـاګه (Ossetic Nartt Saga) او یـا فولکلـور کـې انـګازه مومـي. "د ځینـو اریانپوهـانو لکـه هینښنـګ (۲۰ مـخ) سـاکي- سـرماتي (Skythisch-Sarmatisch) زړه اوسـیتي ښوولـې چـې پـه دې تـوګه همزمـان د زړې سـاکي. یـوه ګړودي بـڼه هـم ګڼل کـېږي، ګیرشـویچ سـرماتیان، الان بللـي او بیـا یـې الانـي داوسـیتیانو نیکونـه!

اوستا چې د زرتشتیانو د سپېڅلو کتابونو ژبه وه، په دوو پړمختیایي بڼوکې راڅرګندېږي. خورا لرغوني بڼه یې ګاثا-اوستا ده چې د زرتشت Zarathustra له خوا ویل شوي او ولس سرودونه "Gāθā" را اخلي او یوه څه ناڅه تازه برخه یسنا هپستن هایتي Yasna Haptany haiti او یو څو سپېڅلي وراشې (دعاوې).

بله یې ځوانه اوستا (Young Avestan) ده چې په هغه کې د ببلا ببېلو وختونو اړوندې برخې راغلي او څه نا څه په داسې ناورته بڼو چې ته به وایې، هسې یې سره بابز را کوته کړې دي.

زړه پارسي (Old Persian) د ارامي تر څنګه د هخامنشیانو نیمه رسمي او نیمه درباري ژبه وه چې له عیلامي او اکادي ژبار و سره یې په هماغه راپور شوې مېخي لیک ګڼ متنونه را خوندي شوي دي. د لومړي داریوش یادارا Darius (۵۲۲-۴۸۶ مخ زېږدي) او لومړي خرخس یا خسرو Xerxes (۴۸۶-۴۶۵ مخ زېږدي) پرېمانه ډېر لیکونه له زړو (ارکاییکو) او له میدي توکو سره د کره کړې درباري ژبې په توګه نومېرل شوي دي. داسې چې د خسرو د واکمنۍ په اوږدو کې یې منځنۍ پارسۍ ته د راوښتو یا اوښتیایي پېرته د راګډېدو لومړۍ پیلامې را څرګندېږي. تر داریوش له مخه دومره باور وړ ژبني لاسوندونه تر لاسه شوي نه دي. تر خسرو راوروسته د آریا رامنس Ariaramnes او ارسامس Arsames تر نومونو لاندې پر طلایي تختو را پاتې کښنې د منځنۍ پارسۍ د پیلامې جوته ښکاروندویي کوي. (کارل هوفمن ۱ مخ)

۱-۲-۳: ډلبندي:

لکه څنګه چې په اړوند لښتیلیک (جدول) کې لیدل کېږي، زړه پارسي، میدي او پارتي له منځنیو اونویو بڼو سره یو ځای په لویدیزه آریاني څانګه کې راځي او اوستا اوساکي له خپلو منځنیو او نویو پاتې شونو سره په ختیزه آریاني څانګه کې. ددغې ډلبندۍ (classification) بنسټ تر هر څه له مخه پر غږپوهیزو اندولونو

ایښوول شوی. داسې چې په زاړه پېر (... - ۳۰۰ م ز) کې یو لړ، په منځني پېر (۲۰۰ مز - ۷۰۰ ز) کې یو بل لړ او په اوسني (له اتمې زېږدي راهیسې) کې یو دریم لړ غږونه سره پرتله کېږي، هرګوره ځینې غږونه په دري واړو پېرونو کې څه ناڅه یو راز پرتلیز نقش لري، لکه واخلې (d) په زړه پارسي کې په خپله پخوانۍ بڼه راځي، لکه په dird "زړه" کې چې راوروسته په دوه ګونو پړاوونو کې په هماغه مخنني سر غږ (d) dil لیدل کېږي. اوستایي انډول یې zarad دی اوساکي یې هم همداسې بیا رغاونه restoration موندلای شي، ځکه دغه ویی یې نه دی راخوندی شوی، هر ګوره د پارسي "Daraniya" زر" او اوستا zaranya په وړاندې ساکي - yasīrra لري چې ښایي د زاړه او منځني پېر تر منځه په یوه بل خرمه پړاو پورې اړه ولري. دویې په د ننه کې د د - ز (d-z) بېلګې هم کمې نه دي،لکه پارسي adam"زه" اوستا azam، ساکي aysu او داسې نور.

په اوسني پېر کې د نورو ډېرو انډولتیاوو په لړ کې پر له غښتې (سېستماتیك) غږ انډول ګ - د - ب (g-d-b) او غ - ل - و (γ-l-w) سر غږونه دي چې لومړي دري په پارسي یا لویدیزې ژبنۍ ډلې اړه لري او په وړاندې یې دا نور دري په باختري یا شمال ختیزې هغې پورې، په داسې ډول چې د پښتو د (د –d) په وړاندې نورې شمال ختیزې خپلوانې، لکه پامیري ژبې زیاتره (ذ =δ) لري.او د (و=w) په وړاندې یې زیاتره (v) (۴-۱-۵، ۴-۳-۱).

## ۱-۳: د ساکي ژبې او فرهنګ پاتمړې (مېراث):

۱-۳-۱: له بده مرغه ساکانو د منځني ختیځ، منځنۍ اسیا، باختر اوساکستان (سیستان) له سترو سترو ټولواکمنیو سره سره د پارسیانو په توپیر د خپلې ژبې زاړه یادګارونه را خوندي کړي نه دي، یوازې یې په منځني پېر کې ځایناستو یپتلانو - کوشانیانو او نورو، نه یوازې ډبرلیکونه اوسکې، بلکې د ختن ساکي غونډې

پراخ دینـي - ادبي متنونه هم راپرې ایښې دي. هرګوره په هندوساکایي نومي واکمنۍ پېر (۲م ز-۳م ز) کې یې بیا د ډبرلیکونو یو څرك هومره تر اوسه لګېدلي دی، لکه د جېلم Jhelum د ننداني ډبرلیك چې د "ځښتنه" نومي ساکي شاهزي. یا سیمه ییز واکمن په مهال، دویمې زېږدي پېړۍ اړه لري. (مورګن ستیرنې ۱۹۷۵).

۱-۳-۲: داسې هم نه وه چې ساکانو یوازې جنګونه او سوبې کولې او سترې ټولواکمنۍ یې جوړولې، بلکې د هنر و ادب او پوهې فرهنګ خاوندان هم وو، لکه څنګه چې ګېرشویچ (۳-۵ مخ)) په دغه اړه په زړه پورې څرګندونې وړاندې کوي او په یوه ځای کې یې د هېرودت دا خبره له مخې ساکان د سول "Wisdom" لرونکي ښوولي دي. هخامنشیانو په خپلو ډبر لیکونو کې هم زیاتره په ښونومونو یاد کړي او یوازې د سختو جګړو له کبله یې، هغه هم د لومړي داریوش (۵۲۲-۴۸۶ م ز) له خوا د نه اېلېدونکیو په توګه غندل شوي دي، بل خوا ساکي آرت او هنر د نړیوال فرهنګ یوه په زړه پورې برخه جوړوي. (برتانیکا، لسم ټوك ۵۷۶ مخ)

د طلاتپې ګرانبیه ګنجینه او ګانه بې اړنګه د ساکي پېر له یادګارونو څخه ګڼل کېږي او لکه څنګه چې اروابناد دوست پړي تېنګار کا وه، ښایي په نوماندې ټولواکمنۍ "زرینې" یې اړه درلودی وي.

۱-۳-۳: پر یوناني، هندي، پارسي، یا نورو سرچینو او لاسوندو سر بېره اوسیتي او پښتني فرهنګ د زاړه او منځنۍ ساکي فرهنګ د خوندیینې په زړه پورې ارشیف ګڼل کېدای شي، که اوسیتي یا الاني هغه یې د ادبي او فولکوري پاتمړو څه ناڅه سیده استازي کوي، پښتني دایې بیا که نور هیڅ نه وي، په تېر نومونو او ځاینو مونو کې ساکي فرهنګ پوره ژوندی ساتلی، ان تر دې چې د پښتنو ګډ پلار کاس(معرب قیس) ور سره هم نومیز (اسمي) اړیکی لري.



ACKU

همداسې پسې ضحـاك (سـهاك) كاسـي، كسـي غـر، سـاكزي، سـاك، خـېل، كاسـيان... هـم درواخلـه يـا د دووريـانكوف ( ) داخـبره چـې "سـكه" ستاينوم يوازې پښتـو ژبـې تـر اوسـه ژونـدي سـاتلي دي.

لـه بلـه پلـوه پـه اوسـنيو انګېرلـو سـاكي ژبـو، لكـه پـاميري ژبـې، اوسيتي،... كې پښتـو لـه دېرش – څلويښتـو ميلونـو ويونكيـو سـره تـر ټولو ستره ژبه بلـل كېږي، لكـه څنګه چې پروفيسـور مكـنزي د نـړۍ د سترو ژبو (The World's Major Languages) پـه اډانـه (چوكـاټ) كـې څېړلـې ده (مكـنزی، ۵۴۷-۵۶۵ مـخ).

بلـه پـه زړه پـورې دا چـې "سـكه Saka" ژبپوهـانو ګرځنـده "كـوچـي" مانـا كـړی، يـوازې يـې پـه پښتـو كـې خپلـه آره سـاتلې ده. "څكېدل" د څښېدل، كـښېدل او كـټېدل تـر څنګه د "خـوځېدل" پـه مانـا كله كله، لكه پـه امريـه غونډلـه (جملـه) (لـږ را وڅـكـېږه) يـا داسـې ګړنـه (محـاوره) (د هغـه پـام يـې ځانتـه راوڅكـاوه يـا راوسـكاوه كـې: (د محمـد ګل نـوري اصطلاحـات او محـاورې او يـو لـږ ګړ دودونـه) (۲-۱-۴ ) (همـدا راز براندنشـتاين ۱۴۲ مـخ).

كـه د والـټر بېليـو (۱۳۳ مـخ) دا اټكـل را واخلـو چـې Sakaد Sak- "ځواكمنېدل" ستاينوم دی، نـو بيـا هـم ورسـره پـه پښتـو كـې سـېك د ځواك او سېكمن د ځواكمن پـه مانـا بـې اړيكـي نـه بـرېښي.

پښتـوان د "آريـا" ويـي آره پـه خپلـه ځانسـاتې او اركاييكـه وييپـانګه كـې لا تـر اوسـه ژونـدی سـاتلې ده او پـه دې تـوګه يـې دوه ګونـې مانـاوې چې دغـه ګاى (كلمـې) تـه انګيـرل شـوې، دلتـه موندلاى شو: د "اصـل" پـه مانـا، لكـه د پـير محمـد هوتـك پـه دې شعر كـې: شيخ متي چې خليلي و - دی لـه آره لـوی ولـي و (پـټه خزانـه ۱۳۲ مـخ).

د كركيلې (زراعـت) پـه مانـا، لكـه پـه دې كندهـاري متـل كـې:

آره آره، يـوم پـر غـاړه. پـه كـره ليكنـې پښتـو كـې آر د "اصـل" او آره د "اصيـل، منشـا او نسـب" پـه مانـاوو لـه ښايسـته ډېر مـهال راهيسـې

دود موندلـی دی. پـه دې ډول آریـا Aryā کـېداې شـي د "اصیـل" جـاج راواخلـي.

لومـړي داریـوش ځان Ariya ایرانـي یـا آریـاني بالـه. ، نـوی "ایـران" Ērān=Irān لــه آره د آریـــان -aryān اوړېدن (قلـــب) دی. زوړ آریـــاني لیکدود یې Āryana یا آریانـا کـښل شـوی چـې د ایـران غونـډې لـه تېـر نامـه څخـه ځاینامـه تـه اوښتـی دی. اوسـتا airya د آریـایي" پـه مانـا راخونـدي کـړی او تـر څنـګه یـې آریانـا وېجـه "āryana vaējah" د آریانـا ارتوالـي" یـا ښایـي لـه پارسـي -Eran-šaθr-<Iranšatr یـا Eran-šahr سره اړه پیـدا کړي چې تر نن سبا پـه پارسـي ادبـي ژبـه کـې د "ایـران زمیـن" پـه بـڼه کـارول کـېږي. (مـایرهوفر ۱۰۵ مــخ). د ګېرشـویچ ۱مـخ) پـه وینـا ځینـې سـاکي زرمـاتي (Sarmatian) ځانـګړي وګړ نومونـه، لکـه واخلـې الاني Alāni چـې د اوسېتیـانو او اوسـېتي منځنی ژبپـېر ګڼل کـېږي، لـه آریـاني نامـه سره اړنـدوي لـري. پـه پښتـو کـې د پوهـاند حبیبـي پـه وینـا (د پښتـو ادب تـاریخ لومـړی ټوك) د "اریـا" وګړنـوم څرك هـم لـګېږي – هـر ګوره نـن سـبا یـې زیـات دود موندلـی دی. پـه بـر سـوات کـې اریانـه Aryāna(پـه دویـم خـج) او ار کـوټ د کلیـو دي دغـه راز پـه پـښور کـې دوه او پـه چارسـدې او دیـر ولسـوالی کـې یـو ځاینـوم "اریانـه" شـته، پـه درګئی کـې اریـانکوټ او پـه کـالام دره کـې "اریـانی" هـم پـه زړه پـورې دي. پـه برسـوات کـې اریـا د "سـتر" او "تومیـالي" پـه مانـا کـارول کـېږي، لکـه چـې وایـي څه د اریـا زوی خـو نـه یـې! او ښایـي داسـې ورتـه نومونـه نـور هـم پـه لـره بـره پښتونخوا کـې وموندل شي.

۱-۳-۴: کـاظم جـاجرم (۴۶۵ مـخ) د کاسـپینCaspian او ققفـاز Caucas لـه کـاس نومـې وګړ ډلـې سـره اړونـد وي چـې درې نیـم زره کالـه پخـوا پـه دغـو سـیمو کـې اوسـېدل. دی Causcase (کـاس غـر) مانـا کـوي او یونـاني Caspian "کـاس کنـار اب نشـین" او پـر دې هـم ټینـګار کـوي چـې دغـه نومونـه ځایـي (بومـي) یـا پـه بلـه وینـا اریـاني

ACKU

نومونه دي. خو په پوره اټکل دغه یاد شوی ټېر نوم "کاس یا کاسي" له "ساك" سره اړه لري، لکه څنګه چې پاس یادونه وشوه، له هماغه پخواني پېر راهیسې د واړې آرې او اړول شوې بڼې څنګ تر څنګ را دود شوي ښکاري. دلته د ټکرویونو accidental words خرخشه هم له دومره ډېر پېښې سره منځته راتلای نه شي. نابېري (تصادف)) یو ځل – دوه ځله کېدون درلودای شي او چې خبره یوه ګڼ شمیر ته ورسي، نور نو هغه نابېري پر یوه دوی (قانون) او قاعدې بدلېږي، چېرې د کوکاس غر چېرې کاشغر او چېرې کسې غر او بیا په ځانګړې ډول په پښتنې ژبتوکمیز او فولکلوریك فرهنګ کې د ساك، سهاك، کاس او کاسي.... شتوالی پخپله دا زبات را منځته کوي چې پښتو او پښتانه باید همزمان ساکي ستې آریاني آري اوسي!

۱-۳-۵: څنګه چې ځای پر ځای ورته نغوتې شوې، دا به کومه هېښنده پېښه نه وي چې له دغه زبات سره هغه ټول اساطیري او افسانه یې روایتونه او ماورای طبیعي او انساني کیسې او داستانونه چې د ققفاز او بیا خو تن په اړه په پښتني، پارسي اود سیمې په نورو فولکلورونو او ادبیاتو کې یې ډېرې اورېدې اوژورې ریښې غځولي دي، پر رښتیا او واقعیت بدل شي، ارم باغ د ققفاز (کوکاس) د اسمانڅکو غرونو له ګورو ګورو شنو ځنګلو سره سمون پیدا کوي، دیوان یې له دنګو دنګو او پلونډو ققفازي یا کاسي مېړونو او ښاپېرۍ یې له ښایسته ښکلو ښځمنو پرته نور څوك نه وو، همداسې یې بهرام او ګل اندامه، بدري جماله او سیف الملوك او نورې مینه وړې داستاني څېرې او اتلان هم در واخله. په همدې توګه د خوتن یا چین ما چین اړوندې او څه نا څه ورته کیسې له مشکو او کبلیو سره ورو ورو د ساکانو د رښتني فرهنکي تېر مهال رغنده ټوك ګرځي، نه د چینیانو او تورکو تاتاریانو یا نورو ژړو توکمونو. د خوتن او کوکاس (ققفاز) په اساطیري او افسانه یې ډګر

کې ورتوالی په تاریخ کې هم را ځرګندېږي او هغه دا چې هماغه ښکلي آروپایي آري توخاریان او بیاساکان له هغه غرونو څخه یو ځای د خوتن د ښتو ته را لېږدېدلي وو (معین، ۵ ټوك اعلام ۲۷۲ - ۲۷۵ مخ) په دې کې څه اړنګ برنګ نشته، هماغومره چې د ساکانو تاریخ له بېلا بېلو اساطیري تورتمونو څخه رڼا ته راوځي او اړوند ساینس فېکشنونه یې ساینسي ډګر ته، نوسم ورسره د نورو ساکي پښتو په څېر د پښتنو تېر مهال هم له ورته تیارو او ماویلیو تا ویلیو افسانو څخه د رښتیا وو روښانه بهیر ته ورسمېږي او دا جوته ده چې په دغه برخه کې د ژبپوهنې تر څنګه د توکمپوهنې (اتنالوجي)، ادبپوهنې او فولکور پوهنې نقش هم پوره پا مور دی. دلته دا هم پوره روښانه ده چې د اوسیتي او اوسیتیانو تر څنګه چې ګیرشویچ (۳ مخ) پرې تینګار کوي، پښتو او پښتانه هم د ساکانو د ژبې او فرهنګ له سترو او رښتینو پاتوړو (وارثانو) څخه ګڼل کېږي. (همدا راز ۱-۲-۳)

۱-۳-۶: لکه څنګه چې ځای ځای ورته په دغه څېړنیز اثر کې نغوته شوې، ساکي ژبه د ساکانو له تاریخي، جغرافیایي اکر بکر سره سمه له هماغه پیله پر ښایسته ډېرو جغرافیایي، یا په بله وینا ګړدودي (لهجوي) څېلونو اوډولونو ویشل شوې وه، ان تر دې چې د ډاکټر معین (۱-۱-۴) په وینا د لویدیزي سیمې یا منځنې ختیځ ساکان د ختیزو (باختري) هغوي په خبرو سم نه پوهېدل. په دې توګه دلته بیا هم د مورګن ستیرنې (د ۱۹۷۵ لیکنې له مخې) دا پایله لاسته راځي چې پښتو له خپلو ویونکیو سره یو ځای له شمال ختیځ (باختر او پامیر)، یا په بله وینا د "هومه ورګه" ساکو له سیمې په درېمه مخزیږدي پېړۍ کې ساکستان (سیستان) ته را لېږدېدلې او بیا تر غور، هېلمند، ارغنداو او کسې (سلیمان) غره راخپره شوې او پرمختیایې موندلې ده. هو که د باختر – پامیر او بیا ساکستان د اړتدو ساکي ګړ دودونو څه توکي لاسوندونه تر لاسه شوي وای، یا په

راتلونکې کې تر لاسه شي، هرومرو به تر خوتن ساکي اونورو پاتې شونو څخه له پښتو سره لا زيات نږدې اړيکي ولري او د پښتو او پښتنو تېر مهال به نور هم پسې روښانه شي.

۱-۳-۷: د بېلګې په توګه د انګلستان د تلوېزيون څلورم چينال د ۱۹-۴-۹۹ پر ماښام د وګړ پوهانو يوې ډلې د سينکيانګ په تکله مکان کې يو لړ پخوانې موميايي شوي مړي وڅېړل او په ډاګه يې کړه چې هغه له اوسنيو تورك مغوليانو سره نه، بلکې له بېلا بېلو کوچيانې تېرونو سره اړخ لګوي چې له قفقاز او نورو سيمو څخه له مخزيږدي پېړيو څخه تر ۶-۷ مې پېړۍ پورې هلته راغلي، مېشت او واکمن شوي دي، لکه اروپايي آري توخاريان، آريانيان آريايي هنديان. چې په آريانيانو کې هغلته له ساکانو پرته بل څوك تاريخ په ياد نه لري. هغې څېړنډلې دا هم زياته کړه چې چينيانو خپل تاريخي ديوال د همدغو يرغلګرو کوچيانو د مخنيوي لپاره جوړ کړی و چې نور چين ته د ننه زيات پر مختګ ونه کړي، خو د تاينبي دا څرګندونه دلته زياته باوري برېښي چې تر مغولو اته پېړۍ له مخه تر هونانو نور څوك دومره وحشي او يرغلګر له منځنۍ اسيا څخه را پورته شوي نه دي.(تاينبي ۵ مخ)، کوچيانو هم د همدغو تورك – مغولي توکم د مخنيوي لپاره خپل تاريخي ديوال را منځته کړي دي. ارواښاد غبار (۲-۲-۱) په نومېرلي توګه ليکي چې هنه د هونانو له کبله چينيانو جوړ کړي و.

## ۱-۴: د ساكانو ټاټوبي او تېر:

۱-۴-۱: ساکانو له ټولې ګرځنده او کوچيانۍ لوښې (خصلت)) سره سره بيا هم بې ټاټوبي او بې هيو اده نه وو. که هغه په منځنۍ اسيا کې و، که په منځني ختيځ، په لويديزه آريانا کې و، که په ختيزه کې، له همدې نامه سره يې تړاو درلود او په دې توګه يې له بېلا بېلو جغرافيا يې بدلونونو سره بېلا بېل نومونه ځانته غوره کول. د هغو ګردو نومونو په لړ کې ښايي سکاييه [Sacae]Saka -iyya يې تر ټولو پخوانی او ټوليز (عمومي) نوم اوسي. د

سکستان Sac-a(e)stan په نامه بیا هله نومول شوي دي چې ساکان له شمال، لویدیځ او بیا باختر (بلخ)) څخه اوسني سیستان ته راغلل او په دویمه مخزیږدي پېړۍ، کې یې دغلته د یوې سترې ټولواکمنۍ (امپراطورۍ) بنسټ کېښوده. ددغې سیمې پخوانی نوم درنګیانا (زرنګیانا) و چې را وروسته زرنګ شوی او عربي بڼه یې زرنج ته اوښتې ده.

د ساکستان نورې بڼې سکستان، سګستان دي او عربي یې هم سجستان چې له همدغې وروستۍ بڼې څخه رغېدلې بریښي. سکزستان Sakz-a(e)tān یې یو بل ډېل (وارینټ) بلل کېږي چې دا هم پر خپل وار سقستان شوی او په پای کې له دغو ټولو بڼو سیستان جوړ شوی دی چې نن سبا په همدې نامه یادېږي، هغه هم پر افغاني او ایراني سیستان ویشل شوی، خو د پخوا له بده مرغه زموږ د لنډاندو تاریخوالو په سپاربښت لومړی پر زرنج او را وروسته پر نیمروز اړول شوی دی. سکز (لکه په سکزستان کې) د ساك همانیز دی.

سکاوند Sak-avand یا سکیوند Saki-wand هم د سیستان، یا په بله وینا د ساکستان په مانا (د ساکانو ټاټوبي) اخېستل شوی چې سګاوند ډېل یې د سجاوند په بڼه عربي شوی دی. سجاوند د دوکتور معین (۷۷۵ مخ) د څېړنې له مخې د بامیانو یو غوره ښار بلل شوی او د حدود العالم په اخځ لیکې چې سجاوند د خراسان د شاوخوا اود "ری "د ښارونو له سیمو څخه یوه سیمه وه، د منوچهر ستوده په اخځ یې سکاوند یو ښارګی او یو حصار ښوولی دی، دغه راز یې سیستان ته یو څرمه غر هم سکاوند بللی دی.

د لوګر د څرخ درې په پای کې یو تاریخي کلی هم "سجاوند" نومېږي.

پروفیسورمورګن ستیرني ساکستان (Sakastana) او سیستان د Seistan په بڼه کښلی دی، (مورګنسترني ۱۹۷۵ ،۳-۱-۲)

۱-۴-۲: تـاجیکی اریانپوهـاند حلیـم شـاه (۶۰ مـخ) د بدخشـان کشـم او اشکاشـم او بیـا ټول بدخشـان د سـاکانو لومـړي ټاټوبـی ګڼلـی، خو دا چې د مـارکوپولـو یـاد کـړی سکاسـم لـه کسـم (کشـم) سـره ګډوي، ښایـي یـوه تېروتنـه اوسـي! دی پـه اوومـه زېږدي پـېړۍ کـې د دغـه نومـاند ایټالیـایي ګرځنـدوی د یونلیـك لـه مخـې وایـي: چـې درې ورځې مـزل وکـړې، سکاسـم تـه رسـېږې، مـانۍ او ښارونـه پـر غـره بـاندې ټیکـا ولـري. ددغـه ښار پـه منـځ کـې یـو لـوی سـیند بـهېږي پـه دغـه ځای کـې غرنـي ژوي ډېر دي او ښکاریـان یـې پـه سـپو ښکـاروي او هغـه ځناور سره لاس یـو کـوي او سـپي ټپـي کـوي. سکاسـم یـوه پراخـه سـیمه ده او وګړي یـې یـوه ځانـګړې ژبـه لـري. ددغـه ځای خلـك خپـل څاروي پـه غـره کـې څروي او هملتـه هـم ورنـدې بانـدې لـري. څنګه چـې غرونـه خاورینـه څمکـه لـري، نـو پـه داسـې ځایونـو کـې د سمڅو کندنـه اسـانه وي"

حلیم شـاه (۵۳ مـخ) دلتـه بیـا دا خبره کـوي چـې تـاریخوالو سکاسـم د بدخشـان ننني کشـم بللـی او هغـه سـیند بـه یـې چـې لـه منـځه تېرېږي. هـم هغـه مهال د ښار پـه نامـه سکاسـم بلـل کـېده او کومـه سـیمه چـې لـه کشـم څخـه تـر اشکاشـمه غځېدلـې او لـه چیـن سـره همـبریدې وه، د دارا پـه زمانـه کـې "سـاکا" نومـېده. کومـه ژبـه هـم چـې مـارکوپولـو یـاده کـړې ده، پـه دواړو سکاسـمونو (کشـم او اشکاشـم؟) کـې تـر اوسـه ژونـدۍ ده او د همدغـې ژبـې پـه مرسـته داوسـتا پوهېدنـه ښه تـرا کـېدون مونـدلای شـي. پـه همدغـه ژبـه کـې جـراوه (jrava) د اوسـتا (زراوه zrava) غونـدې "رود" او رمـوزد یـا رمُزد (rmozd) "لمر" تـه وایـي او د سـاکانو هېواد د بېسـتون د لیکنـو لـه مخـې همـدا سکاسـم (کشـم، اشکاشـم) دی. هلتـه ویـل شـوي دي چـې دارا پـه لار کـې د سکاسـم (کشـم اشکاشـم!) لـه اوبـو پـورېووت، دسـاکانو پـاڅون یـې غلـی کـړ او دغـه هېواد یـې پـه خپلـه آوېجـه کـې راوسـت. څنګه چـې څرګنـده ده، د سـاکې تېـر د تـاریخ زده کـړه د راولېنسـن Rawlinson لـه خـوا را پـېل شـوې

او د میخي لیك زده کړې یې په دغه برخه کې ستر نقش لوبولی دی. نوموړي پر ۱۸۴۹ کال د بیستون د ډبر لیکونو په اړه یو لړ لیکنې چاپ کړې چې دویمه یې تیش خولیو (تیګره خوده Tigraxauda) ساکانو ته ځانګړې کړې ده. په دغه اثر کې څېړونکي دا هڅه کړې چې د نقش رستم د لیکنو (ډبر لیکونو) له مخې د لویدیز پارس د ساکانو استوګنځی د دجلې سیند شمال ته وښیي په نولسمه پیړۍ کې تر راولېنسن راوروسته نورو پوهانو د ساکانو د ځای پر ځای کېدنې په څېړنه کې هم پرله پسې یو لړ اثار کښلي چې په لس ګونو او سلګونو الواکونه او وړاندیزونه یې پکې وړاندې کړي دي. دغه الواکونه او وړاندیزونه هم یو له بل سره (څه نا څه) توپیر لري او را وروسته پوهانو پرې بیا نورې څېړنې کړې دي. له هغو ټولو څخه یو ژور لنډون را ایستل لاتر اوسه کېدونې شوی نه دی.

۱-۴-۳: په دغه لړ کې لېتوینسکي (B.A.Litvinskii) د ساکانو د مېشتېدنې یا ځای پر ځای کېدنې ربړه یو ځای د هغوی د ټاټوبي د پراختیا او جغرافیا له پلوه تر سکالو لاندې نیسي.

هماغسې چې څرګنده ده، د زړې پارسي په لیکنو کې د ساکانو د نوم (یا ټبر) داخېلونه (وارینتونه) وړاندې کېږي: تېشخولي ساکه (Saka ThygraXauda)، هومه څښونکي یا ایشوونکي ساکه (-Saka Haumavarga)، پارا دریا (د کڅ یا سیند غاړې) یا کڅوال ساکه (Saka Tya Para Sugodam), (Saka-Tya Paradarya) او دهه (Daha) ساکه ( حلیم شاه ۵۴ مخ).

۱-۴-۴: ختیځپوه هاند کېنت (R.Kent) بنایې کڅوال ساکان (د سیند د ساحل ساکان) اد نقش رستم د لیکنو له مخې چې تر ارمینیه Armenia، کپدوسیه (Kapadocia) او سردم (Sardam) یې یادونه شوې، د هخامنشیانو د ټولواکمنۍ د لویدیځ استوګن ګڼلي دي. له دې کبله داسې بریښي چې ساکانو له منځنۍ اسیا سره کومه اړه نه درلوده، ځکه بله برخه یې هم د نوموړې ټولواکمنۍ په لویدیځ کې وه [دلته سرې له منطقي پلوه

پخپله دې پایلې ته رسي چې که د هخامنشي دولت لویدیځ او ختیځ دواړو خواوو ته پراته وو، نو هرو مرو یې یوه یوازینی کړۍ جوړوله او دا کړۍ بې له منځنۍ اسیا کېدونې نه وه [زیارا].

د هرمن A. Hermann او هنز W.Hinz د لیکنو له مخې کڅوال ساکان د څېړنې جوګه کېدای شي. د کونف (S.Konof) له خوا د بېستون ډېر لیکونو د ژباړو له مخې دا پایله تر لاسه کېږي چې تېش خولي ساکان پرکڅ (د سیند پر غاړه) اوسېدل. دی لیکي چې دغه تېش خولي له سوغده نیولې، تر کسپینه یا کاسپینه د سیردریا (Jaxartes) په ټول هېواد کې اوسېدلي دي.

۱-۴-۴-۱: یو بل ختیځپوهاند توماس (Thomas) هڅه وکړه چې د ساکانو مېشتېدنه په سیستان کې د سیند پر غاړه وښیي او د سیند پر ځای یې د هامون سیند ګی د هغوي میشتځای وګڼي.

شوروی تاریخپوهاند ستروړی (Struwe) د ساکانو ټاټوبی د اورال سمندرګي کڅ (غاړه) ګڼي. خو دا خبره هېڅ پر کار نه دي چې دغه مېشتځای نه د رستم نقش د لیکنو له مخې کېدای شي او نه د جغرافیايي مېشتیا له مخې، بلکې د دارا له خوا د هغوی ماڼې د مهال له مخې راڅرګنده شوې ده.

لکه څنګه چې له مېخي لیکنو څرګنده ده، موږ د هومورګه او تیګره خوده ساکانو په څېړنوکې له (دهه) اوتیه پره سګدم ساکانو سره مخ کېږو. اسموسین (J. R. Asmussen) څرګندوي چې د (پس سغد) ساکانو او تیګره خوده ساکانو په لیکنه کې له هومورګه ساکانو سره پېژندګلو پیدا کوو. د ساکانو د مېشتېدنې او مېشتځای په اړه په تاریخپوهنه کې تر ننه همداسې بېلا بېل او ناهمور ته لید توګې لیدل کېږي.

دا سمه ده چې نوماندو لرغونپوهانو برنشتم (Bernshttam) او لېتوینسکي (Litwinski)) د منځنۍ اسیا او پامیرلپاره د لرغونپوهنې له لارې ستر خدمت کړی او ددغو سیمو د وګړو د لرغوني فرهنګ په څېړنه کې یې وړنده ونډه اخېستې ده، خو د دوی د څېړنو له مخې ساکان په پامیر

کې نه دی میښتښدلي. بلکې (تل) په کوچ کې وو، دغه الواك د پامیر خلك او همدارنګه د چین، هند او ایران اساطیر ردوي.

هماغسې چې تاریخپوهان سره د اریاییانو د لومړني ټاټوبي، اریانا وېجی په څرك کښنه کې یوه خوله نه دي او د راوړو لاسوندو له مخې یې د ځمکې په هرګوټ کې ښوولي دي، همداسې یې دا هم ونه شو کړای چې د ساکانو هېواد جوت کړي او د هغوی د مېشتیا پر ربړه بوخت شي. ښاغلی حلیم شاه (۵۶ مخ) خپلو خبرو ته داسې غځونه ورکوي:

۱-۴-۴-۲: ختیځپوهانو ته د لمر غوندې ښکاره ده چې په دروګونو تاریخي پېرونو کې د پارسي له داسې وییونو سره مخامخېږو چې د مانیزو بدلونو له کبله یې د لرغوني اریانا د جغرافیا په پوهېدنه کې یو لړ ورانپوهاوي (سوء تفاهمونه) را منځته کړي دي. د ساري په توګه په پامیري ژبو کې د سمندر لپاره کومه نومونه نه لري، بلکې د عربي بحر یا اقیانوس وییونه پکې دود شوي دي. په تاجیکي او افغاني پارسي او د افغانستان په ځینو نورو ژبو کې دریا د رود (سیند) په مانا دود لري او په پامیري ژبو کې رود ته بیا زروه، جروه او یا هم پارسي دریا وایي، حال دا چې په لویدیزه(ایراني) پارسي کې دریا د سمندر (بحر) په مانا دی او رود د سیند چې ویېزه اره او تاریخي جرړه یې حقیقت ته ډېره نږدې برېښي. په تاجیکستان او بدخشان کې زیاتره سیندګی (دریاچه) "کول" یا حوض بولي او دریاچه د سیند (رود) بېلې (شاخه دریا) ته وایي. د ښستون او نقش رستم په ډبرلیکونو کې د دریا ویی د ختیځپوهانو له خوا "بحر" مانا شوی او ژباړل شوی دی چې په دې توګه یې د بېلا بېلو رودونو (سیندونو) نومیرنه (تشخیص) ناشونی کړی دی. خودا چې په نوموړو ډبر لیکونو کې د ساکانو هیواد د دریا (سیند) پر غاړه ښوول شوی، نو دا پایله پر لاس را کوي چې دا همدا سیستان دی. ځکه دغلته سیند دی، نه سمندر.د دارا

پر وخت هم "دریا" د رود (سیند) په مانا اخېستل کېده. (حلیم شاه ۵۷ مخ). دغه لیکوال سوکه Sauka چې په اوستا کې د یوې پرښتې نوم دی، دلته بې اړې نه بولي او له سکه اوسکا یې سره یې اړندوي چې د ساکانو پرتېرني او هېوادني نوم سربېره په درېمه "دیني" مانا هم را اخلي. له کشم یا اشکاشم سره د مارکوپولو د رود (سیند) یادونه او بل خوا دا چې د اوستایي اناهیتا (د اوبو پرښتې) مانۍ د سکاسم پر غره پرته ښوول شوې ده. دا پایله پر لاس را کوي چې که هر ځای د ساکانو اوسېدنه (لکه په پارسي ډېر لیکونو کې) د "دریا" (ساحل) ښوول شوی، موخه یې غرني رود (یا پښتو سیند، خوړ، لکړ) ده، نه سمندر یا بحر چې په زړه، منځنۍ او ننۍ ایرانۍ پارسۍ کې د "دریا" انډول راغلی دی. (د هماغه اخځ ۵۸ مخ) دلته یې ختیز اوستایي انډول زراوه (zrava) (اشکاشمي جراوه ǰrawa) په خپله اره مانا (غرني رود او سیند) راغلي او نوموړي تېروتنه له منځه وړي.

همدا لیکوال وراندې وایي: "د بېستون په ډېر لیکونو (۷ ستون) کې د تېښ خولیو ساکانو په اړه راغلي چې دغه ساکان ژمن ماتي (عهد شکن) دي. اهورا مزدانه پرښتې اوما اهورا مزدا وپرښته. ما داهورا مزدا په پېرزوینه او خپله خوښه هغوی خپلې اېلتیا (اطاعت) ته اړ ایستل" (هماغه اخځ او مخ)

۱-۴-۴-۳: حلیم شاه دا خبره هم کوي چې په اوستایي یشتونو کې له ایزدسوکه (Sauka) سره مخ کېږو په دې توګه سوکه هم یو ایزد او بیا پرښته ده چې د خوښۍ، پرمختګ او پالنې لپاره ګومارل شوې ده. دی په پهلوي شننه کې سوکه د "سوك" په بڼه راښیي او دا پایله را باسي چې سکا (ساکایان) هم د مزده یسنایي دین یوه څانګه ده او مزدا او مېترا یې بیا بله څانګه ګڼل کېږي. دی پسې لیکي، په دې توګه د ساکانو جنګ چې د ناپایه زمان ګروهن دي، را مینځته کېږي او تیشخولي ساکان د سوکه ایزد او سوشیانسانو (د زردشت

د زامنو ګروهن) دي. لـه همـدې کبلـه دارا د زرتشـت يـاده نـه کـوي. هومـه ورګه سـاکان هماغـه د ينبنووان (موبـدان) دي چـې د هومـا د ځبنګ سـپاربنت کـوي چـې ژونـد اوړدوي او پـه اوسـتا کـې د "زنـده رود" او "ووروکـش" او همېشـنيو اوبـو خـبره زياتـه کـېږي. (حليـم شـاه ۵۹۰ مـخ).

نومـوړی پـه پـای کـې دا پايلـه هـم پـر لاس راوړي چـې پـه منځنـۍ اسيا اوان تـرې وراخـوا سيمو کـې د ايـزد سـوکه ځانـګې غځېدنـه يـوه طبيعـي خـبره ده او دغـه ديـن او تمـدن يـوازې پـه دې او هغـه ټاټوبـي او تېر پورې نـه، بلکې پـه ټول مـانيز جـهان اړه لـري. څرګنـده ده چـې سـوکه د اهـورا مـزدا لـه ايزدانـو څخـه يـو ايـزد يـا خـدای ګڼل کـېږي او دينـي بېلتـون پالنـه پـه ټولـو نويـو دينونـو کـې د لمـر غونـدې څرګنـده ده. لـه همـدې لاملـه سـاکي فرهنـګ او تمـدن د يـوه کـوچـاني فرهنـګ او تمـدن پـه تـوګه ارزول د منـې وړ نـه بـرېښي. (هماغـه ليکـوال ۶۰مـخ).

نوموړي ليکوال د بېـستون ډبرليـك پـه ساکاتيا پره دريا (Saka tya paradarya) او ساکاتياپره سغدم (Saka tya para Sugdam) کې پره (para) د اوستا او اوسنۍ شوغنۍ لـه مخې د لوړ او ستونځ (قلـه کوه) پـه مانا سـهي ګڼي او لـه دې سره (پره دريـا) کړونګی (ابشـار) مانـا کـوي، نـو بنايي "د ساکسـتان ابشـار" او ييـا هـم تـرې موخـه پخپلـه سـکه او سـاکان اوسي، خو پـه هره تـوګه د ډبر ليـك د ژبـاړونکيو شننه سمه نه ګڼي چې يو خوايې (دريا) د سمندر پـه مانا را اخيسـتې او بـل خوا يې هـم (پره) پـه"پس" مانا کړی او "پره دريا" يې پس بحر يـا کنـار بحـر. حـال دا چې سـاکان يـا پـه غره کـې اوسېدل او يـا هـم پـه هواره او سمه کې، او دا هـم جوتـه شوې چې لومړی ټاټوبی يې د بدخشان غرنۍ سيمه او بيا اشکاشم و او دويم هغه يې هم هامون سيستان (حليم شاه ۶۰ مخ).

د بدخشـان غرنـۍ سـيمه او بيـا اشکاشـم (سکاسـم) د سـاکانو د لومړني مېشـتځای او ټاټوبـي پـه تـوګه د ژبنـی وېش لـه مخـې هـم سـمون پيدا کـوی. ځکـه چـې د سـاکانو ژبـه (سـاکي) پـه همدغـې شمال خيـتزې

اریانــا اړه لــري چـــې بـــاختر (بلـــخ) او د بدخشـــان پـــه ګډون پکـــې د هندوکـش ټولـی شـمالي سـیمې راځي او اوسـتایې خـور بلـل کـېږي، بـاختري (کوشـاني) یـې لـور او پښتـو او پـامیري ژبـې یـې نمسـیانې. (د اریـاني ژبـو اړونـد لښتیلیـك دې پـه پـای کـې وکتـل شـي) خـو بیـا هـم د ښاغلـي حلیـم شـاه وروسـتی ژبنـی ځرګندونـې ټولـې سـمې نــه بـرېښي. دلتـه یـې یـوازې د "دریـا" پـه اړه سـپیناوي د پـوره پـاملرنې وړ دی چـې مانـا یـې د زړو اونویـو ختـیز و اریـاني ژبـو لــه مخـې رود او سـیند دی، نــه بحـر و سـمندر یـا سـیندګی او سـمندرګی، مـګر "پـره دریـا" چـې تـر ننـه پـورې تـر امـو پـوری غـاړه شـمال سـیمې پـرې نومـول کـېږي او "پـارا دریـا" بـڼې تـه اوښتـی دی "د سـیند پـورې غـاړه" (مـاورای دریـا – رود) مانـا لـري او ډېر کـېدون لـري چې پـه هخامنشـي ډبرلیکونـو کـې د کـځ (ساحل دریـا) نـه، بلکـې د آنسوی دریـا یـا مـاورای دریـا پـه جـاج کـارول شـوی وي او پتلـیز ورسـره دا هـم غـوټه کـېدای شـي چـې اړینـه نـه ده، "دریـا" یـې یـوازې پـه اوسنی تـاجیکي او افغـاني جـاج دریـا (سـیند)) را اخېسـتی وي، همزمـان بـه یـې د سـیحون او جیحـون او نـورو لویـو وړو سیندو پـه لـړ کـې د کسـپین او ان تـور سـمندرګي هغـه هـم پـه پـام کـې نیولـی اوسـي او پـه دې تـوګه بـه یـې لـه پـارا دریـا سـاکانو څخـه موخـه هماغـه سـاکان وو چـې لـه هخامنشـي ټواکمنـانو سـره یـې لـه منځنـی اسیا څخه ډغرې وهلې. پـه دې ډول بـه یـې پـه بدخشـان او بیـا لـه شـماله تـر لــېږد وروســته پـــه سیســـتان کـــې کومـــه بلـــه ځانـــګه او ښرانـــګه اوسـېدلې اوسـي اویـا هـم پـه را وروسـته تـاریخي پړاوونـو کـې دلتـه او هلتـه سـره ټول یـو ځای شـوي وي. پـه "پـره سـوګدم" کـې هـر ګوره کـېدای شـي"، "پـره" د "بـره" یـا لـوړو (غرونـو) پـه مانـا ومنـل شـي.

۱-۴-۴-۴: د زړې پارســی د لاســلیکي لیکــوال براندنشــتاین او مـایرهوفر د پـارا دریـا سـاکان د سـویلي روسـیې اسـتوګن ښیـي چـې د تـور سـمندرګي (تـورې بحـیرې) اغـاړه یـا پـورې غـاړه پرتـه ده. (نومـوړی اخـځ ۵ مـخ او همدارنـګه همفریـز ۷۵ مـخ). بـل خـوا کـېدای شـي، د

سیستان سیندګی، یا ولاړې اوبه هم "دریا" مانا شوي وي، نو په دې توګه یوازې د باختر او بدخشان اړوند سیندونه، په تېره امو سیند بیا چې یوه غوره سرچینه یې پامیر غرونه دي، د ختیزې نومونې له جاج "سیند"، رود " سره سمون پیدا کوي.

۱-۴-۴-۵: همفریز له بابل څخه تر چیني پولو پورې سیمه د ساکي کوچي ټبر ځغل ډګر بولي او کله چې د سویلي روسیې له جلګو څخه را خوځېږي، پر پارتیانو یرغل راوړي، ټولواك "فرهاد" یې ور وژني او د دغسې شمالي اریانا تر نیولو وروسته د امو سیند غاړو ته را رسي، د باختر او د شمال ختیزې اریانا تر بشپړې سوبې وروسته سویل ته مخه کوي او دغلته د سیستان (Sakastan) د دولت بنسټ ږدي. بیا هند ته پرمختګ کوي چې پایله یې د هندو سکایي دولت جوړښت ته رسېږي. (همفریز ۷۵ مخ) دکتر محمد معین فرهنګ د سکا تر سرلیك لاندې، لکه څنګه یې چې د همدې څېرکي په پیل کې اخېستنه شوې ده، د ساکستان منځته راتګ په شپږمه مخزېږدي پېړۍ کې جوتوي، څکه کوروش یې پر ۵۴۰ ق م ستاینه کړې ده.

په همدې لړ کې الوین اېبلز (Elvin Abeles) په کولېر انسایکلو پیدیا (Collier's Ency.) شلم ټوك کې تر Sithia (Scythia) سر لیك لاندې داسې لیکي:

د سیتیانو هېواد له اره د روسیې سویل ته د قفقاز او دانیوب تر منځ ټیکاو درلود. په رومي پېرکې دغه سیمه سرماتیه Sarmatia بلل کېده او سیتیا بیا هغه هېواد و چې د دانیوب دلتا سوېل ته پروت و او اوس یې دابرویا Dobruia بولي. کله چې دیوکلیتین Dioclettian پر ۳۹۵ زېږدي کال امپراتوري له سره جوړه کړه، د دیوسېس تراس Diocese of Thrace شمالترین ایالت یې سیتیا ونوماوه.

۱-۴-۴-۶: دوست شینواري (۱۹ مخ) د دکتور حلیم شاه غوندې په دغه اړه له روسي سرچینو څخه په ګټه اخېستنه د ساکانو د بېلا بېلو ډلو او ځای ځایګي په برخه کې څرګندونې کوي:

"ساك ډ منځنۍ اسیا په لویه غېږ کې په بېلا بېلو (ساك، سهاك، سك، سکېت، سکېف" او نورو نومونو یاد شوی دي. دغه لوی قوم د شمېر د ډېروالي او د سیمو د پراخوالي له لامله، لکه څنګه چې په بېلا بېلو نومونو یاد شوي دي، همدغه شان د بېلا بېلو کولتورونو څاوندان او د بېلا بېلو سیمو اوسېدونکي هم وو چې هم د سیمې او هم کولتور له مخې ټول ساك تر یوه نامه لاندې را ټولول ګران کار دی خو (په هره توګه) یې مشهور ټبرونه دادي:

هوما ورګ ساك یا اموړګ ساك: دېر بېکان، اسبان، یکسرتیان، اپسیاك، مساګېت، اتاسي او کاسي او داسې نور، (دوست، افغانستان په اوېستا کې ۴۰ مخ).

هوما ورګ (د هوما ایشوونکي) چې د (اموړګ ) په نامه هم یاد کړي او د هغوی د استوګنې سیمه یې اساسا د مرغاب وادي ښوولې او د نورو کولتوري سیمو په څنډو پیڅکو کې اوسېدل.

تر میلاد له مخه زرو کلونو په نیمایې کې په پامیر او هغه ته په نژدې سیمو کي یوه واحده ټولنه وه چې واحد کولتور یې لاره، تصور کېږي چې دا د هوما ورګ ساکو ټولنه وه چې د نقش رستم په یاد ګار اود دارا په نورو کتیبوکې یاد شوي دي او هېرودت د (اموړګي سکیفیانو) په نامه یاد کړي او د هغوی سیمه یې د (سکیفیانو نړۍ) جنوب ختیزې څنډې ښوولې دي. دلته د هېرودت دا خبره د خاص یادونې وړ ده چې وایي: ساك د اموړګي سکیفیانو نوم دی. دغه ساك که څه هم د منځنۍ اسیا په ټولوکولتوري حوزو لکه باختر، سوغد، مروه، خوارزم، مرغانه او نورو کې د کوچ او لېږد په دود اوسېدل، خو د مېشت اساسي ځای یې د مرغاب د سیند وادي وه چې د هندوکش تر لمنو پورې سیمې یې را نغښتې او د ساکو د

لویـېـ اتحـادیي پـه سـرکې یـې لـه مسـاګیتو Mas-aget سـره تړکـاو لاره.

د زړې پارسـی د کتیبـو لـه مخـې ساك د وینې نـه، بلکـې د سـیمې لـه پلوه داسې وېشـل شـوي دي:

۱- تـېره خولـي (تېشـخولي) سـاك چـې غالبـا د سیر دریـا پـه شـمالی دښتو کـې اوسېدل.

۲- هوما ورګك ساك چـې اساسـا د ارغنـداب پـه حـوزه کـې وو.

۳- لـه سوغده پـورې سـاك.

۴- لـه سـینده پـورې سـاك، غالبـا دوی د اورال لـه سـینده پـورې (غـاړه) پراتـه وو او پـه دې تـوګه بـاور لـرو چـې دغـور سـاك پـه همدغـو امـورګو (هومـا ورګو) سـاکو پـورې اړه درلـودې، نـه پـه کـوم بـل تېـر پـورې" (دوسـت، پښتانـه څوك دی؟ ۲۱ مـخ)

**۱-۴-۵:** پـه یـوه بـل اثـر "افغانسـتان پـه اوېسـتا کـې" یـې د زرتشـت، زرتشـیتزم او اوېسـتا پـه اړه سـاکان پـوره څېړلـي او لـه افغـاني خـاورې او تـاریخ او بیـا پـه ځانـګړې تـوګه یـې لـه پښتنـو سـره د هغـو اړونـدي ښه تـرا او هـر اړخـیزه ښوولـې ده. لکـه څنـګه چـې د کتـاب پـه سـر خبـرو کـې یادونـه کـوي: "د زرتشـتیزم تـاریخ هـم د سـاکو د تـاریخ لـه مطـالعې څخـه پرتـه نیمـګړی دی، نـو مـا ځکـه د سـاکو یـوه لنـډه څېړنـه دلتـه وړاندې کـړه"

**۱-۴-۵-۱** : دې د اوسـتا سـیریم، د سـاکي سـیر یمیـن (سـیریمان) او د پهلوي سرم چـې شنهامه کـې سلم شـوی دی او د پښتنـو لـه تاتوبـي "سـلیمان غـره" او بیـا لـه "سـلیمانې" سـره یـې اړونـد وي چـې د عربـو لـه خـوا پښتنـو تـه ویـل کـېږي. (دوسـت: افغانسـتان پـه اوېسـتا کـې ۲۶-۲۹ مـخ).

د همدغـه کتـاب پـه یـوه بـل ځای (**۳۴-۳۵** مـخ) کـې د هـېرودت (Kaspatur) د کـېرو (Caro)) لـه مخـې لـه پـښور سـیمې سـره انډولوي چـې دا هـم د نـورو ډېرو نومونـو (کـاس، کسـی، کاسـی...) یـا

په بله وینا له ساکو سره اړوندي پیدا کوي. په (افغانستان په اوږستا کې ۳۸-۴۲ مخ) په ځانګړي ډول بیا د "ساك په پامیر کې" تر سر لیك لاندې د ښاغلي دوست (۴۲ مخ) دا څرګندونې هم په زړه پورې دي:

"ارکیالوژیك مواد شاهدي ورکوي چې په قبل المیلاد (۷-۶) پېړیو کې ساکو د پامیر په سیمو کې د لېږد او کوچ ژوند درلود او له دغه ځایه یې د هند حوزې ته لېږد او کوچ کاوه. د قبل المیلاد د زرو کلونو په نیمایې کې د هند حوزې ته هم له دغه ځایه ساکي لېږد پیل شوی و. په پامیرکې د ساکو د ژوند په باب په ډېر وروسته وخت کې له ډېرو لرغونو مورخینو، لکه د یو دور او پتولېمي (بطلیموس) معتبر روایتونه پاتې دي. د یو دور لیکي: د هند شمالي سرحد د سکیتیانو له سیمې د ګیمودوس (Gemodos) د غرونو په ذریعه چې هلته ساك ژوند کوي، بیل شوی دی د ختیز پامیر په ساکي هدیرو کې داسې مواد موندل شوي چې د قبل المیلاد په (۵،۴) پېړیو پورې اړه لري او د هند له حوزې یې نشانات کړی دی. ددغو موادو موندل ددې شاهد دي چې له ډېره پخوا د پامیري ساکو او د هند حوزې تر منځه ارتباط موجود و"

۱-۴-۵-۲: دوست د معین، همفریز او نورو په توپیر چې له مخه یې څرګندونې وړاندې شوې د منځنی ختیځ (بابل، اسور، کلدې، فلسطین...) په لاندې کولو کې یې ټول ساکان نه، بلکې یوه ځانګه یاده کړې او د ارانسکي "د اریاني فلالوجی اساسونه" د اخځ له مخې لیکي: "د قبل المېلاد د اتمې او اوومې پېړۍ په حدودو کې د ساکو یوه ځانګه له خپلو سکیتو قبایلو څخه بېله او د ققفاز له لارې د میسوپوتامي (بین النهرین، کلدې او اسور)، سوریې او د فلسطین جنوبي سیمو ته ورسېده چې له هغه ځایه یې مصر تهدید کړ. دغه وخت چې ساکو د فلسطین جنوب کې اسکالون (Askalon) نومی ښارونیو، د مصر فرعون پسامیسیا (۶۶۵-

۶۱۱ق م) د پـتهون ځايونـو جوړولـو تـه مجبـور شـو، د همدغـې تـاريخي موضـوع پـه تـاييد پـه اسوري او بـابلي اسـنادو كـې هـم روايتونـه شـته چـې د دغـو سـاكو د تـهاجم او پرمختـګ شـاهدي وركـوي. (هماغـه اثـر ۴۵ مـخ).

۱-۴-۵-۳: سـرځېراند دوسـت پـه دغـه لړكـې د يـوې بلـې سـاكي ځانـګې يادونـه كـوي چـې د روسـيې خـوا تـه يـې خپلـې سـوبې غځولـې وې:

"د لرغونـو مورخينـو روايتونـه شـاهدي وركـوي چـې د سـاكو يـوه بلـه ځانـګه د لويديـځ خـوا تـه وكـوچېده او د دونـاى سـيند تـر غـاړو پـورې مېشـته شـوه. د هېرودت لـه روايـت سـره سم پـه قبـل المـېلاد ۷ پـېړۍ كـې د سـاكو پـر يـوه ځانـګه بـاندې د مسـاګيتو لـه خـوا د ژونـد سـاحه تنـګه شـوه او د والـګا تـر سـينده ورسـېده او هلتـه د سـيمريانو (زرماتيـانو) پـر ځمكـه بـاندې مېشـته شـوه " (هماغـه كتـاب ۴۶ مـخ).

يـوه بلـه پـه زړه پـورې يادونـه يـې دا چـې د اوسـيتيانو منځنـۍ (يـا ښايـي زړه) ځانـګه "الان" لـه اره د يـوې سـاكي ځانـګې نـوم و او ټول اوسيتيان د همدغـې ځانـګې لـه زوى زاتـه دي. هسـې خـو لـه پښتنو او پاميريـانو سـره پـه شـمال ختـيزو اريانيـانو كـې راځي" كـه څه هـم سـم لـه لاسـه پـه قفقـاز او ګرجسـتان كـې اوسـي او شـمېر يـې د دوسـت (هماغه مخ) پـه وينا ۳۵۰ زرو تنـو تـه رسـي.

۱-۴-۵-۴: د لويديـزې اريانـا لـه درو ګونـو ټبرونـو (پارسـيانو، پارتيـانو او ميديـانو) سـره د سـاكانو ټكرونـه او جنـګ جګړې پـه دې ډول تركتنـې لانـدې نيسـي:

"سـاك چـې د افغانسـتان او منځنـۍ اسـيا د ابـادو كولتـوري سـيمو پـه څنـډو او پيڅكـو كـې خـواره واره پراتـه وو، پـه بـېلا بېلـو ځانـګو يادېدل، د اوومې مخزېږدي پېړۍ پـه پـاى او د شپږمې پـه پيـل كـې يـې يـوه لويـه سياسي اتحاديـه جـوړه كـړه او پـر يـوه مركـز سـره را ټول شـول. ددغــې اتحـاديې مشـر تـوب ديـوې سـاكې قـهرمانې ښځې زرينـې

(Zarina) پـر غـاړه و او د څو ديشـينو قبـايلو پـه ګډون يـې د سـاکو کوچي قبايل تر يـوه بـېرغ لاندې را غونـډ کـړل او د پارتيانـا پـه سـر يـې د هغه وخت د ميديا لـه مقتـدر دولـت سره جـګړه پيـل کـړه. د سيسـل د لومـړي مخـزېږدي پـېړۍ اوسـېدونکي دېو دور (Diodor) د سـاکو او د ميديـا د دولـت د جـګړې پـه بـاب وايـي: د ارتـېن (Artin) پـاچـا پـه وخت کـې چـې پارتيانـا لـه ميديـا څخـه بېلـه شـوه، سـاکو پارتيـانو تـه څمکـې او ښارونـه ورکـړل، نـو هغـه وخت د سـاکو او ميديـانو تـر منـځه جـګړه پيـل شـوه. پـه دې بـاب کتېسـي (Ktesy) وايـي: د هخامنشـيانو له وخت له مخه پارتيانا لـه ميديـا څخه بيلـه شـوه او پـه خپلـه خوښـه د ساکو تـر بيرغ لاندې راغلـه چې ور پسـې د سـاکو او ميديـا تـر منـځه خونـړۍ جـګړه پـېښيه او څو کالـه يـې دوام وکـړ او بـالاخره اوږده جـګړه پـه سـوله پايتـه ورسـېده او لـه دغـه وختـه د سـاکو د سياسـي اتحـاديې بنياد کـېښوول شـو" (دوست، افغانستان پـه اوېستا کـې ۴۶-۴۷مـخ).

۱-۴-۵-۴-۱: دغـه ليکـوال لـه هخامنشـيانو (پارسـيانو) سـره د سـاکو د جنـګ جـګړو پيلامـه د هخامنشـيانو تولواکمنـۍ د بنسـتوال سـتر کـوروش څخـه را نښلولـې چـې د بـابل او مصـر تـر نيولـو را وروسـته يـې بـاختر او سـاکو تـه مخـه شـوه او اوږدې جـګړې يـې ورسـره وکـړې. د دوسـت د څېړنـې لـه مخـې د کـوروش دغـه جـګړه د ۵۳۰-۵۳۹ مخـزېږدي" کلونـو پـه بـهير کـې پـېښه شـوې وه. وايـي چـې کـوروش د سـاکو پـه منـځ کـې يـو څه پلويـان هـم پيـدا کـړي وو او د درنګيانا (سيستان) لـه (اری اسپ) نومـي ټبر سره يـې يـوه ټلوالـه جـوړه کـړې وه. خو پـه پای کـې جـګړه د کـوروش د مړينـې سـبب هـم شـوه. دغـه بريـال سـاك د هـېرودت پـه وينـا د مسـاګيت سـاك وو، د بـېروس (Beros) پـه روايـت داهيـان سـاك او د کتسـې پـه وينـا د يربيکيـان ساك (هماغـه اثر ۵۱—۵۳ مـخ).

۱-۴-۵-۴-۲: دوسـت (۴۸ مـخ) د هـېرودت او سـترابون لـه مخـې د ساکو پـه تـاريخي اتحاديـه کـې د يربيکـان، اپسـياك (پسـيان)، اتاسـي،

خوارسمي او اوګاسي (اوګالي) ټبرونه را ټول شوي وو چې د دوست په اند ددغو پنځو وارو ټبرونو ټو لنه د هومه ورګه ساکو د ټولنې په نامه هم نومول کېږده. د کتیسي په اخځ دا هم لیکي چې له دېربېکانو سره په سخته جګړه کې د کوروش د یرغل پر مهال ساکو د خراسان، باختر او خوارزم تر منځه د هغه د تګ راتګ لاره نیولې وه چې د جنګي سامان د لېږد یوازینی ستره لاره بلل کېږده او د کوروش یرغل زیات د د یربیکانو سیمې (د امو او سر دریا غاړو) ته مخامخ و. کوروش په لومړي برید کې پاتې راغی خو په دویم سخت برید کې د ساکو له زیاتو سیمو څخه ور تېر شو او له خپل لوی لښکر سره د اپاسیاکو ساکو سیمې ته ورسېد او له هغه ځایه یې د ساکو پر زړه ګوزار وکړ، خو سر یې هم وخوړ. د کتیسي په وینا په هغه جګړه کې هومه ورګه ساك د دیربیکانو ساکو پر ضد د کوروش پر ملاتړ ودرېدل، مګر د درنګیانا ساکو یې ژوند ور لنډ کړ. د کوروش مړینه له ۵۳۰ مخزېږدي سره سمون خوري. دوست دلته د هېرودت روایت بیا هم باوري او په زړه پوري ګڼي او د کوروش وژنه د مساګیتو ساکو له واکمنې تامیریس (Tiamiris) څخه. په دې لاسوند چې د هغې سر لښکر زوی (سپر خاپیس) یې تر نیول کېږدو وروسته وژلی و او داسې لوړه یې کړې وه: "که داسې ونه کړي، د سولې په بدل کې یې زوی ور خوشې نه کړي، د مساګیتو پر لمر ځښتن سوګند خوړم چې ستا تنده به په وینو ماته کړم که څه هم ته ور باندې پوره موړ یې". هغه وو چې کوروش ته یې ماتې ورکړه او ویې واژه، او ژی یې د انسانانو له وینو ډك کړ، د کوروش سر یې پکې غوټه کړ او په ملنډو یې څرګنده کړه: "که څه هم زه ګورم پر تا باندې په جګړه کې بریالی شوم، خو تازه په چل ول سره په لوی غم اخته کړم، له زویه دې یې برخې کړم او تا په هغو وینو مړوم چې پرې ګواښلې مې وې". (دوست، افغانستان په اویستا کې، ۵۱-۵۴ مخ).

۱-۴-۵-۵: لــه پاســني روايتــه دا هــم جوتــېداى شــي چــې د ساکســتان يــا د رنګيانــا ساك د بـاختر و پـامير يـا پـه بلـه وينـا د شــمال لـه سـاکي ټلوالـې (اتحـاد) څخـه بـهر وو او د ټلوالـې پـه تـوپـير يـې لـه کوروش سره دوسـتانه اړيکـي درلـودل او لـه همـدې کبلـه يـې کـوروش د درنګيانـا (ساکسـتان) د نيونـې لـه کبلـه سـتاينه کـړې ده. پـه داسـې تـرڅ کې، لکه چې ووېـل شول، لـه دغـه نـورو سـاکو سـره يـې خونـړۍ جګـړې شوې او پـه پـاى کې يـې هـم خپـل سـر خوړلـى دى. هـر ګـوره د داريـوش د واکمنــۍ پــر وخــت د شــمالي يــا بــاختري ســيمو ســاکان د پارســي ټولواکمنـۍ پـه پنځلسـم ايـالت کـې شـمېرل کـېدل، خـو تـر پايـه يـې ورسره اړپيـچ درلـود، لکـه څنـګه چـې د بېسـتون ډبرليـك پـه اووم سـتون کې وايـي: تېـښ خولـي سـاکان بـد ژمنـي (بـد عـهده) دي. اهـورا مـزدا نـه پرښتـي اومـااهورامزدا وپرښتــه. مـاداهورا پــه پيرزوينــه او خپلــه خــوښه هغـوى خپلـي اېلتيـا (اطـاعت) تـه اړ ايسـتل" (دوکتـور حليم شـاه ۵۸ مـخ).

۱-۴-۵-۶: نومـوړو سـاکو بيـا د داريـوش تـر را پرځېدنـې وروسـته د مقدونـي سـکندر پـه وړانـدې هـم پـوره ټينـګار وکـړ، لکــه څنـګه چـې ټايـم د ۹۸ د جـون پـه امـه ګڼه کې ليکـي: " هغـوى لـه مقدونـي سـکندر سره پـه جـګړه کـې سـتر نـوم وګاټه، ځکـه هغــه يـې پـرې نـه ښووه چـې ختيځ خـوا تـه پـر مـخ ولاړ شـي".

دوسـت د پـاس يـاد شـوي اثـر پـه يـوه بلـه برخـه (۵۴—۵۵ مـخ) کــې تـر کـوروش وروسـته دهغـه د ځايناسـتي زوى اوسـاکو تـر مينـځ اوږدې شـخړې داسـې څېړي: "د کـابيس د واکمنـۍ پـه وروسـتۍ مرحلـه کې پـه ختيــزو ولايتونــو يــا ســتراپونــو Satraps کــې ســتر ملــي سياســي قيامونــه منځتــه راغلــل. پـاڅونوالو د مرګيانــا يــو اوســېدونکى فــراد Frad پـه واکمنـۍ ومانـه چې دا وخـت مرګيانـا د بـاختر پـه تشـکيل کـې داخلـه وه. د بـاختر واکمـن (دادارشـيش) پـر مرګيانـا بـاندې د ۵۲۲ ق م پـه اکتوبـر کــې يرغــل وکــړ، ۵۵ زره تنــه يــې ووژل او پنـځه – شـپږ زره

يــې ونيــول، همدغــه شــان پــه اراكوزيــا او نــورو ســيمو كــې ســخت پاڅونونـه وشـول."

بيا تر كامبيس (۵۳۰-۵۲۲ مخزېږدي) ددغې پارسي تاج و تخت د پاتوري (وارث) په توګه په ګوته كوي او ليكي: "داريوش خپل ځواك ختيزو ارياني سيمو ته مخامخ كړ چې په دې توګه د خپلې امپراتورۍ نورو سيمو ته د پاڅونو د خپرېدلو مخه ونيسي او بيا په ځانګړي ډول د ساكو سياسي اتحاديه له منځه يوسي. په دې باب د پوليين په روايت كې د ساكو د درو شاهانو نومونه اخيستل شوي دي: (ساكسفر (۲) او مرګ (Omarg) (۳) تاميريس Tamiris. دغه وروستني هغه ځوك وو چې د كوروش د وژلو په پېښه كې يې د هېرودت له خوا يادونه شوې او اومورګ د كتيسي په روايت كې هم هومه ورګه د ساكو د يوه واكمن په نامه راغلی. خو ساكسفر كېداى شي چې په خوارزم اړه ولري" (هماغه كتاب ۵۵-۶۶ مخ)" كتيسي په بابل كې د سكندر د ستر كتابتون كتابدار او ليكوال و.

دوست د داريوش د يرغل په وړاندې د يـاد شويو درو واكمنو ګډه ستراتېژي داسې را اخلي: "ستراتيژي دا وه چې هومورګ ساك او د يربيكان به له داريوش سره سيده ټكر نه كوي او هغه ته به موقع ور كوي چې لښكر يې د ساكي سيمو په د ننه ننه كې داپاسياكو ساكو سيمې ته ننوځي او هلته به يې له هرې خوا څخه را چاپېر كړي. د پوليين په روايت ددوي پلان بيخي معقول و او داريوش او لښكر يې له دغه چال څخه په معجزه خلاص شول. داريوش همدو سره بريالی شو چې د ساكو يو مشر سكونهه له ځان سره بندي بوځي چې د بيستون په ډبرليك كې انځور دی." (هماغه اثر ۵۶ مخ). همدارنګه دې د ساكانو او ساكي ژبې په اړه د والتربېلي Walter Bailey (۱۳۱-۱۳۲ مخ)، ددكتورمعين (فرهنګ فارسي (متوسط) جلد پنجم (اعلام) ص ۲۷۲-۲۷۵)، او د حليم شاه اړوند ليكنه (۵۱-۶۱ مخ) هم وكتل شي.

PROPERTY OF ACKU
33492

# ۲- څپرکی

## ساکان د افغاني دولت

### د پیلا ملکرو اوپایښتګرو په توګه

۲-۱: د نړۍ پر نقشه باندې د یوه ختیز آریاني هېواد "افغانستان" د را څرګندېدنې پیلامه په شپږمه مخزېږدي (ق م) پېړۍ کې تیك هماغه مهال جوتتیا مومي چې په لویدیزه آریانا کې یې منځته راغلي هخامنشي دولت تر ولکې لاندې تیکاو موندلی و (Internet). له دې خبرې سره پتلیز او هم مهال دا هم را په ډاګه کېږي چې د دې خوا اوسېدونکي له ختیزو آریانیانو پرته نور څوك کېدای نه شي او هرومرو به داسې وګړي وو چې د هغه زاړه پېر د دوه ګونو باختري ژبو (اوستا اوساکي) ویونکي به ګڼل کېده، په لویدیزه آریانا کې سوېل خوا ته د زړې پارسۍ ویونکي وو او شمال خوا ته د زړې پارتۍ او مادۍ هغه. بل خوا ګورو چې دېخوا ته د اوستا عادي ګړېدونکي ګرد سره تري تم شوي او یا په نورو وګړو کې ور ګډ شوي دي. نو یوازې د ساکانو شتوالي جوت دی. ساکان که هر څومره د خپل کوچیاني او جنګیالي دود و دستور له مخې ختیځ و شمال او لویدیځ خوا ته تل په جنګونو او یرغلونو بوخت وو او په دغو وېړو سیمو کې سیاسي واکمنیو او خواکمنیو ته هم

رسېدلي وو، مګر ژبتوکميز (اتنولنګويستيک) آروالي(اصليت) او اړوندتيا يې له خپل آر ټاټوبي ختيزې آريانا سره بيا هم تړلې او پېيلي ساتلي دي. دا هم ځرګنده ده چې دغه تر ټولو ستر آرياني ټبر دومره ځانګې او ښرانګې درلودې چې تر خپل آر هېواد يې نورې شاوخوا سيمې پر دويمنيو (ثانوي) مېشتځايونو او واک ځايونو بدلې شوې وې.

۲-۱-۱: ساکانو ددغې کوچياني او جنګيالي ژوند توګې له کبله ددين پالنې او فرهنګپالنې لپاره د خپلو نورو تربورانو، په تېره هخامنشيانو هومره وخت وزغم نه دی لرلی (که څه هم آرت يې نړيوال نوم لري ۱-۳-۱) او لکه څنګه چې په ښستون دبرليک کې يادونه شوې (حليم شاه ۵۸ مخ) د خپل نژدې ترېره دين "زرتشتي" يې هم دومره خيال نه دی ساتلی او حال دا چې لويديز خوا ته يې پوره پلوي شوې، د هخامنشي او را وروسته ساساني دولت رسمي دين ګرځېدلی و او ټوليزه پالنه يې کېده. کله چې عربان آريانا ته را رسي، په هماغه لويديزه برخه کې يې له زرتشتيانو سره ټکر راځي او په افغانستان کې ور سره دومره نه مخامخېږي، بلکې له يوه ګډوله زرتشتيزم، مېترايېزم او بيا بوديزم سره لړ و ډېر ټکر پيدا کوي.

وايي چې ساکانو په دې پلمه له زرتشتي لاروي ډډه کوله، چې مېشتېدنې او کروندګرۍ ته يې وربلل او د دوی له پوونده ګلي اوکوچياني او جنګيالي ژوند ژواک سره يې سمون نه لاره او د پوهاند الهام له شننې سره سم پښتنو ته هم له دغه کبله ابګان "بې خدايه" ويل شوي دي.

۲-۱-۲: په هره توګه تر هغه وروسته چې ساکانو د آريانا په شمال کې تر روسي پولو، په ختيځ او شمال ختيځ کې تر چيني او منګولي پولو او په لوېديځ کې تر مديترانې او اثور، کلدې او بابل پورې د خپلې مېشتيا او واک و ځواک سيمې ورسولې او د پارتي

واکمنی تر را پرځونې وروسته یې هخامنشي دولت له ډار سره مخ کړ، نو بیا له پر له پسې ماتو سره مخامخ شول او دېته اړ وتل چې خپلی تاریخي اوېجې باختر او سیستان ته مخه وکړي او په ځانګړې توګه هغه مهال چې سکندر په ۳۳۰ مخزېږدي کې د هخامنشي دولت تر را پرځونې وروسته باختر او نورې شاوخوا ځمکې تر خپل نیواك لاندې راولي، که څه هم پارادریا خوا ته پرې ساکان را دانګي او تر خرپ وترپ وروسته بیرته پر شا کېږي، خو کله چې ګریکو - باختر دولت را منځته کېږي، هغه هم د ساکانو پر ځای د پارتیانو په ټلواله (اېتلاف)، نو بیا هم ساکان ارام نه پاتی کېږي او په پر له پسې یرغلونو پارتیان د باختر پرېښوولو ته اړ باسي او یونانیان هم خپل لاسکتوی کوي. له هغه را وروسته هم په باختر کې خپلې واګې را ټینګوي او هم د هندوکش سویل ته د ساکسستاني خپلواك دولت بنسټ ږدی چې له ۲۵۶ تر ۱۳۰ مخزېږدي پایښت مومي او په پای کې هم تر هغه وروسته د پښوا غونډې یو ځل بیا تر شمالي هنده خپلو سوبو ته غځونه ورکوي او ددی لپاره چې په خپله ټولواکمنی کې ټول شمال لویدیز هند را نغاړي، نو را منځته کړی دولت یې (هندوسکایي) دولت نومول کېږي.

بېلې (۳-۱) له تور سمندرګي تر اریانا پورې د ساکانو لاسبری دریځ په ټولیز ډول د کوشانیانو او یپتلانو په ګډون له ۶۰۰ م ز نه تر ۴۰۰ ز پوره یوه زری ښیي.

دا چې داکتر معین (ج ۵ زیرنام سکا) د داریوش له خولې وایي چې ساکان یې څه ووژل او څه یې ښکیل کړل، کوروش (۵۴۰ م) له دې وینا سره اړیېج لري چې ساکان یې د سیستان د سوبې له کبله "د ښوکړو وړو وګړو" په توګه ستایلي دي (۱-۴-۵).

۲-۱-۳: همدارنګه دلته د دکتر معین او همفریز (۷۵ مخ) دا څرګندونې هم سمې نه برېښي چې ساکان د دویم مهر داد یا اردوان پاتي ټولواکمن تر تهبولو او شړلو وروسته ۱۳۱ ق م شاوخوا

سیستان ته تللي او هلته یې د ټولواکمنۍ بنسټ ایښی دی، حال دا چې لومړی ساکانو له هغو ځځه ماتي نه وه خوړلې او لاماتې یې ورکړې وه او دویم بیا دا چې پر دغه نېټه ساکستاني ټولواکمني پر هندوسکایي دولت بدله شوې وه. (انټرنېټ) دا هم څرګندوي چې ددغه "ساکي - افغاني" دولت خپلواك اکروکر (مستقل وضعیت و هویت) هغه مهال ښه ترا جوت شول چې پاتې شونو او پاتوړو (وارثانو) کوشانیانو" یې کوشاني ټولواکمني را منځته کړه او وریسي یفتلیان (یپتلان) واکمنان شول چې په لویدیزو پولو کې یې د ساساني دولت په وړاندې تر اسلامي پېره خپل ازاد دولتي وکر (هویت) ټینګ وساته او کله چې عرب دغې خاورې ته را ننوتل، دغه دولت پر خپلو پښو ولاړ و. دغه څرګندونه زموږ له خپلو دودیزو تاریخونو سره هم اړخ لګوي. کابل شاهانو او نورو سیمه ییزو یفتل - کوشاني پاتوړو نږدې دوې پېړۍ له عربو سره ډغرې وهلې، تر څو یې پخپله د افغاني امیرانو، لکه صفاریانو په لاس را وپرځول. چې د ظفر په وینا (۲۱مخ) یې پښتانه هم په لښکر کې وو. په هره توګه د یونانیانو په لاس د لویدیزې آریان "هخامنشي دولت" تر را پرځېدنې یا په بله وینا له ۳۳۰ مخزېږدي را وروسته چې دېخوا ته هر افغاني دولت ټیکاو موندلی، د خپل واك او وکر لرونکی و: که د هغه مرکز په ساکستان کې و او که په باختر اویا هم په کابل، پېښور، غور، کاپیسا او یا نورو شاو خوا سیمو کې د سیمواکیو په بڼه. او له دې سره سره دا هم د لمر غوندې روښانه شوې او زباته شوې ده چې ددغو دولتونو چلوونکي له ساکي ټبرونو ځځه پرته بل څوك کېدون لرلای نه شي چې په زاړه آریاني پېر کې په خپل ټولیز (عمومي) نامه یادېدل، په منځنۍ پېر کې د کوشانیانو، یپتلانو (یفتلانو)، کېدارانو، کوچنیو کوشانیانو یا کابلشاهانو او په نوي (اسلامي) پېر کې بیا هم په ساکي آرو پښتنو چې په دې وروسته مخونو کې به پر دغه تاریخي سکالو پوره رڼا واچول شي.

## ۲-۲: ساکان او زوزات یې

۲-۲-۱: تر کهزاد او پوهاند حبیبي را وروسته میر غلام محمد غبار د یوه پیاوړي وسمهالي افغاني تاریخپوهاند په توګه په زیات نومېرلي ډول ساکان او د هغوی وروستنیان (کوشانیان، یپتلان...) او له افغاني تاریخ سره ددغو ټولو پر اړوندی پوره رڼا اچولې چې دلته یې د افغانستان له لنډ تاریخ (افغانستان به یك نظر) څخه دغه سکالوکېت مت را ژباړو:

سیتي ټبرونه له ندواروپایي ټبرونو څخه ګڼل کېږي چې په لومړني زانګو "آریاناوېجه" د آمو او سر دریا منځ پاسني ناوه کې یې ژوند کاوه. باختر، آریا، هند و پارس او اروپا ته د هند واروپاییانو تر لېږدونو ډېر را وروسته سیتیانو خپل لومړني ټاټوبي ته پراختیا وکړه. د سر دریا د ناوې په ختیځ کې یې د تیانشان د غرونو د دواړو لمنو او د سینکیانګ سیمې، یا په بله وینا ختیز تورکستان او په لویدیځ کې د کاسپین او تور سمندرګي شمالي ځمکې ونیولې او د اورال تر غرونو پر مخ ولاړل. څنګه چې دوی بېدیا مېشتي او آس سپاره وو، نو د شاوخوا پر هېوادونو یې یرغلونه او تاړاکونه کول. د آریانا، پارس، ماد او نورو آریانیانو یې ددغو یرغلونو او تاړاکونو د مخنیوي لپاره په پاینده توګه تیاری نیولې او په دې ډول سیتیان د روسیې د سویل او د آمو، تور سمندرګي او کاسپین په مرغو کې پاتې شول. آثوریانو هغه اشکوزي "Achkuzai" بلل، یونانیانو "سکوتي Skuthai"، روسانو سکیفي اوچینیانو "سي Sai" او نورو نور. سیتیانو او بلې ځانګې یې "سکاییانو" ډېرې پرېښوولې او تیش خولې، پراخه ختونه او پرتګونه یې اغوستل. آسان، غشي او لیندې یې همېشني ملګري وو. کراچې (آسکاډي) یې له ګرځنده ښارونو څخه ګڼل کېدل. دغې آریاني ډلې هر کوره، له هونانو، تورکو او مغولو څخه په دودوجال کالیو او نورو کې ډېرې اغېزې را خپلې کړې وې

۲-۲-۲: پــه اتمــه مخــزېږدي پــېړۍ کــې د ســيتيانو يــوه برخـــه د روســې ســوېل تــه د "ســيميريانو" ځمکـــه لاتــدې کــړه او هغــوی يــې د کوشنۍ اسيا او هنګري خـوا تـه وشـړل او يـوه برخـه يـې د دربنـد لـه لارې تر ققفـازه ورواوښتـه او لـه آثوريـانو سره يـې اړيکـه پيـدا کـړه، خـو وروستـه د مـاد د دولـت لـه خـوا پـه مـاورای قفقـاز کـې د روسـې سـوېل تـه ور وتمبـول شـول او پـه دغـه ځای کـې يـې نږدې اويـا کالـه د سـوېلي آســيا او لويديــزې اروپــا د مدنيــت لپــاره خطرونـــه را منځتـــه کـــړل. هخامنشـيانو پـه شپږمه مخزېږدي پـېړۍ کـې لـه سـيتيانو سـره جنـګ جـګړې را پيـل کـړې. پـه هـره تـوګه نـورې درې پـېړۍ سيتيان د چيـن لـه پولـې "کانسو" څخـه تـر "تـراس" او پونـت پـورې ځای پـر ځای پـاتې شـول. [لـه پونـت څخـه د غبـار موخـه تـور سمندرګی دی چـې پـوره يونـاني نـوم يـې Pontus Euxinus دی] د سـيتيانو لـه نومـاندو ټبرونـو څخـه يـو ټبـر سـرمتيان (يـا سـيميريان) وو چـې د اورال پـه لمـن او اورنبـورګ او نـورو برخـو کـې لـه لويديـز ترينـو څخـه ګډ کـېدل. بلـه نومـانده ځانـګه يـې مسـاجت (مسـاګيت) وو چـې د سـر دريـا لـه نـاوې د کاسـپين تـر شماله اوسـېدل. يـوه بلـه نومـوره ځانـګه يـې سـاك يـا اسـکاييان وو چـې يـې زيـاترو پـه کاشغر، فرغانـه، د سيحون (سـر دريـا) پـه شمالي کڅونـو او د اورال سيند ګي شـاوخوا کـې اسـتوګنه درلـوده. څلـورم سـيتي ټبـر يـوچيـان (د کوشـانيانو ناسـم چينـي انـډول) دي چـې تـر ټولـو ختـيز تريـن ټبـر ګډل کـېږي چـې د تـارم نـاوې او ختـيز (چينـي توركستـان اخـوا يـې د کوتچـې (کـوچـي)، قـره چـار، تويـن هوانـك او کانسـو پـه نـاوو کـې استوګنه درلـوده او لـه ژيـړ توکـم سـره پـه اړيکـه کـې وو. را وروسـتـه د لويديځ خوا تـه وکـتـېدل او پـه همـدې نامـه يـې د جيحـون (آمـو) پـه شـمال کــې اســتوګنه کولــه، تــر څو چــې لــه آمــو را پورېوتــل او بــاختر تــه را ورسـيدل. لـه باختريـانو سره ګډ شـول او پـه پـای کـې يـې د کوشـانيانو پـه نامـه يـوه ستره ټولواکمنـي را منځتـه کـړه.

پر دې هـم پوهېدل پـه کـار دي، پـه دوو مخزېږدي پېړيـو کـې د چيـن دننـه د (هـون) ټبرونـو چـې د چيـن د ټولواکمنـۍ دښمنـه وو او د چيـن سـتر ديـوال يـې هـم د همدوی د مخنيـوي لپـاره جـوړ کـړی و، د يـوچيـانو پـر ټاټوبـي کانســو ويرغـالل او هغـوی يـې لـه خپـل ځايـه بې‌ځايـه کـړل. ددغـو يو مليـون يـوچيـانو بيځايـه کېدل او لېږد ددې لامـل شـو چـې مـخ پـر لويديـځ، پـه ختيـز تورکسـتان او سـر دريـا نـاوه کـې ټول مېشـت ټبرونـه پر خوځېدو راولـي او يـو پـر بـل فشـار اچولـو تـه اړوځي. کلـه چـې يـوچيـان د ايسـك کـول سـيندګي شـاوخوا تـه ورسـېدل، پـر دوو ډلـو ووېشـل شول. يـوه يـې د "کوشـنيو يـوچيـانو" پـه نامـه د تبـت شـاوخوا تـه مېشـته شـوه او بلـه يـې د "لويـو يـوچيـانو" پـه نامـه لويديـځ تـه را ولـېږدېدل او پـه سـينکيانګ او سسـيحون نـاوه کـې يـې د اسـکاييانو سيمه لاندې کـړه. سـکايان هـم نـاچـاره لـه آمـو را پورېوتـل او بـاختر و بدخشـان تـه را ورسـېدل. دغـه مـهال (۲۰۰ م ز) پـه تخارسـتان (قطغـن و بدخشـان،) کـې چـې چينيانو (تاهيـا) بالـه، نـرم خويـو او سـوداګر دنـدو وګړو ژونـد کـاوه. [د غبـار موخـه لـه يـوچيـانو څخـه لـه چينـي نومونـې سره سمه کوشـانيان (اويتـلان) دي حـال دا چـې يـوچيـان هـم لـه التاييـانو څخــه وو. [۴-۱۳-۳]

پـه هـره تـوګه دغـه سـکاييان چـې بـاختر تـه را ورسـېدل، پـه بـېلا بېلـو ډلـو ټپلـو او ټبرونـو يـاد شـول، لکـه : ازيتيـان، پازيانيـان، سـاکار ولـي، تخـاري. دغـه وروسـتي نـوم پرلـه پسـې لويـښت او ارزښت ومونـد. ان د آمـو سـيند شـاوخوا د دوی پـه نامـه تخـار او تخارسـتان وبلـل شـوه او کله هم ټول يـوچيـان، تخاريـان ونومـول شـول. سـکاييان بـاختر تـه تـر را رسـېدو وروسـته د هندوکـښ د لـړۍ لـه کبلـه نـورو نـه غوښتـل. يونـان - بـاختري دولـت چـې د هندوکـښ سـوېل تـه لېږدېدلـی و، پسـې واخلـي، نو مخ پر لويديـځ يـې واچول. د هريرود پـه نـاوه کـې يـې لـه پـارتي دولـت سره ټکـر وکـړ او هغـوی تـه يـې مـاتې ورکـړه، خـو د مـهر داد مخنيـوي پـرې نـه ښوول چـې لـېږد لـوری نـور هـم د لويديـځ خواتـه وروغځوي، نـا

چاره سوېل ته را شېوه شول او د هېلمند او ارغنداو ناوې يې تر نيواك لاندې راوستې. پخواني درنگيا (زرنج) ولايت هم د همدوى په نامه (ساكستانا) ونومول شو چې را وروسته سجستان او سيستان ته راواوښت.

۲-۲-۳: ساكانو چې د ارغنداو ناوه د هندوکښ د سوېل يونان - باختري له دولت او هم د پارتيا د دولت له مركزه لرې وليده، پخپله د دولت پر جوړونه بوخت شول او د هغه لمن يې مخ پر سوېل د اباسين تر كوزنى ناوې وغځوله، له همدې كبله دغه سيمه په يوناني سرچينو كې "هندوسيتا Indo-seythia"، يا د ساكانو د سيند هېواد نومول شوې ده. او چيني سرچينې هم "كى - پېن Kipin" بللې دى. دغه (كى پين )) كندهار، نيم بلوچستان تر كوزنى سيند ناوې را اخېستل.

۲-۲-۴: "موگا" د دغه دولت لومړى ساكي شاه دى چې په سكو كې "لوى پادشاه" ياد شوى او واكمني يې ۷۲ مز كلونو ته رسي. داسې برېښي چې دغه پادشاه د پېښور (گندهارا) سيمه تر تكسيلا پورې را نغښتې وه. "ازېس Azas" دويم ساكي پادشاه په ۵۸ مز كې واك ته رسېدلى او يو بل هم په همدغه نامه "دويم ازېس" پاچا شوى چې ښايي د لومړي ازېس زوى به و. ورپسې "ازېلس" بيا په (۴۰-۴۵ مز) كې واكمني چلولې ده او په هغه پسې دويم ازېس واكي تر لاسه كړې دي.

ددغه (وروستي ساكي) پادشاه سكې د يونان -باختري شاهانو په مخبېلگه په يوناني، خروشتي، پراكرېټ ژبو او يوناني ژبې وهل شوې او ځينې شاهانو يې د "لوى پادشاه" ستاينوم هم درلود. د دوى سكې د مسو او سپينو زرو وې او د غويي، پيل او ځينو خدايگوتيو څېرې ور باندې كښل شوې دي. په دې توگه داسې اېسي چې سره زرينې سكې يې نه دي درلودلې.

د "کي پين" سيمه چې ساکانو پرې واکمني چلوله، له تودې اوبه هوا سره غنمګرې، شولګرې او باغونه درلودل. وګړو يې په پړ سازۍ (مجسمه سازۍ)، پښګرۍ (فلز کارۍ) ختګرۍ، اوبدانه، سکوينه (خامك دوزۍ)، لاسي فلزي کارونو او پخلي کې ورتيا درلوده، لکه څنګه چې په اوومه زېږدي پېړۍ کې يې د هېوڼځن له يادښتونو څخه ځرك لګېږي. (غبار، افغانستان به يك نظر ۶۰-۶۴ مخ).

۲-۲-۵: پهلوايان د ارواښاد غبار (۶۴۴ مخ) د ځرګندونو له مخې د ساکي تبرونو او پارتي پاتې شو نيو يوه ګډوله وګړ ډله وه چې ځينو "سيت و پارت" هم بللي دي. دغې ډلې رومبی د هېلمند او ارغنداو پر سيمو واکمني چلوله او وروسته يې شمال ختيز خوا ته تر کابل او هند پورې خپله اوېجه (قلمرو) پراخه کړ او د يونان - باختري وروستی واکمن يې په کابل کې را وپرځاوه. پهلوا يې او ساکي واکمنۍ سره له مهالي پلوه نژدې را پيل شوې او داسې بريښي چې له توکميز يا تبرنې پلوه هم سره اخښلې را اخښلې وي. د پهلوايانو د شاهي لړۍ بنسټګر "ونونس Vonones" بلل شوی او نېټه يې د ۱۲۰ م ز اټکل شوې ده. له دې سره دغه اټکل هم غوټه کېدای شي. چې دغه وګړي هم ختيز آريانيان او بيا له ساکي تبرونو څخه وو. وروستی تولواکمن يې (پاکورس يا پاګورا) بلل شوی چې په (۷۰-۷۵ ز) کلوکې ځواك ته رسېدلی و او په همده پسې واك و ځواك پر کوشانيانو اړه پيدا کړې ده.

داسې را ځرګندېږي، په پهلوا وګړ ډله کې به له ساکو سره د پارتيانو ګډولې دا ليدتوګه را زېږولې اوسي چې اولاف کيرو(۷۲ مخ)، رازق پالوال او يو نيم بل ليکوال د پښتنو آره (د سيت وپارت) او يا يوازې پارتي انګېري او بل خوا "پهلوا" د تاريخي غږ پوهې له پلوه له پرثوه، پارت او پښتون سره هم همّارې زبات شوې ده، نو دغه کېدون هم شته چې ددې وګړ ډلې ساکي توکی دې يوازې په پښتنو

اړه ولري. په تېره بیا چې د جهلم د یاد شوي ډبر لیك (۴-۱-۷) "څښتننه" توم هم د دوارو واکمنیو له پېر. دویمې زېږدي پېړۍ سره تړاو درلودای شي.

## ۲-۳: کوشاني دولت (۴۰-۲۲۰ ز):

کوشانیانو چې چیني تاریخوالو په ناسمه توګه (یوچي) هم یاد کړي دي، او د هونانو له لاسه له ختیز تورکستان څخه لومړی د آمو - سر دریا سیمې او بیا پسې پامیر او بلخ ته را لېږدېدلی وو. ورو ورو د شمالي افغانستان پنځګوتي سیمه واکې له تخاریانو او نورو تېرونو څخه لاندې کړې او کوشاني دولت یې را منځته کړ.

۲-۳-۱: د کوشاني دولت بنسټګر "کجولو کدفیزس" نومېده چې د سوېلي افغانستان دوه غوره ولایتونه (کابل او کندهار) یې له یونان - باختري او پهلوایي پاتې شونیو څخه ونیول. او له شمال سره یې یو ځای کړل او له پارتیا څخه یې تر آباسینه خپله ټولواکمني پراخه کړه. دی تر ډېر اوږده ژوند او ځواك وروسته د ۷۸ زېږدي کلو شاخوا مړ کېږي او زوی یې "ویما کدفیزس"، یا دویم کد فیزس واکې په لاس کې اخلي. دغه ټولواکمن تر ۱۱۰ ز کلو واکې وچلولې او تر اباسین پورې غاړه پنجاب او بیا یې تر ګنګا پورې سیمې هم د خپلې ټولواکنې په اډانه کې راوستې. دغه ټولواکمن له رومي ټولواکمنې سره دوستانه اړیکې ټینګې کړې وو او له اړوند دربار تروجان (ترای) سره یې د آستازیو د راکړې ورکړې له لارې سیاسي او سوداګري اړیکو ته پراختیا ورکړې وه.

تر دویم کدفېزس وروسته "سوتر مګاس" یا "ستر ژغورانند" ټولواکې ته ورسېد، که څه هم دده په پېرکې کوشاني ټولواکمني کمزورې شوه، خو ورپسې پر ۱۲۰ ز کال د کنیشکا Kanishka له تخت ناستې سره د کوشاني ټولواکمنۍ دویم پېر را پیلېږي. په دغه دولت کې پر آریانا (پخواني افغانستان) سربېره د چین تارم او تورکستان او د هند شمال لویدیځ او د ګنګا غاړې راتلې. د

کنیشکا ستاینوم "گندهارا شاه" و. ده د کشمیر تر سوبې وروسته هلته "کنیشکا پورا" نومې ښار ودان کړ او نورې ډېرې کار نامې یې تر سره کړې، په تېره د چین خوا ته د بودایي دین خپرونه، چې ددغه کار لپاره یې پیاوړي دینښووان روزلي وو.

۲-۳-۲: د غبار (۶۵ مخ) له څرګندونو دا پوره جوتېږي چې که د ځینو کوشاني او ساکي شاهانو مهالپېرونه سره تکر خور برېښي، لامل یې دا چې اړوند شاهزیان د ځینو لتو (ایالتو) د واکمنو په توګه هم شاهان یا (نایب السلطنه) یادېدل. لکه د لوی کنېشکا زوی وایسشکا چې د خپل پلار له تخت ناستي سره سم د ماتورا پادشاه ټاکل شوی و. په دې توګه هر والي په خپله اړونده سیمه یا لته کې د یوه پادشاه هومره واك و ځواك درلود او د یوه ځایناستي شاهزي (ولیعهد) په توګه لاد پلار پر ژوند پادشاهي ته رسېده. د "میر" ستا ینوم یا اداري نوم هم همداسې انګېرلای شو، لکه کاشمیر (کاسمیر) چې د کاسو یا ساکو امیر مانا ترې اخېستلای شو او ددغې سیمې د یوه میر یا امیر نوم بیا د جیلم په ډېر لیك کې پر پښتو "ځښتنه" هم اوښتی دی. (د مورګنستیرني لیکنه ۱۹۷۵).

د کوشانیانو وروستي ټولواکمن واسو دېوا Vasudiva چې ۱۸۲ ز شاوخوا پادشاهۍ ته رسېدلی، زیاتره هندي ځانګړتیا پیدا کړې وه او د اریانا ډېرې برخې یې ورو ورو له لاسه ورکړې وې او هر څومره چې په هند کې پر مخ ولاړ، هومره یې د یخوا ته واکې سستې شوې. له همدې کبله ساسانیانو ترې له وخته په ګټه اخیستنه د پارتیا، سیستان، مرو او خوارزم ولایتونه ونیول او خراسان ورته دومره ارزښت پیدا کړ چې هر ساساني پادشاه خپل ځایناستی دغلته ټاکه او د کوشانشاه نوم یې ورکاوه. سره له دې چې د ۲۲۰ ز شاوخوا د واسو دېوا له مړینې سره کوشاني ټولواکمني هم پای ته رسي، خو پاتې شونیو یې د هندوکښ په شمال "باختر" او په سوېل "کابل" کې د سیمه واکانو (حکمرانانو) لړۍ را

منځته کړه او له دې سره یې د کوشاني ټولواکمنۍ نیمزاله غونډې ډېوه تر پنځمې زېږدي پېړۍ رڼا وساتله. (هماغه اخځ ۷۷ مخ)

### ۲-۴: کوشني کوشانیان یا کیداریان:

۲-۴-۱: په آریانا کې د کوشانیانو د سترې ټولواکمنۍ له پای ته رسېدو (۲۲۰ ز) سره د افغانستان سوېلي سیمې او تر اباسین آغاړه لتې د کوشاني او هندي سیمه واکو (نایب الحکومه وو) تر واکمنیو لاندې پاتې شوې، په لویدیځ کې هم پارتیا او سیستان او نورې شاوخوا خراساني لتې د ساسانیانو پر لاس ورغلې، خو له دې سره سره د آریانا په مرکزي لتو کې شمال او سوېل ته د کوشنیو کوشانیانو دوه کوشني حکومتونه پر ځای پاتې شول.

د باختر حکومت چې د خپل پادشاه "کیداري" په نامه کیداري حکومت " بلل کېده، ټوله درېمه پېړۍ پایښت وموند. کېداریانو د خپلو تربرو یپتلانو او پارسي ساسانیانو په وړاندې تر پایه خپل واك و ځواك ټینګ وساتل. یپتلانو متې په پنځمه پېړۍ کې پر باختر لاسبرې وموند. دویم کېداری پادشاه له ساساني دولت سره د سختو ډغرو په بهیر کې د کابل له کوشانی واکمن سره یو ځای شو.

۲-۴-۲: د کابل کوشني کوشاني واکمن چې تر بامیانو یې اوږجه رسېده، د باختر د کیداري شاهانو په توپیر له خپلو پیاوړیو دښنو ساسانیانو، یپتلانو او هندي ګوپتاییانو سره د توري پر ځای له توري (انډیوالی) او تدبیره کار اخیست چې له لویدیځ، ختیځ او شمال څخه پرې را څرخېدلي وو. کله چې د باختر کېداري حکومت را وپرځېد، دویم کیداری په کابل کې له خپلوانو سره ملګری شو او د کابل د کوشانیانو او هندي واکمنانو تر منځ دوستانه اړیکي نور هم ټینګ شول، هغه هم په دې چې له شمال څخه د یپتلانو خطر مخ پر زیاتیدو و. همدارنګه په څلورمه پېړۍ کې ساساني ټولواك دویم هرمز د کابل د کوشاني پادشاه لور وکړه او ځان یې په دغه تېر پورې وتاړه. لنډه دا چې د کابل کوشاني حکومت تر پنځمې پېړۍ پایښت

ومونـد او کلــه چـې کـابل د يپتلانــو پــه لاس کــې کــېښېووت، کوشــاني واکمــن پــه شــمال ختــيزه لتــه (چــترال او ګلــګېت) کــې د ېره شــو او تــر هغــې يــې زغــم وکـړ، تــر څو د يپتلانــو ټولواکمنــي را وپــرځېده او هغــه هم بېرتــه کـابل تــه راستون شو او ددغــه ځای حکومـت يـې بيـا پــه لاس کې واخېست. په دې ډول په پـای کـې دغـه کوشـاني پـاتې شوني هم لــه منــځه ولاړل مــګر يپتلــي ټولواکمنــي. هــم د آريانــا لــه ټوټه کــېدو را وژغورلــه، نــه يــې يــوازې ساســانيان او هنديــان خپــل لاســکتوي او بـاجګزار کـړل، بلکــې آريــاني امپراتــوري يــې يــو ځل بيــا تــر پخوانيــو برېدونــو وغځولــه. (غبــار ۷۹مــخ د احمدعلــي کــهزاد د تــاريخ افغانســتان ۱۳۲۵ ل لـه مخــې)

۲-۵: يپتلــي دولــت (۲۲۰-۴۲۵ ز):

۲-۵-۱: يپتــلان (يفتــلان ) هــم د کوشــانيانو د تــره بورانــو پــه تــوګه ســاکي ســتي آريانيــان او بيــا باختريــان وو او ژبــه يــې هــم لــه کوشــانيانو ســره هماغــه بــاختري ژبــه وه چــې د دواړو ټولواکمنيــو رســمي ژبــه ګڼل کــېده. غبــار (۸۰ مــخ) يپتــل د کوشــانيانو يــو ښاخ بللــی او دواړه ټبــره يې سيتي ښوولي، خو هېښنده يـې دا چـې سيتي يـا سـاکي لـه تخـاري توکــم ســره يــو ګڼي، حــال دا چــې تخاريــان لــه آره اروپــايي ژبــي دي او هسې د کوچيـانو په توګه د سـاکانو لـه مهالـه تـر يپتلانـو پـورې پـه يـوه چم ګاونډ کـې اوسـېدلي دي. يپتـل يـې بيـا لـه څنګه چـې وروسـته (۵-۲) پرې پوره رڼا اچول شوې ده، لــه پښتــو اتــل ســره هممــانيز ګڼلی دی.

۲-۵-۲: لومــړی يفتلــی واکمــن پــر ۴۲۵ ز تــاج پرســر اېښی او ستـاينوم يـې "ايتـاليتو - يـا - افتـالينوس" و چـې مانـا يـې مشـر (رئيـس) وه. دغــه واکمــن لومــړی پــر قطغــن و بدخشــان (تخارســتان) بلــخ او سـوغديانا واګې را ټينـګې کـړې او بيـا يـې د پنځمـې پـېړۍ تـر نيمـايې پورې لـه ساساني بهرامـه يـو شـمېر لويديـز ولايتونـه چـې لـه آريانـا څخـه يـې جـلا کـړي وو، بيرتـه پـه خپلـه آريـاني اوبجـه کـې را ګډ کـړل. دويـم يپتلـي شـاه اخشـنور پـر ۴۶۰ ز کـال لـه واکمنېدو سـره تـر هـرات اخـوا

پاتې سيمې هم لـه ساساني فيروز شـاه څخـه بيرتـه وګټلـې، هغـه يـې لـه خپـل زوی قبـاد سـره تـر اسـيرولو وروسـته پـه دې آر بيرتـه ژونـدی پرېښود چې نور لـه پارسـه دېخـوا تـه پـل کـښنې نـه ږدي او يفتلـي دولـت تـه بـاج ورکـړي. پـر ۴۸۶ ز کـال چـې فـيروز بيـا را مختـه کـېږي، خپـل سـر بـايلي او پـارس دولـت، د همـاغو خپلـو بريدونـو د ننـه د افغانسـتان لاسـکتوی او بـاجګزار پـاتې کـېږي. د هـېواد لويديـزې لتـې او هېلمنـد سـيمه هـم د افغـاني ټولواکمنـی يـو ټوك ګرځي او پـه کابلسـتان او ختـيزو سـيمو کـې د کوشـنيو کيداريـانو سـيمه واکـی هـم لـه مرکـزي دولت سره نژدې اړيکـې ټينـګوي. (همـاغـه اخـځ ۸۳ مـخ).

د اروابښاد غبـار (۸۴ مـخ) د څرګندونـې لـه مخـې د يپتلـي ټبرونـو لـه ډلې څخـه چـې د هـېواد سـويل تـه را خپـاره شـول، يـو "زاولـی" نومـی ټبر و او لـه همدې کيلـه اړونـده مېشـت سـيمه هـم د همدغـه ټبـر پـه نامـه زاول (زابـل) ونومـول شـوه. کوم اتلان هم چـې لـه زابلـه راپورتـه شـوي، لـه همدغـه يپتلـي ټبـر څخـه يـې آره اخيسـته چـې نومـور يـې "تورامـان" او "مـهرا کـولا" وو.

د ساسـاني فـيروز تـر وژل کـېدو وروسـته د هغـه مشـر زوي "بـلاش" د ايـران د کمـزوري هـېواد پـر تخـت کښېناسـت او قبـاد ورور يـې د افغانسـتان يپتلـي دربـار تـه پنـاه راوړه، اخشـنور خپلـه لـور ور واده کـړه چې د همـاغـه خـورزه کـېده(۱) څو کالـه وروسـته قبـاد د يفتلـي دولـت پـه مرسـته خپـل ورور لـرې کـړ او د پـارس پـاچـا شـو. را وروسـته د پنځمې زېږدي پېړۍ پـه وروسـتيو کـې چـې پـارس د افغـاني دولـت پـه بـاج را اسـتونه کـې نـاغېړي وکـړه، يپتلـي اخشـنور لښـکر لـېږد تـه اړووت ، قبـاد بيرتـه هـر څه ومنـل. درو ګونـو پارسـی شـاهانو بـلاش، قبـاد او لومړي خسرو افغانسـتان تـه د بـاج ادايني لپـاره خپلـې سـکې پـه کوشـان - يفتلـي (بـاختري) ليکـدود کښلـې. سـتر او پيـاوړي يپتلـي ټولواکمـن "اخشـنور" تـر هغـه وروسـته چـې د افغانسـتان سياسـي، اداري يووالـي يـې سـمبال کـړ، بـهرني دښمنـان لاسـکتوي کـړل. سـتر

پوخي ځواك يې را منځته كړ او نومور لښكر كوټونه، لكه د بادغيس او باميانو "چهارلي" يې جوړ كړل. يا په لنډه وينا، يپتلي تولواكمنۍ يې له هره پلوه وده او پياوړې كړه، تر څو د شپږمې زېږدي پېړۍ په رومبيو كې ومړ.

دريم يپتلي تولواكمن تورامانا نومېده چې په زاولي ټبر يې اړه درلوده او د اخشنور له سردارانو څخه و. دغه پادشاه د اخشنور په لاروۍ چې پارسي امپراتوري يې له منځه وړې وه، خپل پام هندي ګوپتايانو ته واړاوه او له "ساكالا" يا اوسني سيالكوټ څخه يې د هند دننه لتې تر سوبو لاندې راوستې او سكاندا ګوپتا يې را وپرځاوه. د تورا مانا ډېرليكونه هم زياتره له "سكر"، "كورا"، "ګواليار" څخه تر لاسه شوي دي چې په هغو كې يې ځان "تورا مانا مهارا جا شاه زابلي" ښوولى دى.

څلورم يپتلي تولواكمن "مهراكولا" د خپل پلار تورا مانا لاره پسې واخېسته او د هند سوبو ته يې نوره هم پسې ملا وتړله او كشمير يې د خپلې تولواكمنۍ توك وګرځاوه. د هندي ګوپتايانو ځواك يې ور اوبه كړ او پر لاسكتوو كوشنيو حكومتونو يې ووېشته. خو هنديانو دغه تېتال تر ډېره ونه شو زغملاى او له يپتلي تولواكمنۍ سره يې په جنګ جګړه پيل وكړ. لومړى بري د مهيرا كولا په ګټه و. خو د ۵۲۸ ز كال په يوه سخته جګړه كې دغه يپتلي شاه ماتې وخوړه او له هماغه راهيسې په هند كې د يپتلي تولواكمنۍ تغر ورو ورو پر بلېږدو شو، په تېره د مهيرا كولا له مړينې را وروسته هند نور له لاس ووت او د ننه په افغانستان كې هم د يو موټي ځواكمن دولت د وېشل كېدنې لاره هواره او سيمه واكي يا ټبر واكي (ملوك الطوايفي) نظام يې را وزېږاوه.

### ۲-٦ : سيمه واكي او ټبر واكي:

۲-۶-۱ : بېلا بېلې سيمه واكۍ او ټبر واكۍ په پاى كې د بهرنيانو، په تېره ساسانيانو او توركانو د اغېز او نفوذ لپاره لامل

شوي. د هندوکښ دوارو شمالي او سویلي ډډو ته کوشني کوشاني او یفتلي سیمه واکې پر له پسې را منځته شوي، لکه د بدخشان، غرجستان، بادغیس، جاغوري، بامیانو، کاپیسا او نورې هغه. ددغه سیمو مشرانو یا امیرانو ځانته ځانته مرکزونه، نوم و نښان او سکې درلودې. په دې لړکې د کاپیسا حکومت تر ټولو سترو چې په کوشنیو کوشانیانو، یا په بله وینا "کېداریانو" یې اړه درلوده. دا هغه کوشاني پاتې شوني وو چې د یپتلي دولت له را منځته کېدو سره په کاشغر و ګېلګېت او نورو شمال ختیزو غرنیو سیمو کې ګوښه شوي وو او یو ځل بیایې دا کابو تر لاسه کړه او په کاپیسا کې یې سیمه ییزه واکمني را منځته کړه.

د غبار په وینا (۸۶ مخ) همدغه یفتلي او کوشاني پاتې شوني سیمه واکان وو چې له شپږمې زېږدي پېړۍ یې د یوولسمې تر لومړیو پورې په شمال او سویل کې د تورکانو، ساسانیانو او بیا عربو په وړاندې پر له پسې جنګېدل او پر شا تمبول کېدل، تر څو په پای کې د صفاریانو او غزنویانو حکومتونه راغلل او هغوی یې یو په بل پسې د افغانستان تر وروستنیو ختیزو لتو پسې واخېستل او له منځه یې یوړل.

۲-۶-۲: ددغه تاریخپوهاند د دغو څرګندونو له مخې چې د کابلستان د دولت (۸۸ مخ) د څېړنې په برخه کې یې تر هېلمند، غور او بیا تر آباسینه پورې د بېلا بیلو ټبر واکیو په اړه وړاندې کړې، دا ښه ترا را په ډاګه کېږي چې تر دویمې اسلامي پېړۍ لا د سویلي افغانستان ډېرې برخې د افغانانو په لاس کې پاتې وې، شاوخوا په تېره سویل ختیزې او شمال ختیزې غرنۍ ټبر واکۍ ان د غزنوي پېر (۹۶۲-۱۱۴۸ ز) تر منځیو پورې پایېدلې او په ډېره ځنډنۍ توګه اسلامي ګروهې ته را اوښتې دي. بل خوا ته د پښتنو ژبنۍ تاریخ (۳-۱-۶) هم دا زباته کړې ده چې له سیستان، هېلمند، غور، اراکوز یا، زابل تر غورې مرغې او د کسې غره تر وروستیو

سویل ختیزو پیڅکو پورې پښتانه له دویمې مخزېږدي پېړۍ را هیسې استوګن وو او تر یوولسمې او دولسمې زیږدي لا تول مسلمانان شوي نه وو. زابل که څه هم له یپتلي "زاولي" تېر نامه څخه آره اخېستې وه، تر دا منځ کوم ټکر نه پېښوي.ځکه چې یپتل د پښتنو د نژدې ساکي تربورانو په توګه هرومرو په پښتني ټولنه کې ویلي شوي او ان تر دې چې "ابدال" ورسره د تورکیوالي بېولاله (۴-۳) زابل ته د تورکې خلجیانو راتګ او پر پښتني غلجي تېر بدلېدنه را منځته کوي، هېڅ کوم تاریخي - جغرافیایي او ژبتوکمیز بنسټ درلودای نه شي.

دارمستېتر (روان فرهادي ص ۲۹۹) چې د "زابلي" نومي ژبې یادونه کړې، ښایي د هماغو زاولیانو (یپتلانو) د اړوندې (باختري) ژبې کوم پاتې شوني ژبه وه چې له ویونکو سره به یو ځای پشتونایز شوې اوسي(!).

## ۲-۷ : د تورکي توکمو لومړۍ څرک:

۲-۷-۱ : په افغانستان کې د تورکي توکمو لومړی څرك د وروستي یپتلي ځواکمن امپراتور تر مرګ را وروسته را څرګندېږي چې یپتلي دولت پر سیمه واکیو او وړو وړو حکومتونو وېشل کېږي. لویدیز تورکي خانان له آریانا (باختریانا) سره په نژدې شمالي ګاونډ کې ورو ورو له آمو را پورېوځي او له ساسانیانو سره یوه افغاني ضد ټلواله (اتحاد) را منځته کوي. تورکي خان "استامي" سلز بول یا دیزابول چې له مخه یې د پامیر لمنو ته خپله اوېجه را رسولې وه، په دې هڅه کې شو، له ساساني خسرو انوشېروان سره چې دولت یې له کلونو را هیسې د یپتلي امپراتورۍ تر ګواښ او اېلتیا لاندې تیکاو درلود ، لاس یو کړي او په ګډه سره د یپتلي ټولواکمنۍ پاتې شوني سیمه ییز حکومتونه راوپرځوي. هغه وو، چې پر ۵۶۶ زېږدي کال شمالي لتې، په بله وینا د آمو آ غاړه سوغدي ښارونه، لکه سمرقند او تاشکند اونور د تورکانو په لاس

کې کښېوتل او ساسانیانو هم له پارتیا څخه تر باختره د یپتلي دولت یو لړ لتې تر لاسه کړې او یپتلي واکمنان د بدخشان، غرجستان، اجیرستان، بادغیس او بامیانو غرنیو سیمو ته را پر شا شول. په شمال کې د ولایتو د وېش پر سر د تورکانو او ساسانیانو تر منځ ټلواله بیرته رنګه شوه. د دیزابول زوی تردوخان د اوومې زېږدي پېړۍ په لومړیو کې له ساسانیانو څخه د آمو را دې غاړې لتې، لکه تخارستان او باختر ونیول.

۲-۷-۲: په هره توګه شمالي افغانستان پر ۲۷ تورکي خانخانیو ووېشل شو، چې منځی یې کوندز و، که څه هم بلخ ترې زیات علمي او مدني ارزښت درلود. دغو خانواکیو تر ۷۵۶ ز پایښت وموند. سره له دې چې د هېواد شمال لویدیزې او لویدیزې لتې د ساسانیانو او شمالي ایالتونه د تورکي خانانو په لاس کې وو، خو سیمه ییزو افغاني حکومتونو خپلې کور واکې ساتلې وې. په دې لړ کې د کابلستان او کاپیسا حکومتونه ورو ورو پراخېدل او پیاوړي کېدل. په تېره هغه مهال چې شمال ته د لویدیزو تورکانو اوختیزو تورکي خانانو تر منځ لانج پیدا شو او د چیني تانګانو تر فشار لاندې راغلي وو او همداراز پارسیان هم د اړوندو سیمو له جنګیالیو سره لاس ګرېوان شول او د افغانستان په شمال لویدیځ او لویدیځ کې یې کوچنیو حکومتونو هم په وړاندې پاڅونونه پیل کړل او پر له پسې یې ترې خپلې سیمې ازادې کړې. د کابلستان د رتبېل شاهانو چې د هماغو ساکي کوشانیانو او یپتلانو پایځوړ بلل کېده، پر ټول سویلي افغانستان، له هامون اوهېلمند څخه نیولې د اباسین تر پورې غاړو خپل اغېز ښندلی و او ټولې سیمه واکۍ ور باندې راڅرخېدلې او څه ناڅه یې د یوه مرکزي افغاني دولت ښکارندویي او استازي کوله.

# ۳- څېړکې

## سکه ژبې (د ساکانو ژبې)

(هرالد والتر بېلي Harold Walter Bailey ۱۳۱ –۱۵۴ مخ)

۳-۱: په آسیا کې د تور سمندرګي له جلګو تر سیر دریا (Jaxares) د ساکانو لاسبري دریځ له ۶۰۰ مخرېږدي تر ۴۰۰ زېږدي (میلادي) پورې څه نا څه زر کاله د دوی د اړوند تاریخ او لرغونپوهنې ستر څېړنیز کار را انګازه کړی دی. ددوی د ژبو (یا سره نژدې ورغلیو ګړدودو) د پخوانې یا زاړه پېر (مرحلې) پېژندنه په(ډېر لیکونو)، سکو او په یوناني او لاتین کتابونو کې په راغلیو وییونو پورې تړلې ( محدوده) ده چې له یوناني او لاتین کتابو څخه، هر ګوره، واسیلي آبایف (V.Abaev، اوس اوس (۱۹۴۹ ) پخپل (اوسېتي ژبه او فوکلور Osetinskij jazkifolklor) نومي کتا ب (لومړي ټوك ۱۳۷-۲۴۴ مخ) کې را خوندي کړي دي.

۳-۱-۱: پخپله د سویمنو ساکانو د نژدې پېژند (تعریف) تر لاسه کولو لپاره چې له دویمې مخزېږدي پېړۍ را هیسې یې څه نا څه پنځه پېړۍ د هند پر شمال لویدیځ واکمنی چلولې، د شلمې پېړۍ په سر کې علمي پلاوي چیني تورکستان ته استول شوي وو. هغوی په پوره بریالیتوب، نه یوازې پر ورېښمو او ګچو، چینو او

سکو کښلي انځورونه ، بلکې ور سره ورسره پر ځرمنو، لرګیو او کاغذ لیکلي لاسوندونه هم له ځان سره راوړل چې له اوومې تر لسمې زېږدي پېړۍ مهالپېر یې را اخېست. له هغو لاسوندونو څخه د خو تن په شاهي اوبجه کې د یوې ګڼې او لیکنۍ ساکي ژبې یوه ستره برخه راتله او همدا راز د تومشوق Tumsuq او مورتوق Murtuq له سیمو څخه د یوې بلې سا کې ژبې ډېر څه په دوو بېلا بېلو لیکدودو کې را خوندي شوي وو، دا هغه توکي دي چې په راتلونکیو مخونو کې تر سپړنې لاندې نیول کېږي. [د بېکن د څېړنې له مخې دغه دویم منځنۍ ساکي ګردود له هندي پراکرېت څخه ډېر اغېزمن شوی او د خوتني هومره توکي یې، هغه هم په بودایي لاسوندو کې نه دي را خوندي شوي، کولیرانسایکلو پیدیا ۲۰ توک ۳۶۹ مخ].

کوم نوم "ساکه" چې ددغو توکیو د ژبې لپاره پر کار اچول شوی، پخپله په متنو کې سیده نه دی یاد شوی. د خوتن (Gostana, Khotana, Hvatana) د شاهي آوبجې د اړوندې ژبې لپاره مو دوه وینګی نوم هوتنو (hvatanau, huamno) وموند چې له هوتنه (hatana) د ستاینومیز روستاړي ava – (د aka تر څنګه) په نښلونه رغول شوی دی او د کاشغر د ژبې لپاره د یو لړ ویپونو ، لکه الیونجه یا الیونځه alyonja (alondza, alyohjah) "مېرمن" خوتني الیسامجیا (alysāmgya ) او کنبه (kanba ) د یوه بوټي نوم، ښایي فلاکس (flax)، خوتني کومبا (Kumba) چې د خوتن له ژبې سره د یوې ورته ژبې ښکارندویي کوي، کنچکه (kančaka) نوم دود لري، څکه knčk • känčäk نومي ژبه د کاشغر په شاوخوا کلیو کې لاتر اوسه ویل کېږي او په یوولسمه پېړۍ کې یې الکا شغري (Al-Kāšγ ari) یو فرهنګ کښلی دی. د اتمې پېړۍ شاوخوا په تبتي متنو کې دغه نوم ګنچګ (Gahjag) کښل شوی دی.

لـه تومشـوق او مورتـوق څخـه د لاسـته راغلیـو لـړو توکـو لپـاره کـوم نوم را لېږدول شـوی نـه دی.

مـوږ پـه چینـي خوندیینـو (ریکـارډونو) کـې لـه راغلیـو څرګندونـو څخـه دومـره پوهېږو چـې سـاکانو د سیتا (Śītā) سـیند یـا اوسـني تـارم (Tarim) د سـیمې تـر شـماله پـوره پراختیـا موندلـې وه او بیـا د کاشـغر له شمال لویدیځه نیولې، مخ پـر لویدیـځ تـر بـاختره غځیدلـی وو. 塞 ۹

په نوموړو لیکنو کـې سـاك (saka) یـو څپـیز (sak) ادا کـېږي چـې را وروسـته وینـګ یـې سـه (sa) اوسـی (sai) شـوی دی. پـه پخوانیـو چینـي لیکدودو کې د نورو بهرنیو ژبو غونـدې د نـورو هنـدي او آریـاني ویینونـو پای(a-) په دودیـز ډول غـورځېده . پـه دویمـه مخزېږدي پـېړۍ کـې د کاشـغر شمال لویدیځ تـه سـاکه ټولواکـي "یوانـدوك (iwän–duok) " (را وروسـته کوانتو –küanut) پـه (و) ینـدوکه -(w)induka) کې را پاتې برېښي.

یـدګ yīdg (ډېر ګړی yidagī) او یـدغ idaγ (ډېر ګړی idγe) پـه مونـځي او یدغـه ژبـه کـې د پـامیر د یدغـه (yidγa) ژبـې ویونکیـو تـه وایـي. پـه شـپږمه مخـزېږدي پـېړۍ کـې سـاکه (سـاکان) هخامنشـي پارسـیانو، او یونـاني څمکپوهـانو او تاریخپوهـانو تـه څرګنـد وو. هغـوی د پوندو وو پـه تـوګه ختیـځ خـوا تـه لـه سوګودا (سـوغدیانا) خـوا تـه اوسـېدل. د هـېرودت د څرګندونـو لـه مخـې چـې پارسـي ټولـواك کـوروش (Kūruš) لـه مسـاګیتو Massagetai سـاکو سـره پـه جنـګ کې ومړ، پـه هخامنشـي ډبر لیکونـو کـې (یـې) درې ډلـې سره نومـېږل کـېږي:

۱- پورې غاړي ساکه (Saka Paradraya) د تورسمندرګي په جلګوکې.

۲- تـېش خولـي سـاکه (Sakatigraxauda)

۳- هومـه ورګه یـا هومـا (سوما) ایشـوونکي سـاکه (Saka hauma varga) پـه سـویل ختیـځ او پـامیر کـې.

ډدغـی وروسـتی ډلـې نوم پـه برغ -braγ، مرونـګ -mrung او مونـګ -mung کې را پـاتې بـرېښي چـې لـه یدغـه وو سـره نـږدې ټـلـوال (متحـد)

ربجیان (په ګډه) د Braγo, Mrun. gul,Mungān په نامه نومول شوي دي. ددغو ساکانو د یوه لرغوني مرکزي ښار نوم Pwζxυ∝xy په روشان (Rōšān) یا روښاني ژبه کې را خوندي دی.

۳-۱-۲: په هند کې د ساکانو نوم پوره پېژندل شوی. په کتابونو کې (یې) ساکه له یوانه Yavana ، پهلوه pahlava، توخاره Tukhara ، او سینه Cīna سره یو ځای خورا زیات یاد شوي دي.

د خوتن Khotan په بودایي متنو کې چې له هنده آره اخلي، نوموړی درې نومونه د شاکو نه Śśakauna، یوانهYavana او پهلوه Palvala په بڼو راغلي دي.

ساکستانه Sakastana(k=γ) د متهورا لاین کپیتال په خروشتي ډبر یك کې موندل شوی. دغلته (-s) په داسې لیك کې راغلی چې پنځګوني شپیلکي اوازونه Sibilants(s,ś,ź,ş,z) سره توپیر وي. په بودایي سانسکریت کې په هندي شوې بڼه (s) په Śakasthāna کې را څرګندېږي (په چیني کې بیا په دواړو بڼو -sa او sa) او هماغه بڼه بانه (Bāṇa)، په خپلHarşa- carita نومي اثر کې کټ مټ کارولې ده. د لومړي شاهپور Šāhpuhrد دریمې زېږدي پېړۍ په (نقش رستم) ډبر لیك کې بیا skstn (sayastan*) له یونانې Segistēnē سره کښل شوی دی. ارمنیانو د sakastan او Sagastanپه بڼه پېژاند او په عیسایي سوغدي متن کې د sgst'n په بڼه. ستاینوم یې بیا په ارمنۍ کې sagčik او په نوې پارسۍ کې sagzi(-Syriac sagziq). (همدا راز ۱-۴-۱).

۳-۱-۳: د -saka و یي نښې نښانې د (خوتن) د تارم له سیمې په لاسته راغیلو لاسوندو کې له اوومې تر لسمې زېږدي لیدل کېږي، که څه هم ناشونې ده چې دا دې هماغه نوم وي(!) همدا راز له کوچې Kuci سیمې څخه په تر لاسه شوي سانسکریت متن کې د کوشان پاچا یو لاسکتوی (مادون) ساکه راجه -Saka-rāja نومول شوی او تر څنګه یې د اقسو Aqsu او اوچ üč، بروکه راجه Bharuka-rāja او هیچوکه راجه -Hecyuka rāja نومونه راغلي دي چې د ساکو (د یوه ښاریا کندی) د

پاچا مانا را اخلي او له دې سره د يارکند Yarkand نوم رامخته کېږي. په چيني کې suak iwo (را وروسته so-kūu) ساکو (sakā) ته ويل شوي او د بطليموس Ptolemaios په جغرافيا کې Σαγα* د MSδοῖα,δοῦα لپاره کارول شوی دی. سکانه شنيره sakānā sar īrä د خوتن شمال ته د مزار تاغ Mazar Tagh په رسمي سند کې راڅرګندېږي. د سکا Sakā د ستاينوميز (صفتي، نسبتي) روستاړي شننه را ښيي چې مخنی ترنګ کېدای شي، د سکا شنيره Ṣanīra Saka له عادي (اضافي) کارونګ سره سم رامنځته شوی وي. په يوه هيدين Hedin متن کې د يوه سړي نوم سکام Sakām راغلی: sakām hīvīvāra (پيسې په سکام پورې اړه لري) چې am د anaيو ګړي (مفرد) تولواله (اضافت) دی. که چېرې دغه هماغه نوم وي چې يو ځای يا څو ځايه کارېدلی، نو ځپلواکمنځی (intervocalic) – ك- (-k-) به خوندي پاتې وي او د ويي په يوه ناروستاړيزه برخه کې دغه پېښه کېدون لري. موږ په همدې ډول د متهورا (Mathurā) په ډېرليك کې پراکرېت (ماورای سانسکرېت هندي) سکه -saka مومو او -saga په جينا Jaina متن کې او همداسې يې په Tabula Peutingeriana کې هم درواخله. (سکام skam" د کېږدی تيرګی "ښايي دلته بې اړيکي نه اوسي). له ساکه سره بودايي ستاينومونه، يا په بله وينا د بودا ساکي نومونه اوستاينومونه، لکه ساکياموني Sākyamuni (هنزن ۷۹ مخ) هم په زړه پورې دی. استاد رشاد (ننګرهار ۱-۴ ګڼه ۱۳۷۶) بيا د ساکيا موني سد هرتاګوتم بودا يادونه کوي چې د کوپړی هډيې په هډه کې ښخ دی.

۴-۱-۳: د ساکه Saka مانا ښايي له منځه تللې وي. مګر له هغه راهيسې چې په زړه پارسی کې د ها Daha"سړي"د" داهي وګړي Dahae people" په مانا د يوه تېر نوم په توګه سهی شوی دی، او له خوتني -daha "سړی" جرمنی نامه الماني alemanni او داسې نورو سره پرتله شوی، دا اټکل را منځته کوي چې ساکه يا سکه -Saka د سك -sak "ځواکمن، وړند يا ماهر" ستاينوم دی او (لکه په رېګويدي suśáka کې) يې د "سړي" يا "men" د ستاينوم

په توګه کارېدنګ موندلی دی. د ستاینوم لرغونې بڼه (type) له زړې هندي ajá "مشر، لاربنود"، اوستا یي taka- "بهند، روان"، خوتني ksama- "هیله من، کارمن"، پهلوي hukar "اسان" سره ورته ده. دا وړاندیزونه چې لکه Saka نوم له ژوني (حیواني) نومونو (لکه اوسیتي سګ sag له Saka "غواوزمه غرڅه"، یا شون śvan "سپي") سره اړوند وي، بې له شکه ردېږي، همدارنګه له sak- ستې څخه د "pass" تېرېدل، لېږدېدل" په مانا د یوه بېلنګ (مشتق) په توګه هم د منلو وړ نه برېښي.

هرالدوالتر بېلي ۱۳۲-۱۳۳ مخ)، همدا راز ۱-۳-۳)

[حال داچې (لکه ۱-۳-۳) له دغې وروستۍ مانا او مفهوم سره پښتو sk- او ck- پوره اړخ لګولای شي، لکه په سکېدل، څکېدل، ښېدل، (کښېدل، خوځېدل، ښورېدل....) کې، په داسې غونډلو کې: لې دېخوا تـه راوسکېږه، یا په دې ګړنه (محاوره) کې: د هغه پام یې ځانته را وڅکاوه... - زیار]، براند نشتاین – مایرهوفرسکه، څواکمن او شتمن او په پای کې هم "کوچي" بیا د sak- بنسټ "خوځېدل" له مخې مانا کړی دی (زړه پارسي ۱۴۲ مخ). استاد مورګنستیرنې (72EVP) سږ (یوازې یا له -کال- سره د سږ کال په مانا او همدا راز په پروسږ (-کال) کې په < saxsa- "جاري sakah-> "د وخت تېرېدنه" پسې وړي او له آریاني sak- "وخت تېرول" سره تړي چې په اوستا، زړه پارسي او سوغدي کې یې څرك لګوي. د سږ بله زړه نګېرلې بڼه saxsă بیا د سانسکریت sakṣa" تر څواك لاندې راوستونکی" او sahas "څواك" له مخې را ښیي.

### ۳-۲: "خوتني" د منځني شمال ختیزې آریاني ژبې په توګه

د هندوساکايي واکمنې پېر (۳ مز –۲ ز پېړۍ) ژبه (*)

۳-۲-۱: مور خوتن ساکي (خوتني) ژبه متې په شلمه پېړۍ کې د ختیز ترکستان له برسېرونو سره وپېژندل شوه. لایمن E. Leumann

*Konow, Sten, Khotan Sakische Grammatik (Eirnleitung) Otto Harrasswitz, Leipzig 1941

لومړی سرې و چې دغه ژبه یې په علمي توګه وڅېړله. هغه د اریایي ژبې په توګه تر هندي، له آریاني (ایراني) څانګې سره نژدې خپلوانه و بلله او بیا یې شمالي آریاني، مورګنستیرنې (فرهادی ۲۵۶ مخ) له پښتو سره نژدې ښوولې ده.

که څه هم آریاني څانګړتیا یې له مخه جوته شوې وه او فرانسي څېړونکو لکه مایلي Meillet او پیلیو Pelliot ورته د ختیزې آریانۍ نوم غوره کړی و. خو یو داسې نوم چې د ساري په توګه یې "سوغدي" هم را اخېسته. دا چې لاسلیکنې یې زیاتره په پخواني خوتن کې موندل شوې وې، نو کیرستي Kirsty یې د یوه منځکوره یا بې پلوه "خوتني" یا "ختني" نامه وړاندیز وکړ او را وروسته روښانه شوه چې دغه نوم یې له کورني نامه خوتنا hvatanaa- سره سمون لري.

له بله پلوه څنګه چې دغه ژبه په خوتن او بیا وروسته تورکي ژبې سیمه کې را ولکه شوې، نو غوره وګڼل شوه چې "زړه" یا منځنۍ" خوتني وبلل شي. تر هغه وروسته چې لویدزر وښووله، ځینې ځانګړي نومونه او په هندي لاسوندو (اسنادو) کښې د ز (z) پر ځای ys کښښنه داراجوتوي چې په هند کې ساکي واکمنان (۲ م ز – ۳ ز) په همدغه او یا دغې ته ورته بله نژدې خپلوانه ژبه غږېدل، نو داسې تولیز دود شو چې دا ژبه ساکي ونومول شي. خو مونږ پوهېږو چې دا یوه یوازینۍ ساکي ژبه نه وه، بلکې همدا راز یې یو بل نژدې خپلوان ګړدود له خورا بېلابېلو ځانګړتیاوو سره د برلین د لاسوندو له مخې د کاشغر ختیځ، مرالباشي، (بار چوق Barčuq) خواته پېژنو چې نور توکي یې په پاریس کې تر لاسه کېدای شي. دغه ګړدود مونږ په خپل کار کې د م (M) په نامه یادوو. نورو اړوندو تېرونو به، لکه هندي ساکانو ښایي په نورو ګړ دودونو خبرې کولې، نو په دې توګه دا پایله لاسته راځي چې دغه تر څېړنې لاندې ژبه په



ACKU

یوه ځانګړي خپلواك نامه ونومو، او بل خوا څنګه چې ساکي نوم دغلته را لېږدېدلی دی، نو زه "خوتن ساکي" نوم کاروم.

۳-۲-۲: زموږ د ژبې زړې ترینې نښې نښانې د لومړۍ او دویمې زېږدي (میلادي) پېړۍ هندي ډېر لیکونو په ځینو ویېونو کې لیدل کېږي چې له کوشانیانو سره اړه پیدا کوي او هغه هم په هغو پوروییونو (مستعارو لغتونو) کې چې د ختیز تورکستان په ډېر لیکونو کې د درېمې زېږدي پېړۍ تر پایه رسي. له دغو لیکونو څخه په یوه کې د خوتن د پاچا نوم راغی چې هیني ها -hinajha یا خوتن ساکي هینایسا -hīnāysa "سر لښکر" یې ستاینوم (لقب) و. خو زموږ غوره توکي له هغو بې کچو لاسلیکنو څخه سر چینه اخلي چې یا په پخواني خوتن کې کښل شوې او یا له هغو سره په یوه ډول نه یو ډول اړوندي لري. په دغو کې ښلا ښل او په ټاکلې نومېرلې توګه د یوه لرغوني ادب غوره پاتې شوني را خوندي دي: بودایي او طبي اثار، د ګڼي هندي ادب ژباړې او داسې نور.

زیاتره برخه یې له سانسکرېټ او یو څه یې هم له تبتي څخه را ژباړل شوي دي او همدا راز یې یوه برخه چې په خپلواکو لیکوالو اړه پیدا کوي، بیا هم له مخنیو ښلګو سره ټینګه اړوندي څرګندوي.

۳-۲-۳: په رابر سېره شویو لاسوندو کې زړې ترینې لاسلیکنې څه نا څه تر اوومې زېږدي پېړۍ پر شا ځي، نوې ترینې یې بیا د لسمې پېړۍ په دویمې نیمایي پورې اړه لري.

په زړو کې یې ژبه له هره پلوه دودیزه برېښي او دیوه داسې پړاو ښکارندویه ده چې په یو مخیز ډول ګڼي ژبه نه را انګازه کوي. په دې توګه باید د ګړدود ړومبني لیکني کارونګ نور هم پر شا ولاړ شي، دا چې څومره، لا ویلای نه شو.

۳-۲-۴: دا چې زیاتره لیکنۍ ټوټې د بودایي اثارو ژباړې دي، نو دې پایلې ته مو ور نږدې کوي، هغو بودایي د ینښوانو چې

خپلې سپيڅلې ليکنې يې په هيوادنۍ ژبه کې دودول غوښتل، ليکنۍ ژبه را مينځته کړې ده، که څه هم بشپړ باور څرګندولای نه شو. يوه غوره زړه لاښکښنه يې چې زياتره نوې ځانګړتياوې لري، ښايي د اړوندو متنونو د ژبارنې ړومبنۍ هڅه وي.

ددغو لاسليکنو په لړ کې يوه بيا د داسې سپېڅلو متنو د کورنيو ژباړو ښکارندويي کوي چې په پراخ ډول په سانسکرېټ کې خوندي پاتې شوي دي او ددغه ټکي نه منل هم ګران برېښي چې دغه ژبه به ګونديې د درېمې او اتمې پېړۍ تر منځ اوږده مهالپېر لپاره د دوتر دېوان، رښتې (حقوقي) چارو او چال چلند (کاروبار) ژبې په توګه نه کارول کېده، په دې مانا چې له هندي څخه د خوتن ساکي ژباړلی لاسوند په درېمې پېړۍ پورې اړه لري او په اتمې پېړۍ پورې پخپله ار خوتن ساکي متنونه.

نو موږ په دې توګه ويلای شو چې د ژبې دغه راز ليکنې کارونګ هماغه مهال کېدون موندلی دی چې د هېوادنۍ ژبې په توګه يې تر دغه ښکلو لاسليکنو له مخه لا هرو مرو په يوې ور مخکې زړې بڼې اړه درلوده. (ستن کونو، له سريزې څخه)

۳-۲-۵: د والتېر بېلي (۱۳۳ مخ) د وينا له مخې د جغرافيايي، ډبرليکي او ادبي لاسوند له مخې دا کېدونې ده چې په تومشوق او خوتن کې د ساکي ټبرونو د ژبې ځېلونه (وارينټونه) ويل کېدل، دلته دا اټکل را مخته کېږي او دا هيله را زرغونېږي چې يو وخت به يو داسې سيده زبات را مينځته شي چې دغه خبره سپنياوي ته ورسوي. د اسيا او اروپا د موزيمونو لپاره د خوتن ساکي ژبې د ليکليو توکيو ټولګه، هغه هم د يوې داسې ژبې چې تر مخه ناپېژندويه وه، يوه ولوله را پاروونکې کچه وه. په هغو کې زياته برخه له بودايي سانسکرېټ څخه را ژباړل شوې وه او د يوه بودايي ورم (وعظ) ښکارندويي يې کوله. په دې تخنيکي ويېونو کې وړاندې شوی وو: شمنه Ssamana- (نمنځچار، زاهد، مرتاض)، پر چپه paracīya- (يوګړی، فرد)، اشيا aśyā- (نمنځچار، زاهد، مرتاض) نالی nālai (ډرامه)،

چې په يو شمال لويديز پراکرېت ڼې چې دا ژبه بيا پر خپل وار په خرو شتي لاسوند پـه ختن کـې جوتـه شـوې وه. د ختنـه Khotana د سـتر ټولـواك hinajha dheva Vijida simha له ټولواکۍ سره همزمان ګڼل کېږي.

پـه دغـه پېيلـو او نـاپېيلـو پـاتی شـونو کـې د Vajracchedikā ، د Sudhana او Manoharī او ادانه کيسـه (avadāna-tale) او داسـې نـور ګڼ متنونـه را نغښتـي. لـه نومـاندو بودايـي کيسـو څخـه يـې د کنيشـکا (Kaniška) او د هغـه د سـتوپـې د افسـانې يـوه برخـه، دوې کيسـې د آشوکا (Aśoka) او جاتکا (Jātaka) هغه را خوندي شوې دي. د تارم Tarim سيمې په بودايي مرکزونو کې د سانسکرېت ادبي تصنيف د کوچـي kuci او اګني Agni رسمي متنو کې نومېرل شوې، جاتکا ستوه Jātaka-stava) چې د ختني توکو په ژباړه کې راخوندي شوې، د ويديه شيله Vedyasīla له خوا چې په سانسکرېت کې د نحوې څرګندويي کوي. د ختن په سامنيا Sāmanyā ،په سمڅ مـزدك (صومعـه) کـې کـښـل شـوې وه. پـه خروشـتی پراکرېت لاسوند (سند) کې د زده کړې د پېژندل شويو دولونو يـو ليکلړ (لسـت) وړانـدې شوی دی چې موزيك gamdharve اود شـعرونو تصنيـف Kāvya-kāramne دواړه را اخلي.

۳-۲-۶: لـه لرغونـو بودايـي مخکـې پـېرو څخـه د زړې آريانـۍ دا تخنيکي ويـي پانګه تـر لاسـه شـوې ده:

ormozd لکـه) ahura–mazdah- لـه اهورامـزدا "لمـر" Urmaysde "لمر" په يېدغا او مونجۍ کې) ، شندرامتا śśandrāmatā "شري Śrī" د بخت خدايـګوټي "لـه سونتا آرمتـي -Suantā ārmati * ،اوستـايي سپنته آرمتي -spanta ārmaiti، تياره هريسه taira haräysa "سومرو Sumeru" له -taira* او harābrz څخه، اوستايي -taira او -harā baraz, phārra "لـوړ دريـځ" لـه -balysa ,xvarnah څخـه ، تومشـوق بارسـه -barsa " د لومړۍ پوهې څښتن" چې د بودا "Buddha" پر ځای، يا په بله وينا "دا ندول په توګه کارول کېده. gyaysna "بلهاري" او -gyasta ،تومشـوق "jezda "پرښتلـی، معبـود"، اوسـتايي yasna او -yazata -rräysan "واکمـن"،

rrispura- "شــاهزی"، bisivāraṣṣaa- "د لويــې کورنــۍ د غــړي زوی
bīsivīraa- "د يوی لوړې کورنۍ".

۳-۲-۷: د تــارم يــا تــارېم Tarim ســيمې سياســي تــاريخ پــه دويمــې مخزېږدي پېړۍ څخه راپيلېدای شــي. پــه ډېر مخنــي پــېر کــې د خوتــن او کاشغر تر منځ کړکېچ را خوندي (ريکارډ) شوی دی. را وروسته ، لومړی چينيانو او ور پسې تبتيانو او بل ځل بيا چينيانو دغــه هېواد پــه ولکــه کې لرلی دی. دغلته کله ناکله د سوپيــانو Supīya، هونـانو Huna، تورکــانو Tturka او "هينا خو څه وو" لــه خوا بريدونــه شــوي دی. د خوتــن پــه نيمــه افسانه يي پېښليکونو کې د ېني تاريخ کښل شوی و چې په تبتي ژباړه کــې خوندي را پاتې دی. له شاوخوا نژدې ګاونډو سيمو خيشه Khyesa، کوڅي يا کوچي Kuci، اېرمه Erma، ارګي Argi، کرو راينه Kroraina او شڅو Sacū سره يې تل نژدې اړيکي درلودل. لــه دوه ډولو ســکه ژبــو خوتنــۍ او تومشوق څخه دويمه دا زياته ارکاييکه ده. د تومشوقي rorda- (ورکړی) – rd- او -o– چې له fra-brta- سر چينه اخلي، د خوتني hūda لــه -d– او –u- سره انډول جوړوي او د تومشوقي tsenā- "ژوند" او xsera "څمکه" -e– د خوتنــي jsīnā او ksīra- لــه -i- ســره. پــه تومشــوقۍ کــې د اوښتــي (umlaut) -i- نشــتوالی لکــه څاريــه tsāry- "تــر ســره کــړ شــوی" ، باريــه barya- زوکړ شوی"، اســتي asti "دی دی" انــدي andi "دوی دي" کــې لــه خوتني څېره tsera-، بېره bera-، اشتــه (aśta)، اينــده (īndä) سره تــوپــير ښيي. په تومشوقي patsi "پنځه"، pastsasu "پنځوس" کې ناغږن -ts– تــ خوتني pamjsa- او pamjsasa زوړ دی.

د تومشوقي śowarsānä "۱۱" او خوتني śśudasu توپير ددغو ژبو تر منځه د يوه پامور وېش (جلاوالي) ښکارندو يــي کوي. خو بيــا هم يــوازې د خوتني متنونو يوه غــټه کچه پــه زړه خوتني بڼه پــه بــاوري لاسکښنو کې تر لاسه شوې، هغه هم زياتره د بودايي لار ښودونو او افســانو د لاسکښنې پــه ۳۵ څېرکو کې، لکــه واخلې پــه بــادرا Bhadra، او ديانــا Udayana او د وشپراساوا Dusprasava او د سوورڼا بهاساسوترا Suvarnabhāsāsūtra

ACKU

او شورامګاما – سمادهي سيوترا Sūrāmgam– samādhi - sūtra –او
سنګاټا – سوترا Sanghāta - sūtra –په ځينو برخو کې.

۳-۲-۸: يو زياته برخه يې بيا په ډېره بشپړه، خو بيا هم پرله غېښتې (با قاعده) بڼه په را وروسته خوتني کې را تر لاسه شوې، هغه هم په ډېرو ديني، طبي او رسمي ټوټو پارچو کې چې د لايمن E.Leumann له خوا "ځرمه ټوټې Nebenstucke" نومي کتاب او زما له خوا په يو ، دوه درې ګڼه خوتني متنو او بودايي خوتني متنونو کې کره (اېډټ) شوې دي.

په دغه لړ کې سوموکا سوتره Sumukhe - sutra د همدغه پېر يوه غوره بېلګه ده. د دويم ځېل (type) خوتني نښته په يوه لاسوند کې ښوول شوې چې په ۹۲۵ زېږه لري. له يو څه ناکره ليکدود سره په يوه داسې لاسوند کې له داسې متن سره مخ کېږو چې څه ناڅه پر ۹۵۰ ز نښته له شماله د کشمير Kasmira په دننه کې د يوه يا نه (سفر) څرګندويي کوي. د خوتني يو دريم اويو وروستی ځېل (type) نوې اریانی (ايرانی) ته نږدې وښوول شو، خو د ناوړو بهرنيو اکرونو له کبله د يوې پر له پسې زياتېدونکې ليکدودي بېدودی (بې قاغده ګی) ښکار شوی دی.

د خوتني وييپانګې يوه پاموړ برخه له بودايي نومونپوهنې را رغول شوې ده.

پخوانې پورويونه پکې يو پراکرېت بڼه رانېيي، لکه واخلې: (s=z) ajis "هڅه، هيله"، سانسکرېت adhyes-, avīpa "په باوري توګه "سانسکرېت -aiśvaryā "باداري" سانسکرېت iśvarī, dhyana- کرورانيه (Kroraina) ژبه.

eśvari, iśvarya, vīrśa, vārśa

او را وروسته (=viza) virśa-vīrśa- سانسکرېت vīrya-,ananta

narya- "سملاسيوالی، بيړه"چې له -ānantarya څخه سرچينه اخلي، په وړاندې يې پراکرېت -rś– له -ry– څخه په کوڅي kuci انانترشه anantārśa- (په ډېرګړی anantārśānta کې) او اويغوري تورکې

arši (د anantariš او anantaršiki ټيکاو لري n'ntrys "او n'ntršyky
پر ځای) همداسې در واخله.

را وروسته په خوتن کې چې د هيو نځن Hūan Tsang له مهال راهيسې په چين کې د سرو استېوا دا sarvāstivada ښوونځي بودايي سانسکرېت د يوې زياتې کره ژبې په توګه غوره وګڼل شوه، نو د بېر (خوتني) ويپونه په سانسکرېت بڼه کې وښوول شول.

۳-۲-۹: د منځنۍ آرياني ګړدود يوه پامور کچه په خروشتي kharoṣṭhī متنونو کې له کروراينې (ژبې) څخه تر لاسه شوې، لکه:

pirova- "کوټ، حصار"، خوتني prūva، ميشي misi "بوزغلي ګرې يا قورېې ورنده"، خوتني -māṣṣa کشونه -kusuna "د واکمنۍ پېر" خوتني کشونه ksuna، اجهتې ajhate "ازاد يا ساهو وګړي" خوتني -āysāta. نور ويپونه بيا سره توپير لري، لکه: اشپيسته -aspiśta "شپښته" خوتني -aspara سري -sari په نوکسري noksari "د نوي کال ورځ، نوروز" کې خوتني sali، -sala "کال". د "ښکار" لپاره کروراينې -nacira (c له šc څخه) [لکه پارسي نخچير]، لکه د توراماڼا toramāna د ۵۰۰ زېږدي په هندي ډبرليك کې -nascira-pati، پارتي nhsyr-pty (منځنۍ) پارسي د لومړي شاهپور په ډبرليك کې چې خوتني يې په وړاندې nhcyr-pt "ښکار" لري. پارتي w'ywg او سوغدي w'ywk. په -byaha -suj'ina "سکوينه، سوزندوزی" کې (له لومړۍ لنډې -a- سره پارسي -suzan kirta په پرتله) ž=j له č څخه سرچينه اخلي چې را وروسته خوتني يې په وړاندې js=dz لکه په sanjsana "ستن" کې لري.

خوتني -hīnāysa "پوځي بولندوی" په کروراينې hinajha کې د خوتن د ټولواك د ستاينوم (لقب) په توګه را خوندي پاتې دی. د ساکه ګړدودونو بل لاسوند د ساکي او کوشاني پېرونو د شمال - لوېديز هند په خروشتي او براهمي ليك ډبرليكونو کې را خوندي دی. لکه هورکه -horaka "مرستندوی، بسپنه ورکوونکی" له هور -hor "ورکول" څخه خوتني ,-haur -hor "ورکول"، -hanrāka "ورکوونکی" له -fra->ha څخه، په داسې ترڅ

کې چې بکنه پتې -bakanapatic "د زیارت مجاور" خپل انډول په سوغدي βγnpt کې لري. زوړ آرياني -baga "خدای" د ,-baga-, vaga bagá-, vaka- او پر کوشاني سکو باندې د BAΓO (BAGO) په بڼو راڅرګنديږي. د کوشاني ستاينوم يو وګه (-yavuga) د يم (-yam) "لاړښوول" ښلنګ (مشتق) ښوول شوی چې د -m- پر ځای له -v- او د ويېز (باقاعده) روستاړي -uka- څخه منځته راغلی دی (لکه په زړه هندي -damśuka, kasuka، خوتني tcarşū "روڼ، روښانو ځلاند"، پارتي انډول يې ymg* yamaγ او پارسي هغه يې žmyg*žamīγ "لاړښود، ∝pχaηγos" راځي.

۳-۲-۱۰: **خوتني ليک**:

د خوتني د ليکلو لپاره چې کوم ليک کارول کېده، هغه براهمي ليک و. دغه ليک په خپله زړه بڼه په هندي کې د کوشاني ډبرليکونو ښکارندويي کوي او هم د تاريم (خوتن) په سيمه کې د مونډليو بودايي سانسکريت د لاسکښنو. په شمال لوېديز پراکرېت کې د غبرګ پرمختيا ليکونکي دېته راوستي چې په خروشتي ليک کې ډېرې ټکي اېښوونې را وپېژني او ورته ستونزې خوتنيان دې ته اړ ايستلي چې خپله ژبه په براهمي ليک وکاږي. په خوتن کې بېلا بېل وختونه دوه بېلا بېل ليک ډولونه دود وو او دغه بېلتون (توپير) په زړه او وروستني خوتني کې کار اسان کړی دی. چې د شپېلکيزو غږونو ليکدود د دغه توپير يوه روښانه پېلامه ده. په زړه خوتني کې śś او şş د ناغږنو ś او ş لپاره کارول کېدل او يووستوي ś او ş بيا د ź او z̧ په وروستي خوتني کې له غبرګو شپېلکيزو غږونو يو وستوی š او ş ناغږ ن وو او په لاتدينني نګښني سره يې د ź او z̧ ښکارندويي کوله. د ليکدود (spelling) نورې نښې پر خپل اکر پاتې دي. د z لپاره په آرياني ژبو کې ys را خپل (اداپت) شوی دی. د d ,t او δ (ذ) شتوالی د دې لامل شوی چې په پورويونو کې د t لپاره tt او د

منځخپواکـي d لپـاره t وکـارول شـي او د δ (او تـر r لـه مخـه θ ث) او d لپـاره d.

یـو څه زوړ ایـاني -xr پـر gr ,-fr پـر -br ,-θr پـر -dr اوښتـي دی. د tc, ts, js, j, ch توري د ts, ' tś. dz, dź, tš ښکـارندویي کـوي. یـو څه زړه خوتنـي rr او r سره تـوپـيروي، چـې را وروستـه خوتنـي بیـا د یـو بـل پـر ځای کـارولو تـه هـڅه لـري. د یـوه تـازه غورځولـي (حـذف) غـږ نښتـوالی پـه لاندینـي نـګښي ښوول کـېږي، لکـه پـه pyū کـې د š لپـاره چـې دغـه ویـی لـه *pati-gauša "اورېدل" خـو پـه pyūşde "دی اوري" کـې بیـا داسـې نـه ده چـې لـه *patigaušatai څخـه سـرچینـه اخلـي. نـګښی زیات پـه وروستنی خوتني کې کـارول کـېده، پـه داسـې اکـر کـې چې په زړه خوتنـی کـې نـور غږونـه هماغسـې نالاسوهلي لـه منـځه تللـي دي، لکـه پـه -balysa->baya کـې.

د کراماواکنـا karmavācana پـه تومشـوقي مـتن کـې د براهمـي د کارونګ سېستم لږ پرمختګ کړی دی، دغلتـه s د s او z دواړو لپـاره کـار ورکوي؛ ts د ts او tz؛ او t د t او d دواړو لپاره راتلای شي.

یـو درېیـم لیکنـی سېسـتم پـه تومشـوق او مورتـوق کـې د اریـاني غږونو د څرګندونـې لپـاره د دولسـو نویـو نـښو پـه رغولـو سره رامنځتـه شوی چې په هغـه کې د g, xš, z, ź, z, d او dz نـښې شـنل (شـرح) شـوې دي او zy او gw هسـې نـابېري (تصـادفي) بـڼه لـري.

د هنـدي څپـيز (syllabary) لیـك یـو سـتر پرمختـګ د خپلواکـو (واولـو) درلودلـي دي. مـوږ دغلتـه د پـر لـه پيېلـو متنونـو د اریـاني خپلواکغـــږیزوالي vocalistion پـــه اړه ډېر مخکینـــي لاســـکښیز لاسـوند لـرو چـې پـه اکـادي او یونانـی کـې د هخامنشـي پارسـی د پـور وییونـو تـر څنـګه پـر کـار اچـول کـېږي او پـه ارمنـی کـې د پارتـی او ساسـانی (پـهلوی) د هغـو، او همداسـې یـې د څوارلسـمې پـېړۍ پـه اوسـتایي لاسـکښنو (نسـخو) کـې درواخلـه. سـره لـه دې لـه تومشـوق څخـه تـر لاسـه شـوي متنونـه پـه زیاتـه زړه (ارکاییکـه) سـاکه ژبـه کـې

ثبل شوي، خو د خوتني توکيو ښايسته غټه کچه دا باور نور هم را ټينګوي چې له همدې سره يې پيلامه رانښتې ده.

۳-۲-۱۱: دلته د دې لپاره چې د لاسته راغليو متنونو "براهمي" نومي ليك او ليكدود مو ښه ترا پېژندلی اوسي، د نوميالي ساكي پوهاند ستن كونو sten konow له "خوتن ساكي ګرامر" كتاب څخه اړوندې څرګندونې هم را اخلو:

خوتن ساكي لاسليكنې د هندي براهمي ابېڅي (الفباء) په ټولو ډولونو كښل شوي او په ليك آړه (Transliteration) كې هماغه سېستم كارېدلی دی. البته ځينې توري په كورنيو وييونو كې نه راځي، لكه ړ – خپلواك (r واول) چې ري ri لوستل كېږي او دلته په ابېڅې اوډون (الفبايي ترتيب) كې همداسې سمبالېږي. غږن سايېز غږونه ګه (gh)، جه (jh)، ډه (dh)، ده (dh) او به (bh) په دغه ژبه كې پردي دي. خو كله ناكله د ورته ناسايېزو غږونو د ځېلونو (وارينتونو) په توګه كښل كېږي او په ابېڅې كې هم په همدغو ښو اوډون مومي. د پزيزو غږونو په لړ كې (ن) او (م) زيات راځي، خو تر تمغږونو (انسدادي غږونو) مخكې زياتره پر Anusvara اوړي. نرمتالوييزن (n) كله كله تر ګ او ج له مخه د م (m) د بلغږ (allophone) په توګه او يو ځل دوه په پور وييونو كې كښل كېږي، خو دلته په ابېڅې اوډون كې م (m) ګڼل كېږي. ن (n) له ny سره بدلېږي او په همدې ښه اوډون مومي. غبرګژبيز ڼ (n) له ن (n) څخه پرمختيا موندلې او همداسې چلند ورسره كېږي. په ابېڅې اوډون (الفبايي ترتيب) كې سرېزيز د همدې ډلې له تمغږو وروسته ځای نيسي او مخبېواك (initial consonants) تر ورپسې پزيز خپلواك (واول) وروسته اوډون مومي، لكه ن، ڼ (n, n) تر د (d) ny, تر ng, nu او mgg تر gg وروسته او داسې نور. visarga (h) د يوه توري په توګه نه كارول كېږي. په را وروسته متنو كې دغه هندي نښه د ليكنښې په توګه، او د ځينو غږونجونو (صوتي تغيراتو) د ښوونې يا

په بله وینا په پور وییونو کې راځي د ساري په ډول gvaihä:rrum "دغوا شودې"، tshä تبتي tsag، ham:ni ، تورکي xan.

سر خپلواك (پیل واول) څه په خپلو نښو او څه په هندي بېواکپای (کنسوننت پای) نښو څرګندېږي.

په لیك آړه کې کله ناکله یو توپیر نښه کوي او د ساري په توګه پر a باندې د ā او د ī غبر آړه (transcription) کوي. دا چې دواړه لیك ډولونه په یوه ویي کې خوا پر خوا راځي، نو دغه توپیر تش یو لیکنی ارزښت لري. همداراز ځو ځو خپلواك نښې (واولي نښې) سره همغاړې کېږي، لکه kuī (د kvī تر څنګه)، druai او داسې پسې نور.

د دود له مخې په داسې اکرو (حالتو) کې پر غونډ (ګروپ) باندې یوه کړۍ اچول کېږي، لکه kiu͡ , draiu.

څنګه چې دا راز غونډونه یوازې په همدې یوه ډول کارول کېږي، نو دلته دغه لیکنۍ ځانګړتیاوې په پام کې نه نیول کېږي.

د پورتوریو (مستعارو حروفو) تر څنګه یو لړ نوي توري منځته راغلي دي، په دې لړ کې غبرګ ټکي ډېر دود لري چې پر سربېواك کښل کېږي، دلته په a ښوول کېږي او د نورو له خوا د زورکي (a) په بڼه د ai تر څنګه او له دې سره کله کله په واریزه توګه د اندریاس چلیپا (x) هم وینو چې په لیك آړه کې ei راځي. ډېر بېواکغږونه، لکه واخلې ت، ګ (g,t) کله کله (د، ش، ښ d,s,s) او لړ و ډېر س (s) غبرګ یا یووستوي لیکل کېږي، لکه gg د g، tt د t تر څنګه او داسې نور.

په را وروستو متنو کې د g غبرګوالی عادي دی، د t څه ناڅه او د s او s هغه ښځي له منځه تللی دی. تر بېواك مخکې، بې له هغې زیاتره یووستوي توري کښل کېږي او نور نوي توري د دوو پخوانیو توریو د ترنګ (ترکیب) په بڼه، لکه ys، js، ts، tc، gy، ky، (r) یو

داسې نښه ده چې په ښکاره یوه غبرګه "r" برېښي او په لیکآړه کې هم (rr) کښل کېږي.

تر ټولو وروسته له یوې نیمې کړۍ یا لیندکۍ سره مخامخېږو، چې تر څینو توریو لاندې کښل کېږي، لکه: -nata-, nasa-, nei او نور. په دې توګه ختن ساکي ابېڅې له راتلونکو نښو (توریو) څخه جوړه ده چې اوډون یې په دغه څېړنه کې له آره د براهمي ابېڅې له هغه سره سمون لري، دا مانا، هغه اوازونه بې ننګښي (،) څنګ تر څنګه راځي چې دلته یې سره اوډون نه توپیرېږي:

۳-۲-۱۲:

خپلـواك (vowels):

a, ā, ã, i, ī, u (ua, uā. uī, uai, uau) ū, e, ai, ei, o, au

۳-۲-۱۳:

بـېواك (consonants):

نرمتالوییز: ك، کښ، کهـ، ګ، ګګ (k, kṣ, kh, g, gg)

زېږتالوییز: (ky, c, ch, gy, j, tc, ts, js)

غبرګژبیز: ټ، ټهـ، ډ (ṭ, th, d)

غاښیز: ت، ت ت، تـهـ، د (دهـ)، ن، ڼ

(t, tt, th, d, (dh), n, ny, n)

شونډیز: پ، پهـ، ب، م (p, ph, b, m)

نیمواك: ی، ر، رر، ل، و (y, r, rr, l, v)

شپېلکیز (صغیري): ش، ش ش، ښ، ښ ښ، س، یـس

(ś, ss, ṣ, ṣṣ, s (ss), ys)

سابیز (تنفسي): هـ (h)

پردې سربېره انوسواره m هم د یادونې وړده چې د ن n په بڼه او تر بېواك (کنسوننټ) له مخه د ورته پړیز غږ په توګه اوډل کېږي. همدارنګه وړه نیمه کړۍ (ب) هر ګوره دومره ارزښت نه لري.

۳-۲-۱۴: د ختن ساکي غږ ارزښتونه او غږ انډولونه (فونیمیك ارزښتونه او معادلونه):

د خوتــن ســاکي د غــږونو د تاکنــې لپــاره بــايد لومــړی د براهمــي ابېڅې لــه غــږ ارزښتونــو څخــه ځان خبرکړو. خــو مــوږ پوهــېږو چــې پــه ختــيز تورکســتان کــې د کــوم مېشــت شــمال ختــيز پراکريتــي ګړدود اړوندو هنــدي غــږونو لــه سانســکرېټ هغــو ســره کورټ تــوپيرموندلی و. دلتــه راســره مرالباشــي (M) ګړدود څه نــاڅه مرســـته کــولای شــي چــې هغــه هــم براهمــي ليــک کــارولی دی او بيــا پــه داســې بــڼه او غــږ ارزښتونوسره چې ددغــه ليـک را پوروني د تخــاری هغــې بنســټ هــم را مينځتــه کــړی دی. همدارنــګه د خوتــن ســاکي لپــاره پــه کــارولي ليــک کــې چينــي تبتي نښانــې او يــو څو تورکــي ويــې ډولونــه پــه دغــه اړه رڼا اچوي، هــر ګوره نــوري ځرګندتيــاوې لــه فونېتيکــي څېړنــو څخــه را تــر لاسه کېدای شي.

۳-۲-۱۴-۱: د خپلواکــو (vowels) غـــږ ارزښت:

د راپورکــړو خپلواکــو او غبرګغـــږو (diphthongs) غــږ ارزښت کـــټ مټ پخپلــه لکــه هنــدي هغســې دی.

اوږد الف ā پخوا يو داسې غږ يا وينګ (تلفظ) درلود چې o او يا m ته نژدې و. د لومړۍ پېړۍ د نيمايي په يوه هندي ډبرليك كې erjhuṇa په بله وينا erzuṇa مو مو چې خوتــن ســاکي -alysānaa (شــاهزی) بــرېښي. پــه راوروسته ابېڅو (الفباوو) کې ā د u لپاره پرکار اچول شوی، هسې خو ā زياتره د u لپاره راځي. په وروستنيو متنوکې au, u, ā, ām او په ښکاره ډول بيدوده يو له بله ونجېږي. همداراز دلته I,ī,e,ai لکه په rrāmdi کې د rrundi (پــاچــا) پــر ځای، هامــا -hāma او هومــا -hauma (خـــام)، اوښکوجسيا -auşkamjsia د -auşkaujsia (همېشه) لپاره، -ganaista "لندبـل، خولـه" لپاره، jihāre د jehāre "دوی بــه درمـل شـي" -gganista لپاره، -hauga -hulga "پوست" لپاره، -nauha د -nūha (څوکه) لپاره.

همدارنـــګه u د ī لپـــاره راځي، لکـــه haurumä د haurīmä" زه ورکـوم"، او پـه تولـيز ډول دلتـه يـوه سـتره خپلسـري ليـدل کـېږي، د سـاري پــه تــوګه، لکــه لــږ وډېږ ya د va,i د u او ښايســته ډېر i د a

لپـــاره تـــر v وروســـــته، لکـــه -pyahasta د -pihasta (مـــات شـــوی)، "dvataryau د dutaryau"لـــه اوږو ســـره"، -viśūna د -vṣ̌ūna "بـــد"، vimam سانســـکرېت -vamana (ګرځون، کـــانګي) لپـــاره.

ă. i ته نژدې دريځ درلود او په دې توګه سره زياتره ونجېږي راونجېږي.

د e,ai,o,au غږونه په پوره باور له هماغو هندي هغو سره يو راز وو؛ eزياتره له ,laiاو o له auسره ونجون مومي. دغه غږونه پخوا د خپلواکمنځو په توګه (اوږده) وو، خو راوروسته، لکه په پورتنيو بېلګو کې چې وښوول شول، لنډ هم وو. د ei بله جوله (وارينټ) aā برېښېده، خو بيا هم په ښو متنو کې پر ai اوړي او ونجېږي.

پـــه آر پوهـــيزه (اېتمولوجيکـــي) تـــوګه a,ā,ī,ū لـــه همدغـــو "جرمانيکو" غږونو سره سمون لري. سرغږ i هم په <ahya پسې ځي چې دلته يې M په وړاندې e لري. سرغږ M هم زوړam دی ī او ūهم له يو ځای کېدنګ، او ځايناستې (جانشيني) پراختيا او يا هم آرياني ai,au څخه سرچينه اخلي. خو په پايغږکې زوړ ai پر e اوړي. هغه هم په تمغږونو (غږنو انسدادي) وسمهالو ښو کې. ä زياتره زوړ ah يا تکيه خپلواك (لکه الف په اخپل کې) دی؛ په پايغږ کې زياتره د e لپاره راځي او نور نو زيات پر i اوړي.

منځغـــږ e د ä وازه بڼه (umlaut) ده. د پايغـــږ پـــه تـــوګه زوړ ai يـــا زوړ āh او يـــا د ei,ai<*aah,*aahya يـــو ډول دی. منځغـــږ oau يـــو زوړ ava يـــا af دی او د پايغـــږ پـــه تـــوګه هـــم پـــه زاړه <ām,aām پســـې ځي.

د u غير ګغږ د دويمني يا بيا ځلي يو ځای کيدنګ په پايله کې را پيداشـــوی دی؛ (vī)uī هـــم د ū يـــو واز خپلـــواك ډول دی او uai پـــه وروســـتنيو متنوکـــې زوړ ul دی.

۲-۲-۱۴-۲: د بېواکـــو (consonants) غـــږ ارزښت:

k او g هماغه غږیز (فونیمیک) ارزښت لري، لکه په هندي کې kh او gg د خ (x) او غ غونډې منبلي غږونه دي.

ځینې کښنې، لکه samkhārma، سانسکریټ -samghārāma (سمغ مزدك)، -simkhala سانسکریټ-simghala-simhala (Zeylon) ښايي تر پزېز وروسته د kh دغږنتیا ښکارندويي وکړي. kş کېدای شي xš اوسي. په وروستنیو متنو کې دا بیا کله کله، هغه هم په پور وییونو کې پر ṭh اوړي.

k,kh,gg له زړو آریاني k,x,g,gg او له زاړه v (په مختاړي vi کې) سره سمون لري، هغه هم په ټاکلې توګه تر شونډیزو له مخه؛ د پرتلې لپاره kanthā–سوغدي knd "ښار"، -Khara، اوستا -xara (خر)، -gairi اوستا -ggara (غر)، -vimard->ggumal* "مړل"، اوستايي ریښه vart "چورول، رغړول" هم له -bad اوهم له -ggad سره سمې خوري او ښايي زاړه غبرګونونه اوسي. ښايي g د زاړه منځخپلواکي (مجوف) او کمزور نومځري (enclitic) او تر r مخکې د زړې خ (x) او غ(γ) استازي وکړي. د پرتلې لپاره وګورئ:

-gyagarra، اوستا yākarδ "ژوند"، -sgāma -kāma "کوم" ترځنګه، -grus اوستا-xraos "غږ کول"، -grāma اوستا-garama "ګرم".

kş زوړ xš یا fš دی، لکه واخلې ākşūtä "دی پیل کوي"، اوستا xšub، -ksārma اوستا fšarama (شرم). په -kşatra "د لمرچترۍ" کې دغه ببواکوړی (کلستر) د سانسکریټ ch استازي کوي، ځکه سانسکریټ kş له خپل آر kş څخه په وینګ کې توپیر لري.

لکه په نورو آریايي ژبو کې نرم تالوییز له زړو تالو ییزو سره ونجېږي. په خو تن ساکي کې مور د k او د g(gg) تر څنګه ky او gy لرو چې ښايي پخوایې c، j ته پرمختیا موندلې وي، په داسې اکرکې چې (M) ګړدود د gy لپاره یوه خپله نښه لري، چې ما په

تېرکې غ (γ) بنوولې ده. د وینګ له مخې دا له اریانی چ ( č) او ج (j) سره سمون خوري. په خپلو ارو وییونو کې تش هغه مهال راځي چې i یا y یې تر څنګه ودرېږي یا ولاړوي او یا په یوه v پسې ټیکاووموي، د پرتلې لپاره:

cand- ،"(چـا ځوك )" či اوستا kyi,kye,ci,ce د
ju, "کېښکل" jyā اوستا jin "خومره لوی"، *čivant-> čvant- اوستا
اوستا –jva" ژوند".

j,gy د سرغږ y دود استازی دی، لکه gyaysna، اوستا yasna "بلهاري، قرباني".

سایبز ch یوه j شوې c وه او د چینې tsi لپاره کارېده. ستن کونو (۹-۱۶مخ) په دې ډول ټول بېواکغږونه بېلابېل تر څېړنې لاندې نیسي او په پای کې یې سره په لاندې توګه اوډي:

۳-۲-۱۴-۳: د ختن ساکي بېواك غږونه (consonants) په یوځایې ډول دادي:

k, x, (kh لیك) xš (kṣ), g, γ (gg), kį (ky),
č (c), čį (ch), gį (gy), j(j), ts(tc), tsį (ts), dz (js), ṭ, ḍ, ṇ, tį, (ṭ, t, c) θi(ṭh) di(d,j), t (tt,t) θ(th), d,(t,d) δ(d), n(n,ṃ), p,f(ph), b,β (b), m, y, r(rr,r) l,l į (ḍ) ,w(v), ś(śś,ś), ź (ś, ś) š(ṣṣ,ṣ) ź(ṣ, ṣ), s, z, (ys), h

والتربېلي (۱۳۷مخ) د ساکي ژبې یا په بله وینا ساکي ژبو د آر پوهې، غږ پوهې او ګړپوهې تر څنګه یوه وېره وییپانګه هم وړاندې کوي چې زه یې تري په (۴-۷) کې هماغه بېلګې رااخلم چې له پښتو سره یې اېټمولوجیکي اړیکې زیات څرګند برېښي.

# ٤ -څپرکی

## د ساکیوالي د بنسټ په توګه
## د پښتو شمال - ختیز آریاني دریځ

۴-۱: دا چې د پښتو آرې اوریښې په اړه څه له پاسه دوه پېړیزې څېړنې پلټنې څنګه پاسني پایلې ته رسېدلې، ترهرڅه له مخه، د نوماند فرانسي ایرانیست امېل بن وېنیست هغه خبرې هو بهو دلته را لېږدوم چې پر ۱۹۵۰ کال یې خپل افغاني شاګرد روان فرهادي ته کړې وې: "د پښتو لومړنیو پښتو پوهانو، لکه دورن، راورټي او بلیو د استر خدمت کړی چې پښتو ژبه یې د بېلابېلو آثارو له لارې اروپاته راپېژندلې ده، خو دوی له زړو ژبو څخه بې خبره وو، یوازې یې سانسکریټ او پراکریټ ژبې لږ و ډېرې زده کړې وې او څنګه یې چې پښتو ته له هندي ګوته کتل او څو پراکریټ او نوي هندي ویبونه یې په پښتو کې موندلې وو، نو پښتویې د هندي پراکریټ له پاتمړو ( میراثونو ) څخه انګېر له. مګر بوپ Bopp پر ۱۸۴۷کال په هغه کتاب کې چې په برلین کې یې خپور کړ، د ویدا او اوستا په حواله د هند و اروپایي ژبو ګډې ځانګړتیاوې څرګندې کړې. تر فرانزبوپ راوروسته څو نورو ژبپوهانو په دغه ډګر کې غورې څېړنې تر سره کړې. په دغه ترڅ کې د تولیزې ژبپوهنې کارپوهانو او د

هندواروپايي تاريخ مينه والو او بيا اوستا پوهانو د پښتو د آرې په اړه سکالو رامځته کړه چې ايا پښتو له او ستاسره ډېره نږدې ده او که له سانسکرېټ سره؟

دغه شخړه په پای کې دارمستېتر پر ۱۸۸۸ کال يو مخيزه غوڅه کړه او دايې زبات ته ورسوله چې پښتو له اوستا سره همکورنۍ ده او داوستا هماغې لرغونې برخې "گاثا" ووته رسي. دارمستېتر څرگنده کړه، څنگه چې پښتو ويونکي د هندي ژبو په گاونډ کې اوسېدلي دي، څه د پراکرېټ په منځني پړاو او څه د وسمهالو هندي ژبو په پړاوکې، نو د دغو ژبو يو لړ اغېزې يې راخپلې کړې دي، خو واقعيت هماغه دی چې پښتو داوستا همکورنۍ ده. ويلهلم گايگر له د ارمستېتر وروسته دغه ربښتيانه نوره هم پسې په ژوره توگه را په ډاگه کړه (فرهادی الف- ب مخ)

۴-۱-۱: د اروانباد بنوېنيست (E.Benveniste) ترټولو يزې شننې وروسته به بېځايه نه وي چې دلته د لومړي نوښتگراو پيلامگر په توگه د جېمس دارمستېتر (J.Darmesteter) هغه خپلې څرگندونې راواخلم چې لومړی ځل يې پر ۱۸۸۸ ز کال پښتو په غوڅه توگه آرياني او بيا شمال ختيزه آرياني ژبه زباته کړه او د پښتوگړپوهې (صرف) په سريزه کې يې داسې په ډاگه کړه:

۴-۱-۲: "د پښتو غړپوهنې په برخه کې څرگندونې گټورې پرېوتې، ځکه له مخې يې د ژبپوهنې په پښت پوهنه (شجره) کې د پښتو ځای ځايگی ښه ترا روښانه شو.

د گړپوهې (morpholgy) له مخې پته ولگېده چې پښتو له هېڅ کومې هندي ژبې څخه را بېله شوې نه ده، بلکې په آرياني کورنۍ اړه لري او په دې ډله کې له اوستا سره تړاو مومي. اوس د گړپوهې له څېړنې سره يو ځل بيا ددې پخلی کېږي، چې پښتو هندي نه، بلکې آرياني ده او له هماغې څانگې سره اړوندي پيداکوي چې او ستا ژبه ترې راتوکېدلې ده. د پښتو گړپوهې تاريخ

راښيي چې د پښتو ژبې ځانګه له پارسي ځانګې سره توپير لري، که څه هم دواړې ژبې د يوې ګډې آرياني کورنۍ ژبې دي. له دغې څېړنې څخه راجوتېږي چې له څو پېړيو راهيسې له دغو دوو ژبو څخه هره يوه له ګړپوهيز (مورفولوجيك) پلوه ځانته جلا او بېتون درلودلی دی. لرغونې آرياني ژبې چې اوستا ژبه او يوه بله ژبه "زړه پارسي "ترې رابيلې شوې دي، له خپلې همريښه، يا په بله وينا لومړنۍ هندي "د سانسکرېت مور" سره يو غوره ورتوالی درلود. اوستا، زړه پارسي او سانسکرېت ټولې ترښتي يا ترکيبي (synthetic) ژبې وې: نومونه ګردانېدل او په بېلابېلو پېرونو (حالتو) کې يې بېلابېلې بڼې غوره کولې، راوروسته په پارسۍ کې دغه ځانګړتيا له مينځه ولاړه او له ګڼې (افراد وجمع) پرته نوره پريوه بڼه پاتې شوه. په دې توګه پارسۍ پرله پسې ونجون موندلی، خو پښتو ډېرې لرغونې ځانګړتياوې خوندي ساتلې دي. موخه دا چې پښتو د پارسۍ په پرتله د اوستا او زړې پارسۍ تر مينځه يو منځوال اکر (حالت) يا دريځ لري او د نوماوړون (اسمي ګردان) له پلوه په يوه زيات لرغوني پړاو کې تيکاو مومي؛ هرګوره د کړاوړون (فعلي ګردان) له پلوه پښتو زيات ونجون موندلی دی...". (فرهادي ۱۰۱مخ).

دارمستېتر ددغه څرګندونو د زبات لپاره د ګڼو بېلګو د وړاندې کولو په ترڅ کې د پښتو دغه نوموال بدلون په زړه آرياني ژبه کې پلټي چې هلته هم د نوم پای غږ (ختميه فونيم) پربنسټ ځلورګونې پېرونه (حالتونه) غوره کوي او پايلې (endings) يې ټولګی (صنف يا صيغه theme) ټاکي. همدارنګه د لرغونې ګډې (مورينې) آرياني ژبې نومپايلې (اسمي خاتمې) وړاندې کوي او بيا يې له پښتو هغو سره پرتله کوي، هغه هم د پښتو د څېز نومونو (اسمونو)، ستاينومونو (صفتونو)، نومځرو (ضميرونو) او شمېرنو

مونو (عددونو) د څلورګونو نوموالو ډلو په پام کې نیولو سره او په پای کې خپلې خبرې داسې را لنډوي (فرهادی ۱۱۶ مخ):

"پښتو نوماوړون (اسمي ګردان) په تاریخ کې ژوره ریښه لري، داسې چې له (اندوآریاني) او (آریاني) مهال څخه سر چینه اخلي، لکه څنګه چې د تولګي (تیم) جاج یې خوندي ساتلی او هغه په دې مانا چې د پایغر (ختمیه فونیم) له مخې د نومونو ډلبندي ټاکي. په همدې ډول یې د نوماوړون په تولیزه برخه کې ډېر څه تر اوسه ساتلي دي. په نورو برخو کې پښتو سربلي (prepositional) او وستربلي (post-positional) اړونه (قیدونه) کاروي، لکه د، ته، له، په، کې، و... چې له دوی څخه و (ته) د نوم موخن جاج (هدفي مفهوم) یا (داتیف) پر ځای کوي او (له) د وتونپېر (منشایي حالت) او (کې) د تونپېر (ظرفي حالت) جاج ښندي.

په پای کې وایي: "څرنګه چې د پښتو تړاو له اوستا سره تر زړې پارسي ډېردی، نودې الواك (نظریې) ته رسېږو چې په پښتوکې د نومونو اوړون (ګردان) او بیا دا چې سربلونه (ادات) دلته هم نقش لوبوي، دا راجوتوي چې دغه تولې ځانګړتیاوې د دې ښکاندویه دي چې پښتو له اوستا او یا هم اوستا ته له یوې بلې ورته ژبې سره اړوندوي..."

ښاغلی روان فرهادی د دارمستېتر د نوم ګړپوهې (اسمي صرف) اړوندې بېلګي د استاد مورګن ستیرنې په اېټېمولوجیکو ښنو او سمونو بشپړوي او کره کوي، لکه:

۱- پښتو شل "۲۰" šəl لومړی په یوې منځنی بڼې všaδ< پسې وړي او بیا په لرغونې آریاني بڼې visati پسې. دلته د سر (و) دسست وینګ له کبله غورځېدلی او ذ (δ) پرل (i) اوښتی، خو په یو ویشت، دوه ویشت... کې هماغه زوړ اریاني او اوستایي سیده رالېږدېدلی دی. [ځینې پښتانه لکه وزیر(؟) شل ته هم تر اوسه وشل

wašál وایــې او پارســـۍ و پــر ب اړولــی دی. (فرهـــادی ۱۲۰ مـــخ، مـورګن ستیرنې ۷۳EVPمـخ)

۲- پــه شـوغنۍ او سـریکولۍ کـې د مـــش mašمــوږ " شـــتوالی دارابنيـي چې د ګایـګر خبره د پښتـو (مونـږ) غونـدي لـه اوسـتا ahma څخـــه آره اخلـــي چـــې پخوانـــۍ انګیرلـــي بـــڼه ahmāša* وه، بیـــا asmačya شـوې او لـه دې څخـه بیـا māš منځتـه راغلـی او پـه پـای کـې (مـانش) او (مـانژ) او (مونـږ) شـوی. ن بیـا لـه ځینـو ګړدودو څخـه غورځېدلـی او پـر مـوږ، اوښتـی دی [دارمسـتېتر مـوږ پـر مونـږ پخوانـی ګڼي]. د هماغـه اثـر ۱۲۳مـخ)

۳- کـه څه هـم ویلـهلم ګایـګر هـم "دا" د "tya" زېږنـده بولـي، خـو پـه زړه پارسـۍ کـې داړیکنومـځري (ارتبـاطي ضمـیر) پـه تـوګه کـارول شـوی او پـه دې تـوګه د پښتــو "دا" پـه اوسـتا - ta پســې ځي چـې د لنـډ نغوتنومـځري (لنډاشـاري ضمـیر) پـه تـوګه کـارول کـېده. هغـه (haγa) هـم پـه اوسـتا کـې د لرنغوتنومـځري ( ha) انـډول دی.

۴- ګډ نومـځری (مشـترک ضمـیر) "خپـل" لـه یـوه منـځپـېري خوېبـېل xwebel* څخـه رامینځتـه شـوی بـرېښي چـې د سـوغدي پـېر "غـوېذ" تـه نـژدې و. (۱۲۶-۱۲۷ مـخ)

د ارمســتېتر ترنومــوال صــرف وروســته کــړوال دا تــر څېړنــې لانــدې نیولـی او وایـي:

"پـه پښتـو کـې د نوموالـې ګړپوهـې تـر څنګه کړوالـه دا هـم د پارسـۍ پـه پرتلـه پخوانـۍ ژبـې تـه ډېره نـژدې ده..." (۱۲۸مـخ)

دغــه آریانپوهــاند د پښتــو د کـرګړپوهـې یـو لـړ ارکـاییکې (لرغونـې) ځانګړتیـاوې پـه ګوتـه کـوي چـې پـه اوسـتا او زړه پارسـۍ کـې یـې څرک لـګېده او اوسنۍ پارسـۍ هغـه لـه لاسـه ورکـړې دي، د بېلـګې پـه تـوګه یـې د کـړ، هـم ځانـګړې یـا وسـمهاله ستـه او هـم تولـیزه یـا تېرمـهالی سته د پارسي ژبې پـه توپیر زیـاتې سـاتلي دي، لکـه:

| پښتو | پارسي | اوســـــتا |
|---|---|---|
| اخلم áxlam | ګیرم gíram | (ā)xad-āmi) |
| اخېست áxist | ګرفت giréft | (a) xas-t-a |

ګایــګر (۱۸۵۶-۱۹۴۳ز) لکــه مــورګن ســتیرنې یــو نیــم ځای د دارمســتېټر تېروتنــې ســموي او کــره کــوي، لکــه پښتــو شــته (هســت، موجوداســت) چــې دارمســتېټر یــې د اوســتا لــه hi-šta څخــه منځتــه راغلــې ګڼي، ګایګریــې اوستایي انډول دانــه بولــي او پښتــو (شــته) پــه زړې آریـایي ولـې asti پـورې تـړي. مـګر دلتـه هېښنـده دا چـې مـورګن سـتیرنې د خپــل اسـتاد "ګایــګر" دا سـمونه سـمه نــه بولــي او د دارمستـېټر هغـه راټینـګوي او زیـاتوي چـې زړه ولـې بـه پـه زیـات بـاور اوســي او هغــه هم د اوســتا هغــې غونــدې پــه ســرباري -hi-stati (مضاعفه) بڼه. (هماغـه اثر ۱۴۰ مـخ)

د "ګورل" کړ پـه اړه بیـا درې واړه پوهـان سره پـه یـوه الـواك (نظـر) نـه دي، هغــه داچــې دارمســتېټر هغــه پــه زاړه "ni-kar" پســې وړي، ګایګریــې پــه "goran" کــې پلـټي او مـورګن سـتیرنې یــې لــه پارســي "انــګاردن" سـره همـآرى بولــي. (د ژبــاړونکي "فرهــادي" خپلــه کتنــه ۱۴۴مــخ)

دارمســــــتېټر پــه دربمــه بـــــرخه کـــــې پښتــو ویـــي رغاونـــه (wordformation) رااخېســـتې او د تـــېرو دوو برخـــو غونـــدې یـــې دلتــه هــم تـاریخي کتنـه پـه پـام کـې نیولــې ده، پــه تـېره د بېلښتــي (اشـتقاقي) تـاړو (affixes) زړې جـرړې یـي پـه اوسـتا کـې لټولـې او لـه دې سره یـې یـو ځل بیـا د پښتـو د آریـانیوالي او بیـا (شـمال) ختـیزوالي پخلـی کـړی دی . دغـه برخـه هـم ښایسـته اوږده ده او د (ژبـاړلي) کتـاب ۴۶ مخه یې نیولـي دي. یووسـتوي وییونـه (بسـیط لغتونـه) یـې خـو بیـا یومخـیز لـه اوسـتایي انډولونو سـره ملـه کـړي دي. یـو نیـم مختـاړی او روسـتاړی یـې پـر اوسـتا سربېره پـه نـورو آریـایي او هنـدواروپـایي ژبـو کــې هــم څېرلــی، "انــد" او "انــده" روســتاړی چــې کــړوال کړندســتاینوم

(فـاعلي صفـت) جـوړوي او پخوانـی اریـایې بـڼه یـې ant وه، یونـاني اندول یـې ont – او لاتینـي یـې ent- پـه دې بېلـګو کـې:

| | | |
|---|---|---|
| پښتو | لرغونـــــې اره | |
| ژوند | jv-ant (اوستا) | |
| تالنده | *tān-anda | |
| جرنده (ژرنده) | *jar-anda (دمیدول په مانا) | |

[مـورګن سـتیرنې (۱۰۵ مـخ) او مکنـزي (۵۴۹ مـخ) پښتـو ژرنـده لـه لویدیـزې پنجابـی (لـهندا) ǰandar سـره تـړي]

خونـن سـبا دغـه روسـتاړی د انـد، انـد، نـدوی... پـه بـڼو پـوره دود لري، لکـه خورنـد، ځلانـد، سـاتندوی او داسـې نـور.

- وال wāl– (۱۹۱ مـخ) بیـا هنـدي اری ګڼي. حـال داچـې دا روسـتاړی لـه نـورو همریـښه وو (والـه، والا، والـی، ولـی) سـره لـه نـړه پښتـو "ول" (بودن) سره اړیکی درلـودای شي چې پـه منځنـی پښتـو کـې تـر اوسـه بشـپړ اوړون (ګردان) لـري. د ارمسـتېتر "-یـالی" هـم لـه هنـدي "والا" سـره تړلـی چې ژبـاړونکی (ډاکـتر فرهـادی) هم دا کـېدون سـم نـه دی بللی، ځکـه پـه پښتـو کـي بې خرتـه بېلـګې لـري. ځینـې پښتانـه لکـه منځنـی هغـه "وال" د اړونـد (متعلـق) پـه مانـا د نـوم پـه تـوګه هـم کـاروي، لکـه چې وايـي: "زمـوږ (د مـوږ) وال دغـه کارنـه کـوي."

۴-۱-۳: جېمزدارمســـــتېتر (۱۸۴۹-۱۸۹۴ز) د خپـــــل اثـــــر "د افغانـانو ژبـه" څلورمـه برخـه (۲۰۷-۲۱۰ مـخ) د پښتـو د اري پـه اړه د بېلابېلـو الواکونـو (نظریـاتو) ارزونـې تـه ځانـګړې کـړې او ددغـې ژبـې د اریـانیوالي او بیـا (شمال) ختیز اریـا نیوالـي د زبـات لپـاره یـې خپـل انکارنــه منونکــي فونېتیکــي او مورفولوجیکــي لاســوندونه پــه یــوه خوراکوټلې تـوګه وړانـدې کـړي دي، یـا د بنـو ښېسـت خـبره، پـه دغـه اړه یـې اوږدې شـخړې تـه لومـړی ځل پـای ټکـی ایـښی دی . هغـه ټولـه، مګرکوټلې او نچوړلې ارزونـه پـه دې لاتـدې ډول ده:

"د تېرومخونو په څېړنه څېرنه کې مې زياتره د پښتو د آرې په اړه له خبرواترو ډډه وکړه، ځکه په دغه برخه کې واقعيتونه پېچلي دي اوله بيا بيا څرګندونو څخه راته ځان سپمونه غوره وبرېښېده.

آره او غوره خبره په دې اړه دا ده چې آيا پښتو يوه هندي ژبه ده اوله سانسکرېته راوتلې ده که نه؟

ما پر ۱۸۸۷ کال په هندوستان کې د ژبپوهنيزو څېړنو په اړه يو ګزارش خپور کړ. په هغه کې زه بيا هم لا د هغو زياترو پوهانو پلوي وم، چې پښتو يې د هندي او آرياني ځانګو تر منځ يوه جلا څانګه ګڼله، خو هغه يې تر آرياني ژبو له هندي پراکرېت ژبې سره زياته نژدې نومېرله.

دغه الواک د ترومپ Trump غوندي سترووپوهانو وړاندې کاوه. کله چې يې پر ۱۸۷۳ کال خپل "پښتو يا د افغانانو ژبه" نومې کتاب چاپ کړ، دغه الواک ورسره الماني پوهاند شپيګل Spiegel او هم ډاکټر هورنلې Hornle ومانه، تر دې چې يوه ډله نور پوهان يې چې د پښتو د آرياني آرې پلويان وو، هم تر اغېز لاندې راوستل. له هغې ډلې څخه يو هم ډاکټر ميولر Müller و، چې تر ترومپ له مخه يې پر ۱۸۶۲ کال په ويانا کې د پښتو په اړه خپلې څېړنې چاپ کړې وې. خو څرنګه چې هغه مهال يې د پښتو په باره کې پوره توکي پر لاس ورغلي نه وو، نو ورته جوته شوې نه وه. همدارنګه ډاکټر هنري Henry چې پر ۱۸۸۲ کال يې په پاريس کې "افغاني څېړنې" نومې رساله خپره کړه او د ميولر او ترومپ پر زړو څېړنو يې ډډه لګوله، دې نتيجې ته رسېدلی و "چې که څه هم پښتو يو نړه آرياني ژبه ده، خو څرنګه چې په پښتو کې يو لړ غوره هندي صرفي او نحوي پورونې ليدل کېږي، نو يو ځل بيا د پښتو د نيم هنديوالي او نيم آريانيوالي آرې الواک ته رسېږم".

د ترومپ پرڅېړنو زيات غرېدل په کارنه دي، هغه پر پښتو او اوسنيو هندي ژبو پوره پوهېده، خو د آرپوهې (اتېمولوجې) له

پوهنې څخه خبرنه و، نو کوم لاسوندونه یې چې له سانسکرېټ او هندي ژبو، د پښتو د رابېلېدنې په اړه وړاندې کړي دي، کم ارزښته دي.

دلته لومړی هغه لاسوندونه رااخلو چې د پښتو پر هندیوالي دده لګوي:

**رومبی –د غږپوهې په برخه کې:**

۱- په پښتو کې د (ف) نشتوالی او هغه دا چې په پښتو کې د (ف+ر) بېواکوړی پر (پ+ر) اوښتی دی، حال دا چې په ټولو آریاني ژبو کې لرغونی (پ+ر) پر ( ف+ر) بدل شوی دی. لکه څنګه چې د غږپوهې په برخه کې ورته له مخه نغوته وشوه، دا دلیل هسې سرسري دی. په پښتو کې "و" د زړې آریاني (ف) ځای نیولی؛ څېړنې رابنیي، په داسې حال کې چې که اوس په پښتو کې (ف) راپاتې نه ده، پخوا شته وه. (بله خوا) په پښتو کې له پورويیونو پرته د (ف+ر) پر ځای (پ+ ر) بېلګه نه لیدل کېږي.

۲- په پښتو کې غبرګژبیز اوازونه شته او په آریاني ژبوکې نشته، د هندي پورويیونو په برخه کې مو څرګندده کړه چې دغه اوازونه له هندي پور ویونو سره پښتو ته راغلي دي. لکه څنګه چې وویل شول، د پښتو ټول اوازونه په بنسټیز ډول آریاني دي، نه هندي. [ګایګر (۱۸مخ) او مورګن ستیرني (۲۱۲مخ) یوازې ټ او ډ په دغه هندي لړکې راوړي او دوه نورپښتو غبرګژبیز (ړ، ڼ) ورسره نه ملګري کوي.]

**دویم: ګړپوهه (صرف morphology):**

۱. دا چې یې ویلي دي، پښتو د نوم او ستاینوم داوړون (تصریف) له پلوه زیاته هندي ته نژدې ده :

په دې اړه دالاسوند وړاندې کوي چې په هندي کې یو خوا د نرینه او ښځینه توپیر لیدل کېږي او بل خوا دویې پای غږ د اوړون پر وخت د ښځینه لپاره لنډه (ي) راځي او د نرینه لپاره (الف) او بل دا

چې پـه هنـدي کـې د پښتـو پـه څېر اوښتـی پـېر (مغـيره حـالت) او سـيده پـېر (مسـتقيم حـالت) شـتوالی لـري، ددې دليـل غـبرګون دادی چـې هـم پـه اوسـتا او هـم پـه زړه پارسـی کـې دغـه ځانګړتيـاوې (د نرينـه او ښځينه توپير، د پايغړ تـوپـير د نـوم او ستاينوم پـه ګردان کـې) شـته وې او پـه نورو آرياني ژبـو کـې لـه مينځه تللـې دي، خـو پښتـو هغـه خونـدي سـاتلې دي، پـه دې تـوګه څه چـې يې د پښتـو د هنديوالـي لپـاره لاسـوند کړي، هغـه يې د آريـانيوالي پـوخ لاسوند ګرځي.

او دا چـې پښتـو او هنـدي سـره ګاونـډې پـاتې شـوې دي، دامانـا نـه ښنـدي چـې د دواړو آرې دې سـره ګډې اوسـي، نـو پـه کـار دي، پـه دغـه اړه نـور لاسـوندونه وړانـدې شـي، حـال دا چـې بـل هـېڅ لاسـوند ورسـره نشـتـه.

بـل خـوا لکـه چې پـه ۶۶ تـوك (بند) کـې څرګنـده شـوه، پـه پښتـو کـې تيـم (صيغـه) د وروسـتي اواز لـه مخـې ليـدل کـېږي، چـې پـه هنـدي کـې نشـتـه او بـل خـوا پـه پښتـو کـې تولپـېر (اضـافي حـالت) داسـې جـوړېږي، چې لـه هنـدي رغـاونې سره بـدوالی (مغـايرت) لـري. پـه هنـدي کـې دغـه پـېر يـو ډول سـتاينوميزه رغاونـه ده (۶۸ بنـد دې وليـدل شـي)، پـه داسـې اکـر کـې چـې پښتـو تولپـېر لـه زاړه آريـاني هغـه سـره سـمون خـوري.

لـه بلـې خـوا د اوښتـي پـېرپـه او ړونونـو (ګردانونـو) کـې چـې کـوم پښتـو وييکـي او سـربلونه - اوسـتربلونه کـارول کـېږي، لـه هنـدي هغـو سـره کـوړټ تـوپـير لـري. د پښتـو دالـه پخوانـی ارياني او اوسـنيو آريـاني ژبوسـره همرنـګي لـري.

پـه هنـدي ژبوکـې دا وييکـي پـه دې ډول کـارول کـېږي:

سې( سے) وتونپـېر (منشـايي حـالت)، لکـه: شـهر سے "لـه ښاره"

,ميں,تونپـېر (ظرفـي حـالت)، لکـه: شـهرمين "پـه ښارکـې"

پـر " " " : شـهرپر"پرښاربـاندې"

تـك موخـن پـېر (هدفـي، مفعـول لـه حـالت) "تـك شـهر "تـرښاره"

نے لوښنپېر (الي حالت، لکه "نے شهر" په ښار سره، دښارپه وسیله"

۲- په کړاوړون کې سره هندي او پښتو یوستر ورتوالی لري او هغه دا چې په دواړو ژبو کې د کړاوړون آر (اصل)، بېچاروالی (passivum) دی.

په پښتو او هندي ژبوکې ددې پرځای چې وویل شي، "ما یولیك وکیښ" وایي: "لیك زما په وسیله وکښل شو." [د دارمستېتر موخه دلته داده چې کړ دارګاتیف سېستم له مخې د کړندنه، بلکې د کړي (مفعول) اړوندېږي] دغه ورتوالي ان د پښتو د آریانیوالي ډېر ټینګ پلویان، لکه میولر او هنري هم ځانته راځکولي دي. ددې دلیل لپاره زما غبرګون دادی:

سره له دې چې دغه ورتوالی او اړیکی رښتیني دي، خو نه شي کېدای، ښنستیز نقش ولري، لکه څنګه چې په ۸۴ بندکې وڅېړل شوه، همدغه ځانګړتیا په یوه آریاني ژبه لکه پهلوي کې هم وه. اوسني پارسي هم ورته په پیل کې پالنه ورکړه، خو راوروسته یې پکې بدلون راوړ. بېچاره (پاسیفه یاانفعالي) رغاونه پر چاروالـه (اکتیفه یا فعاله) رغاونه اړول په آریاني او هندي دواړو ډلو ژبو کې را وروسته منځته راغلي دي. [په بلوڅي او پامیري ژبو کې یې هم څرك لګي – زیار].

او دا دلیل چې پر alai- پایته رسېدونکی کړستاینوم (فاعلي صفت) د هندي هغه غوندې له ta- سره دی، داسې ځوابېږي چې (۹۴ بند) دا پېښه یوازې د غړ پوهې د دوییونو (قوانینو) پایله ده. – alai د پخوانیو مهالو د کړ ستاینوم ښکارندویه دی، چې په هغو وختو کې (-ta) پر (خپلواکغږ +ta _) او بیا پر alai- واوښت ، څکه، لکه چې په غږ پوهه کې وویل شول، چې که په پښتو کې د (ت) غږ په مینځ کې راشي، پر (ل) اوړي (۹۴بند او همداراز ص۴۶ مخ). په هندي ژبه کې دغه اوښتون کله کله پېښېږي. همدا خبره ده چې زوړ

هندو آریـانـي ویـی gata" تللـی" پـه پراکـرېټ کـې "ګلـی" او پـه پښتـو کې" (را) غلـی" کـېږي ، بې لـه دې چې د هنـدی پراکـرېټ ژبـې او پښتـو ترمینځ دې کـوم تـاریخي پرلـه پسـیوالی (توالـي) شـته اوسـي.

پـه پښتـو کـې کـړاوون هـم لـه پښویـیز (ګرامـري) چـار اوهـم لـه رغـاونیز پلـوه یـو مخـیز آریـانـي دی، او مرسـتیالکړونه، لکـه aah (ول، بـودن) او شـو (شـدن) هېڅکلـه پـه هنـدي کـې نـه وو، بلکـې یـوازې "هوئ او "تها" پکې کـارول کـېږي.

همدارنـګه پـه پښتوکـې مخکړونـه یـا کـړوال مختـاړی (فعلی‌پیشوند) دودلـري او پـه هنـدي کـې یـې څرك نـه لـګي. پـه پښتـو کې او سترمهال (مسـتقبل) لـه وسـمهال کړسره د "بـه" وییکـي پـه ملتیـا جـوړېږي، حـال دا چـې پـه هنـدي کـې او سـتر مـهال لـه یـوه سـتاینومیز (صفتـي) روسـتاړي چـې آره یـې کړوالـه ده، رغېدنـه مومـي (لکـه: کرونـګا).

دغـه روسـتاړی د سـتاینوم پـه څېر نرینـه او ښځینـه، یـو ګړی او ډېرګړی لـري او اوړون مومـي.

بېلښتـي (مشـتقې) زمـانې څه پـه پښتـو او څه پـه پارسـی کـې پـر دوه ورتـو بنسـټونو تیکـاولري: یـو مضـارع او بـل کړسـتاینوم.

همدارنـګه دلتـه پـه روسـتاړو او مرسـتالکړونو کـې ورتوالـی لیـدل کـېږي، پـه داسـې اکـر کـې چـې پـه هنـدي ژبـو کـې درې نـور بنسـټونه لـري او هغـه د وسـمهال بېلبنتـي (مشـتق) کړنـد سـتاینوم او کـړی سـتاینوم (مفعولـي صفـت) دی. هنـدي مخکړونـه (preverbs) پرکارنـه اچـوي، بلکې لـه مرسـتیالکړونو کـار اخلـي او پـه پښتـو کـې دغـه لیـارې دود نـه لـري.

۴-۱-۴: دارمسـتېتر پـه همـدې تـوګه د پښتـو د آریـانیوالي او بیـا (شـمال-) ختـیز آریـانیوالي د زبـات لپـاره بـې کچـه انکارنـه منونکـي تـاریخي – فونولوجیکي پرتلنـې وړانـدې کـوي اولـه اوسـتا سـره د پښتـو لـه دغـه راز اړونـدی سره سره دا کـېدون هـم نـه ردوي چـې د پښتـو آره

دي له اوستا پرته یوه بله داسې ژبه اوسي چې اوستا ته نږدې تيکاو ولري.

"ايا پښتو د اوستا په پرتله نورې زياتې ځانګړتياوې لري؟

هو، ځکه چې په پښتو کې د ځ او څ تر مينځ توپيرشته دی.

ايا دا توپير په پښتوکې له پخوا څخه شته و"اوکه تازه پېښه ده؟

که پښتو له اوستا پرته له کومې بلې پخوانۍ، خوله اوستا سره نږدې ژبې څخه رابېله شوې وي، نو ايا د ځ اوځ تر منځ دغه توپيري ونجون په هماغه ژبه کې پېښ شوی او يا د پښتو په راوروسته پړاو کې؟

که دغه اوښتون له مخه رامينځته شوی وي، نو پښتو له اوستا ژبې نه، بلکې اوستا ته له داسې يوې، ډيرې نږدې ژبې څخه راوتې چې ليکلي لاسوندونه يې په لاس کې نه لرو. که دغه بدلون راوروسته د پښتو په پړاو (مرحله) کې تر سره شوی، نو بيا له اوستا څخه د پښتو د سيده بېلنګ کېدون پرخپل ځای پاتې کېږي. په هر ډول تر دغې پېښې يا پديدې تر مخه د پښتو د آرې چاپېريال نور له اوستا سره کوم بل توپير نه دی درلودی." (د فرهادي ژباړه ۹۹مخ)

په پای کې دی پایلنیوي ته رسي:

"پښتو يا له اوستا منځته راغلې او يا هم له هغې ژبې څخه چې اوستا ته ډېره نږدې ولې وه." او خپله وروستۍ غونډله په دې ادبي رنګ کې رانغاړي ( هماغه اثر ۱۰۰ مخ):

"نو، ويلای شو چې د خيبر درې د رښتينو او تينګو مسلمانو تيرونو پر ژبه د زرتشت د وراشې غږ د بمبيې د پارسيانو له هغې ښه ترا ژوندی پاتې دی."

## ۴-۱-۵: ويلهلم ګايګر W.Geiger (۱۸۵۶-۱۹۴۳ز)

تر دارمستېتر را وروسته دويم آريانپوهاند او پښتو پوهاند دی چې د پښتو د آريانيوالي او بيا شمال ختيزوالي پخلی کوي او په خپل اړوند اثر "د پښتو اتيمولوجي او غږپوهه

(Etymologie and Lautlehre des Afghanischen) کې یې چې پر ۱۸۹۳ز کال یې په مونشن ښار کې خپور کړی، د پښتو اریوهه (اتېمولوجي) او غږپوهه (فونولوجي) په همدغه چوکاټ کې له اوستا سره په پرتلیزه توګه څېړلې ده. په اتېمولوجیکه برخه کې یې (۳۸۹) غوره پښتو ویپونه را اخسیتي او له اوستا او نورو زړو آریاني ژبو سره یې د پر تلې پر بنسټ د هغو آره او ستېه راسپړلي چې راوروسته ورته استاد مورګن ستېرني نوره پراختیا، پرمختیا او کره والی وربښلی او پر ۱۹۲۷ زکال یې د "An Etymological Vocabulary of Pasht o" په نامه په اوسلو کې له چاپه راکښلي دي. د ګایګر د یادشوي اثر غږ پوهیزه برخه له آره د دارمستېتر داړوندې څېړنې یوه هراړخیزه کره کتنه او بشپړونه ده چې د خپل مهال یو خورا ارزښتمن او نوښتګرانه اثر بلل کېږي. (فرهادی ۳۰۲ مخ) ګایګر هم د اتېمولوجي او هم د غږپوهې په برخه کې له اوستا او لږ و ډېر له یوې نیمې بلې زړې آریاني ژبې سره داړوندی، پربنسټ پښتو غږونه (فونیمونه) او ویپونه په اتمولوجیک ډول تر سپړنې او شننې لاندې نیسي او په دویمه برخه کې ګړدودي توپیرونه هم له پامه نه غورځوي. ډېره هېښنده او په زړه پورې دا چې ګایګر (۱۷مخ) د لومړي ځل لپاره پښتو بېواك (کنسوننټ) آوازونه له اوسني منل شوي معیاري فونیمېکس (اوازپوهې) سره سم "۲۹" ښوولي او خپلواك (واول) هغه یې د مورګن ستیرني غوندې د (o,u) له نارزښتمنو (irrelevant) اوږدونو سره نهو( ۹) ته رسولي چې مورګن ستیرنې هرګوره خپله دغه تېروتنه ځای پرځای سمه کړې او د هغو نارزښتمني یې څرګنده کړې ده. (فرهادي ۲۱۳ مخ).

ګایګر د دارمستېتر (۲۰۸ مخ) دا ګروهه هم ورسموي چې ټول غبرګژبیز اوازونه، نه بلکې یوازې ټ او ډ د پورویپونو په ترخ کې له هندي څخه ښتو ته راغلي دي. د پښتو د فونولوجیکي ځانګړتیاوو

په لړ (۲۳ مخ) کې دې پایلې ته رسېږي: "خو په ځینو ځایو کې څرګندېږي چې د پښتو آره کټ مټ اوستا نه ده، لکه څنګه چې د اوستا د ū په وړاندې پښتو i لري:

| پښتو | پارسي | اوستا |
|---|---|---|
| لیرې (د لرې یوېل ځېل) | دور | dūire- |
| وینه | خون | vohuni |

که څه هم د "وینه" په اړه ورسره مورګنستیرني همانډی نه دی او زیاتوی "دغه پښتو ویي یو منځنی پړاو د اوږدې (-ې-) په بڼه تېر کړی او په دې توګه یې آره لرغونې بڼه wa(h)uni د منلوړ ده (هماغه مخ).

ګایګر (۲۴ مخ) د زاړه آریایي خپلواك اواز ŗ په وړاندې پښتو اندول چې تر م، ك، ب، پ، د، ګ... وروسته راشي، (ړ) ښیي چې کېدای شي، یو قانوني غونډال (سېستم) رامنځته کړي:

| آریاني (انګېرلې) | پښتو |
|---|---|
| ساده ŗ | ar, ir ,ur |
| اوږد ŗ̄ | ar ,ār |
| بیاځلي (تکریري) r ŗ | ar |

په دې بېلګو کې:

| پښتو | پارسي | اوستا | اریانی |
|---|---|---|---|
| مړ | مرده | mereta- | mŗta |
| چرګ (کوړکه kwŗaka ) | کرك(مرغ) | kahrka- | kŗka- |
| وړ | برد | bereta | bŗta- |
| یږ | خرس | areša- | ršša- |
| کښ (کښت) | کشت | karešta- | kŗšta- |
| لاړغه (مکث، شبېه) | دېر | darega- | dŗga- |
| غر | (کوه) | gairi- | gŗri |

[په راوړو بېلګو کې د "چرګ پر ځای "کوړکه" دلته ښه ترا سمون خوړای شي. د "لاږغه" اوستا اندول daraγa (درغه) "اوږد" هم ښه ترالګېږي (مورګنستيرنې EVP۳۸ مخ.]

ګايګر (۳۲-۳۳ مخ) د پښتو نيمواکو (و،ی w,y) آره داسې پلټي:

۱- ی y زياتره خوندي پاتې شوې ده، لکه:

| پښتو | پارسي | اوستا |
|---|---|---|
| يشنا yešnā | (جوش) | yaēš– |

تر نيمواك (و) مخکې (د) غورځېدنه پامور ده:

| پښتو | پارسي | اوستا |
|---|---|---|
| ور | در | dvar- |

۲- ځينې ځينې ځايونه نيمواکه (ی) د ويي په سر کې د وينګ د اساتيا لپاره زياته شوې ده:

| پښتو | پارسي | اوستا |
|---|---|---|
| يږ | خرس | areša- |
| يم (زه يم) | (من+) م | ahmi- |

۳ - کله کله داوستا (ی+آ) په وړاندې پښتو i I (ي) لري:

| پښتو | پارسي | اوستا |
|---|---|---|
| نيکه | نياك | nyāka- |

{په ځينو ګړدودوکې نېکه په اوږده يا مجهوله (ې) راځي.]

۴- و=w په پښتوکې دوې سرچينې لري (فرهادي ۳۳ مخ):

د پخوانې (v) د ځايناستي په توګه:

د ويي په سرکې:

| پښتو | پارسي | اوستا |
|---|---|---|
| وله | بېد | vaēti- |
| ونه | بُن (درخت) | vanā- |
| واوره | برف | vafra- |

| | | |
|---|---|---|
| وو | باد | vāta- |
| وېني | (مي) بيند | vaenaiti- |

د ويي په منځ کې:

| | | |
|---|---|---|
| لېوه | ګرګ | daēva |
| لېور | ايور | dēvar |
| نوي | نود | navaiti |
| نوی | نو | nava- |
| ژواك | زنده ګی | ǰva- |

[ګايګر پر"ب" د "ړ" بدليدل په ۱۴بند کې راوړي دي ص ۴۹]

۵ - (و) دويي په سرکې تر پېښ (ضمې) له مخه دوينګ داسانتيا لپاره سرباری کېږي:

| پښتو | پارسي | اوستا |
|---|---|---|
| وچ | خشك | huška- |

[دلته کېدای شي، د ګايګر په نومونه هماغه پېښ، يا واولي (و) پر نيمواك (و) اوښتی وي، لکه پارسي gol يا gul په پښتو کې gwal راځي، ځکه په اوسنی کره پښتو کې ضمه ډولی (و) ګردسره نشته.]

۶ - په اورېدل يا وورېدل او اُوړی - و وړی کې هم نيمواك (و) يوازې د ببلابېلو ګړدودوله مخې سرباري شوی بولي، خو په زاړه آرياني پړاو کې د دغسې (و) د څرك په لګولوسره بيا هم دويمنی بنې آرې ګني، ځکه د (وورېدل) آره (وار) او د (ووړی) دا (وهاره) "پسرلی، بهار" وه، نو (و) وروسته زيات شوی نه دی، بلکې له پخوا څخه شته و. (فرهادي ۳۴ مخ)

د ګايګر دابرسېرونه چې آرياني سرتمغږونه initial explosives) "ګ-د -ب" په پښتو او نورو اوسنيو شمال ختيزو آرياني ژبو کې پر مښلو (initial fricatives) (غ-ل-و) اوښتي دي،

راوروسته د استاد مورګن ستيرنې په مخکښې. د ټولو لويديزو پښتو پوهانو له خوا د (شمال) ختيزو آرياني او لويديزو آرياني ژبو ترمينځ د بريدبندۍ پر يوه اوډلي (منظم) فارمول يا قانون اړول شوي ده .ګايګر د خپل پاسني اثر ځوارلسم بند (۴۸ مخ) همدغه ډېر پېښي (frequent) او پر له پېيلي (منظم) اوښتون ته ځانګړې کړې او لړو و ډېر يې په نورو برخو کې هم د دغو درو واړو فونيمونو ورته بېلګو ته نغوته کړې ده. له همدې کبله يې دلته د آروپخوانيو آرياني ښو او اوسنيو اوښتو ښو توپير سره ځای پر ځای کړی، لکه د پاس ياد شوي ( و =w) په برخه کې يې چې دغه بېلتون او توپير ښه تراڅرګند کړی دی، د بېلګې په ډول يې د (وله =بېد) او (واوره = برف) (و) په اوستا کې هم (و) ښوولی دی. مګر په (۴۸ مخ ۱۴ بند) کې يې د (وز =بز) (ورور= برادر) هغه اوښتي (واوونه) جوت کړي دي. ماتا دا چې پاسنی فارمول له ټول دويېزوالی (باقاعده والي) سره سره بيا هم بشپړواله (مطلقيت) نه لري، لکه څنګه چې د لرغونپالو پښتنو او پارسيوانو د ايوارخ او يا دا بل اړخ دابسولوتيزم په رنګ کې رنګاوه، (د زياتې خبرتيا لپاره د ګايګر ۴۸-۵۰ مخ او نورې اړوندې سکالووې.

## ۴-۱-۶ :ګيورکې مورګنستيرنې ( ۱۸۹۲-۱۹۷۷ ز) د ساکيوالي د ليدتوګې نوښتګر

استاد ګيورګ مورګنستيرنې (جارج مارګنسترن) George Morgenstierne تر دارمستېتر او خپل استاد ګايګر وروسته دربېم ختيځپوهاند دی چې پښتو يې د نړه آرياني او بيا شمال ختيزې آرياني ژبې په توګه څېړلې او څه له پاسه د نيم پېړيزو څېړنو او پلټنو په ترڅ کې دې پايلې ته رسېدلی چې د دارمستېتر هغه اټکل ته رښتياينه وبښي چې پښتو کېدای شي، د اوستا پر ځای يوه بله داسې مورينه ولري چې اوستا ته ډېره نژدې وه او کله يې چې د نورو اړوندو شمال ختيزو ژبو په تېره دلس يوولسو پاميري ژبو،

اوسیتي او خوتني (خوتن ساکي) او ورسره ورسره د پښتو تاریخي او پرتلیزې غرپوهې او ګړپوهې، آرپوهې او ګړدودپوهې پرله پسې څېړنې پلټنې نورې هم پر مخ ولاړې، نو ورو ورو په دې باور شو چې پښتو په یوه منځنۍ پېر کې له خپل تاتوبي (پامیر) څخه له خوتني ـ ساکي ژبې سره اړوندي درلودلې، مانا دا چې د چا خبره هغه یې یوه نژدې خور بلل کېده او کله چې د جېلم په ډبرلیک کې یې د کشمیر او شاخوا شمال لویدیز هند د ساکي واکمن پر نامه (ځښتننه) سترګې لګېږي، دغه باور یې نورهم پسې پخوالی‌او پیاوړتیا مومي. لومړې ځل یې په (اسلامي دایرة المعارف ۱ټوك ۲۲مخ - ۱۹۶۰) کې پښتو یو ساکې ګړدود بللی و (تړی ۴۶مخ ) او پر ۱۹۷۵ کال یې د کابل د پښتو نړیوال سیمینار په ویناکې د پښتو ساکیوالي په زغرده ډاګیز کړ. دا چې په اړوندلښتیلیك کې یې بیا هم نېغ پرنېغه پښتو له اوسیتي او پامیري ژبوسره یو ځای تر ساکي ګړدودونو (ژبو) لاندې وړنده ونه بلله او په "فرضي" تکیو یې ورسره د نښلونې سپارښت وکړ، د پوهنیزې لوښې ښکارندویه یې ګڼلای شو، ځکه یو رښتینی پوهاند تر هغې خپله پرېکړه او ورمند نه وړاندې کوي چې تر څو خبره په سلو کې سلو ته رسېدلې نه وي! هینینګ د بېلي (۱۰۹ مخ) دې خبرې ته هم نغوته کړې چې خوارزمي، اوسیتي، سوغدي، ساکي او افغاني (پښتو) ژبې سره یو ځانګړې ډله جوړوي.

په دې کې اړنګ برنګ نشته چې استاد مورګنستیرني، نه یوازې د پښتو شمال ختیز آریانیوالی او بیا ساکیوالی په خپلو اوږدو څېړنو پلټنو د زبات تر بریده ورساوه، بلکې په ټولیز ډول یې پښتو ژبپوهنه د نوې ژبپوهنې په کره کاڼي نوره هم پسې کره او عیاره کړه. نو داځه هښنده نه ده چې هغه ته دې د "افغانستان د ژبو پلار" ستاینوم ورکړ شي او د شلمې پېړۍ له څلوېښتمې لسیزې راهیسې د پښتو په مخکښې د ټولو افغاني ژبو یوازینی چارواك (authority) او باور وړسرچینه او اخځ وګڼي، پوهنیزه (علمي

ځانساتي يې هر ګوره د دې لامل شوې چې "پټه خزانه" يې نه په بشپړه توګه ومنله او نه يې په بشپړه توګه رد کړای شوه او هغه هم په دې لاسوند چې د پښتو ادب او فولکلوري برخې ته يې دومره وخت نه دی درلودی او پر ژبني ساينس يې زياته ډېره لګولې ده.

کله چې د پښتو او پښتنو د آرې په لټه د هېواد له شماله سويل ته ځي اوله سيستانه تر هېلمند او کسي غره پورې يې د پښتو پلونه سهي کوي، په پرله پسې ډول لومړی د سيستان "خاشرود"، بيا د "هېلمند" او ورپسې د "ژوب"، ويې تر اتمولوجيکي شنني لاندې نيسي، د زياتو ورته ځاينومونو پلټنه نورو ته پرېږدي، که نه د کسي په ګډون نورو ځاينومونو او تېر نومونو ورسره هم په زړه پورې مرسته کولای شوه او همداسې زړو ادبي او فولکلوري لاسوندونو او روايتونو هم، خو د نورو څېړنيزو او ښوونيزو بوختياوو تر څنګه يې د نورو افغاني ژبو په تېره پاميري او هند وآرياني سرحدي ژبو (Indo-Iranian frontier,s Languages) ستري پروژې دومره اړتيا وړ وخت ورنه کړ، چې دغه خواوې هم له پښتو څېړنو سره لړ څه په پراخه کچه راملګرې کړي.

بيا هم د پښتو او په ترخ کې يې د پښتنو په اړه دومره ليکنې څېړنې، څه د ليکنو، لکچرونو او ويناوو او څه د ځانګړو کتابو په بڼه خپرې کړې چې نه يې تر مخه ساری ليدل شوی او نه راوروسته، خو څه چې د ډېرې خواشينی ځرګندويي کو ي، هغه يې د افغاني ژبپوهانو او ليکوالو په وړاندې ډېر ناځيز هرکلی ولی دی.

دوديز پوهان ورسره په دې نابانډې وو چې د دوی د لرغونپالنې او ببځايه پښتني ښاخ پر خلاف يې پښتو "ايراني" بلله او د پښتواو پښتون آره يې د پکهت او پکتويس پر ځای په "پرسوا" او "پارسا" پسې وړله. سره له دې مورګنستيرني د افغانستان په هماغه وروستي سفر او پښتو نړيواله غونډه کې له "ايران" او "ايراني" نومونو سره د نابانډی له کبله افغاني ډېې ته وړانديز وکړ چې پر

ځای یې پخوانی آرې بنې "آریان" او آریاني " (Aryan,Aryanian) وکاروي، خو بیا هم ورسره پخلانه شول او د پښتنو د "ساکیوالي" په لیدتوګه یې نور هم پسې راوپارول. هغه مهال لا زمونږ دودیز پښتو او پښتو ن پوهان، یا د چا خبره (پنځه ستوري) په سر ژوندي وو او د پښتنې فرهنګ پر هسك لاهماغسې پرکېدل؛ ان تر دې چې د هماغه کال د کابل پوهنتون په یوازینی پښتو دوه میاشتنی "وږمه" کې یې د هغه نومیالي پښتو پوهاند او نورو بهرنیوا کورنیو اکادمیکو ژبپوهانو د سیمېنار لیکنې هم ترچاپ وروسته سانسور کړې. له هغو څخه مولانا خادم او ان د نوي اکادمیك پښت استازی اروابناد "دوست شینواری" چې دواړه د پښتنو د برخیز (قسمي) "ساکیوالي" پلویان هم وو، په هغه مخالف سنګر کې تیکاو نیولی و.

۴-۱-۷: **پوهاند دوکتور حبیب الله تږی** د نوي اکادمیك پښتني پښت د یوه وتلي ژبپوهاند په توګه په خپل یوه تازه چاپ کړي کتاب "پښتانه" کې د اسلامي دایره المعارف ۱ ټوك ۲۲ مخ له مخې د دغه نومیالي ناروېژي آریانیست د اړوندو څرګندونو او پایلنیو یوه یادونه کړې او زیاتوي:

"جورج مارګنستیرن چې د پښتو ژبې په تېره بیا د هغې د تاریخي – مقایسوي څېړنې په برخه کې له دار مستتر نه را وروسته د ډېر اوچت صلاحیت خاوند دی، د دار مستېتر نظر کاملاً تائیدوي. خو په عین وخت کې پښتو په شرقي ایراني ژبو کې د ساکانو لرغونې ژبې ته دومره ور نږدې بولي چې وایي پښتو له اصله، غالباً، یوه د ساکا لهجه ده. دې خبرې ته دوام ورکوي او وایي البته د دې امکان نشته چې سړی دې د دغو دوو ژبو ډېر نږدې اړیکې تثبیت کړي. د مارګنستېرن خبره نور مولفین هم اساساً تائیدوي.

که سړی د مارګنستېرن نظریه مني او پښتو د ساکا یوه لهجه ګڼي، نو مانا به یې دا وي چې پښتو لږ تر لږه دوه زره کاله پخوا

معموله وه. څکه د ساکانو مشران له میلاد نه تخمین سل کاله دمخه یعنې د (۹۷ق. م) په شاوخوا کې په ننني پښتونخوا کې مسلط شول او په پنځم میلادي کال کې یې تسلط پای ته ورسېده او په دې پسې یې ژبه هم لادرکه شوه." (تربی، پښتانه، ۴۶مخ). دلته پوهاند تربی درې ګونې اریاني ژبپېرونه په پام کې نه نیسي، د مورګن ستیرنې موخه دا نه ده چې اوسنی دوده پښتو د دوه نیم – درې زر کلنې زړې ساکي ژبې د ګړدود په توګه دوه زره کاله پخوا "معموله" وه، بلکې په لومړي زاړه اریاني پېر (۵۲۰۰-۳۰۰ م ز) کې یې ساکي د انا په توګه انګېري چې دویم یا منځنی پېر یې (۲۰۰م ز. – ۷۰۰ ز) راځي او اوسنی دا یې له اتمې زېږدې راهیسې را پیلېږي. په ساکستان کې د ساکانو دولت د جوړېدو مهال د پوهاند حبیبي او دکتور معین (ج ۵ص ۲۷۲-۲۷۵) په ګډون نورو لیکوالو لکه همفریز (۷۵مخ) درېیمه او دویمه مخ زېږدي پېړۍ ښوولې او په دې توګه د تربي له (۹۷ق م) سره ډېر توپیر لري؛ هسې خو یې په شمال "باختر" کې مخینه نوره هم پر شا ځي، لکه څنګه چې په مخنې څېرکي کې پرې پوره رڼا اچول شوې ده.

دا چې پوهاند تربی له اره د سپړنیزې (تشریحي) ژبپوهنې ځانګوال دی او له تاریخي او پرتلیزې هغې او بیا له اریاني ژبپوهنې (فیلالوجی) سره یې دومره اړوندي نشته، نو د اړوندو ختیځپوهانو د نژدې دوه پېړیو د څېړنو شننه او کره کتنه یې هم زیاتره پر هماغو تاریخي اړخونو را څرخي او انکار نه منونکي ژبپوهنیز (فیلاجیك) دلیلونه لاسوندونه په پام کې دومره نه نیي، په دې توګه د الفنستن او مورګنستیرني دلایلو ته په یوه سترګه ګوري، نه له پښتنو سره د پکهت او پکتویس اړیکي ردوي او نه له ساکو او نورو سره، لکه څنګه چې په خپله سریزه (۴مخ) کې وایي: "...څکه نو دا کتاب په عمومي ډول، د پخوانیو متونو او د نورو د اقوالو یوه مجموعه ده..."

همدا راز د ساکانو د واکمنۍ په اړه د ښاغلي تړي څرګندونه زموږ له تاریخي ژبپوهنې سره اړخ نه لګوي. دا چې وايي په پنځمه میلادي پېړۍ کې یې د واکمنۍ له پای ته رسېدو سره سمه ژبه هم "لادرکه" شوه، هم ورته تېروتنه ده. ځکه په پنځمه زېږدي (میلادي) پېړۍ کې د آریاني ژبو زوړ پېر نور پای ته رسېدلی و او منځنی پېر رامنځته شوی و. ختیځ خوا ته د اوستا او ساکي لوېۍ ژبې، لکه باختري (یفتل - کوشاني) سوغدي، خوارزمي، الاني، خوتني یا په بله وینا د پښتو او پامیري ژبو او بیا د اورمړي او پراچي ژبو میندې ویل کېدې او د لوېدیزې آریانا خوا ته منځنۍ پارتي (پهلوي آشکاني) او منځنۍ پارسي (پهلوي ساساني) او نورې دود وې. دلته دا کېدون هم شته چې د سیستان خوا ته به د ساکي ژبې له ګړدودو یا لوېو ژبو څخه یوه هم د پښتو مور را زېږېدلې او دود شوې وه. محمد معین د خپل فرهنګ د اعلامو په پنځم ټوك کې د "سیستانی" ژبې یادونه کوي او له خپلې ایراني لوېې له مخې وايي چې هغه یوه ایراني لهجه یا له هغه څلورو متروکو فارسي ژبو څخه یوه ژبه وه چې البیروني یې په صید نه کې څو ویيونه را خوېندي کړي دي. هسې خو د ساکي نامه بېلا بېلې بنې تر اوسه پورې ژوندۍ پاتې دي او ځينې پښتني ټبرونه پرې نومول کېږي، خو دا په دې مانا نه ده چې دغه ټبرونه یا وګړي هماغه پخواني ساکان دي، بلکې د هغو په نمسو کې راځي او نومونه یې په یوه او بله بڼه ژوندي ساتلي دي. د پښتو او پښتنو د ساکي والي په برخه کې چې پوهاند تړي د پروفېسر مورګن ستیرنې د اسلامي دائره المعارف (۱ ټوك ۲۲۰مخ) د لیکنې له مخې کومه څرګندونه کړې، د دغه پروفېسور د لومړنیو څېړنو څرګندویې کوي لکه څنګه چې له مخه وویل شول، هغه پر ۱۹۷۵ کال په کابل کې د پښتو څېړنو نړیوال سیمینار په خپله وېره (او ښایي وروستي لیکنه) کې دا خبره نوره هم باوري کړه چې د پښتو او پښتنو آره او ریښه له ساکي پرته بل څه کېدون درلودای نه شي. تر ټولو نوې خبره یې پکې دا وه چې د پنجاب د جهلم په ډېرلیك کې یې د سیمې "کشمیر او شاوخوا" د دویمې زېږدي پېړۍ د ساکي واکمن یا شهزاده نوم castana (یوناني Tiastanes) "څښتنه"

ښوولې چې د پښتو د نني "ځښتن" انډول دی او مانا يې مشر، واکمن او مير او امير کېدای شي. د مورګن ستيرنې له دې شننې څخه د کاسمير، کاشمير او کشمير آره هم د کاس (ساك) او مشر او مير اټکلېدای شي. له دغه زبات سره دغه اټکل هم رښتيا کېدای شي چې سينکيانګ به د ساکانو د واکمنيو د يوې برخې په توګه له همدغه نامه سره اتمولوجيك او اتنولوجيکي تړاو ولري. د ستن کونو (←) له مخې دا کېدونې برېښي چې د اړوندو ساکي واکمنانو ژبه منځنۍ خو تن ساکي وه او د مورګن ستېرنې د "ځښتن" له مخې له دې سره سره منځنۍ پښتو هم زباتېدای شي.

په اوسنۍ ژېپوهنه کې د يوې ژبې د پيدايښت او مخينې نېټه ټاکنه کوم علمي بنسټ درلودای نه شي او له دې سره دا خبره هم سمه نه برېښي چې وويل شي، دا يا هغه ژبه تل په اوسنۍ بڼه دود وه او همداسې ويل کېده. بلکې تش دا خبره کولای شو، چې اړوندې ژبې څنګه د يوې بلې ژبې له يوه ګردود څخه پرمختيا موندلې او په يوه اټکلي مهالپېر (زماني مقطع) کې يې د يوې خپلواکې ژبې په توګه پېژندل شوې او را څرګنده شوې ده. يو ګردود هغه مهال ژبنۍ پوړۍ ته پرمختيا کوي چې د اړوندې ژبې او ورپورې نور اړوندوګړ دودو د ويونکو لپاره يې د پوهېدنې کچه په سل کې تر دېرشو کښته شي. د ساري په توګه وښځي ويونکي نن سبا د نومهالو ښخبنايي وسيلو يا مواصلاتو او ماس ميډيا له برکته د پخوا په څېر هماغسې د "هرنايي" او "لورلايي" په هسکو غرنيو ناوونو کې کوښې پاتې نه ده او د سويلي پښتونخوا له پښتنو سره يې اړيکي او راشه درشه دومره زيات شوي دي، چې يو له بله سره په خبره پوره پوهېږي، که وڼېڅيانو پښتو زده کړې نو شاوخوا نژدې پښتنو هم له هغوی لږ و ډېره وڼېڅي زده کړې ده.

د پورتنيو څرګندونو په لړ کې د پښتنو مخينه هم تر غبرګو زريو ور اوړي، خو دا اړينه نه ده چې هغه مهال به يې له مورينې ژبې او نورو اړوندو ګردودونو سره بريد ليکې جو ړې او خپلواك دريځ به يې په برخه و.

پروفیسور مورګن ستیرنې په یاده شوې لیکنه کې دا اټکل کړی چې پښتو د یوې باختري، یا په بله وینا شمال ختیزې ژبې په توګه ښایي له خپلو ویونکو سره په هماغه لرغوني مهال کې د نورو ساکي ټبرونو او ګړدودونو په ملتیا سوېل، یا په بله وینا سیستان او هېلمند ته را لېږدېدلې وي.

په دغه خورا ارزښتمنه تاریخي - جغرافیایي او ژبتوکمیزه (اتنولېنګوېستیکي) برخه کې زموږ د خپلو تاریخوالو او لیکوالو بې کچه ښندو (مبالغو) ډېر لنډ اندي همهېوادي او ګاونډیان دومره خام باوري کړي چې سخت غبرګون وښیي او پر رښتینو او انکار نه منونکو لاسوندونو هم سترګې پټې کړي. په تېره د توکمپالنې او لرغونپالنې په ولولو مو دغو لنډ اندو ته په لوی لاس د مخامختیا چېلنج ورکړی دی. هغوی راسره وسمهالی تاریخ نه مني، موږ ورته شپږ زر کلن هغه د پرزې پېزوان جوړوو. د دې پر ځای چې په زبات شوې اریاني (ایراني اتنولېنګویستیکي) اډانه کې خپل شتوالي ته تن ورکړو، د "نه هندي- نه اریاني"، یا په بله وینا د یوه "خپلواک ژبتوکمیز دریځ" د راخپلولو هېنډه مو ټینګه نیولې ده.

د اریاني کورنۍ او ژبتوکمیزې ډلبندۍ بریا تر هر څه له مخه د څو پېړیيزو ژبنیو څېړنو او پلټنو پېبره (ثمره) ده او په دې لړ کې پر پنځګونو پښو باندې د دغې کورنۍ وېش دا لاز پر مخ را پرانیزي چې موږ هم پر خپل وار خپله ژبتوکمیزه آره په همدغو پښو او بیا را نژدې په اوېستایي او ساکي هغو کې وپلټو. له همدې کبله روانه څېړنه په بنستیزه توګه د اریاني ژبپوهنې (فیلالوجۍ) په چوکاټ کې دننه پر مخ بوتله.

د پښتنو د ژبپوهانو په ډله کې مو دلته دوست شینواري له دوه ګونو کتابو څخه په ډېره پاملرنه او کره کتنه څه ناڅه ګټه واخېسته، په تېره د شوروي -اریاني فېلالوجۍ په برخه کې او د

پوهاند تـرېي لـه اړونـد اثـر (پښتانـه) څخـه مـو يـوازې د تـاريخي لاسوندو پـه اړه ځينـې اخيستنې وکـړې. لکـه واخلـې د پښتنـو غلځيـو او توركـو خلجيـو او داسـې نـورو سـكالوو پـه برخـه كـې چـې د علمـي استدلال پـرځاى يـې زيـات لـه منطقـي اسـتدلاله كاراخيستى او د ژبنيـو سكالو پـه لړ كـې مـو تـرې لـه يـوې نيمـې ځرګندونـې ګټه تـر لاسـه كـړه، لكـه واخلـې پـر پښتـو بـاندې د هنـدي ژبـو د اغـېزې پـه اړه، پـه دې لانـدې ډول (۴۶-۴۷ مـخ):

"...اوس سـوال دادى چـې پښتـو او سـاكاخو، اساسـاً د ايرانـي ژبـو پـه شـرقي ډلـې پـورې مربوطـې ژبـې دي، نـو پښتـو دا دومـره قـوي د هنـدي ژبـو خصوصيـات لـه كومـه كـړل؟ داسـوال دوه احتمـالي ځوابونـه لـرلاى شي، يو دا چې پښتو لـه اصلـه يـوه ايرانـى ژبـه وه او د هنـدي ژبـو ډېر زيـات عنـاصر، لكـه څنګه چـې ډار مـستېر او نـور وايـي، وروسـته ورداخـل شـوي دي. بـل دا چـې پښتـو لـه اول سـر نـه داسـې يـوه ژبـه وه چې هم يې د هندي ژبو خصوصيات لـرل او هـم د ايرانـي ژبـو.

راځئ چـې لومـړى دا اول احتمـال وڅېړو:

د يـوه قـوم ژبـې تـه د يـوه بـل قـوم د ژبـې پـه ډېره وسـيعه پيمانـه خصوصيـات، معمـولاً، هغـه وخـت ورداخلـېداى شي چـې لومـړى قـوم ددويـم قـوم تـر ډېرې قـوي او اوږدې سياسـي او ثقـافتي سـلطې لانـدې راغلـى وي، خـو تـاريخ شـاهد دى چـې د پښتنـو ملـك پـه اسـلامي عصـر كې هيڅكله هـم د هندوسـتان تـر دغـه راز سـلطې لانـدې نـه دى راغلـى، بلكـه پـه دې دوره كـې ډېر ځلـه هندوسـتان د افغانـانو او پښتنـو تـر سياسـي سـلطې لانـدې راغلـى او اساسـاً همـدا كـار پـه هنـد كـې د اسـلام او اسـلامي ثقـافت د خپـرېدو سـبب ګرځېدلـى دى. امـا لـه اسـلام نـه وړانـدې داسـې يـوه دوره تـېره شـوې چـې پـه هغـه كـې د پښتنـو ملـك د هندوسـتان تـر يـوې قـوي او طولانـي سياسـي او ثقـافتي سـلطې لانـدې راغلـى و.

دادوره د موریادکورنۍ دواکدارۍ عصر دی چې د چندرا ګوپتا دواکدارۍ له سرنه (۳۲۳ ق.م) پیل شوې او د اشوکا په مرګ (۲۲۷ ق.م) پای ته رسېدلې ده او نږدې سل کاله یې دوام کړی دی. په واقعیت کې همدا یوازینۍ دوره ده چې کېدای شي، پښتو ته د هندي ژبو خصوصیات په دومره وسعت او قوت ورننوتي وي او که دا خبره داسې وي، نو پښتو به لږ تر لږه یوه دوه نیم زرکلنه او حتی تر هغه هم زړه ژبه وي. اما کله که سړی هغه اول [دویم نه اول] احتمال ومني او داسې وګڼي چې په پښتو کې د هندي او ایراني ژبو خصوصیات ان له اول سرنه موجود وو، هلته نو بیا د ترومپ نظریه تقویه کېږي او پښتو د هندي او ایراني ژبو تر منځ یوه ډېره لرغونې د اتصال کړۍ یا په بل عبارت ددغودوو کورنیو د یو شمېر ژبو د انشعاب منشاء ګرځي."

۴-۱-۸: دلته پوهاند تېږي دا الواك چې یوازې واکمنه ژبه پرنا واکمنه ژبه اغېز ښندلای شي او سرچپه کېدون بېخي له پامه غورځوي. له واقعیت او پراکتیك سره یو مخیز اړخ نه لګوي، ده باید د هندي سلکلنې واکمنۍ تر څنګه د پښتنو خوسوه کلنه هغه هم له دغه پلوه بې اغېزې بللی نه وای. دلته د راکړې ورکړې خبره ده، که واکمنه پرخپله لاسکتوې (لاسلاندې) ژبې یو لړ اغېزې پرې باسي، نو لاسکتوې ژبه هم پر خپل وار پرخپلې باداري ژبې څه ناڅه اغېزمنې درلودای شي، لکه پر عربۍ باندې د پارسۍ یا تورکۍ اغېزې، چې که څه هم په پرتلیزه توګه په ټیټه کچه کې راځي. که د ساري په ډول پښتو له آریایي هندي ژبو څخه غبرګژبیزوالی راخپل کړی، دغو ژبو هم پر خپل وار دغه پورونه له بومي دراویدي ژبو څخه کړې ده، لکه څنګه چې په همدې څپرکي کې ورته نغوته شوې. پښتو له منځنې پیر (۲م.ز-۷ز) راهیسې له هندي او بیا شمال لویدیزو پراکرېتو څخه یو لړ اخېستې کړې چې پټهان

paṭhan بیا هغو ژبو ته له ډېر ګړي (جمع) پښتانه paṣtāna ځځه هغه مهال ورغلی دی. د چندراګوپتا او آشوکا یا په بله وینا د موریا کورنۍ واکمنۍ پېر هم د هندوآریانې ژبو د منځنۍ پېر لومړۍ پېړۍ بلل کېږي او په دې توګه ښایي پرپښتو باندې هندي اغېزمنې له همدغه مهاله را پیل شوي وي چې د منځني پېر تر پایه (۷ز) پورې یې له پراکرېتونو ځخه آره اخېستې اوله هغه راهیسې یې په نوي پېرکې له اوسنیو او بیاهم شمال لویدیزو هغو، لکه پنجابۍ، لهندا، هندکو او اردو ځخه، بل خوا که د پښتو ساکیوالی په پام کې ونیسو، نو پښتو ترهندي (موریایي) نوي کلن مهال ۳۲۲-۲۷۳م ز) راوروسته دواکمنو ژبه پاتې شوې، ځکه راوروسته ساکان پر شمال لویدیز هندواکمن شوي چې د هندوساکاي Indo-seythia" په نامه یې له هماغې درېمې مخزیږدي پېړۍ تر دویمې زېږدي پېړۍ پنځه سوه کاله اوږدوالی موندلی دی.

په دغه اړه د جېلم په ډېر لیك کې د ساکي واکمن یا ګورنر نوم (ځښتنه) یو په زړه پورې لاسوند کېدای شي.

(بېلي ۱۰۹، ۱۳۱، ظفر ۲۳۶، غبار ۴۸ مخ)

۴-۱-۹: دلته دا خبره هم د پام وړ ابسي چې هغه مهال د واکمنوساکو ژبه، که خوتني وه، یا پښتو یا بله منځنۍ ساکي ژبه، په هېڅ توګه د هندي پراکرېتو له اوږدې پیاوړي ادبي – فرهنګي مخینې سره د سیالۍ جوګه نه شوه کېدای. ان په نوي "اسلامي" پېر کې د پښتنو له واکمنیو سره سره پښتو د دوتر او دربار پوړۍ تر لاسه نه شوه کړای. سکندرلودي له بنې ورځې د هېته اړنه و وتلی چې په ټول هندوستان کې دیوه پارسي لیکونکي هندوځرك ولګوي او بیا چې تري پوښتي، پارسي یې ځنګه زده کړې، هغه ورته وایي، پارسي خو په هره توګه، مګر دلته تر پارسۍ یوه بله ډېره ګرانه ژبه هم شته چې (نان) ته "ډوډۍ" وایي... لودي واکمن ورته خندلي چې

"دا خو زما خپله ژبه ده او راباندې ګرانه ده، پام چې بد یې ونه وایې!".

(دوکتور جاوېد ډ تاریخ داودي او مرآت سکندري داخخوله مخې)

په خپله پښتونخوا کې لږ تر لږه له اتلسمې پېړۍ راهیسې سیاسي، اقتصادي او ان تر ډېره کچه فرهنګي واك و ځواك له پښتنو سره وو، خو د پارسۍ په وړاندې یې ژبه بیا هم رامیدان ته نه شوه کړای او د اغېزمنې په راکړه ورکړه کې پرې پارسي برلاسې پاتې شوه. احمد شاه بابا هم د سکندر لودي غوندې له ښې ورځې پارسي ویونکیوته نه و اړوتی او د دې لپاره چې په راتلونکې کې پښتانه میرزایان د هغو ځایناستي کړي، شهزاده سلیمان یې د ځایناستي (ولیعهد) په توګه پیرمحمد کاکړ ته کښېناوه چې پښتو لیك ولوست ورزده کړي. پوهاند تړی په دغه شننه کې بیاهم درې ګونې آریایي او آریاني پېرونه په پام کې نه نیسي او پښتو د هندي اغېز په لاسوند دوه نیم زره کلنه او لاریاته زړه ښیي او چې لومړی کېدون (احتمال) راڅېنګ کړي، نو هماغه ناسم زبات شوی الواك پام وړګني چې د ترومپ له خوا وړاندې شوی دی، بې له دې چې د دارمستېتر انکار نه منونکې فونولوجیکي، مورفولوجیکي او اتېمولوجیکي لاسوندونه، دکونه او دلیلونه په پام کې راوړي، پاتې لادراوروسته نومیالیوایرانیستانو، ګایګر، مورګنستیرني او نورو هغه. آیا داخبره نوره د خندا وړنه ده چې ووایو، اتوم نه شنل کېدونکی دی؟

نوره پښتو د هندیوالي او منځدریځوالي له شخړو او جړوراوتلې او آریانیوالي او بیا (شمال ختیز آریانیوالي) یې د نړۍ فرهنګو نو ته لاره موندلې ده، د ساري په توګه همدا چې په برېتانیکاکې "پښتو pashto" ویې ولولې، وارله واره به دې داغوندله ترسترګو شي: "پښتو یوه ختیزه ایراني ژبه ده. "په دې کې هم اړنګ بړنګ

نښه چې پښتو د یوې ځانساتې ژبې په توګه تربلې هرې خپلوانې ژبې ګډې آریایي (هندوآریاني) ځانګړتیاوې ښه تراساتلې. مګر هغه ګډې ځانګړتیاوې او پاتمرې له راوروسته وبله اغېزوسره کوروټ او سکوټ توپیر لري او د تاریخي او پرتلیزې ژپوهنې په رڼا کې له ورایه پېژندل کېږي او توپیرېږي.

۴-۱-۱۰: د پښتو د فرهنګي سیالۍ کمزوري او وروسته والی د خپلې وروسته پاتې ویونکې ټولنې پایله ده، د دې جرړه باید په اړوند ټولنیز بشپړتیایي بهیر کې ویلټو او هغه دا چې د یو لړ تاریخي- جغرافیایي او نورو لاملونو پر بنسټ پښتني ټولنه په یوه وروسته پاتې مخ ځمکواکي ټولنپېر (فورماسیون) "ټبرني پېر" کې ځنډېدلې پاتې او یوه برخه یې چې ځمکواکي (فیوډالي) هغه ته رسېدلې، بیا هم تر ډېره پښه پر ځای پاتې شوې. نو په دې توګه پښتانه له هندي او اریاني (پارسي) خپلوانو او ګاونډیانو سره په هېڅ ډګر کې د سیالۍ جوګه شوي نه دي او په ټولیز ډول ترې لږ تر لږه یو ټولنیز پړاو وروسته دي. له ټبرني ژوند توګې سره کوچیاني او شپني هغه د دې لامل شوې چې پښتانه بشپړتیایي پړاوونه ورو ورو له سره تېرکړي، همدغه ځانګړتیا یې له سکه ټبرونو سره د اړوندۍ یو بل لاسوند بلل کېدای شي. ځکه ساکان کټ مټ د پښتنو غوندې توریالي او جنګیالي او ورسره ورسره پوونده او کوچیان پاتې شوي، لکه څنګه یې چې د "سکه" نوم یوه مانا هم "کوچی" اټکل شوې او تاریخپوهانو هم زیاتره د "آریاني کوچیانو "Iranian nomads" په نامه یاد کړي دي. د واك وځواك او ژوند وژواك ډګر یې تر نورو څلورو آریاني ټبرونو هم زیات ارت و بیرت و اوځغل ډګر یې مخ پر لویدیځ تر بین النهرین، شام و فلسطین او ان تر مصره رسېده، مخ پر شمال تر ققفاز او سویلي روسیې، مخ پر سوېل تر عربي سمندرګي او مخ پر ختیځ د هند نیمې وچې تر

منځنیولتــو پــورې. پــه دې تــوګه یــې زیــاتره تــر خپــل آرتاټوبــې "آریانـاویجې" بهرسوبې کړې او لویــې لویــې ټولواکمنــۍ یـې رامنځتـه کړې دي او خپـل ټاټوبي تـه هغـه مـهال راسـتانه شـوي چـې خپلـو آریـاني تربورانـو (پارتیــانو یــا پارسـیانو) او یــا هــم یونانیــانو او هندیــانو پــرې رادانګلي دي. خو لکه څنګه چـې پـه خپلـو اړونـدو څپرکـو کـې پـرې رڼا اچول شوې، لـه ټولولوړوځوړوسـره سره یـې لـږ تـر لـږه لـه شـپږمې زېږدي پېړۍ راهیسـې، کلـه پـه شـمال (باختریانـا) او کلـه پـه سـویل (سیســتان) کـې د ټولواکمنیـو منــځي (مرکزونــه) جوړکـړي او پــه دې ډول د افغــاني دولــت آرو ربنتینــي بنســټوال بلــل شــوي دي، وروســې یــې خپــل ســکه زوی زات کوشــانیان او یفتــلان (یپتــلان) ځایناســتي شــوي دي او پــه پـای کـې یې هم سـکه نمسـیان "پښتانـه".

کــه سـرې د پښتنــو ټولنـیز تــاریخ د نــوې پرمختللــې ټولنپوهنــې پــه رڼا کــې تـر څېړنــې شنني لاتــدې ونیســي، دا بــاور رامنځتــه کــوي چــې پښتنـو هـم د خپلـو سـکه نیکونـو پـه څېر څو څلـه تـر څمکواکـې او ښاري ژوندتـوګې لوړتیــا موندلـې او بیــا د یــو لــږ تــاړاکونو، لکـــه چنګیـزي هغـو لـه لاملـه بېرتـه کـوچیـاني ژوندتـوګې تـه راسـتانه شـوي دي (نومیــالی ۷۵-۸۰ مــخ)

۴-۱-۱۱: د پښتــو د مخینــې ورتــه څرك د پروفیســور مکــنزي پــه دې وروسته څرګندونو کـې هـم لـګېږي چـې وايـي:

"پښتولـه ښایسـته ډېر مـهال راهیسـې د ختـیزې آریانـا د یــوې خـورا غـورې ژبـې پـه تـوګه پـېژنــدل شـوې ده. هښنــده ویــې پــانګه یــې یــوه داسـې لرغونپوهنـیز (آرکیـالوجیك) موزیـم تـه ورتـه ده، چــې تــر غــبرګو زریــو یــې زیــات پــه ببلابېلــو پېرونــو کــې د زړې آریــاني زېرمــې د راخوندیینـې تـر څنـګه نـو رغـاویوویونو تـه هـم خپلـه څولـۍ پرانېسـتې پـرې ایـښې او ورسـره ورسـره یـې لـه یـو شـمېر ژبـو څخـه پورویونـه (مستعار او دخیــل لغـات) هـم پـه خپلـه ویـې پـانګه کـې راګډ کـړي دي،

په پښتو کې تر ټولو پخواني پوروييوته له يوناني څخه راغلي چې په دريمه مخزېږ دي پېړي کې د يونانيانو له خوا د باکتريا د نيواك تر مهاله پرشاراځي. د بېلګې په توګه لکه مېچن mečan چې پخوانی بڼه يې تيك هماغې زماني ته رسي چې kh لايوساييز k غږ و او يوناني اره يې mēkhanē وه، يا مچنوغزه mačenoγza چې بنايي له manganika (عربي منجنيق) څخه يې سرچينه اخېستې وي... "مرغلره" (مرواريد) هم کېدای شي يا له يوناني mrgaritēs سره اړيکي ولري او يا له زړې پارسي -margárītā* سره اړيکي ولري، يا هم راوروسته له يوې پارتي يا سوغدي بڼې څخه پښتو ته رانتوتې وي" (مکنزي ۵۴۹ مخ). انګريزي... ماشين machine له لاتين <mechānicus او بيا له يوناني mēkhanikos څخه اره اخلي. (کولينز ډيکشنري ۹۵۶ مخ).

په هره توګه که پښتو دوه -دوه نيم زره کاله پخوا په ګړدودي پړاو کې وه او که خپلواك دريځ يې په برخه و، خو دا مانا نه لري چې د اوسني پښتو بڼه به يې درلوده او هرو به په همدې نامه "پښتو" يادېده او ويونکي هم پښتانه، لکه څنګه چې وويل شول، دغې ژبې هغه مهال په زاړه ارياني پېر اړه درلوده چې د نورو خپلوانو ژبو غوندې يې له ۵۰۰-۶۰۰ مخزېږدې تر دريمې زېږدې پېړۍ اوږدوالی موندلی، بيا يې له نورو سره همزمان منځني پېر تر شا پرې ايښی او د اسلام د منځته راتګ په شاوخوا کې يې نومهالي پېر راپيل کړی دی. که يې څه هم ددغو درو واړو پېرونو (مرحلو، دورو) بريد ليکې سره هاغومره د نومېرنې (تشخيص) وړنه دي، لکه څنګه چې د نورو خپلوانو، په تېره د پارسي هغه سره په جوتو نښېو ليکونو نومېرل شوي دي. خو بيا هم په دغه برخه کې راسره پرتليز اټکلونه مرسته کولای شي. دغې ربړې پښتو پوهان دې پايلې ته رسولي چې د پښتو ژبې بيخرته ارکاييزم (ګرامري او لغوي

لرغونوالی) په تېره د يو لړ ځانساتو او ګوښې پاتې شويو ګړدودو (وزيري، بنوڅي، خروټي، مروتي...) په پام کې نيولو سره، اوسنی پښتو لاتراوسه د درو واړو(زړو، منځنيو او اوسنيو) پړاونو ډېر څه ساتلي دي ـ ونډې خو يې له هغې د مورګن ستيرنې خبره تر زاړه پېره پرشا ځي. (سکېرو ۵۸۴ مخ)

## ۴-۲: د هخامنشي "پارسي" مېخي ډبرليکونو د را پښتو کولو بڅايه هڅې

۴-۲-۱: دا خبره د ژبپوهنې او بيا تاريخي ژبپوهنې له آرونو سره سمون نه شي درلوداى چې د لرغونپالنې (قدامت پسندی) له مخې دا دعوا رامخته شي چې پښتو يوه دوه نيم زره کلنه ژبه ده او بيا داروانښاد استاد حبيبي غوندې د بېستون ډبرليك يا نور پښتو وانګېرو. دا سمه ده چې ددغه ډبرليك او نورو هخامنشي ډبرليکونو اړونده "زړه پارسي" ژبه تر بلې هرې خپلوانې ژبې او ان پخپله تر اوسنی پارسی له پښتو سره ډېر نژدېوالی لري. خو که د پښتو د زاړه پېرکوم ډبرليك رابرسېره شي، هر هخامنشي ډبرليك ته له نژدېوالي او ورتوالي سره سره به بيا هم د يوې جلا ژبې ښکارندويي کوي او هرومرو به د پښتو دنيا په توګه "اوستا" او خپلې "ساکي" مورينې ته تر پارسي مورينې زياته ورته او نژدې وي. په دې کې هم اړنګ برنګ نه دی پاتې چې د يوې کورنی ژبې هر څومره لرغونې پېرته ورنژدې کېږي، يا په بله وينا هر څومره پرشاځي، هماغومره يې همرنګي سره زياتوالی مومي، تر څو ګرد سره يوې ګډې مورينې ته سره ورسي. دا چې پښتو په نابېره توګه له ټولې ځانساتی (محافظه کاری) سره سره په غږيزه (فونوجيکي) برخه کې ځينې اوښتونونه موندلي. لکه پخوانی سرغږ "ب" چې (و) ته اوښتې او همزمان يې پخوانی سرغږ (و)، يا په بله وينا (v) هم خوندي ساتلی اويا يې هم پر (ب) او (ګ) اړولی دی (۴-۶-۲-۷)، نو زموږ دوديزو

فیلالوجیستانو چې په کوم پارسي مېخي ډبرلیك کې، د ساري په توګه a vaina "هغه ولید" لوستی، نوله تکه یې له پښتو وسمهال "هغه ویني" سره تر پارسي "اومیبیند" نژدې انګېرلی دی. خو له بله پلوه یې a bara "هغه راوړ" یا a bava "وشو، شوی دی" هم پښتو ګڼلي چې له هماغه زاړه پېره، یا لږ تر لږه له منځنۍ پېر راهیسې یې پښتو دو دوارو سرب ګانو په وراندې (و-) لرلی دی، لکه په "وړل"، "راوړل" او "ول" (و، وو، وم،....) کې. ډاکتر ګلجنان ظریف (پروېش شاهین ۳۵ مخ) abara "راوړه، راکړه" abava به وه "مانا کړی او استاد پروېش شاهین د لومړی (a) په برخه کې داهم زیاتوي: "ډاکترصاحب دا روښانه کړې ده چې الف مخکې ولې راغي او په وینا کې څنګه پرېوځي "بېله دې چې دواړه له کوم ځانګوال (آریانیست) څخه وپوښتي، دلته د (a) دنده څه ده اویا ولې پرېوځي؟ a دلته د اوستا اوهندي په څېر یو نغوتنو مځری "دا" دی او د "دی، هغه" پر ځای راغي. (براندنشتاین ۱۰۰مخ).

استاد پروېش شاهین د ظریف او مشر استادحبیبي غونډې د یوه اما تور ژبپوه په توګه له مخه پښتانه په دردیانو (ګندهاریانو) تړل، خو را وروسته یې د هخامنشي میخي ډبرلیکونو په را خپلونه کې د استاد حبیبي او ډاکتر ظریف د ملاتړ په پلمه د هغو د "سومریوالی" پخلی کړی دی او په ترڅ کې یې پارتیان هم ګڼلي! لکه څنګه یې چې په خپله یوه لیکنه (ګندهارا ۲۹-۳۵ مخ) کې څرګنده کړې ده: "... خوځن بیا ډېر خوشاله یم چې د ننګیالی خاورې یو غیرتي او ولسپال زوی محترم ډاکتر ګل جنان ظریف یو ډېر غوره ښه او باوري کتاب "د پښتو مېخمري ډېپونه" له پښبور څخه چاپ کړ چې پکې په هغو مېخي لیکونو کې د پښتو معلومولو کارشوي دی چې د داریاوس د پاکستان پښتو ډېپونه ۵ (ستنې)، د سویز ډیپونه، نقش رستم ډیپونه د پرسي پولیس ډیپونه، د

پاکستان لنډ دیپونه او دالونډ ډیپونه دي... د ډاکټر صاحب ددې لیك یوه غټه ګټه دا وه چې سپیناوی داهم وشو چې کومو شکمنو خلکو د خدای بښلي لوی عالم استاد عبدالحی حبیبي د مېخې لیك په پښتو بېځایه شك کاوه، نو هغه خو فقط درې جملې او کرښې وې او ګران محقق ډاکټر ګل جنان خو ورته پوره پنډ کتاب مخې ته کېښوده..."

استاد پروېش شاهین ترلوی استاد او کمکي استاد دواړو یوګام پرمخ تللی، د نوموړو ډبرلیکونو د پارسي متن پرځای یې عیلامي او بابلي هغه هم پښتو انګېرلی، ځکه زیاتره په همدغو درو ژبو کښل شوي دي او شاهین صاحب یې بیا نا پارسي هغه "سومري" بللی او پښتانه یې هم سومریان چې مېزوپوتامینا (بین النهرین) ته له کوم ځایه رالېږدېدلي وو!

امېل بنوېنېست (فرهادي ۵ مخ) په دغه اړه زیاتوي چې زړه پارسي د هخامنشیانو کومه رسمي ژبه نه وه او یوازې یې خپلې سوبې پرې د ډبرلیکونو په وسیله کښلې، ورځنۍ دوترې چارې یې په سامي (آرامي) ژبه ترسره کولې، هغه هم په مېخي لیك چې له آره د بلې سامي ژبې "اکادي" لیکنی سیستم و.

هر ګوره د پښتنو ساکي نیکونو هم پرخپل وار پر نوموړې سامي سیمه ان تر فلسطینه د اوومې او اتمې مخزېږدې پېړۍ تر منځ کلونه کلونه واکمني چلولې ده، نو کېدای شي، شاهین صاحب دلته ساکان له سومریانو سره ګډ کړي یا سره یو ګڼلي وي. (۱-۴-۵-۲)

د استاد شاهین بله زیاتونه دا چې د غو پېریوته یې یو یو صفر بل هم ورسرباري کړي او زرۍ یې ترې جوړې کړې دي، په بله وینا د پښتو او پښتنو تاریخ یې هماغومره زرۍ پرشا وړی دی. بیا لیکي: "... نه خو موږ د عراق، مصر او یونان په لور دورکې د لتون نظر کړی دی او نه مو د چین، کوریا، نیپال او نورو بودېزموالو

هېوادونو پر لوري منډه ترړه وکړه. نه مو فلسطين، شام او بحرين ولټوه او نه مو سريلنکا او برما د خپل تحقيق د غورځنګ لپاره غوره کړله. زه دا ځايونه ځکه يادوم چې همدا ځايونه د زړې پښتو د نښو نښانو سيمې او ځمکې وې...' (هماغه دوه مياشتنی ۳۰ مخ)

د تاريخ او لرغونپوهنې او له دې سره سره د ژبپوهنې او فيلالوجی لوی داوه ګير استاد په خپلو هېښنده څرګندونو د نړۍ ټولو لرغونپوهانو، تاريخپوهانو، ځمکپوهانو او بيا ختيځپوهانو او آريانپوهانو ته يو سخت چلنج ورکړی چې که په نړۍ کې تر ټولو لرغونې ژبه او توکم سهی کېدای شي، نو له پښتنې ژبتوکميزې (اتنولينګويستکي) ډلې څخه نور هېڅوك ميدان وړای نه شي. که استاد حبيبي، ډاکټر پالوال، ډاکټر ظريف... يوازې پښتنې تاريخ تر ټولو لرغونې زباتول غواړي، استاد شاهين يې پردې سربېره جغرافيا هم تر ټولې اسلامي او بودايي نړۍ تر وروستيو پولو غځول غواړي!

۴-۲-۲- دا دومره پردې تاريخونه او جغرافياوې او بيا ژبې او ډبرليکونه راخپلول، نړۍ پرځان خندول دي، رښتينې پوهان هېڅکله دومره ببخرته او بېځايه ساتې باتې نه وهي او دومره د خپل توکم و ژبې په مينه کې ساډوبې لېونې کېږي نه!

*زما دا اوسنی څېړنه د همداسې ولوليزو (احساساتي) او ناپوهنيزو او بيا ناڅانګيزو (غير مسلکي) او دوديزو ليکنو څېړنو په وړاندې يو غبرګون دی او تر هر څه مخکې مې دا هڅه کړې چې پښتو او پښتانه د ژبپوهنې او په ځانګړي ډول، آرياني فيلالوجی په اډانه کې دننه تر څېړنې او شتنې لاندې ونيسم. څه له پاسه دوه پېړيزو هندو آرياني او بيا آرياني "ايراني" څېړنو پلټنو او په تېره د دارمستېټر، ګايګر،*

مورګنستیرنې. بثوبنبست. ببلی. ستن کونو، راینبلت، براندنشتاین. مایرهوفر. مکنزي. کیفر، لازار. ګېرشبویچ، ابایف. دو ریانکوف ، هومبخ، الفن باین... غوندې د وسمهالو (معاصرو) ساکي پوهانو پښتو پوهانو، اوستا پوهانو، پارسي پوهانو... د څېړنو د پایلو په رڼا کې دا را زباته شوه چې پښتو او پښتانه د آریانا یو شمال ختیزه ژبتوکمیزه ډله ده او په دوه کونو شمال ختیزو "اوستایي او ساکي" ډلو کې بیا په دویمې هغې اړه لري. په دې توګه پښتانه له خپلې پښتو سره له زاړه آریاني پېره تراوسني افغاني پېره لر، تر لږه دوه نیم زره کاله د همدې ویاړلي هېوادله لومړنیو او آرو (بومي) ژبپوتو کمیزو ډلو تېلوڅخه شمېرل کېږي او د هندي پکهت او یوناني پکتویس پرڅای یې له پرثوا parsawā-* "پښتو "او پرثوانه -parswāna "پښتون" آره اخېستې ده.داهم څه پیغور نه ګڼل کېږي، چې له پارسي، پارتي او پهلوي سره یې دغه آره ګډه ده. (۴-۲-۱) او داماناهم نه لري چې پښتو دې له پارسي راز بېږدلې وي او یا دې د پارتي او یا پهلوي خور اوسي، لکه څنګه چې ډاکټر پالوال یې له ویونکیو سره یو ځای د پارتیوالي د زبات لپاره درې تږکیز پنډ کتاب کښلی دی! له ساکي سره د پښتو او پښتنو داړوندي لپاره د فونېتیکي، اتېمولوجیکي او لېکزیکي همرنګیو تر څنګه "سکه" ویی او بې شمېره ځاینومونه او تېرنومونه (۴-۱۲-۲-، ۴-۱۳-۱۰ ...)،هم پوره څرګندویي کولای شي.

هماغه خبره ده "چې څو د رښتیاوو وار راځي، دروغو به کلي وران کړي وي" او یا دا چې "له کلي زه راغلم او له نرخه ته خبریې!" زموږ اماتورو ژبپوهانو او دودیزو فیلالوجیستانو زموږ د عادي پښتنو زړونه او ذهنونه په خپلو ناژبپوهنیزو او ناژبتوکمپوهنیزو (اتنولېنګوېستیکي) ببولالو او ساتوباتو دومره ډک کړي دي چې د هغو سمونو او کره کونو ته نورځای نه لري. که داسې نه وای، ولې به

بي بي سي پښتو خپرونې درې- څلورکاله مخکې د ډاکټر ګلجنان ظريف د "مېخمري ډبرليکونو" غونډ کتاب څو څو واره خپرولای او کله چې ما د ځانګې مشرې "صفيې حليم" ته د هغو ټولو اپلتو د علمي رد وړانديز وکړ، ښه پرې ونه لګېده، ځکه چې هغې ته يې هم د يوې پښتنې په توګه د پروېش شاهين او نورو بې شمېرو اورېدونکيو او لوستونکيو غوندې خوند ورکړی و او نه يې غوښتل زه يې د "لرغونپالنې" ولولې له خرخشې سره ولړم!

## ۴-۳: د پکهت او پکتويس زړه بولاله

۴-۳-۱: له پښتو ن سره د هندي پکهت Pakht او يوناني پکتويس Παχτυεζ داړوندي يوه پېژيزه ببولاله هم زموږ د دوديزو او اماتورو فېلالوجېستانو په خوله او زړه کې داسې راپرېوتې چې د هخامنشي "پارسي" مېخي ډبرليکونو غوندې يې د خپلو اړوندو ليکنو څېړنو سرليکه (سرلوحه) ګرځولې او د چاخبره کورټه اوسکوټه يې پريوې "سپېڅلي ګروهې" اوښتې ده. د خواشينې خبره لا دا چې پوهاند تږي "(پښتانه ۵۰ _ ۵۱ مخ) د نوی سپېيزې (descriptive) ژبپوهنې او دوست شينواري (پښتانه څوک دي؟ ۳۴-۳۵مخ) د آرياني فېلالوجي د اکادميك ځانګوال په توګه هم د هغې پخلی کړی او علمي زبات شوې -parswāna* آره يې بې له کوم ژبپوهنيز لاسونده رد کړې ده، ډاکټرپالوال په خپل درې ټوکيز کتاب (د پښتنو نوی پخوانی تاريخ) کې که څه هم دغې وروستنۍ اېمولوجۍ ته غاړه ايښې او ان د پښتنو ساکيوالی يې هم منلی دی، خو پښتانه يې د پارتيانو په توګه په سېکتيانو (ساکانو) پورې تړلي، بې له دې چې له ټولمنلي آرياني ژبوېش او تاريخي -جغرافيايي ډلبندي څخه ځان خبر کړي، بلکې له پارتي نامه "پرثوا" څخه يې پرثانه اوله پرثانه بيا ډبرګړی "پښتانه" جوړ کړی دی(۲۷مخ). ويلهلم ګايګر لا پر۱۹۰۴ زکال د آرياني فيلالوجی په

دویم ایډیشن کې لیکلي وو: "دا چې لاسن Lassen هڅه کړې، د هېرودتس "پکتویس" پښتو کړي، د اندېښنې وړ برېښي" (نوموړی اثر ۱-۲ ټوك ۲۰۳ مخ) ورپسې مورګنستیرنې د ګایګر د شاګرد په توګه پر ۱۹۲۶ ز کال په پښتو آر پوهه (EVP)کې چې ددوکتورا تېزس یې و او کال وروسته یې په وسلو کې له چاپه راوکیښن، همدغه یاد شوی اټکل د جکسن په اخځ (د کېمبریج انډیا تاریخ، ۱ټوك ۳۳۹ مخ) په کلکه رد کړی او لیکلي یې دي: "د جکسن له خوا د هېرودتس Hirodotus له پکتویس ΠαχΤυες (د تېرنوم په توګه) او پکتویکې paktuike (دځاینوم په توګه) د "پښتون" (او "پښتونخوا") د انډولونو په توګه اړنګمن برېښي. ځکه د سکالو (مسئالی) تاریخي او جغرافیایي اړخ روښانه نه دی.

پښتو (بنسټ ṣ̌t) چې په (*xšt, ršt) پسې ځي، له ۵۰۰ مخزېږدي یوناني xt سره په خورا ندرت سمون موندلای شي،..."همدارنګه (په برن پوهنتون کې د استاد مورګن ستیر نې لکچر (۲۰-۱۱-۱۹۶۷) د پښتو پخوانی کېدونې بڼه <parsawā* له یوناني pārsa,parsu(a), pārsáva, parsioi, parsuētai سره سمون درلودای شي چې د زړې پارسی په ډبرلیکو کې یې هم څرك لګي، مورګن ستیرنې د تاریخي غړپوهنې او اتمولوجی پر بنسټ له اوستا پرشتا -paršta (شا) او سانسکرېت پرشتها -pṛṣ̌tha (شا ، اوچت، لوړتیا) سره د پښتون (h)pṛstānā* (غرني وګړي یا اوچت او جوت وګړي؟) نژدېوالی کېدونی ښيي (هماغه اثر). همدارنګه دغه پروفیسر د۱۹۷۵ په یاده شوې لیکنه کې د بطلیموس پر "پرسویتي" Παζδιοι د پخوا غونډې بیا ټینګار کړی چې همدا پښتون یا پښتانه ترې راوتلای شي؛ ځکه بطلمیوس لیکي چې دغه وګړي له اراکوزیا او هېلمند څخه د سلیمان غرونو او غزني -کابل خوا ته پراختیا مومي. همدارنګه سکېرو د مورګن ستیرنې د اخځ له مخې لیکلي دي:

"دا چې پښتانه په اوسني سیمه کې له کله راهیسې اوسي، موږ نه پوهېږو. د پښتو paštō نوم ښایي له parsauh* یا له parsa/u او روستاړی āw- څخه منځته راغلی وي. لکه په pārsa* کې چې د بېلابېلو منځنیو آریاني ژبو له ژبنیو نومونو سره ښلول شوی دی (سکېرو ۳۸۴ مخ) (همدارنګه ۴-۴-۲) د پښتو او پښتون د سم فونېتیکي او اتمولوجیکي کېدون په اړه د مورګن ستیرنې د څرګندونو پایله په دې ډول لنډون مومي: د پښتو پخوانی بڼه parswā* او د پښتون دا parswāna*ده چې د بطلیموس ptolemaeus له parsuētai سره اړخ لګوي (مورګن ستیرن، پښتو اتمولوجیکه ویي پانګه ۶۱ مخ او د ۱۹۷۵ کال لیکنه). استاد په دې لړکې د پښتون هندي انډول پټهان paṭhān د شمال لویدیز پراکرېټ په یوه زړه بڼه کې دپښتون له ډېرګړې بڼې "پښتانه" څخه د پورویي په توګه راخوندی شوی بللی دی.

ښاغلي نومیالي (۳۶مخ) یوازینی پښتون لیکوال دی، هغه هم د ژبپوه په توګه نه، بلکې دیوه ټولنپوه په توګه هم د پټهان او هم د پښتون په اړه اړوند ژبپوهنیز الواک منلی. که څه هم د "پرشیا" په برخه کې دااټکل کوي چې پښتانه ګوندي د پارسي امپراتورۍ د لاسکتویو په توګه په ورته نامه یادشوي دي!

پروفیسر مکنزي په داسې حال کې چې پښتو paxto له -parsawā* او پښتون paxtún له -parswāna * څخه منځته راغلي ګڼي، د پارسیانو (persians) اوپارتیانو (parthians) له زړو نومونو سره یې اړیکي هم کېدونی انګېري چې پرله پسې (بالترتیب) -pārsa (<?.-parswa*) او پرثوه -Parθawa اټکلېدای شي. (مکنزي ۵۴۹ مخ) برانشتاین (۲مخ) پارسه Pārsa پارسی Perser" مانا کړي‌دي.چې پارسه یې بیا پرخپل وارد "Parsuaš" پارس" اړیکنوم (نسبتي) نوم بللی دی. ناویلې دې پاتې نه وي چې د "پهلوي" پخوانی بڼه هم "پرثوي" ښوول شوې چې په پرثوه یې اړه درلوده او پر ثوه دایران د اوسني خراسان استوګنو وګړوته ویل کېده (د

استاد ژارژردارله لکچرو څخه، غبار، افغانستان به یکنظر ۶۴مخ) پهلوا"
په سیستان کې د پارتي او ساکي پاتې شونو یوه ګډوله خلك ښوولـي او
دسیت وپارت" په نامه یې هم یادکړي دي، په دې مانا چې د پهلو او پهلوي
نومونو له همدغه نامه څخه آره اخیستې ده. د غبارپه اند همدغه وګړي تر
هېلمند او کندهار او بیا وروسته تر هنده خپاره شوي دي. په دې توګه دا یو
بل کېدون دی چې پښتو او پښتون نومونه او نومولي دې هم له دغه وګړ
ډلي سره اړوندي ولري، ځکه لـه فونولوجیکي پلوه ورسره پوره سمون
خوري. له دې سره د کېږو (۷۲مخ) الواك هم رهښتیا کېږي. په دې توګه
پښتو له پارسی، پارتی او پهلوی سره ګډه ویېزه آره لري او دایې د ژبنی
او تېرنی خپلوی یو بل لاسوند هم دی. پکتویس د پورتنیو ژبپوهنیزو آرونو
ترڅنګه تاریخي او جغرافیایي زبات هم نه لري.

۴-۳-۲: کوم تېر یا وګړنی ډلـه چـي هـېرودت هغـه مـهال (۴۸۶-
۴۲۶ م ز) یـاده کـړې او د هغـوي مېړانـه او جنګیـالیتوب یـې سـتایلی
دي، تـر اوسـه یـې د ځای ځایـګی څرك نـه دی کـښل شـوی او ان
بطلیموس (۴-۲-۱) هم نـه دی یـادکړی، بلکې پـر ځای یـې پرسـویتي
کارولی دی چې د شمال او بیا سوېل خوا تـه یـو تېر و. پـه دې تـوګه کـه
پښتانـه لیکـوال او تـاریخوال یـې بیـا پکتویـس هـم د پښتنـو مخینیـان
او نیکونـه انـګېري، نـو د چـا خـبره پـه لـوی لاس پښتنـي تـاریخ او
شـتوالی لـه پوښتنې او خرخشـې سـره مخـامخوي او د پوهـاند جـلال
الدیـن صدیقـی یـا صدیـق فرهنـګ غونـدې ګومـارلیو لنډاندوتـه دا
پلمـه برابـروي چـې پښتانـه " بـهرني کـډوال " وبولـي (د صدیقـی او
تـاجیك رحمـانوف " تـاریخ نویـن فغانسـتان " کـابل پوهنتـون ۱۹۸۳ او
د صدیـق فرهنـګ "افغانسـتان در پنـج قـرن اخـیر" د پوهـاند محمـد
حسـن کـاکړ او حبیـب الله رفیـع لـه اړونـدو کـره کتنـو سـره، رفیـع:
کتابونـه دریابونـه "۲۳۹-۲۴۸ مخونـه، پـېښور ۱۹۹۷).

لـه دې کبلـه د پښتـو او پښتنـو د سـاکي والـي الـواک چـې لومړنـی نوښتـګر یـې اسـتاد مـورګن سـتيرنې دی، يـو روښانـه ژبپوهنـيزاو تاريخي –جغرافيـايي شاليد (بيـك ګرونډ) درلـوداى شي.

لـه پښتـون سـره دريګويـدا د پکـهت pakht(کـهزاد ۹۱-۹۸مـخ) ژبپوهنيز زبـات هم ناشونی‌دی.

ارنـالد جـوزف تاينبـي لـه پښتـون يـا پښتنـو سـره د هـېرودت پکتويـس د نـاړوندي پـه اړه د ژبپوهـانو يـاد شـوی دليـل پـه هغـه تـاريخي وينـاکې تـاييد کـړی و چـې پـر ۱۹۶۰ کـال يـې پـه کـابل پوهنتـون او پوهنـې ننداري کـې کـړې وه، هـو کلـه يـې چـې هغـه وينـا دری کالـه وروسـته " د جمنااو اکسـوس ترمنـځ " کتـاب کـې چـاپ کـړه، هغـه ژبپوهـنيز دليـل يـې ورسره نـه ويـادکړی، حـال دا چـې پـه المـاني ايډيشـن کـې يـې بېرتـه هماغـه کـړې خبره راغـبرګه کـړه، ځکـه داړونـد ژبـاړونکي لـه سريزې را جوتـېږي چـې پـه ځينـو برخـو کـې يـې لـه تاينبـي څخـه څرګندونـې غوښتـې وې او تـر دې چـې د کتـاب نـوم يـې هـم "رودونـه او بړېدونـه" تـه اړولـی و او پـه دې لـړ کـې يـې د پښتـون او پکتويـس پـه اړه دا غونډلـه زياتـه کـړېده: "د ژبپوهنـيزوآرونو لـه مخـې ددغـو دوو نومونـو اړونـدي کـېدون درلـوداى نـه شـي." د آرو انـګرېزي څرګندونو پـه لړکې (۴-۵ مـخ) يـې داسـې لولـو:

"د آريـاني ژبوکـوچيـاني نيواکـګرو يوسـيل چـې پـه اوومـه مخـزېږدې پـېړۍ کـې يـې د هېلمنـد نـاوه او پنجـاب لاتـدې کـړل، د يـادونې وړ دي، ځکـه يـو تېـر يـې لـه هماغـه پکتيـس pactyes سـره سـمون خوري، چـې د پخوانـي يونـاني تـاريخپوه هـېرودت Herodotus لـه خـوا يـې يادونـه شـوې ده. ايـا دغـه نـوم چـې لـه زاړه يونـاني اخـځه تـر مـوږ را رسـېدلی، لـه اوسـني نامـه pakhtuns (pathans) "سـره سـمون لـري؟ نـو کـه داسـې وي، دا مـوږ هغـه مـهالپېر تـه بيـايي چـې د اوسـنيو پښتنـو نيکونـه لومـړی ځل پـه هېلمنـد نـاوه کـې ځای پـر ځای شـوي وو."

ټاینبي یو بل ځای (۱۷۱مخ) د یوه یونانی ځمکپوه هېکټیوس Hecataeus داخځ له مخې د ملتان (سانسکریت Kasyapapura یونانی Kaspapyros) د جغرافیایي دریځ په برخه کې د هېرودت له خوا د یاد شوي (پکتویس یا پکتیانو) اړوند ټاټوبی "پکتویکې paktuike" د پښتنو هېواد pakhtun-Land په مانا راژباړي:

"... کسپاپیروس یو کښ وچي د منځنی اسیا کوچیانو په خپل نیواك کې راوړي و. د هېرودت له مخې هغه په پکتیانی (pactyan) او ږجه کې تیکاو درلود چې د پارسي ټولواکمنی د اراکوزیا ایالت پور (مستعار) نوم ګټل کېده."

ارنالد ټاینبي (۵مخ) ساکان بیا تراړوند کوچیانی نیواکګر سیل وروسته چې پکتویس (پښتانه) یې یو له ټبرونو څخه وو. دویمه آریانی ژبې کوچیانی سیل ګڼی چې په دویمه مخزېږي پېړۍ کې افغانستان ترخپلې ولکې لاندې راولې. بیا پسې زیاتوي چې ځینې ساکان د هېلمند سیند په درېکوټ (دلتا) کې مېشتېږي او هغه هم ددې لاسوند له مخې چې پخوانی زرنګیاSarangia یې تر اوسه په نامه "سیستان" یادېږي او بله برخه یې هغه ساك ګڼي چې د هند تر نیمې وچې وراندې ولاړل. په زړه پورې یې بیا دااټکل چې د بمبیې شاته د لوړو اوسېدونکي "مرهټیان" یې له پاتې شونیو څخه انګېرلې دي. مګر کوشانیان یې که څه هم له نږدې پایڅوړو څخه ګڼي، د ناسمي چیني نومونې "یوچې" تر اغېز لاندې رښتینی ځانیاستی زوزات نه دی ښوولی او تش همدومره یې ویلي دي چې تر ساکو وروسته یې دامو (اکسوس) له سوېلي غاړې د جمناتر لویدیزې غاړې ټولواکمنی چلوله.

دلته ټاینبي د ډېرو تاریخپوهانو په څېر زرنګیا (ساکستان) ته د ساکو راتګ دویمه پېړۍ ښوولې، حال دا چې دغلته یې د ټولواکمنی تر بنسټ ایښوونې څلور پېړۍ له مخه څرك لګېدلی او

هغــه دا چــې کــوروش (۵۳۰ م ز) یــې دملاتړمننــه کــړې وه. (دوســت، افغانســتان پـه اوېسـتا کــې ۵۳-۵۴ او ۵۸-۵۹ مــخ)

دغـه انګریـزي تاریخپوهـاند پـه دغـه برخـه کـې آریـاني ژبپوهنـې تـه مخـه نـه ده کـړې چـې داورجوتـه شـي، سـاکان لـه اوسـتا ژبـیـو تـر څنـګه دویـم بـاختري (ختـیز آریـاني) تېـرواو لـه کوشـانیانواو یپتلانـو نیولـې، تـر پامیریـانو او پښتنـو پـورې ورسـره نـژدې تریـن ژبتوکمـیز اړیکـې لـري، همـدا لامـل دی چـې د خپـل یـاد شـوي اثـر پـه ۵۸-۵۹ مـخ کـې زمـوږ خپلـو لنـډانديو تـاريخوالو د لمســې لپـاره د پښتنـو پـه اړه يـو ناسم انځور پـه دې ډول هـم وړانـدي کـوي:

"داچـې د پښتنـو ورنېکونـو څومـره پخـوا پرهندوکـښ بـاندې د را اوښتنـــې لاز را خپلـــه کـــړې او اوســـنيو ســـويلي مېشـــتځايونو تـــه رالېږدېدلـې دي، پتــه نــه لـګي، خـو زمـوږ اټكـل دادی چـې اوسـنی پښتانـه لـه هغـو نيواکـګرو ډلـو ټپلـو څخـه آره اخيسـتې چـې پښتـو ژبـه يـې زده کـړې اولـه دې سره يـې د سيمې کـوچيـاني ژونـد تـوګه هـم را خپلـه کـړې ده ..."

لکه څنګه چې زموږپـه دغـه څېړنـه کـې پـرې پـوره زبـاتو نـه وړانـدې شـول او بيـا پـه ځانـګړي ډول مـو د اسـتاد مورګنسـتيرنې هغـه پرېکړونـې ليدتـوګه وارزولـه چـې د پښتنـو لومـړی ټاټوبـی يـې د پـامير سيمه ښوولې او لـه منځنـۍ سـاکي ژبـې "ختنـۍ" سره يـې لـه دغـه ځايـه نـژدې اړيکـې ټينـګ کـړي وو. پـر ژبنيـو لاسـوندونو سربېره لـه زاړه آريـاني او بيـا لـه اوومـې مخـزېږدي تـر شـپږمې زېږدي پـورې لـه منځنـۍ اسـيا او ټول شـمال څخـه د افغانسـتان سوېل تـه را لېږديدلـي تېرونـه لـه ختـيزو آريانيـانو او بيـا سـاکي تېرونـو پرتـه تـاريخ هـم بـل ګزارش راکـولای نـه شـي. (همفريـز ۷۵مـخ او نـور اړونـد يـاد شـوي اخځونـه) لـه دی نـه هـم د غلجـي خلجـي ببولالـه جـوړېږي چـې پـر ژبپوهنـيز او اتنوګرافيك اسـتدلال سـربېره پـر منطقـي هغـه هـم نـه برابريـږي (۴-۱۳).

۴-۴: د "ښتانه = پرثانــه" نــوي ښبولالــه:

۴-۴-۱: ډاکټر عبدالـرازق پـالوال لـه هغـو بـې شـمېرو ليکوالـو او بيـا د نـوي اکـادميك ښتنـي پـښت لـه پوهـانو او ورسـره ورسـره وګرپوهـانو (انـتراپالوجېسـتانو "څخـه دی چـې پـه يـوه ډېسـاری لـوړ تـيراژي درې ټوکـيز پنډ کتـاب "د ښتنـو نـوی پخوانـی تـاريخ" کـې يـې د ښتنـو او پـه تـرخ کـې د ښتـو آره او ريـښه تـر څېړنـې او پلټنـې لاندې نيولې، هغـه هم لـه نوروسره پـه دې تـوپير چې هم زمـان يـې هم پـارتي او پارسـي بللـي او هـم سـاکې. ښاغلـی پـالوال لـه خپـل دغـه "نـوی تـېزس" سـره ټولـوزړو او نويـو کورنيـو او بـهرنيو څېړنکـارانو او پـه تـېره *لويديـزو اريانپوهـانو (Iranists) تـه يونـوی چېلنـج ورکـړی او داسـې يـې ورتـه پـه سترګو کـې ننـه ايسـتې دي چـې هغـوی دا پـېړی پـېړی او پـه ځانـګړې تـوګه دا وروسـتی (شـلمه) پـېړی هسـې خوشـې خـواری الاکـی کـړي او پـه ميلونـو ميلونـو، لا څه چـې پـه مليـاردو مليـاردو ډالـرو پونډو، مـارکو، فرانکـو، روبلـو، لـېرو... يـې د زاړه اريـانـي پـېر پنځګونـو ژبـو (اوسـتا، زړې پارسـی، زړې سـاکی، زړې مـادی او زړې پارتـی) لـه ډېـر وزمـو (فوسـيلونو) څخـه رانيولـې، تـر منځنيـو (خوتـن سـاکی)، بـاختری، پـهلوی يـا منځنـی پارسـی، الانـی يـا منځنـی اوسـېتی، پارتـی...) او زمـوږ د خوارکـی ښتـو پـه ګډون پـه سل ګونـو اوسنی ژبـې ټکـي پـر ټکـي کنيلـې، څېړلـې، شـنلې، ژبـاړلې او د چـاپ او خپرونـې ډګر تـه را ايسـتلي دي!*

خو، لکه څنګه چې د لمر پـه څېر ټولـې علمـي نـړۍ تـه ځرګنده ده، ټولـو لويديـز و ختيـځپوهـانو او بيـا اريانپوهـانو لـه ټولـو پوهنتونـي او څېړنـيزو ځانـګو او سـازمانونو، انسـتيتونونو او اکـاډميو سـره دا

دومره خواري الاکې او لګښتونه هسې خوشې نه دي کړي او نه يې
کوي - څرکښني (جاسوسي) موخې يې خورا څرمه او ناڅيزې ګڼل
کېږي او ښايي چېرې په سل کې يې لس يا پنځه څرك ولګي.

زه نه پوهېږم ډاکټر پالوال څنګه دازړه کړی چې د خپلې آرې
علمي ځانګې (وګړپوهنې يا توکمپوهنې) تر څنګه تش د يو څوڅرمه
ژبپوهنيزوکورسو په پلمه دا ګرانه ژبتوکميزه، يا په بله وينا
اتنولښنګويستيکي او بيا تاريخي سکالو په دومره وړه توګه تر
څېړنې او پلټنې لاندې ونيسي چې په هرګو تېرکې بايد د تاريخي
ژبپوهنې او بياآرياني فېلالوجۍ له ککوين (ذره بينه) کارواخلي،
که نه ولې به يې د هېرودتس د پکتويس پر ځای چې تر دوست او
تږي پورې پرې ټول پخواني او اوسني ليکوال او تاريخوال
ټينګارکوي، د مورګستيرنې له اتېمولوچۍ او تاريخې فونولوجۍ
له مخې په ناسمه توګه "پرثانه" د "پښتانه" انډول کولای، هغه هم
ددغه پښتو پوهاند په دويمې کيدونې بڼې پرستانه *Pr̥stānā(h)
"غرنې وګړي يا اوچت وګړي" له اړونې (تحريف) سره؟

ښايي ډاکټر ګلجنان ظريف او استاد پروېش شاهين هم د څو
ژبنيو کورسونو د اخېستنې په پلمه ځانته دا حق ورکړی وي چې
لومړی د هخامنشي ډبرليکونو يوازې پارسي متن را پښتو کړي او
دويم بيا پرهغه سربېره آرامي او بابلي (يا يې په خپله داوه سومري)
متن هم دوه نيم زره کلن زوړ پښتو متن ګڼلی دی. (۴-۲-۱)

اولاف کېرو (۷۲ مخ) هسې په څرمه توګه يادونه کړی چې د
ساکو ترڅنګه پارتيانو هم د پښتنو په جوړښت کې ونډه اخېستې،
بې له دې چې کوم باوري تاريخي او بيا اتنولوجيکي لاسوند وړاندې
کړای شي.

پوهاندتړي، سره له دې چې د خپل تازه کتاب" پښتانه" يوه غوره
برخه او په ځانګړي توګه لومړي درې څپرکي د پښتو او پښتنو آرې

ACKU

او ریښتې ته ځانګړي کړي، خو د "علمی تقوی" له مخې یې ځانته دا حق نه دی ورکړی چې ان د ژبپوهاند په توګه هم پر ټولو ژبپوهنیزو شننو او پرېکړو سر وګرځوي، بلکې تر وسې وسې له خپل غوځ ورمندانه او پرېکړې ډډه وکړي او د "آئین اکبری" له لیکوال "ابوفضل" او د "تاریخ خان جهانی ومخزن افغانی" له لیکوال "نعمت الله هروی" نیولې د "افغان-افغانستان" ترلیکوال "ډاکترمحمد حسن کاکړ" او د "افغان نامه" ترلیکوال "محمود افشاریزدی" پورې یې د ټولو تاریخوالو، فېلالوجېستانو او ژبپوهانو بېلابېل الواکونه او لاسوندونه را لړه کړي دي. ځکه د سپېنیزي (تشریحي) ژبپوهنې او بیا د ترانسفر مېشنل ګرامر د ځانګوال په توګه یې د تاریخي او پرتلیزې ژبپوهنې او بیا آریانې فېلالوجۍ او پښتو فیلالوجۍ او اتمولوجۍ په برخه کې د خپل لیدتوګې پر ځای د نومیالو ختیځپوهانو په تېره جیمزدارمستېټر، ویلهلم ګایګراو ګیورګ مورګنستیرنې پر پرېکړو ډډه لګولې، بې له دې چې دده یا هغه د پرېکړو او لیدتوګو ځرګنداو ډاکیز پخلی وکړي. مګر دریو یاد شویو *اماتورو ژبپوهانو او بیا ډاکتر پالوال په ټوله زړورتیا د خپلو ټولو تاریخي او اتنولوجیکي څېړنو او پرېکړو بنسټ په ناسمه توګه پر ژبپوهنه او بیا آریانپوهنه ایښی، پښتانه یې پرثانه او پټهان کړي او پارتي "ارسکي" شاهانو نومونه یې په وچ زور له "اځك" او "اځکزي" سره برابرکړي دي او له دې خپلسرۍ سره یې د خپل ټول پنډه کتاب ودانۍ په هواکې درولې ده!*

ده باید د خپلې اماتوري آریانپوهنې په لړکې لږ تر لږه د استاد مورګنستیرنې د پښتو آریوهیزه وییپانګه (P. 61.EVP) مخکې له مخکې کتلې وای چې ربښتیا "پرثانه parθāna" دډېرګړي (جمع)

"پښتانه" پخوانی بڼه وه او پردې سربېره له "پتهان" سره هم سمون درلودای شي، همدارنګه ارسک arsak او اڅك acak سره د تاریخي فونولوجی له پلوه اړخ لګوای شي؟ که داسې ښکاره او جولیزو همرنګیو اتولوجیکي او فونولوجیکي ارزښت درلودای، په کاروه، د استاد حبیبي، کهزاد او نورو غونډې یې هماغه "پکتویس" راتینګ کړی وای چې لږ تر لږه یې خودوه نیم زرکلنه مخینه درلودې ده. خو رښتیا دا ده چې د چا خبره د سوال په اوبو ژرنده نه ګرځي او د ژبپوهنې په هسې بویونه ژبپوهنیزي جرړې هوارېدای نه شي. ننني ژبپوهنه او بیا تاریخي او پرتلیزه هغه له غرپوهنې او آرپوهنې (اتمولوجی) سره دومره سانتیفیکه شوې چې د ریاضي غونډې د ویونه (قاعدې او قوانین) لري او په دې لړ کې د شلمې پېړۍ آریانپوهانو، یاپه بله وینا ایرانې فېلالوجپستانو دومره جوتې فونېتیکي فارمولي رامنځته کړې دي چې د هغو له مخې د هرې اړوندي زړې، منځنۍ او نوې ژبې آره او ریښه سره نومېرلای شي او پر همدغه بنسټ یې د هرې یوې ژبې تاریخي - جغرافیایي ډلبندي (classification) په ښه کړې ده. لکه سرغړونه (ګ-د - ب) د (غ-ل-و) په وړاندې، چې لومړۍ ډله غړونه په لویدیزو او اوپخوانیو آریاني ژبو اړه لري او دویمه دا په ختیزو آریاني هغو، همداسې نور بې شمېره فونېتیکي او بیا مورفولوجیکي، لیکزیکي او نورې بېلتیاوې (ممیزې) درواخله، (د زیاتې خبرتیا لپاره: همدغه څلورم څپرکی او اړوند لښتیلیك یا جدول)

د ډاکترپالوال "د پښتنو نوی پخوانی تاریخ" د اروابناد غني خان "The pathans" ته ورته اثر دی چې د اولاف کېرو د "The pathans" په غبرګون او رد کې یې په خوراپیاوړې ادبي انګریزۍ سم له سمونې له چاپه رایستلی و او ان پخپله انګریزان یې ادبې پیاوړتیا او خوږلنتیا ته ګوته پرغاښ شوي وو، خو له منځپانګیز (محتوایي) پلوه ترهغه بترواو هغه

داچې کـه "کـېرو" پښتانـه "لړترلړه پـه برخـيز (قسـمي) ډول "آريـانـي" او بيـا "ساکي-پارتې" ښوولي وو، مگر غنې خان پکي خپـل نوی تېزس وړانـدی کړی او پښتانه يې يومخيز "يونانيان" کړي دي.

هـو، پـالـوال پـردي ګروهـن و چـې لخپلـې ځوکلنـي څېړنـې يـې د تـاريخي ژبپوهـې لـه مرستې پرتـه کـوم نويوالـی او کـره والـی درلـودای نـه شـي؛ کـه نـه هسـې خـو دا تـېره نيمـه زرۍ پراړونـده سـمکالو بـې شـمېرو کورنيـو او بـهرنيو تاريخپوهـانو، جغرافيـا پوهـانو، انـتراپالوجېسـتانو او اتنولوجېسـتانو ډېر پـېر پـېر کتابونـه کښلـي، بـې لـه دې چـې د پښتنـو رښتينـې آره او ريـښه جوتـه کـړای شـي. بلکـې دا يـوازې د دارمسـتېتر، ګايـګر او مورګنسـترني غونـدې سـتر ژبپوهـان او بيـا آريانېسـتان وو چـې لومـړی يـې د ژبـې آره اواړه ورجوتـه کـړه او بيا يې د هغـې لـه مخـې پخپلـه دويونکيـو هغـه، مـګر ښاغلی پـالوال د نـورو دوديـزواو نـاځانګيزو فيلالوجيسـتانو غونـدې بيـا هـم لـه دغـه پلـوه پـر همـاغو وګړنيـو آرپوهـو Popular Etymologies ډډه لګولـې او لـه دې سره يـې تـاريخي جغرافيـايي او انـتراپـالوجيکي، يـا پـه بلـه وينـا اتنـالوجيکي برخـې هـم لـه نشـت سره برابـرې کـړې چـې زياترينـه انرجـي يـې ورتـه ځانـګړې کـړې او کتـاب يـې پـرې دومـره بـې کچـه پړسـولی دی. "پښتانــه -پرثانــه" لــه ناسـمې اتېمولوجـۍ سـره يـې د پارسـيانو تـاريخ دومـره شـاربلی راشـاربلی او دومـره کتابونـه اوکتابتونونـه، سـرچينـې او لاسـوندونه يـې پسـې راچـاڼلي او ننوبلـې چې ښايي په دغه اړه يې د کورنيو څېړونکيو پـه لړ کې لـه څومـره يـيز (کمي) پلـوه سـاری او مخينـه ونـه ليـدل شـي. لـه دې لاملـه زه د آريـانـي فېلالوجـۍ د يـوه شـاګرد پـه تـوګه لـه ښاغلـي پالوالـه دا پوښتـم چـې پـه څه دك ولـيـل يـې د پښتنـو لـه پخوانـي تـاريخ سـره "نـوی" سـتاينوم سرباری کـړی، ايـا لـه دا دومـره کښليـو تـاريخونو، پـه تـېره د پښتنـو د آريانيوالي په چوکاټ کې دننـه د لـوی اسـتاد حبيبـی او کـهزاد تـر پنډو

پـېړو تـاریخونو څه نـوښت لـري چـې د رېګوېداد پکـهت او یونـاني پکتویس پر بنسټ یې دا نیمه پېړۍ بیا بیا چاپ کړي او خپاره کړي دي؟

ډاکټر پالوال د چاخبره "د کال روژه په املوکو ماته کړې"، یو خوا یې پښتانه "پارسیان" کړي، بیا یې له پارسیانو سره ګډ کړي او په دریم پړاو کې یې له ساکانو سره نښلولي دي، لکه چې د دویم ټوک په ۱۹ مخ کې تر "سکیثي او پرثیا" ترسرلیك لاندې لیکي:

" موږ بنایسته ګوتې ترمخه لاد میدیا پر ضد باندې د پرثیایانو او سکیثو له یووالي څخه رغېدلي یو (لومړی ټوك) کلاسیك یوناني او رومي مؤرخان او په دوی پسې اوسنی علما په دې ټینګ ګروهېدلي دي چې هغه پرثانه چې په پرثیا کې یې پاچاهي او بیا شاهانشاهي جوړه کړه، اصلاً سکیثي او له سکیشیا راغلي ول. پر دغه ټکي باندې کورتیوس (شپږم ۲، ۱۴) داسې ټینګار کوي: "په دې کې څه شپیان نه سته چې سکیثو، د پرثنو نیکه ګانو، له اروپایي سیموڅخه بریدونه کړي دي. نه له بوسفورس څخه" دغه مانا دا هم سکیثي هم په اروپا کې ول او هم د بوسفورس په شاوخوا کې اوسېدل."

دا تاریخي روایتونه به هله د منلو وړ وای چې ساکي او بیا پښتو ژبې هم د باختري (شمال ختیزې) ځانګړتیا پر ځای پارسي (سوېل لویدیزه) ځانګړتیا درلوداې، آریانیستانو خو لړترلړه دا یوه پېړۍ دغه وېش رامینځته کړی، هغه هم د فونېټکي او اېټمولوجیکي او بیا مورفولوجیکي او نوروګرامري او لېکزیکي ځانګړتیاوو له مخې. خو که ژبه له پامه غورځوي او یوازې اتنیکي اړخ ته ارزښت ورکوي، یا په بله وینا دغو ګردو آریاني ټبرونو او بیا ساکو او پښتنو ژبتوکمیز (اتنولېنګویستیکي) یووالي یوې خوا ته ږدي، نو بیا کېداې شي، دا وړاندې کړې لیدتوګې یې څه ناڅه

ACKU

پلویان پیدا کړای شي، یالږ تر لږه نوري ټولي درې سوه کلني څېړنې له اړوند و تاریخي -جغرافیایي ډلبندیو او برید بندیو سره له خرخشې سره مخامخ کړي او له دې سره د لنډ اندو کورنیو او بهرنیو تاریخوالو د انګروزو پخلي نور هم وکړي چې نه یوازې پښتانه چې لاساکي نیکونه یې هم "بلخایي کوچیان" وو او آریانا او بیا اوسني افغانستان ته تر راکوچیدلو او مېشتېدلو را ووسته یې آریاني ژبه "پښتو" راخپله کړې ده!

ما په خپله دغه رامخته کړې څېړنه کې ټول هاندوهڅه دې ته ځانګړې کړې چې د آریانپو هنې (آریاني فیلالوجي) د وروستنیو بریاوو او ټولمنلو برید بندیو دننه د پښتو او پښتننو ژبتوکمیزیووالی او بیا باختریوالي او ساکیوالي لږ تر لږه د یوه کېدوني او باور وړ تېزس په توګه وړاندې کړم، نو که په وړاندې یې کوم انتي تېز څوك اتنو لېنګویست رامخته کړای شي، هرومرو به د همدغه زبات شوي کلاسیفیکشن دننه وي، نه دا چې بیا تري د پنداني کیسه جوړه کړي او له "بني اسراییلو" یې راپیل کاندې، مانا داچې که له کلي وځي، له نرخه به نه وځي، تاکلی او زبات شوی کلاسیفیکشن د پښتنو د "نرخ" هومره یوه کاڼي کرښه ګرځېدلې ده.

۲-۴-۴: پاتې شوه، له پارتي "ارسك" سره د "اڅك" هم آروالی، پښتو خو د پخواني او لویدیز آریاني ببواکغونډ- رس - او منځني -rt-ršt-(←4-2-1) په وړاندې -ښت -ته پرمختیا ورکړې، لکه څنګه چې په دې دوو څپرکیو کې ورته نغوتې وشوې، پخپله "پښتو" او "پښتون ددغه غږ ونج (فونتېکې بدلون) استازي کوي او پالوال هم له همدې غږونجه په ناسمه ګټه اخېستنه "پرثانه" هم پښتانه کړي دي. خو بیا هم که په خورا ناشونې توګه د پالوال پورتنی انګېرنه رښتیا هم شي. دا مانا نه لري چې په تش یوه نامه دې ټول اړوند تبر او بیا ټول پښتانه پارتي آري وګڼل شي، لکه څنګه چې ځای پر ځای

ACKU

مو پرې رڼا واچواله، نور ډېر پښتني تبر نومونه له نورو همتبرو او ناهمتبرو څخه را پور شوي، هغه هم زیاتره تر پښتني تبروېش له مخه، لکه یېتل له ابدال، اپارتي، اپریدي، اراکوزي، الکوزی، ساك، سهاك اوساکزی او داسې نور. (۵-۲-۲-)

شارل کیفر تر مشر استاد مورګنستېرنې راوروسته د پارسی او پښتو په ګډون د افغاني ژبو دیوه ډېر کاري څېړنوال او څانګوال په توګه چې څه له پاسه دېرش کاله د افغانستان د ژبپوهنې د اتلس همکارهم پاتې شوی، د خپلو هر اړخیز و اتنو لېنګو پسټیکی څېړنو پلټنو په لړکې پر "اڅك، اڅکزی" یوه په زړه پورې څېړنه کړې او د انسایکلوپیدیا ایرانیکا په لومړي ټوك (۴۱۳-۴۱۴ مخ) کې یې څوکاله له مخه خپره کړې، خوله پارتي " ارسك " سره یې کوم اتېمولوجیك تړاونه دی ورکړی اوکه رښتیا هم د یوه داسې تړاوڅرك لګېدای، هرومرو یې له پام نه غورځاوه.

په ټولیز ډول د ځاینومونو او تېرنومونو په را پېژندنه کې د ډاکتر پالوال سپړنې له تاریخي -جغرافیا یي او اتنولوجیکي پلوه نه، بلکې له ژب- جغرافیایي او فېلالوجېکي پلوه بنستیزې تشې او نیمګړتیاوې لری، لکه چې وویل شول، نه یوازې د ارسك او اڅك بلکې د پارسي، پارتي، پرثوا، پهلوا، پهلوي او پښتو - پښتون آرې اواتېمولوجي سره ګډې دي، خود ژبني جغرافیا یا ژبني جغرافیایي ډلبندي یې سره توپیرلري. پښتو له خپلو پښتنو سره په شمال ختیځ (باکتریا) اړه لري، پارسي په سوېل لویدیځ او پارتې پرثوه یا پرثوا (<پهلوا> پهلوي) په شمال لویدیځ، هو، که دپالوال له ادعا سره سم پارسي او پارتي ژبو له خپلو ویونکیو سره په ساکي او ساکانو اړه درلودای، نو بیا پورتنی اړوندی هم شونې وې. بنایې د پارتیانواو پښتنو د اړوندی په اړه د ښاغلي پالوال د ك ودلیل داوي چې یوخوا پارتیانو له منځني اریاني پېر (۲ م ز-۷ زېږېږه) راهیسې



ACKU

ژبتوکمیز پایښت یا پایونه له لاسه ورکړي، بل خوا د پښتنواو پښتو منځنی پېر ورك راورك دی، نو دغو دوارو ژبتوکمیزو ډلو تشې یې ډکې کړې دي، یا په بله وینا داسې یې ښوولې چې نه پښتانه له تاریخه هغه مهال ورك شوي او نه پارتیان په اوسني تاریخي پېرکې!

ښاغلی لیکوال د ارسك په څېر یو بل پارتي ستاینوم فرني (لکه په pharni-pates کې) هم پرپارني او اپارني رااړوي او بیایې همزمان د ارسك په نیکه پوری تړي، هغه هم بیا د هر څڅېلد د وینا له مخې د ساکي داهي ټبر یو څرمه پښه ګڼي چې د داهستان له بېدیا څخه پرثوا (خراسان) ته راولېږدېدل او همدغه جغرافیایي نوم یې نورټبرنوم وګرځېداو په پای کې هم "پرثانه" او بیا "پښتانه" شو. دلته یې ښایي موخه او مطلب دا وي چې ګوندې دواړه نومونه (اپارني او پرثوا) سره وشاربل شول او درېیم نوم "پرثانه" یې لکه چرګوړی راوزېږاوه او بیا تړې وارله واره ډېر ګړی "پښتانه" جوړ شو، لکه څنګه چې همفریز (۷۴مخ) کنبلي، ارسکیانو د پارتیانو په پارني (parni) ټبر اړه درلوده، مانا داچې پارني ساکې داهي ټبرنه، بلکې پارتیان ول، دابه ومنو چې اوسني داغستان او "توخی" پښتنی ټبرنوم له داهي یا تاهي او بیا توهي څخه اره اخېستې وي، مګر اړینه نه ده چې دا راز ټبرنومونه او ځاینومونه دې له اړوندو نومولیو (مسماوو) سره هم تړاو ولري. (پالوال ۲۴مخ)، همداسې یې ارسك> ارڅك>، اڅك او نورګڼ شمېر ورته نومونه هم دراواخله. د "پښتو ن" مخینی بنه پرسوانه parswāna زبات شوې ده، نه پرثانه (parθāna) او ترڅنګه یې "پښتو" له -parsawā* څخه اره اخېستې چې هرګوره دغه دواړه نومونه له پارسیانواو پارتیانو له نومونو سره هماري ښوول شوي دی، د پارسیانو پخوانی یو ګړې بڼه pārsa یونانیانو راخوندي کړې او د پارتیانو هغه پرثوا (Parθava) چې را وروسته تړې پهلوا (-pahlava) پرمختیا موندلې ده (مکنزي

۵۴۹مخ)، سره له دې چې دغه ځونومونه سره هماري اوله بوې يوازينی آرې Parsuaš (يو جغرافيايي نوم) او را وروسته پارسا (pārsa*) څخه منځته راغلي ګڼل شوي دی، خو "پښتو" او "پښتون" د اړوندې تاريخي غږ پوهې او آرپوهې (فونولوجی او اتيمولوجی) له مخې له هماغې ګډې پخوانی بنې (-parsa* سره بنه ترا اړخ لګولای او سمون خوړلای شي، ځکه لکه ځنګه چې پروفيسر مکنزي (د ۲۷-۹-۱۹۹۹ نېټې په يوه ځانګړي ليك کې را څرګنده کړې ده، نه پرثانه (-parθāna*) او نه پرسوانه parθwāna* د "پښتون" آره بڼه کېدای شي، پخواني رس -rs- * په پښتو کې ښت -xt-ته پرمختيا موندلې چې همدا paxto او pāxtun يې غوري بېلګې ګڼل کېږي. خو له پرثوه يا پرثوا parθava څخه په دې کېدون نه شي درلودای چې پخواني -رث rθ په پښتو کې پر -ړ -r- اوښتې، لکه پخوانی همرثه hamarθah* (سانسکرېټsamartha) چې "مور mor" شوی دی " همداراز سکېرو ۴۰۴ او ۴-۳ مخ).

پرثوه يا پرثوا -parθava يا -parþava* چې په منځني آرياني (ژبني) پيرکې پهلوه يا پهلوا -pahlava شوی دی، له آره د پارتيانو (parthians) د تېراو هيواد د نامه کورنی بڼه وه او يونانيانوهم په لومړنی بڼه په Παρθος راخوندي کړې او په لاتيني ليکدود کې يې د ث پرځای -th-کېښل شوی دی براندنشتاين ۱۳۸مخ). خو کله چې ساسانيانو پر ټول پارس او پارتيا خپلې واکې راټينګې کړې، نو خپله منځنی پارسي يا پارسيك يې هم پهلوي ونوموله مانا دا چې هم يې ترې ځمکه لاندې کړه او هم يې ترې نوم راخپل کړ. ځينې ژبپوهان په تېره اوسني چې د پارتي ژبې لپاره پهلويك pahlawīk او پهلوانيك نومونه کاروي، يوه ګډوډې رامنځته کوي او د منځنی پارسی له دويم نامه (پهلوی) سره ټکرخوري. د ايران ژبپوهان بيا

منځنی پارسي" پهلوي ساساني" بولي او پارتي د يوه پارتي پاچا د نامه "اشك" له مخې "پهلوي آشكاني" (هينينګ ۴۰ مخ)

د پهلوامنځني آرياني او منځني پارسي د براندنشتاين (هماغه مخ) د شننې له مخې له زړې هندي بڼې پهلوا -pahlava څخه منځته راغلې چې هم پارتيانو ته ويل کېده او هم پارسيانو ته او دابڼه يې له هندي prth(i) vi" خاوره "او اوستا -paraθwī، يا په بله وينا له هندي prthú "ارت و بيرت، لوی او غښتلی "او اوستا او يوناني پلاټوس او داسې نورو سره اړوندي ولري او هرګوره له هماغه "-pārsa " پارس، پارسي " نامه سره يې ګډه اتيمولوجي بيا هم څوك ردولای نه شي.

د سکېرو (۳۸۴ مخ) په وينا د منځني آرياني پېر څو ژبې د هماغې انګېرلې ګډې بڼې ياآرې پارسا pārsa* پرښست نومول شوي، لکه پارسي، پارتي يا پهلوي... خينې منځنی ژبې بيا آريانپوهانو د ځاينومونو او ټبرنومونو له مخې نومولې دي، لکه الانې (منځنی اوسېتي)، خوتني (منځنی ساکي) او يا باختري (يفتل- کوشاني ژبه) خوارزمي او سوغدي او لکه څنګه چې وويل شول د "پښتو" او بيا "پښتون" نومونو منځته راتلنه د زړې بڼې پرثوا-parθava يا parθawāاو منځنی بڼې پهلوا -pahl ava پر ځای له هماغې زړې ترينې ګډې ستې پارسا-pársa*څخه زباته باوري برېښي. که څه هم دا په دې مانا نه ده چې پخپله نومولې يا مسماوې (پښتو او پښتون) دې د پارتي آرې پر ځای "پارسي" آره راخپله کړي، ځکه لکه څنګه چې بيا پېرې رڼا اچول شوې اوپه اړوند دلبندي لښتيليك (جدول) کې پوره څرګنده ده، پارسي، پارتي او ميدي درېواړه ژبتوکميزې ډلې په لويديزې آريانا اړه لري او بيا پارتي په شمال لويديځ او پارسي په سوېل لويديځ، حال دا چې پښتو د اوستا او ساکي د پاتې شونې په توګه له شمال ختيزې آريانا (باکتريا= بخديانا) سره تړاو لري. دا چې پارتيان په خپل تولو

اکمنـي پېر(۲م ز -۳م) کې هم لـه یونـان -بـاختري دولـت سـره ملـګري پـاتې شـوی او هـم یـې راوروسـته پـه ساکسـتان کـې پـر ۱۲۰ م ز لـه سـاکو سره "سیت وپـارت" نومـي تلوالـه رامنځتـه کـړې وه چـې د پـهلوا شـاهي لـړۍ پـه نامـه هم پاده شـوې، خـو کوشـانیانو ورتـه پـه شـمال او سـوېل دواړو برخـو کـې د تـل لپـاره د پـای ټکـی ایـښی دی (غبـار ۶۴ مـخ). پـه دې تـوګه لــه پښتنـو سـره هـم دېوال پـر دېوال ګاونډیـان پـاتې شـوي دي او ښایـي لـه دې سـره یـې د ارسـك اڅك غونـډې یـو لـړ تېرنومونـه راخپـل کـړي اوسـي او ښاغلـي پـالوال تـه هـم تـر منـځ دهمتېرۍ یـو بـل اتکـل پیداشوی وي!

د انـود اولاف کـېرو (۷۲ مـخ) پـه پـېښو یـوه بـې سـروبوله انګېرنـه ده چې ګونـدې پارتیـانو او سـاکانو سره پـه ګډه د پښتنـي تولنـې پـه اډانـه او رغاونـه کې برخـه اخیستي او تـردې هـم بـې بنسـته دا چـې پـالوال بیـا د پښتنـو تـر منځتـه راتـګ لـه مخـه نومـوړي دوه خپلـواك (ختـیز او لویدیـز) آریـاني تېرونـه سـره هـم اخښلـي را اخښلـي او یـو ګنلـي دي آریـاني ژبنـي تـاریخ او ژبتوکمـیز وېش نـور د لمرغونـدې زبـات شـوی اوبنځګونـي تېرونـه یـې لـه خپـل تول تـاریخي - جغرافیـایي تـېر مهال سـره نومـېرل شـوي او ورسـره ورسره ددغـه هـر یـوه تېرخپـل خپـل زوزات او اړونـدې ژبـې پـه نښه شـوې دي. هغـه هـم د ټاکلـي فونېتیکـي فورمـول لـه مخې چـې مخکـې یـې یادونـه وشـوه او ددغـه کتـاب پـای تـه پـه لـه اړونـد لښتیلیـك سـره بیـاهم وړانـدې شـي. د همدغـه ژبنـي بنسـټ پـه لتـاړولو سـره *ښاغلـي پـالوال د خپـل څېړنـې لیکنـې تولـه اډانـه ـی بنسـته کـړې ده:*

خشت اول چون نهد معمـار کج

تـاثـریا مېرود دیـوار کج!

## ۴-۵: پښتو او پښتانه له شمال ختيځه تر سويل ختيځه

۴-۵-۱: لکه څنګه چې په لومړي سرکې څرګندونه وشوه، ساکان په زاړه آرياني پېر (شپږمې - دريمې مخزېږدي) کې تر څلورنورو آرياني ډلو، پارسيانو (هخامنشيانو)، مادانو، پارتيانو او اوستاويونکو ستر تېرو او تر تړلو يې د ژوند و ژواك، سوبو، واك او ځواك سيمې پراخې وې. پروفيسر ګيورګ مورګن ستيرنې په خپلو ګڼو ليکنو او اشاراو په دې لړ کې د کابل د پښتو نړيوال سيمينار (۱۹۷۵) په ليکنه کې د آرياني ژبو د ډلبندۍ د لښتيليك (جدول) د وړاندې کولو تر څنګه د ګايګر د نوښت پر بنسټ (۴-۱-۵ او ۱-۲-۳) د لويديزو او ختيزو آرياني ژبو بريدليکه په دې ډول ټاکې: په داسې حال کې چې لرغوني آرياني سرتمغړونه (انسدادي اوازونه) [ب -د -ګ=b-d-g] په لويديزوآرياني ژبوکې خوندي پاتې دي، په ختيزو آرياني ژبو کې سرمښليو (احتکاکي) اواز ونو [و-ل (ذ) -غ =w(v)-l(δ)-γ] ته اوښتي دي، لکه په دې وروسته بېلګوکې:

پارسي (برادر -دختر -ګاو) له پښتو (ورور-لور-غوا) په وړاندې تيکاو لري، خو په نورو شمال ختيزو ژبو، لکه خوارزمي او سوغدي او همداراز پاميري ژبو (شوغني، روښاني، واخي...) کې ددغو بدلونونو يو منځنی پړاو په ګوته کوي، په دې جاج چې د (و) پرځای (v) او د (ل) پرځای پکې (ذ) راځي. د پښتو په ګډون دغه ژبني ډله په نوموړي لښتيليك کې د اوستا او ساکي مورينو ژبو ترڅنګه ښوول شوې، او تردې چې تر دغه منځه يې تکې هم لړه کړي وو چې له هغو دوو مورينو ژبوسره د پښتو او پاميري ژبو زيات نژديوالی ښه ترا څرګند کړای شو (اړوند لښتيليك دې وکتل شي، همدارنګه روان فرهادي ۱۵مخ)، باختري (کوشاني) ژبه هم پښتو ته ورته غړبدلون لري (حبيبي، تلفظ وصرف پښتو ۲۶۳ مخ، د کنيشکا ډبرليك د زيار ژباړه). استاد مورګن ستيرنې د ۱۹۷۵ کال



ACKU

په لیکنه کې وړاندې څرګندوي چې پښتو د ژبپوهنې له مخې د شمال ختیزې آریاني ډلې اړونده ژبه ده او په کار ده، د لېږد له لارې له باختره سویلي افغانستان ته راغلې وي. که څه هم بشپړه زباته شوې نه ده، خو په زیات ګومان له هغو تېرونو څخه یو تېر چې کومه شمال ختیزه آریاني یې ژبه له ځان سره لېږدولې او پښتو یې منځته راوړې ده، یوه ساکه (ساکي) قبیله وه چې په دویمه مخزېږدي پېړۍ کې ساکستان ته رسېدلې وه، سره له دې چې د "ساکه" ویې جاج خورازیات پراخ دی او ښایي هماغه مهال یې څوګړدوده لرل.

*نومورې زیاتوي. پښتو له هغه ساکي ګړدود وڅخه ده چې سویل ته تر لېږدله مخه له پامیري ژبو سره په یوه لته کې ویل کېده په تېره له منجي او ییدغه سره. همدارنګه یې له خوتني او باختري (یفتل –کوشاني) ژبې سره نږدې اړیکې درلودي دي. له اوستا سره یې د پخوانۍ پښتو "proto pashto" نژدیوالی هم نبوولی خو تینګار کوي چې له ساکي سره د پښتو نژدیوالی زیات دی.*

نومورې پوهاند د پښتو د ژبنې او تېرنې یووالي سکالو (مساله) ترغورلاندې نیولې او داسې یې څرګنده کړې ده: "داچې ساکستان (سیستان) ته له رسېدوسره پر پښتنو څه راغلي او تېر شوي دي، له تاریخي پلوه څه خبر تیا نه لرو او د لیکلي لاسوند له مخې یې مېشتځای سلیمان غرونه نومېرل (تشخیص) شوي دي او ددې لپاره چې وښیو. کله او څنګه دغې سیمې ته رسېدلي دي، ناچاریو. د ژبپوهنې دلیلونه وړاندې کړو: "لومړی به دا کیدون تر غور لاندې ونیسو چې دغه پښنه په سویل لویدیځ کې منځته راغلې او په دې توګه باید د هلمند سیمه اوسي، ځکه چې د "هېلمند" ویې پښتو اړپوهي (اتمولوجي) ته نږدې برېښي. دغه ویې په اوستا

کې د هېتومنت -Hetumant په بڼه راغلی چې په هغه کې (ت) پر (ل) اوښتی او دغه کارد پښتو له فونېتکي بدلونونو سره سمون لري. همداسې د خاشرود (Xāšrod) نوم هم درواخله چې اوستایي بڼه یې خواستره (X̌āstra) ده. دامانا چې دلته هم له پښتو فونېټکي او ښتون سره سم (-ستر -str) پریوه ډول (ش) راوښتی دی. "که څه هم دغه اوښتونونه یوازې د پښتو په ځانګړیا پورې تړلي (منحصر) نه دي..." که دلته د نوموړي پښتو پوهاند موخه نورې شمال ختیزې ژبې، لکه پامیري هغه وي چې دپښتو غوندې ورته غږیز او ښتونونه لري، له هغو څخه خو د هېواد په سوېل لویدیځ کې کومه نښه نښانه راپاتې نه ده، په سوېل او سوېل لوېدیځ کې البته یوازې د اورمړي او پراچي څرك لګېدلی چې فونیتیکي ځانګړتیاوې یې لویدیزو اریاني هغو ته ډېرې ورته دي. خو استاد مورګن ستیرني د هېلمند ناوې تر څنګه دویم کېدون هم تر څېړني لاندې نیسي او سوېل ختیځ یا کسې (سلیمان غرونو) خوا ته د پښتو او پښتنو د ټاټوبي څرك باسي (که څه هم له تاریخي جغرافیایي پلوه یې بطلیموس څرګنده یادونه کړې او مخکې ورته استاد هم نغوته وکړه ۴-۲-۱):

"هر ګوره، دازما د هېښتیا لامل شوی دی چې د افغانستان په سوېل لویدیځ کې (د پښتنو) یو داسې پرتمین او ټینګ ټبرنی یو موټیوالی د پارسي تاریخوالو پام څنګه ځانته نه دی وراړولی؟ نوله دې لامله د سوېل ختیځ لور ته سترګې اړوم او دایادونه اړینه ګڼم چې د پښتنو له قومي روایتونو سره سم ددغه ولس (nation) ار ټاټوبی د سلیمان غرونه (د کسې غر) دی. که څه هم دغه راز دودیز روایتونه بې علمې کره کتنې منل په کارنه دي، خو بیا هم دا کېدای شي چې د حقیقت یو بخرې پکې نغښتی وي. هرګوره، دا زما کار نه دی د هغو ټولو نومونو اره (منشا) وپلټم چې له افغانانو ددوی له ژبې سره اړوندي لري.

د افغـان نومونـه (اصطلاح) لـه هنـدي او چيني سـرچينـو راپـېژنـدل سوې ده چې مخينـه يې لـږ ترلـږه شپږمې زېږدي پـېړۍ تـه رسـي، خـو ددغـه نامـه بـنـه دارابـيـي چې اره بـه يـي هرومـرو پارسـي اوسـي، نـه پښتـو. "دلتـه ددوريـانكوف ليدتـوگه او شننه زياتـه بـاوري بـرېښي چې لـه مخـه يـي يادونـه وشـوه. (۴-۱۲-۲) اسـتـاد مـورگن سـتيرنې د پښتـو رغـاونې او تـاريخ پـه ډگركـې لـه څه لـه پاسـه شپـږ كلنو څېړنـو پلټنـو سره سره د پښتـو پـر زړو اديبـاتو او فولكلـور دومـره لاسبرى نـه لـري او لـه دې سره سره چې يې د پټې خزانـې پـه اړه وروستـي، څرگندونـې (پـر ۱۹۶۷ كـال د ايتـاليي ختيـځپوهـاند بوسـاني پـه كتـاب كـې د خپـور شوي ليـك پر بنسـټ) پخوانـي، خرخشـي لـه مينـځه وړي او لـه اره يـې يـو واقعيـت گڼلـى دى، خـو بيـا هـم د نـورو ختيـځپوهـانو پـه لاروې، د پښتـو ژبـې ادبـي مخينـه لـه پنځلسـمې زېږدي پيـړۍ راپيلـوي او لــه دې سـره د پښتـواو پښتـو ن نومونــه تـر دغــه مــهال پــېره وړانــدې نــه انــگېري (همدارنـگه يـې د نـارويژي شـاگرد "سـكېرو" اړونـد تـازه پـايلنيوى د پـټې خزانــې اړنگمنـــي او مشـــكوكيت لـــه شـــك او اړنـــگ ســـره مخـامخوي، پښتـو . ۳۸۴ مـخ).

مـورگن سـتيرنې پـه نومـوړې ليكنـه (كـابل ۱۹۷۵) كـې، لكـه لـه مخـه يـې چې يادونـه وشـوه. لـه هغـه وروسـته چې د هېرودت پكتويـس او پښتـون اړيكـى ردوي، خپلـې خـبرې داسـې اوږدوي:

"...مـگر پـه پـوره بـاور "پښتـو" او "پښتـو ن" داوړه نومونـه سـوچـه پښتو اره لري. دغـه وييونـه ډېر ښه تـرا لـه هغـه يونـاني نامـه سره سمون خـوري چـې پـه شـمالي افغانسـتان كـې پـرې بطليمـوس ptolemaeus پرسويتي parsuētai نومـي تېـر نومولـى دى..."

۲-۵-۴: اسـتـاد مـورگن سـتيرنې بيرتـه سـوېلي افغانسـتان او بيـا سـوېل ختيـځ تـه را سـتنېږي او د زړو پښتـو جغرافيـايي نومونـو لـه مخې ورسره د پښتنو اړونـدي جوتـوي: "دا خبره مـا تـه تـل پـه زړه پـورې

برېښېدلې چې د افغانستان په سوېل ختیځ کې داسې ځاینومونه شته دي چې باید په پښتو کې لرغونوالی ولري. دغو نومونو هماغه غرېز بدلونونه ترشا پرې ایښي دي چې په یو مخیز ډول د پښتو ژبې له ځانګړتیاوو څخه ګڼل کېږي:

الف: ژوب žōb یو داسې خوړ (رود) دی چې پاسنی بهنځ (مجرا) یې د کال په زیاترو میاشتو کې وچه وي. په زیات باور یې لرغونې بڼه هوشه اپه (Huša-āpa*) وه چې پارسي انډول یې "خشک اب Xušk-āb" دی، دغه ځاینوم په پارسۍ کې ډېر دود لري. دا چې په پښتو کې (ش) ددوو خپلواکغږو تر منځ پر (-ژ-) اوښتی او ورسره ورسره (هو) په سر کې ګردسره غورځېدلی دی، د پښتو له غرېزو اوښتونونو څخه ګڼل کېږي (پښتو "وړی" د پارسي "خوشه" په وړاندې).

ب: د اورګون (Urgun) Wargun نوم د پروفیسر کریستنسن (A.Christensen) له خوا له "وړکانه -wṛkāna" (لکه ګورګان Gorgān او نور) څخه بېلښت (اشتقاق) موندلی دی.

ج: متون (Matūn) د خوست منځی ته څرمه په زیات اټکل له مشتان Maštān* څخه اره اخیستې. مشت Mašt په منځنیو پېړیو کې د غزني خوا ته د یوه ګاونډ ښارګي (town) نوم و او په پښتو کې پخوانی شت (št) پر ت (t) اوښتی دی.

د: ګومل (gomal له پخواني هند و اریاني Gomaδ*) څخه راغلی پور ویی دی چې د ویدی gomati غابښیز توکی د dh (ذ δ) په بڼه په پښتو کې پر (ل) اوښتی دی.

هـ: چنکه (-ډېره) Čanaka(-ḍherā-) په (چارسده) پېښور کې د کنیشکا ستوپه پښتو ته باید له پراکرېت بڼې کنیکا Kanikha څخه راوښتی وي.

دلته تر i یا y د مخني ك (k) دویمني تالو یيزوالی secondary palatalization پېښ شوی، لکه په چاره čāra کې چې له کرتیا -Kartiya* څخه یې اره اخیستې ده. دا اړینه نه ده چې پښتنو تر دغه د ویمني تالوییزوالي له مخه پېښور تر خپلې ولکې لاندې راوستی و، بلکې د بودایي زیارتځي په توګه ورته مخکې له مخکې څرګند او پېژندویه و..." (مورګن ستېرنې ۱۹۷۵) دوست شینواری اورګون، پښین او داسې نورنومونه په اوستایي (۶۴ مخ) متونو کې سهي کړي دي.

**۴-۵-۳**: دغه پوهاند نورګڼ ژبپوهنیز ارونه او لاسوند ونه وړاندې کړي او پردې یې تنیګار کړی چې پښتو له تولي ګړدودي رنګارنګی سره سره بیا هم دداسې یوې یوازینی ژبنی بنې بنکاروندویي کوي چې د پښتو له کلاسیکې ادبي ژبې سره دومره توپیر نه لري. نوموړی په دغه اړه یوازې ونیځي (ترینو) د پښتو د یوه لرغوني ګړدود په توګه استثنایي ګڼلې چې ځینې غږیز بدلونونه یې تر منځني اریاني پېریا په بله وینا، منځنی پښتو رسېږي. خو لکه څنګه چې په تېرو مخونو کې یادونه وشوه، ونېځي په ډېرو ژبپوهنیزو دلیلونو سره یوه خپلواك ژبه ګڼل کېدای شي اوله خپلې مورینی (منځنی) پښتو سره یې چې کوم توپیرونه را منځته شوي دي، بنایي هغې کچې ته څه ناڅه ورنږدې وي چې څومره د پښتو او مونجي، ییدغه او نوروخپلوانو پامیري ژبو ترمنیځ لیدل کېږي، یا په تورکي ژبو کې د وزبېکی او تورکمنیاو نورو تر منځ، پخپله د پامیري ژبو، لکه د شوغنی او روښانی (روشنی) او یا د زېبا کیاو سنګلېچیاو بارتنګی تر منځ. خو بیا هم ختځپوهانو په جلا جلا نومونو څېړلې او پلټلې دي. نوموړی له پښتو سره بل خوا ونېځی له منځنې پښتو څخه تر را بېلېدو تر اوسه ځانته خپلواك پرمختیایي پړاوونه وهلي او په دي ډول یې له اوسنی پښتو سره جوت ژبنی برید

رامنځتـه شوی دی. د ونیځی ژبې د پرتلې پـه برخـه کـې خپلـی خـبرې داسې پـای تـه رسـوي: "دابـه غـوره وي،ووايـو چې ونیځیـان تـر پښتنـو لـه مخـه لـه يوځه لـري ځايـه، لکـه زميـنداور ځخـه لورلايـي او هرنـايي تـه رالېږدېدلـي، بلکـې پـه زيـات ګومـان يـې نـژدې پرنـژدې لــه کســې غـره ځخـه دغلتـه کـوچ کـړی دی. (هماغـه ليکنـه).

او پـه ټولـيز ډول د ټولـو پښتنـو پـه اړه خپلـه وروستـۍ پرېکـړه داسـې رالنډوي: "د هغـو ټولـو يـاد شويو د کونودليلونو پـه پـای کـې چـې هـر يـو پـر خپــل خپـل وار جـلا جـلا نـاغوځه بـڼه لـري، زه دې پـايلې تـه تـازه رسـيدلی يـم چـې سـوېل ختيـځ افغانسـتان د پښتنـو د ژبنـي يووالـي (linguistic unity) د رامنځتــه کېدنــګ ترټولـو زيــات کېدونــی ځای دی. (هماغـه ليکنـه)

دلتـه د پروفيسـر مـورګن سـتيرنې موخـه وسـمهالی اريـاني پـېردی اولــه خپلـو ډېرو مخنيــو ځرګندونــو او شــنتو ځخـــه چـــې د همدغـــې وروستـۍ ځېړنـې لومړنـۍ برخـه هـم جـوړوي، د پښتـو او پښتنـو منځنـی پېر پـه سيسـتان، غـور او هېلمنـد کـې تـېر شوی او زوړ هغـه يـې هماغـه شـمال ختـيز افغانسـتان دی. مانـا داچـې پښتـو او ويونکيـو يـې د درې ګونـو پېرونـو (دورونـو) پـه درو بېلابېلـو جغرافيـايي سـيمو کـې تيکـاو مونـدلــی دی.

**۴-۵-۴**: اســتاد يــوازې د کســې غــره پــه اړه د پښتنــو دخپلــو روايتونـو يادونـه کـوي، خـو د بلـخ وسيسـتان وغـور پـه برخـه کـې ورتـه روايتونـو، کيسـو او افســانو تــه پاملرنــه نــه کــوي. حــال دا چــې بطليمـوس کسـې غـر تـر اراکوزيـا او هېلمنـد وروسـته د پښتنـو دويـم ټاټوبـی ګڼي، يـا پـه بلـه وينـا کسـې غـر د لومړنيـو دووسـيمو غځېدنـه (امتـداد) بولـي. (سـکېړو ۳۸۴ مـخ) ربښتيـا خـبره دا ده چـې مـورګن سـتيرنې د پښتنـو تـاريخ تـر هـر څه زيـات لـه پښتـو سـره غـوټه کـوي او هغـه هـم ددغـې ژبـې درغـښت او پـه ځانـګړې تـوګه دغـږيزو(فونېټيکـې)

اوښتونونــو پـــه ړنا کـــي څېړي او پلــټي. پښتنــي روايتونــه کيســې، افسـانې ادب او فولکلوريکـه څومـره چې پـه کـارده، دومـره پـه پـام کــې نـه نيســي او دا منښتــه (اعـتراف) کـوي چـې نـوره زياتـه څېړنـه د نـورو کـاردي. تركـوم ځايـه يـې چې زه د شاګرد او نـږدې همكـار "انفـارمنټ" په توګه پېژنم، پـه دغـه وروستي ډګركـې هـېڅ كلـه دومـره بوخـت شـوى نـه دى او لكـه چې تـل يـې د ژبـې پـر سـر همداشـعارو چـې د خوشـال ختيك شعر او پښتـو لنـډيو د دغـې ژبـې څېړنـيز ډګرتـه را څكولـى دى. مانـا دا چې په پښتـو ادب كې د خوشـال خـان لـه شعرونو او پـه پښتـو فولكلوركې لـه لنډيو څخـه اخوا نـه دى تللى.

۴-۵-۵. اســتاد مورګنســتيرنې پــه ۱۹۴۴ او ۱۹۴۵ كلونــو كــې د سليمان مـاكو د تذكـرة الاوليـا د څوپـاڼو او بيـا د محمـد هوتـك د پټې خزانـې لـه بشـپړې را بربـېره كـېدو سره زيـات زمـوږ د خپلـو لنډ انـدو افغانـانو تـر اغـېز لانـدې راغلـى و او غـوڅه پرېكـړه يــې د دغــې وروستي تذكـرې پـه اړه نـه كولـه. هغـه هـم زياتره پـه دې پلمـه چې پـه پښتو ادب كـې يـې دومـره ژوره مطالعـه نشـته او كلـه يـې چـې د ايټالـي ختيـځپوهـاند بوسـاني پـه كتـاب (د پاكسـتان او افغانسـتان ادبيـات ۱۹۶۸) كـې ورلپړلـى ليـك خپـور شـو، پـه اسلامي دائـره المعـارف.كـې يـې لـه ۲۰-۲۵ كلنـې پخوانـۍ څرګندونـې سره كـورټ تـو پـير موندلـى و. پـه تپولـه پټه خزانـه كـې يـې دامـير كـروړ ويارنـه تـر ټيـو كـنې لانـدې نيولـې ده چې ژبـه يـې كـورټه نـوې بـرېښي او بيـا څرګنـدوي: "دابـه ډېره ښځايـه وي چې پټه خزانـه دې د حبيبـى او يـا محمـد هوتـك خپلځانـي را ايسـتنه وګڼل شي، خـو كـېداى شي ديـو لـړ شعري ببلګو تاريخونـه ادل بـدل شـوي وي، كـه نـه هسـې خـو پـه دې كـې شـك نشـته چـې دغـې پټې ګنجينـې بـه د پښتـو ادب خـورا زړه پـانګه د زمـانې لـه تـاراكـه راژغورلـى اوسـي..." (زيـار) پټه خزانـه يـو واقعيـت دى، پښتـو مجلـه، ۱۹۷۸ منـى، پـه جرمنـۍ ژبـه. همداراز سـكېرو ۳۸۴ مـخ)

په هره توګه پټې خزانې او همدارنګه تذکره الاولیا داسې زړې ولسي ډوله شعري بېلګې راخوندي کړې دي چې د نورو په لړ کې د غور او غوړې مرغې (د کسې غره یوه تاریخي سیمې او منځې) تر مینځ د پښتنو ډېر نږدې اړیکي راڅرګندوي او د هغو ټولو پښتني روایتونو او فولکلوري کیسو څلونه کوي چې دغه لرغونې سکه اریانې وګړ ډله یې د خپلو لومړنیو ټاټوبیو او ژوندتوګې په اړه لري. (۵-۱-۵،-۵-۱-۶)

### ۴-۶: غور د پښتنو د یوه لرغوني ټاټوبي په توګه

۴-۶-۱: مخزن افغاني، مرآة الافاغنه، د ابراهیم بېټني تاریخ، تواریخ خورشید جهان، حیات افغاني، صولت افغاني، جامع التاریخ، تحفة البشتون، خلاصة الانساب، پښتانه د تاریخ په رڼا کې او د داسې نورو په لسګونو کورنیو بهرنیو اخځونو اړوندو یادونو (تړی، پښتانه د هېوادمل سریزه څوارلسم مخ) تر څنګه مونت ستوارت الفنستن لومړنی ختیځپوهاند دی چې پر ۱۸۱۴ کال یې په خپل نوماند اثر (د کابل د ټولواکۍ ګزارش) کې غور د پښتنو لومړې او سلیمان غر یې دویم ټاټوبی بللی: "ټول روایتونه په دې کې سره یو دي چې افغانان (پښتانه) ډېر اوږد مهال د غور په غرونو کې اوسېدلي او په ښکاره ډول یې په پخوا زمانه کې د سلیمان په غرونو کې هم استوګنه غوره کړې ده... " (الفنستن ۱۵۸ مخ پارسي ژباړه) دا چې په همدغه برخه کې خپله هبښتیا څرګندوي چې ولې د پښتنو ار او لومړنی ټاټوبی (غور) نن سبا د ناپښتنو چار ایماقو مېشتځای ګرځېدلی دی، خو له دې ناخبره چې له هغو څلورو ایماقو (قبیلو) څخه چې اوس یې شمېر شپږو ایماقو ته رسېږي، درې دایې تر اوسه ځانونه پښتانه ګڼي: زوري، (سوري) تایمني او فیروز کوهي او نور دری ایماقه تیموری، جمشیدي او هزاره تورك

مغولي آره لري چې د بادغیس او هرات خوا ته هم پسې خپاره شوي دي. ما (زیار) پر ۱۹۶۴او ۱۹۶۵ کال په غور کې د ګرږودي او اتنوګرافیکي څېړنو په ترڅ کې د هغو درو وارو ایماقو له سرغنه وو څخه دا معلومات تر لاسه کړل چې پښتون آري دي او په خپلو غوري شاهانو ویاړي. په هغوی کې تایمنانو بیا ځانونه کاکړ بلل "ماکاکریم...". دلته د پټې خزانې د اروندو شاعرانو، لکه شیخ تایمن کاکړ، اسعد سوري، امیرکروړ سوري، ښکارندوی او نورو زیات پخپله ربښتینوالی مومي. الفنستن ۱۵۹، ۳۴۴مخ) هر ګوره سوریان او غوریان له پښتنو ټولواکمنانو څخه شمېري. دغه راز آرنولډټا ینبي پر خپل وار (۶مخ) غوریان د افغانستان آر "native" اوسېدونکي بولي.

استاد مورګنستیرني د لنډیو په ګډون د پښتنې فولکلور له هغو پخوانیو بېلګو سره مخامخ شوی نه دی چې له بلخ وسیستان، غورو هېلمند او همدارنګه کسي غر، کشمیر و ختن او نورو تاریخي سیمو سره د پښتنو اروندي راښیي او ان ژبپوهنیز اټکلونه پر ربښتیاوو بدلوي. پر پنځګونو ټبرونو باندې د پښتنو وېش تر ټولو زیات لاځه چې یو مخیز د دوی پرګړنیو روایتونو ټیکاولري او له ننیو لیدنو کتنو (مشاهداتو) سره بشپړسمون خوري چې له ډېر پخوا راهیسې پري تاریخ لیکونکیو ډډه لګولې ده. نومیالي (۶۴ مخ) د "له نسبي شجرو څخه تاریخي استفاده" تر سرلیك لاندې پردغه سکالوپوره رڼا اچولې او ارزولې ده. پروفیسر مورګن ستېرنې له دې سره سره چې د وزیرو، اپریدیو، بنو څیو او نورو پښتوګړدودونو یو لړ ارکاییزمونه په خپلو فیلالوجیکي او فونیتیکي څېړنو پلټنو کې تر غور لاندې نیولي، خو بیا هم هغه اړونده ارکاییکه پانګه یې پکې دومره نه ده سهې کړې چې د هغو له مخې ورته د امیر کروړ ویاړنه او د پټې خزانې یا تذکرة الاولیا

نوري راخوندي کړې شعري ببلګې "کورتې نوې" ونه برېښي، دونېڅې هغه خو بې له هغې تر منځني پښتو پېره پر شاوري. د خوشال خان په ګډون د ټول ښيراز کلاسيك پښتو ادب زړه پانګه هم چې د اروانباد دوست شينواري په دوه ګونو چاپ شويو ټوکونو ( زړه پانګه او پښتو ژب، پانګه) يا د آصف صميم (وييز پرمه) د نوموړي پښتنو پوهاند ترپامه دومره راغلې نه ده، له ژبني اړخ پرته يې د پښتو د تاريخ او ژوند وژواك په اړه لنډ تنګ معلومات هم زياتره د الفنستن داړوند اثر له سر سري کتنې آره اخلي. دلته د ترېي (۵۹ مخ) دا خبره هم پرځاي ده "...د مارګنستېرن تبحرهم په ژبنيو مطالعاتو کې واود سيمې د تاريخي مطالعاتو او زړو متونو په ساحه کې يې ډېر کارنه وکړي."

**۴-۶-۲**: د پښتو ادب وفولکلورله ټولو افسانو او اساطيرو سره د ساينسي افساني يا "The science–fiction" له جاج سره سم دومره څه پر لاس راکولای شي چې د پښتنو د تاريخ او ژبتوکميزې رغاونې او مخينې ډېر تياره پاتې ګوټونه را روښانه کړي، د ساري په توګه ټول عادي پښتانه خپل ګډنيکه قيس ګني چې له مسلمانېدو سره يې نوم عبد الرشيد شوی دی او زياترو تذکرو او تاريخونو هم "قيس عبدالرشيد" کښلی دی، په داګه دا زباتوي چې "قيس" د "کاس" عربي شوې (مفغنه) بڼه ده او کاس هم د ساك له اوښتې metathese بڼې پرته بل څه کېدای نه شي. کاس او ساك له هماغو لومړيو څخه ځنګ تر ځنګ په همدې يوې مانا، يا په بله وينا د ټبرنوم او ځاينوم په توګه رادود شوي دي. د غور ولايت د مرکز نوم له آره کاسي دی اودسيمې وګړي يې تراوسه په همدې نامه بولي. نوی سرکاري نوم "چخچران" دهغو تورکې توکموله خوا دود شوی چې هلته يې د هريرود پر غاړه موسمي استوګنه کوله چې "د خيمو غونډ" يا د پښتنو کوچيانو په نومونه "دکېږديو کلی" مانا

لـري. د دغـه مرکـز لیســه هـم پخـوا د کاسـي لیسـه نومـېده او راوروسـته د علاوالدیـن غـوري پرنامــه واوښتــه. همداســې اســاطیري "ضحــاك" کــېدای شــي د یـو تـاریخي واقعیـت "سـهاك" زبـات شـي. الفنسـتون (۹-۱۵۸ مـخ) لیکـي:

" پـه ښکـاره خـو افغانــانو (پښتنـو) د غزنــوي محمــود او نــورو غزنـوي شـاهانو د لښکـر یـوه سـتره برخـه جوړولـه، مـګر پـه غورکـې مېشــتو هغوخپلــه ازادي ســاتلې وه او ښایــي داســې شــاهان یــې درلودلــي چـې آره یـې د لرغونـي ایـران (آریانـا) یـوه ضحـاك نومـې ټولـواك تـه رسـېده. دغـه پـښت و نـه (شـجره) مـیر اخونـد راخېسـتې او دفرشـتې تـاریخ لیکـوال هـم تـایید کـړې ده، چـې کـه څه هـم دا یـوه ګومـاني خـبره ده، خـو څرګندده ده چـې سـوري تېـرو افغانـانو ټولواکـانو تریوولسـمې پیـړۍ پـورې تـاریخي مخینـه درلـودي ده او پـه څرګنـده یـې غـور، فـیروزکوه او بامیـان لـه سـترو ښارونـو څخـه وو."

د ایـران نومـاند شـاعر او لیکـوال احمـد شـاملو پـر ۱۹۹۰ کـال پـه یـوه لیکنـه (نګرانـی هـای مـن) کـې د ضحـاك د اسـطوري پـه اړه د ودې څرګندونـې را اخلـي اولـه خپلـې موخـې سـره سـمې یـې تـر پـاړکیزې شننې لاندې نیسـي:

"جمشـید ټولنـه پـر پـاړکیو (طبقـو) ووېشـله: پـر سـتانه وو، پتمنـانو (نجیبـانو)، سـپاهیانو، ورهـڼګرو، کـرګرو او نـورو. بیـا ضحـاك منځتـه راځي، ترضحــاك وروســته فریــدون چــې د کــاوه آهنــګرپــه پــاځون ټولواکۍ تـه رسـي، ګورو، کـوم کـار چـې مخکـې لـه مخکـې کـوي، هغـه د جمشـېد پېرتـه د ټولنـې بیرتـه ورسـتنول دي، لـه همـاغو پـاړکیو سـره چـې د جمشـېد پـه پېریـې اړه درلـوده... حضـرت فردوسـي د ضحـاك د ټولواکۍ پـه برخـه کـې د هغـه د ټولنـیزو هـڅه څه یادونـه نـه کـوي او تـش پـر همـدې بـس راوړي چـې هغـه مخکـې لـه مخکـې ګرم (محکـوم) کـړې، ددې پـرځای چـې پرسـکالو (موضـوع) وغـربـړي او د خپـل زړه خـبره

وکړي، د هغه پراوړو دوه ماران راټوکوي چې اروځي، د هغوی د اراملو لپاره د انسان د سر ماغزه ورسکینده کړي. اوس تاسې ورشئ له فردوسي څخه ددغې ملنډې په اړه وپوښتئ، چې ولې دې ددغې سکیندې (جبيرې) د پرځایکړې لپاره د ژوندیو کسانو سرونه غوڅ کړشي؟ ولې يې د مړيو له مغزوګټه نه اخېستله؟... ښکاره ده چې د ضحاك اسطوره په دې بنه چې تر موږه رسېدلې، د هغو وګړو دذهن زېږنده ده چې د پارکیز نظام له ګټو څخه برخمن وو..." (احمد شاملو، ۲۷-۲۹ مخ)

ددغوڅرګندونو له ترڅه دا پایله راوځي چې ددغو ټولو اسطورو او افسانو تر شاهرومرو یوه ربښتینې انسان ټیکاو درلود او داچې له پخوانیوایرانیانو او ساسانیانو سره یې اوږدې دغرې وهلې، ماتې یې ورکړې او پرله پسې یې ببخرته مالي او خاني تاوانونه وراړولي دي، نو درستم هومره کیسې او افسانې شاربل شوې را شاربل شوې او په پای کې تري یوه بدوردې اسطوره جوړه شوې ده. د لویدیزو اریانې تر بورانو له هخامنشیانو نیولې، تر ساسانیانو پورې له ختیزو اریانیانو او بیا په نومېرلې توګه له ساکانو او ساکي ټبرونو پرته دېخوا ته د نورو زړو مېشتو توکمونو څرك نه لګول کېږي. که له هخامنشیانو سره په ټول باختر او شمال او په سوېل کې جنګېدلي، له ساکانو پرته نور څوك نه وو او که له ساسانیانو سره یې وهلي هم، نو همدغه ساکي کوشانیان او يپتلان (يفتلان) وو او کله چې د ساکستان ټولواکمنې او ورپسې کوشانې او يفتلي ټولواکمنۍ پای ته رسي، راوروسته د افغانستان شمال زیاتره د تورکي توکمو په لاس کې کېوځي او د سویل لویدیزې پولې د ساسانیانو تر نیواك لاندې راځي، نو د هماغو ساکي ټبرونو پاتې شونواو په دغه لړکي پښتانه په غرج وغور، سلیمان غرونو او نورو غرنیو سیمو کې تر کشمیره پورې د نیواکګروپه وړاندې خپل

خپلواك اكروكر (هويت) تر اسلامي لښكرو خونډي ساتي. لكه څنګه چې له مخه د غور په اړه د غبار او بيا الفنستن څرګندونه وړاندې شوه چې ان د غزنويانو تر مهاله يې هلته خپلې پښې ټينګې كړې وي، تر څو يې غوري او سوري ټولواكمنۍ را منځته كړې. له ناپښتنو افغانانو څخه پوهنوال عزيز احمد پنجشيري لومړى جغرافيا پوهاند دى چې په خپل اثر (جغرافياى غور) كې يې ددغې سيمې پخوانۍ اوسېدونكي پښتانه بللي او په ترڅ كې وايي چې ژبه يې "پښتو" د پېښاوري پارسۍ تر سپوري لاندې ورو ورو كمزورې شوې ده. (پنجشيري، د غور د استوګنو اړوند څېركۍ).

۴-۶-۳: د اساطيري ضحاك او تاريخي سهاك غونډې داپښتنۍ افسانه هم د رښتيا ميدان ته راوتلاى شي چې هغه د حسين نومي غوري شاهزاده په اړه ده. چې وايي: شهزاده حسين له غوره غوړې مرغې ته راغلى او د ببې له "بي بي متو" نومې لور سره يې واده كړى و. كله يې چې زوى وشو، ددې لپاره يې پرى "غلزى" نوم كېښود چې دواده تر دود دستورله مخه د مور پرنس شوى و او يا په دې لاسوند چې د يوه نا پېژندويه بلخايي زوى و. له همدې كبله له پنځګونو پښتني ټبرونو څخه يودا د "متو" په نامه "متوزي" بلل شوي دي چې له مخې يې يوه ځانګه غلجي (على‌خيل، سليمانخيل) او بله يې لوديان، نيازيان، خروټي، اندړ، مروت، دوتاني... ګڼل كېږي او وايي چې د غلزي دويم ورور لودي نومېده او د خپل نيكه له دعايي آره اخيستې وه "لودې وي!"

اولاف كېرو (كريم ۳۴-۳۹مخ) بيا له دغې افسانې څخه دا انګېرنه را خپله كړې چې ګوندې غوري شاحسين له آره پښتون نه و او اړوند زوزات "متوزي" يې هم يوازې د مور له خوا پښتانه دي. بېله دې چې غورلـه اړوندې افسانې سره سم د پښتنو له آرو مېشتځايونو څخه وګڼي. لكه څنګه چې الفنستن (۱۶۳ مخ) دا

رښتني روايت رااخيستي چې د پښتنو څلور ستري څانګې د قيس له څلور زامنو سره بن، غرغښت، بېټني او کرله (کرلاني) څخه منځته راغلي دي چې هرګوره متوزي څانګه تري پاتې شوې چې د هغو څلورو ورونو له وربرې "بي بي متو" څخه جوړه شوې ده، همداسې کرلاني هم درواخله. دغه وېش ترننه پورې پوره څرګند دی او هر پښتون په دې پوهېږي چې له دغو پنځو څانګو څخه په کومې يوې اړه لري او خپله پښتونه (شجره) څنګه تر خپل اړوند ستر نيکه يا انارسوي. (د زياتې مطالعې لپاره اړوند جدولونه).

سيمه ييز وېش يې هم څه ناڅه پر پخواني اکر پاتې دی. يو لړ پښتني ټبرنومونه او ځاينومونه غورياخيل، غوريېزي، غوريان، غوري، غوربند... له غورسره د پښتنو د تاريخي اړوندې څرګندويي کوي، پر دغو بېلګو سربېره يو شمېرنور پښتني ټبرونه هم خپله آره غورته رسوي. لکه د ښېوي د کلتک يا غزني ملک زي، د لغمان د ډېوې کاکړا و داسې نور چې د غور اوسني استوګن تايمنيان (۴-۶-۱) هم ځانونه کاکړ بولي. له دې سره ګړدودې وېش هم پوره تړاولري.

د ساري په توګه د سړبنو او غرغښتو يا غورغښتو مېشت سيمه زياتره سويل لويديزه او ګړدودي ځانګړتيايي (ښ=š) ده او (ږ =ž) ده. دکرلاڼيانو او بيټنيانو سيمه زياتره سويل ختيزه او ختيزه ده او ګړدودي ځانګړتيايې (ښ=ش =š) او ږ =ژ =ž). د متوزيو، يا په دوديزه نومونه غلجيو مېشت سيمه زياتره منځنۍ سيمه ده او ګړدودي ځانګړتيا يې (ښ=x) او (ږ ğ)، د ننګرهار او پېښور شاوخوا او نورې شمال ختيزي لتې بيا د نژدې پنځه واړو ټبرنيو څانګو يوه ګډوله غونډې "رسوب" دی او ګړدودي ځانګړتيا يې ټېرنۍ نه، بلکې سيمه ييزه ده، ښ له خ سره اخښل شوې او ږ له ګ

سره او داسې نور چې د نورو تولو پښتو کړدودو په وړاندې سخت یا زیږ کړدود یا زړه پښتو بلل کېږي

۴-۶-۴: دا به د استاد مورګن ستیرنې او نورو ختیځپوهانو لپاره څومره اسانه وه چې د چا خبره د ژبنیو فوسیلونو (ډبروزمو) ځاینو مونو پر ځای یې د ژوند یو دودو ځاینو مونو او تېرنومونو د شنتې له لارې خپلې اړوندې ژبتو کمېزې (اتنولېنګویستیکي) پلټنې پر مخ وړي‌وای. د ساري په توګه پروفیسر مورګنستیرني کولای شول د پښتو او پښتنو د ساکي والي دزبات لپاره د جهلم اړوند "ساکي" ډبرلیك له کسې (غر)، کاشغر، کاشمیر... سره تړاو ورکړي چې له آره په یوه اوړېدن یا قلب metatheses "کاس" له "ساك"، یا په بله وینا "ساکه" سره توپیر موندلی دی. دغور مرکز "کاسي"، "ضحاك =سهاك"یا سهاك او ساکزي پښتنې تېرنومونه او نور خو لاڅه کړې څه کړې ! د غزنوي پېر یو ستر تاریخپو هاند عبدالحی ګردیزي د پلار نوم ضحاك محمود هم دلته په زړه پورې برېښي.

"سکه" یو ژوندی پښتو ویی چې نورو افغاني ژبو ته یې هم غځېدنه موندلې او له عربي (اعیاني) سره هم جاجی دی. هرومرو د نوموړي پوهاند په ویې پانګه کې ځای درلودی دی. خو پایې ورته پام نه دی شوی او یا یې هم پسې خپل سرنه دی ګرځولی. دلزاك یا دله زاك یو نوماند پښتنې تېردی چې د اروابناد قیام الدین خادم په اټکل "ډله سهاك" کېدای شي -مولانا خادم د دوست شینواري او ظفر په څېر د دودیز پښتو پوهاند په توګه د پښتنو پر برخیز ساکي والي تینګ ولاړ و او یو لړ څېړنې ترې هم راپاتې دي، خو اروابناد کوثر غوریاخېل په دغه ډله کې بیا د پښتنو د یومخیز ساکیوالي پلوی پاتې شوی و "یوې سهاکي پښتنې دا په زړه پورې لنډۍ ویلې ده:

یم خو سهاکه، ستانه نه یم
ښېرا مې وکړې ژني وینې غورځونه

وصیف سکزی چې ښايي د ساکستان لـه يوې بلې بڼې سکزستان سره تړاو ولري، د لومړني، يا دويم پارسي شاعر په توګه هم دا کېدون درلودای شي چې له آره به پښتون يا لږ ترلږه ساك و د غلجي سهاك، سړبني کاسيان د دواړو (آرو او اوښتو) ښو ښکارندويي کوي د ښاغلي احمدتکل په وينا په اړونده سيمه (ميدان) کې چې څوك ايران تـه ځي. وايي چې "ساکستان" تـه ځي. دا اړينه نه ده چې ساکزي، دله زاك (ډلـه ساك)، سهاك او کاسيان دې هماغه تاريخي ساکان اوسي، خو دا راجوتوي چې دغه نومونه راوروسته پـه پښتنو کې ژوندي ساتل شوي او دا يو تولـيز دود دی چې د نورو توکمونو غونډې په پښتنو کې هم د پلرونو، نيکونو نومونـه بيا بيا پر وروستنيانو ايښوول کېږي. له غور سره تړلي پښتني تېرنومونه هم داانده او قرينه په لاس راکوي چې دغه غرنۍ سيمه يې له آرو او مخينيو ټاټوبيو څخه ګڼل کېږي، لکه غورياخيل، غوريزي، غوريان... غور يا هم د خرښبون له زامنو څخه و. زموږ د دوديزو پوهانو اړوندې نوم څېړنې هم يو مخيزې ناژبپوهنيزې نـه دي. د احمدعلي کـهزاد غرغـښت =ګرشاسپ، د عبدالحـی حبيبـي يپتـل =ابدال، د محمد معصوم هوتك اراکوزي=الکوزي او داسې نور(معصوم هوتك، ډيوه، د ۱۹۹۶ کال۲۰مه ګڼه)

**۴-۶-۵**: هسې خو ربښتيا هم ژبپوهنيزې څېړنې او شننې کولای شي، د تاريخوالو ډېرې ناسمې ورسمی کړي او سمې سيخې لارې تـه يې ورسيخ کړي، په تېره د آرياني تېرونو او ژبو پـه برخـه کې، د بېلګې پـه تـوګه، لکـه څنګه چې مخکې ورته نغوتـه وشوه، نورستانيان د شلمې پېړۍ ترنيمـايي پورې تاريخوالو او وګړپوهانو د يونانيانو پاتې شوني ګڼل او هغه هم په دې لاسوند چې هم سپين دي او هم مېزو څوکۍ او د ډوډۍ چړې کـاروي... خو پروفيسر ګيورګ مورګنستيرنې په هماغو لومړيو سفرونو کې چې له شـلمو کلونو يې تر پنځوسمو کلونو چترال او نورستان ته وکړل. دا يې تولې نړۍ ته په ډاګه کړه چې نورستانيان او تر کشمېره پورې دردي ژبې د هند و اريـن کورنۍ تر منځ يو زوړ اتنولينګوېستيك آريايي تېردی له همدې کبله يـې پـه

څو توکوئو کې اړونديې ژبې وڅېړلې او هند و ارين سرحد ژبې "Indo Iranian Frontiers Languages" يې ونومولې (اخځليك دې وکتل شي). که څه هم الفنستن د نولسمې پېړۍ په سرکې د نورستانيانو يونانيوالی ناسم ښوولی و، خوله څو وييونو پرته يې نور څه زيات د زبات لپاره نه لرل (الفنستن ۵۶۰ مخ) ژبتوکميز (اتنولينگويستيك) سمښت (مطابقت) ښايي د نړۍ په نورو توکمونو کې تل رښتينوالی ونه لري، خو د آريابيانو او بيا آريانيانو په برخه کې له هېڅ ډول خرخشې سره مخا مخېدای نه شي، ان د ډېرو وړو وړو څانگو ښرانگو او ټبرونو، لکه دساکانو، پارسيانو، کوشانيانو، يپتليانو، سوغديانو، خوارزميانو او تر تولو وروسته د پښتنو "پاميريانو، پراچيانو، اورمړيانو، پشه يانو، نورستانيانو او داسې پسې د نورو ډېرو ډلو ټپلو په برخه کې او بيا د تورکانو او آرياييانو تر منځ، خو ښستېز نژادي توپيرتيکاو لري چې د روسي پوهاند دبېتس اتنوگرافيك ريکارډ دغه سمښت (مطابقت) پر زبات رسولی دی.

(ددغه وکړپوهاند شپيتمو کلونو اړوندي څېړنې دلته د يادونې وړدي چې د افغاني توکمونو په برخه کې يې کړي او ليکوال يې د مرستيالی ويار درلودلی دی – خپور شوی اثر يې سم له لاسه په واك کې نشته)"

۴-۶-۶: له بده مرغه چې ډېرو لنډ اندو ليکوالو په افغانستان او ايران او نورو کوربه هېوادو کې له وروستيو درو لسيزو راهيسې په پښتنو پسې را اخېستې او زياترو يې داسې ښوولې چې پښتانه له آره له کوم بل هېواده افغانستان ته راغلي او دغلته يې اريانې ژبه "پښتو" زده کړې ده(!) لکه واخلې پوهاند جلال الدين صديقي- رحمانوف او صديق فرهنگ چې له مخه يې يادونه وشوه او داسې نور. (همدا راز ۴-۲-۲ او ۴-۱۳).

پښتو ارکاییزمونه (متني او ګړدودي)، نه یوازې د خپلو ویونکو تاریخي جغرافیا را په ډاګه کوي، بلکې پردي سربېره د زړې او منځنۍ پښتو او ان ګډ لرغوني آریاني پېر د پاتمړو (میراثونو) ښکارندويي هم کوي، په دې لړکي لکه څنګه چې پوهاند حبیبي د پښتوادبیاتو په لومړي ټوك کې ورته نغوته کړې ده، ډېر کېدون لري چې د آریا، اریاورته یا هوما (سوما) اتمولوجیکي نښې نښانې په اوسنۍ پښتو کې را پیدا کړو. لکه آر (اصل، اصیل) او آره (اصل، منشا) اوله دې سره د کرکېلې په مانا، لکه د کندهار خوا په ډېر متل کې "آره آره، ژغ پر غاړه" چې له "آریا" سره تړاو لري. له دای شي اومه، هومه، اومان یا هومان مورګن ستیرني د oma په بڼه څېړله. پښتو اتمولوجیکي ویي پانګه کې هم را اخېستې او د اوست په هومه -haoma پسې یې وړې دی. ورشو د "اریا ورته" له -ورته سره یو ښکاره فونېتیکي او اتنولوجیکي تړاو ښیي او له آریاني فیلالوجۍ سره هم پوره اړخ لګوي (کهزاده ۸۵مخ) د پښتو د نمر، نور او لمر ترڅنګه "مېر" ګړدودي وارینټ له مېترا "د لمر خدای" سره بې اړیکې نه برېښي (54EVP). لیکوال (زیار) د افغانستان ژبپوهنې اتلس تر پروژې لاندې په څلور کلنو ګړدودي څېړنو کې داسې ډېر څه پروفیسر مورګن ستیرني ته د مشر لاربنود په توګه په ګوته کړي او یو لړیادښتونه مې ورسپارلي وو، خو هغه همدا ویل "پر ېږده چې اتلس خپور شي او بیا هم ستاسې نومهالو افغاني ژبپوهانو کار دی چې زما او نورو ختیځپوهانو څېړنې کره او بشپړې کړئ او زه نور سپینږیری شوی یم او هڅه کوم متې پښتو اتمولوجي له داسې نویو یادښتونو او کړونو سره له سره بیا چاپ ته وسپارم..."

د اروابناد استاد دغه لاسوهلي او کره کړې اثر الماني پښتو – ونېځي څېړونکي ایلفن باین (Elfenbein) د ګیوتینګن د څېړنځي

په چوکاټ کې د استاد مکنزي په لارښوونه له څو کلونو راهیسې ترا پېدې لاندې نیولی. لاد چاپ جوګه شوی نه دی او مایي یوه کاپي له لارښود استاد (پروفیسور مکنزي) څخه پر ۱۹۹۸ کال په وېلس کې تر لاسه کړه. خو د اتلس کار په برن کې داستاد ردارله کورناستی سره پرتپه دریدلی او کاپي یې هم په افغانستان کې له اسلام واکی او بیا هزاره واکی سره له منځه ولاړه.

**۴-۷: دساکي –پښتو آرپوهیز (اتېمولوجیک) اړیکي[1]:**

ساکې کنته "Kanthā" ښار". سانسکرېت-Kanthā، سوغدي Knδ h همدارنګه پنجه کنت یا پنجکت (پنجده) له پخوانیو سوغدي ښارونو څخه ګڼل کېږي واحدوا (۳۴۳مخ).

پښتو: کندیKanday" محله، محلت،ناحیه، قریه" په کامه کې یو ځاینوم،د سمرکند، تاشکند، یارکند، خوکند غوندې د پښتني سیمو یو نیم ځاینوم، لکه ملکندی یا ملاکندی، چمرکندی، روهیلکندی... هم ورته تونې (مکاني) روستاړی لري. دوست شینواری (۲۹، ۴۵) په کندي دار (قریه دار) کې کندی د قریه په مانا رااخېستی چې د شینوارو خوا ته دودلري. او د هرات ساکي نوم یې هم "هېرکند" رااخیستی (۵۹مخ) [پالوال، ۲ ټوك، په دغه نامه سیمه د کاسپین شاوخوا ښوونې ده]. همداراز پوهاند رښتین "کند" د تونې یا ځاینومیز روستاړي په توګه راوړی دی (رښتین، پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه) دا چې کنده، کوندی، کاند (طاق)، کاندی (قاشق)، کنډر، کنډواله؛ او داسې نور پښتو ویبونه هم ورسره هم آري دي، ددغه راز د هزاره جاتو د ایکوندي او د هرات د سیاوشان کنده هم ورسره اړوند پداې شي.

د مورګن ستیرنې (EVP ۳۲مخ) له دې شننې رازباتېدای شي:

---

۱ - د والتربېلي (۱۳۷-۱۳۹مخ) پر بنسټ.

kandal "کندل" wu-kind "وکیند" > *kūnd-.<*kānt- د ګایګر له
مخې په اوستا -kan پسې هم وړي، خو د همدې لړۍ kandai "کندي" بیا
هم له ساکي-kantha"ښار" سره اړوندوي.

ساکي: کووه -kuvaa "کوټه، "ډېرۍ، غونډۍ". زړه پارسي
-kaufa، بلوچې kōpak "اوږه".

پښتو: کوپان د کوهان ترځنګه د اوښ کوهان په مانا، کوب kub
او کوپ kup د شاکوپي (کوزپشت) په مانا : کوټه (توده) اوالماني
haufen ورسره هم بې اړې نه برېښي. مورګن ستیرنې (EVP
p.35) د ګایګر له مخې بل پښتو ځیل (وارینټ) kwab (شاکوبی)
له اوستا kaᵊfa "غونډۍ" سر ترلی، بلوڅي انډول کوپګ Kōpag
"اوږه"، واخي هغه یې کپ kap "کوهان" راوړي او د راوړتې له مخې
یې پښتو کوبی او کوپی، شاکوپی هم کښلی دی او ده پرې
نورګړدودي ځیلونه هم رالړۍ کړي دي. زما د هما نیز ونو په
سینډګي کې یې ټول شمېر۲۴ -۲۵ ته رسي.

ساکي: -ggara"غر " اوستا-gari

پښتو: غر. غرګی (ډبره)، غرګۍ (هغه وړې لرګینې ټوټې چې له
غره څخه نېز راوړي وي). مورګن ستیرنې د ګایګر له مخې اوستا
-gairi ښوولی چې سانسکرېټ ته نږدې برېښي. د اورمړۍ په
کانیګرامي ګړدودکې یې grī اوپه لوګري ګړدود کې یې girī او
پراچې gir یې ورسره بیا د "تیږې" په مانا انډول کړی دی.

ساکي: ګرامه -grāma (ګرم) زړه پارسي -gaṛmā

پښتو: غارمه γārma د ساړه sāra بد په توګه په سوات او نورو
ډېرو پښتني سیموکې دود لري چې نور یې پرځای پارسې "ګرمې"
کاروي، غرمه "چاشت" بیا ټولیز کارول کېږي.

مورګن ستیرنې غرمه او غارمه "noon ,heat" مانا کړې او د ګایګر له
مخې یې اوستایي انډول -garama ښوولی دی، همدارازیې د ګړدودي

پارسي غرم γarm "قهر" هم ورسره اړوند کړي دي. مايرهوفر(۱۲۰ مخ) د "گرمي ځای (مهال) په مانا د څلورمي مياشتي Garmapada- (چونګاښ) د نامه په توګه رااخيستى او بيا يې له اوستا -garəma، زړې هندي -gharmá "تودوخه، انګار"، لاتين formus، يوناني θερmós "تود، ګرم" سره انډول کړي دي.

ساکي: ځارمن tcārman "پوستکي، څرمن" اوستا چرمن čaraman، نوى پارسي چرم، زوړ هندي -cárman راخيستى دي.

پښتو: څرمن هم د پارسي چرم (leather) او هم د انسان په ګډون د ټولو ژويو د پوستکي (skin) په مانا کارول کېږي.

ساکي: جوته jūtä" دى ژوند کوي، "اوستا ǰva" ژوند، پروفيسرستن کونو خوتن –ساکي-jū" ژوند" هم له اوستا ǰva سره انډول کړي دي (د اړوند کتاب سريزه، د زيار ژباړه).

پښتو: ژوند žwand ژواك žwāk" ژوندون žwandún "life"، ژوندی "alife, living" پښتو قاموس ژوول = ژوند کول (زيستن to-live) او ژوه! "زنده باد" هم کښلي دي. پروفيسر مورګن ستيرنې (۱۰۶ مخ) په دې لړ کې ځينې اړوند پښتو ګړدودي ځيلونه او بيا د خپلوانو ژبو ورته وييونه هم را اخيستي دي، لکه اوستا ǰīti ژوند"، -jīvya" ژوندي"، پارسي زنده، په اورمړي کانيګرامي ګړدود کې پښتو پور ويى zwandai خوژو-žw ريښه په -ǰīw* پسې نه، بلکې په ǰiw* ,-juw-* ,ǰyuw پسې وړي.

په دغه اړه پښتو ژوى žáway" حيوان" هم خورا په زړه پورې دي.

ساکي: تاره -ttāra"تياره" اوستا -taθra

پښتو: تياره tyāra هداراز تور، تورتم...

مورګنستيرنې (۸۲ مخ) تياره له تور سره د هماري او لنډمانيزې په توګه تر څېړنې لاندې نيولې او په نورو خپلوانو ژبو کې يې هم

پلټلــی ده، لکـــه: ســـوغدي tārāk، مونجـــي turá ســـریکولي tor، اوســتا -taθrya. دغـه راز یـې تـوری stōraiد کـوم پښتـوګړدود لـه مخـې د ستړګو کسـې پـه مانـا هـم کښلی او لـه سانسـکریت -tāra "ستوری، کسـی" او نـورو سره یـې انډول کړی دی.

ساکي: پېتـر-pätar "پـلار" زړه پارسـي -pitar

پلار مورګن ستیرنې یې له اوستا -pitar، ترینو (وڼېڅي) piyār سره تـر پرتلې وروسته plār په -pitar پسې وړي او له pīr<piθr سره یې دومره نـه اړوندوي او بیایي له مور mōr <māθr سره هم د پرتلې وړنه ګڼي.

ســاکي: پـــهرو pharu "ډېر، زیـــات"، زړه پارســـي paru اوســـتا pouru، زړه هنــدي purúv-,purú یونـــاني Πλύs.

پښتـو: پـوره pura" مکمـل، کـافي "چـي ښایـي پرېمـان تـر پارسـي" فـراوان "څخـه لـه "پـوره" سـره ډېر نژدېوالـی ولـري. یـو بـل پښتـو ویـی pur پورو مـامور هم کېدای شي دلتـه بې تـړاوه نـه اوسي.

سـاکي: باتـه -bāta "بـاد" پښتـو وو wo "بـاد"، اوسـتا "vāta" دغـه نړه پښتـو ویـی پـر پښتـو قـاموس سربېره مـورګن ستیرنې هـم پـه خپـل (EVP ۸۵ مـخ) کـې د خلیلـو د ګړدود پـه اخـځ تـش لـه اوسـتا -vāta سره پرتلـه کړی دی.

ســاکي: برشـــته -braṣṭa "پوښتلـــی"، اوســـتا frašta" پوښتلـــی"، puls "پوښتـــل"، رایښلـــت (۴۶۶مـــخ) اوَســـتا کـــړ -fras "پوښتـــل" paras ,-parsō parštaلـه چـا یـو څه پوښتـل "او داسـې نـورې بـڼې راخېســتې دي.

پښتـو: پوښتـل، پوښتـېدل، پوښتنـه کـول. ګایـګر د پښتـو پخوانـی بـڼه -paršti* ګڼي، لکـه اوســتا (-paras-(fras پوښتـــل، شـــوغني pešcum مـورګن سـتیرني (۶۲مـخ) دغـه ویـی پـه پښتـو کـې د پښتـو paštún د مانـا بلونـي (تداعـي کوونکـي) پـه تـوګه پـه دې متـل کـې

راڅیستي دی. "پښتون خود پښتني (پونښتني) وړی دی، دروتې وړی نه دی."

ساکي: -pūra، "زوی". اوستي furt اوستا -puθra زړه پارسي -pusa

پښتو: بور د زوی مر پلارستاینوم، ترخنګه یې بوره مور، بوره وراره (وررورمرې) (د توتومونګرې یا غوټې؛ دارې بور...)، په ترښتي بڼه. لکه تربور tarbur (له تره او بور څخه) چې له آره د تره زوی مانا لري. دویمه مانا یې "دښمن" ده او ډېرګړی یې تربوران، تربره، تربرونه "دښمنان" راځي. خو بیا هم د نورو "دښمنانو" په جاج نه، بلکې هماغه کسان چې د یوه نیکه د نرینه زوی ذات په جاج د ګډې پاتمړې (میراث) پرسر د خپلمنځي اړیبچ له کبله سره دښمنان شوي وي، د (تربرونه) لنډه بڼه (تربونه) هم مورګن ستېرنې کښلې. دی پرب باندې د پخوانۍ پ د تولیز او ښتنګ له مخې د "تربور" پخوانۍ بڼه -ptrwyapuθra* ) ښوولې ده (مورګن ستیرنې ۸۱-۸۲ مخ). په تریکنۍ کې تش (ب) د بوراستازي کوي.

ساکي: نامن -nāman اوستا او زړه پارسي هم -nāman

پښتو: نوم num، نامه nāma، نومل، نومول، نومبدل، همداراز په بېلنګونو (مشتقاتو) کې، لکه نوماند، نوميال، نوميالی، نامتو، نومورې، نومر، نومورې، نومونه (ترم، اصطلاح)، نومونپوهنه (ترمینالوجي) چې وروستي درې یې له نویو رغاونو څخه ګڼل کېږي. پروفیسر مورګن ستیرنې (۵۲مخ) یې د ګایګرله مخې په هماغه پخوانۍ او بیا اوستایي بڼې nāman-< پسې وړي. اوښتي بڼه یې nama کښلې چې کره یې nāmá راځي. نام nām یې هرګوره د پارسي پورویي ښوولی چې په یونیم ګردود کې یې څرګ کښلی دی. زما په اند نام او نامه ښایي لرنیوپښتنو له اردو

څخه اخېستي وي او اردو خو بې له هغې په تولېزه توګه د پارسۍ پوروړې ده.

ساکي: رښته -rrașța رښتیا right. اوستا –rašta لاربنوول شوی directed، زړه پارسي-rāsta "right"

پښتو: رښتیا "right, true, truth"، رښتین، رښتینی، رېښتونی، رښتیانی "true" دغه راز یې نور اړوند بیلنګونه، لکه رښتینواله، رښتینولي، ریښتیني، رېښتینګلوي؛ رښتیاینه (تحقق) د نیولوجېزم په توګه هم دودشوی دی او "رښتهٔ د" حق" په مانا له ساکي څخه د پورویي یا پاتمرې په توګه هم همداسې درواخله.

مورګن ستېرنې (۶۴مخ) ریښتونی او ریښتینی د "true" او رښتیا د true ,truth" په مانا رااخېستي او د ګایګر له مخې یې له اوستا (-araš) -arš "right true" سره پرتله کړې ده. همداراز یې اوستا -arštāt" دنیا ومنی خدایګوتې". د پښتو ریښتیا rištiyā او د š له دویم څلې تالوییزوالي (palatalization) وروسته بېنه

a او e

ریښتیا rištiyā (دویم -i– زیاتي بریښي او لومړي هغه هم زیاتره راځي. په پخوانیوبېنو -rštati-> *او بیا ṛštyāδ پسې وړي، r (ar) چې د یوه هندي بېواك ښکارندوی دی، په پښتو کې پر ړ ṛ یا اړ r(e) او همدارنګه یې تر اغېز لاندې ورپسې ش š پر ښ š اوښتی دی او داسې نور غږیز اوښتونونه د پورتني پښتو ویي "رښتیا" د اوسني بڼې لامل شوي دي.

ساکي: اشه aśśa "آس" زړه پارسي -as(s)a؛ اوستا -aspa- واخي yaš اوښتی -äfs.

ساکي: ښوا -ṣṣavā "شپه" اوستا xšapā، زړه پارسي خشپ hšap، زړه هندي کشپ kşap او کشپه kşapáh (براندنشتاین ۱۲۶ مخ).

پښتو: شپه špa.

مورگن ستيرنې د ګايګر لـه مخې špa په اوستا د -xšap؛ پسې
وړي چې د -xšapā تـر څنـګه ټيکـاو لـري او تـاريخي پرمختيـايي
بهير يې داسې اټکلوي:

špa <*sφa< šβa< *xšapā

ساکي: ستـه -sata"١٠٠"، اوستا -sata

پښتو: سل sal "١٠٠"

مورګن ستيرنې يې په اوستا <-sata پسې وړي او پـه دوه سـوه،
دري سـوه ... كـې يـې دويـم انـډول د هنـدي sū، لكـه tērsū "٣٠٠"
پورونه بولـي.

ساکي: ساته -ysāta زېږېدلـی، زوکـړی "اوستا زاتـه -zāta

پښتو: زوی زات -zoyzāt، زوزات zawzāt"اولاد"، زوی‌چې زو او زی هم
دود لـري، زيلانځ "زهدان، رحـم"، زوېولـي؛ زوول zowal، زوکـړل، زېږېدل و
زېږول، زېږون "تولـد، ولادت"، زېږېدلـی، مـورزېږی "مـادرزاد،" همزولـی،
زومړی، همداراز –زی -zay د روستاړی پـه تـوګه او هـم پـه خپلواكـه تـوګه د
"زوی" پـه مانـا... مورګن ستيرنې (۱۰۳-۱۰۴ مـخ) د ګايـګر لـه مخـې زوول
"zowal zowul" زېږېدل "to be born zezedal" لـه اوستا چاروالې
(معلومې) ستېې "to bear" <-zan سره اړوند ښوولې چې پارسـي يې زادن
zādan راځي. په دې لړکې يې زوی (زامن)، همزولـی "همسـن" هم راوړي او
د وزيـري ګړدود زېژيـدل zyezedal" رامنځتـه کيـدل پيداکـېدل او ځوول
jowal "زېږول" يې هم رالړی کړي دي. دغه رازيي د همزولي دويمه برخه
د –زولی، پـه پخوانـی بڼې zataka-> zāman پسې وړې او د ګواري ژبـې
پـور کـړی انـډول zātak"زوی" يـې ورسـره پرتلـه كـړی دی. پـراچـي zăγa،
وايګلي zaγa "co wife" شوغني zak "کوچنی" اورمـړي (کـانيګرامي)
win-jok زيبـاکي او اشکاشـمي زامـن "ماشـوم" واخـې zamān ييدغـا
zuman او نور هم همداسې دروا‌خله. ژنی يا زنی "توجوان" او زلمی يې هم
دلته اړوند ګڼلي دي چې زلمينه، زلما... هم په دغه لړ کې راځي.

ساکي: ايسو aysu "زه"، اوستا azəm زړه پارسي adam.

پښتو: زه za مورګن ستيرني (۱۰۱مخ) د ساکي aysu او اوستا azam ترڅنګه له نورو خپلوانو ژبو سره پرتله کړې دی، لکه: کوردي ez واخي wuz، يدغا zoh وزيري ګردود زو zu مونجي za، اورمړي az، سوغدي zwʼ (زلمی)

ساکي: ساړه -sāda "زوړ" اوستا zarəta

پښتو: زوړ، ښځينه زړه، اوښتي او ډېرګړي بڼې يې (زاړه او زړې) زړښت، زړېدل، زړول، زړبوډي، زاړه (غوا).

مورګن ستيرني (۱۰۳مخ) پښتو (زوړ) د ګايګر پر لاروي په اوستا د -zarata "پسې وړي چې زوروان -zaurvan "بوډا" او بل اوستايي- اندول zarata "له زړښته زهير شوی" يې هم ورسره اړوند ښوولی دی. همداسې يې پارسي (زال) او اورمړي (زال) هم در واخله.

ساکي: سهه "-saha" سوه، سم، اوستا سفه –safa.

پښتو: سوه swa او ښتې او ډېر ګړی بڼه يې سوې swe.

مورګن ستيرنې يي (۷۱مخ) له ګايګر سره سم په اوستا <-safa پسې وړي او د خليلو ګردودي اندول يې سخوم (sxom) ښوولی دی.

ساکي: موشته -musta " موټی، سوك".

پښتو: موټی، ښايي دغه پښتو اندول د ساکي موشته له دوه ګونو ماناوو څخه يوه دا "موټی" راواخلي، لکه پارسي "مشت" او انګريزي "fist" چې موټي او سوك (بوکس) دواړې ماناوې ښندي. دا چې پارسي پخوانی آرياني غږيز جوړښت تر پښتو ډېر خوندي ساتلی دی، نو د "موشته" غونډې ورسره نور ساکي ويپونه هم له دغه پلوه نژديوالی لري، خو له ټولېز اتمالوجيك پلوه ورسره د پښتو نژدېوالی زيات دی. د ساري په توګه په پاسني ويي کې پښتو له خپل غږيز بدلون سره سم د ت تر څنګه ش له لاسه ورکړی دی. بله

بېلګه يې لکه د ساکي -hamguşţa او پارسي انګشت په وړاندې ګوته gwāta

ساکي: آهو دی یا اهو ډې āhūde "هډونه"

پښتو: هډ had چې ډېر ګړی يې هډونه او کوچينه diminutive بڼه يې هډوکی او هډوکي راځي.

ساکي: ګرسه garsa,gärsye,garśa "throat"

ggälsāra-, gesāra-"neck",

gadaa "rhroat"

پښتو: غاړه γara هم د انګريزي throat "مری، ستونی" او هم neck "ورمېږ" په مانا، کوچينه بڼه يې غړی راځي او دويمه کوچينه بڼه يې غاړه کی بیاد "ګردنبند" مانا څانته غوره کوي. غاړه غړی، غاړه غتی. د "غاړه پر غاړه" یا "غاړې وتل د " معانقه" په مانا، همغاړی او داسې نور. غاړه او غړی د منګي، بوتل او نورو ورته لوښيو سامان لپاره هم راځي. همداراز غاړه د "ساحل، خوا" په ماناوو هم کارول کېږي. پروفیسر مورګن ستيرني (۲۷-۵۱ مخ) غړل (غښتل)، نغــــــاړل (نغښتل)، نغـــړدل (نغـړل) "to swallow" او داسې نورو سره هم همغاړه کوي او د سانسکرېټ grath- له مخې يې د ګايګر زړه بڼه <-garth* اټکلوي. د خپلوانو ژبو نورې بېلګې يې داسې راوړي دي:

پارسي ګردن gardan، مازندراني ګل gal "ورمېږ"، سانسکرېټ ghātā " څټ"، هندي ghāṭī "ستونی" وچه مری یا کرنکه". ګجراتي ghātū، لهندا ghaṇḍi، "غری، چنغړك" ... په دې توګه پښتو "غری" او غړی هم له "غاړه" سره ګډ آری اټکلېدای شي.

ساکي: ګووه -gguva "غوږ".

پښتو: غوږ γwaž نغوتل nγwatal (نغوږل) "اورېدل" او همداراز غوږی γwažay د درې ګوتي واړه پتي او کوشني ګوډي په مانا او غوږی خولی يا غوږينه د "کلاه ګوشکی" او نن سبا د ټېلېفون "ګوشی یا ګوشك" په مانا

هم کارول کیږي، یا غوړنی (داورېدوآله). مورګن ستېرني (۲۹ مخ او وریسې ۵۱ او ۱۰۶ مخونه) پښتو غوږ د ګایګر له مخې په اوستا gaoša-> پسې وړي او دروږ یا درغوږ darg(γ)wažٚ د بلهارۍ لپاره د څارویو په غوږو کې کړې نښې نښانې یې چې بله مانا یې هماغه اړوند څاروی او درېیمه مانایي هم "بلهاري یا قرباني" د ستاینوم په توګه دودلري. هم په دې لړ کې راوړی دی. همداسې یې برغوږی یا برغوټی (barγwazai(barγotai) "غوږوالی" او غوږی (γwažٚ(ai "د لمندې موټی" هم له غوږ سره اړوند کړی دی. په دې لړ کې یې (۵۱ مخ) نغوتل او نغوږل "غوږ نیول، اورېدل، منل" د ګایګر له مخې له زړې بڼې <-m-gauš" څخه رازېږېدلي ګڼلي او د خپلوانو ژبو بېلګې یې هم ورسره رایادېښت کړي او پرتله کړي دي، لکه: اوستا -gaoš" اورېدل"، پارسي نیوشیدن niyōšīdan " اورېدل، منل"، بل ځای یې (۱۰۶ مخ) څوږ یا زوږ zwažٚ او غږ او ږغ هم په همدغه اړه تر کتنې لاندې نیولي دي.

ساکي: ګوشته ggušta"غوښه".

پښتو: غوښه (γwáša)، د ګایګر له مخې دغه ویی له آره پښتو دی چې پارسي اندول یې ګوشت gošt، تاجیکي، پراچې او مونجې یې غوش γūš دي (مورګن ستیرني ۲۹ مخ).

ساکي: ترندره -ttarandara "body".

پښتو: ځاندره، تنه، دړه "جسم، وجود" تیندوړی.

ساکي: څاره tcāra څاربه -tcārba "fat".

پښتو: څورب corb "چاغ"، اوښتي پیر څاربه cārba، ښځینه carba، پارسي چرب "غوړ"، سانسکریت چاربه -tcārba، اوستا -kahrp"جسمي بڼه"، لاتین corpus (مورګن ستیرني ۱۸مخ). په دې توګه الماني Körper انګریزي corpse(درنګه، جسد)، corpulent (څورب)... هم په دغه لړ کې راځي چې آره یې بیا هم هماغه لاتیني ده.

ساکي: څېرې "face" tcīre

پښتو: څېره، څهره، څېر (په څېر).

مورګن ستیرنې (۱۷مخ) په دغه لړکې څېره او څېر (cer) د ګایګر له مخې په اوستایي <-čiθra پسې وړي چې د "آر، اصل" په مانا دی، پارسي چهره čihra "قیافه"، تصویر "او داسې نور.

ساکي: دسته -dasta"لاس".

پښتو: لاس lās، لاسته "لوری" لاستی، "دسته"، لاسته "دسته" لستونی "آستین" هم له لاس څخه منځته راغلی ښېلنګ (اشتقاق) دی.

مورګن ستیرنې (۳۹ مخ) په دې لاسوند چې پخوانی آریانی (d) سر غږ په پښتو کې ل (l) شوی دی، نو د هورن (Horn)، غوندې یې دنورو ژبو په لړکې په پارسي پورویپونوکې نه راوړي، که نه په ټولو پښتو ګړدودو کې به یې په همدې یوه بڼه ځان نه راڅرګندولای. شوغني zus، سریکولي zust ښایي د (t)ɓus* استازي اوسي او ګوښې پاتې نورستاني ژبو ته یې هم لارکړې وي، نه ګاونډوهندي ګړدودوته چې هلته h<*žh کېږي.

ساکي: پالسووې"ribs "

پښتو: پښتۍ paštəy چې د دار مستېتر له مخې له اوستا <paršti* څخه آره اخلي او سانسکرېت یې pṛaṣṭi "پښتۍ" په وړاندې لري (مورګن سترنې ۶۱مخ).

ساکي: بروساره -brausāra"بارخو، اننګي"، سانسکریت -paricaksusā.

پښتو: بارخو bārxu، ډېرګړي (بارخوګان)، په ځینو پښتو ګړدودوکې په وروستي اوږده (و=o) هم ویل کېږي.

ساکې: سو ysū ، "pus" یېدغا او اورمړي زو zū .

پښتو: زوه záwa، زولن "زوې کوونکی زخم..." مورګن ستیرنې (۱۰۳ مخ) پښتو (زوه) د نورو په توپیر له سانسکرېت hu- بلهارول، کوچ په اورکي شیندل" سره اړوند نه ګڼي.

ساکي: دومه -dumaa"tail".

پښتو: لکی lakay چې د لـم lam کوچنی نوم دی، بله بېلګه يې هم لمکټی او لمکنډی "د مغوزك" دی. لمغوټه (دم بسته) د هغه چا ستاینوم راځي چې لـه منځه ايستل شوی يا شـړل شوی وی. اوستا د -duma، سوغدي ذونپ δwnp* د δumbl* (عربي ذنب هم ښايي يو آرياني پورو يی وي!)، پارسی دم، دمب dum(b)، دمبه يا دنبه (او د لم وازده)، مونجي لم lam چې د پښتو نږدې خپلوانه پاميري ژبه ده. مورګن ستيرنې په دې لړ کې پښتو لمبړ ləmbaṛ يا لومبړه lumbə́ra "روباه" بيا هندي پورويی ګڼي چې پنجابي يې لومبړ lūmbaṛ دی پشه يې لمبه ləmba "تر شا"، پښتو پورويی ښيي، مګر پشه يې لمبې ləmbi "روباه" ورته جوت نه برېښي (مورګن ستيرنې ۳۶ مخ) بـل پښتو همانيزيي سپلم spal əm دی چې نوموړی يې (۶۸ مخ) يې آره سپېره لم اټکلوي.

ساکې: سووه suvä، سوي sγī "سږي "lungs".

اوستا -suši

پښتـو: سـږی sážay د ږګړی سـږي sə́ẓ̌i، سـږمه (سـپږمه يـا سپېږمه) هم ورسره بې اړيکي نه برېښي.

ساکي: هونـه -hūna "blood".

پښتو: وينـه wína. مورګن ستيرنې (۸۷مخ) د ګايګر له خوا له اوستا <-vohuni سره تر پرتلي وروسته پښتو وينه wína له اوستايي انډول سره په درېيم زاړه پړاو کې داسې پرتله کوي:

win-a<* wēn < wa(h) uni

هغه هم په دې لاسوند چې په نورو همزولو خپلوانو ژبو کې يې همداسې غـږيز بدلـون موندلـی دی: پـراچې hīn اورمړي (پورويی) īn مونجې yīna، يېدغا vīnoh او نور.

ساکي: هـورا -hurā ورون "thigh".

پښتو: ورون wrun، ډېر ګړی ورنونه، اوښتې پېر ورانه، اوښتې ډېرګړی ورنو؛ ښایي چې وروني ورسره هم اړیکې ولري.

ساکي: شمبخه sambajsa- "claw"

پښتو: چمبه čambá چې په ډېرو پښتو ګړدودو کې یې پارسي پوروړیې پنجه panjá ځای نیولی. د ننګرهار خواته (داریه) ته هم چمبه وایي. چمبر د پارسي (چنبر) د اندول په توګه د کړۍ (حلقه) په مانا هم په ځینو پښتو ګړدودوکې دود لري.

ساکي: کوه kava- "fish"، کب".

پښتو: کب kab، ډېرګړی کبان، کبونه، ییدغا kăp، اوسیتي käf "مالګین شوی کب". مونجي kab، واخي kūp سوغدي kap. مورګنستیرنې (۳۲مخ) له یو لړ قفقازي ژبوسره ددغه ویي همرنګي یاورتوالی په زیات ګومان نابېري (تصادف) ښیي، خو داچې د قفقاز سیمه (لکه څنګه چې په ۱-۳-۴-او ۳-۵ کې پرې رڼا واچول شوه) له "ساک" سره اړوندې لري، نو کېدای شي. دغه نابېري رښتینوالی ومومي. لکه څنګه چې د ساکي بله نمسی اوسیتي له خپلو ویونکیو (اوسیتیانو) سره تر اوسه هلته ټیکاو لري. هغه ورته قفقازي بېلګې لکه: خبخي xabxi، خبه xxhaba خوش xavš کوش kavš...

ساکي: ځا jsa=jā "تلل" to go".

پښتو: خل (د تلل وسمهال انډول)، لکه په ځم، ځو ... کې چې امري بڼه "ځه!" ورسره بڼه تراسمون خوري. دلته ساکي ځ د زړې اریانې < ج j. او لا زړې هغې <ġ څخه سرچینه اخلي. اوستا -gam- "راتلل، تلل" -jasa- "تلل، راتلل" زړه پارسي gam "تلل" a-jam-iyā "هغه به راشي"، -gata او gmata تېرمهال کړستاینوم (صفت مفعولي)" تللی"، زړه هندي gam هم د اوستا په څېر "تلل، راتلل" دواړې ماناوې رااخلي. پښتو او ساکي j ځ دیخوانۍ ګ g او نوې پارسۍ g غورځولی او -mata (امد –) یې په

میراث رسېدلی دی. اروپايي ژبې د پخوانی -gریښې په وړاندې -g او k... لری لکه انګريزي go، come، الماني -kom-,geh او داسې نور.

ساکي: آهيه āhya "هګۍ egg"

پښتو: هايه (آيه)، هويه (اويه)، هګۍ (اګۍ) (مصغر يا کوچنينوم).

مورګن ستيرني (۳۰ مخ) يې هويه (hōya) او ها (ha) ګړدودي څېلونه رااخېستي او د ګايګر له مخې يې له پارسي خايه (xāya) ... سره پرتله کړې ده او زياتوي چې hagay له hā<-āyā* څخه منځته راغلې او پورتني ساکي āhya يې تونپېر (locative) بڼه ښوولې ده، پراچې يې ēx اورمړي يې hanwalk، کوردي يې hilka اورومانی يې hēlä او اشکاشمي يې akik. له پارسي "خايه" سره پښتو اندول "خوټه" زيات اړخ لګوي، چې يو کوچيننوم (تصغير) دی او اړوند روستاړی يې – وټه دی، په "سکروټه" او داسې نورو کې يې هم ورته څرك لګېږي.

ساکي: کومځته -Kumjsata "کونځل، کونځله يا کونځلې".

مورګنستيرني (۳۲مخEVP) دغه ويي په زياترو آرياني ژبوکې يو پخوانی هندي پورويی ګڼي چې په سانسکريت کې يې کونچيته -kuncita بڼه راغلې ده، که څه هم ګايګريې له پارسي کنجد kunjad اوبلوڅي kunčīθ سره پرتله کوي.

ساکي: کشتې kaste ښکاري"

پښتو: کتل، مورګنستيرني (۳۵EVP) دغه ويی له ساکي "کشتي" سره د پرتلې په لړکې د ګايګر له مخې له اوستا <-kas سره هم اندولوي، خو تېروتنه يې په دې کې ده چې د کرلاڼي ګړدودو، لکه د خټکو، وزيرو، اپريدو او نورو په هغوکې -kas(کسل) د کتل وسمهال ستېه ګڼي، حال دا چې زما د ډګر څېړنو (فيلډريسرچ) له مخې "کسل" په تېرمهال او نامهال تولو کې بشپړ او ړون لري او "کتل" خو وزير پر تېرمهال سربېره په وسمهال کې هم ګردانوي، لکه چې وايي: "ډاکټر ته څم چې ومې کتي". هر ګوره

کېدای شي، نوموړی پوهاند د اړوند پوښتنغاړي (informent) له ناسم خواب سره مخ شوی وي ! په نورو نژدې (ساکي) ژبو کې یې بیا د شوغني چېس čes–" کتل، لیدل" او سوغدي anxar-kas "ستورپوه" اندولونه هم راوړي دي. په هر ډول له اتیمولوجیك پلوه پښتو کتل او کسل سره یودي او ګرامری چار یې سره لړو ډېر توپیر مومي.

## ۴-۸: دساکي –پښتـو غـړ پوهـیز (فونولوجیـک) اړیکـي:

۴-۸-۱: ساکي له غړ پوهیز پلوه یوه ونجېدونکې (متحوله) ژبه ده او دغه ځانګړتیا یې پښتو او نورو لوېو او نمسیو ته د پاتمړې (میراث) په توګه راپاتې ده. هسې خو په ټولیز ډول فونولوجیکي اړیکي تر اتیمولوجیکي او ګرامري هغو د ژبنی اړوند ی او خپلوی د زبات په برخه کې زیات بنستیز نقش لري. سره له دې چې د ساکي ژبې تر لاسه شوي لاسوندونه او متنونه زیاتره د منځني پېر استازي کوي، خو بیا هم، لکه والتر ببلي (۱۳۹-۱۴۱مخ) چې پرې رڼا اچولې، پوره راڅرګند برې چې دغه ژبه له هماغه زاړه پېر راهیسې د نورو زړو آریاني ژبو په تېره زړې پارسی په وړاندې تر ډېره ځایه یوه غړونج منونکې ژبه ګڼل کېږي او کله یې چې د نوي پېر د ژبو یا نمسیانو پړاو رارسي، دغه توپیر خپل بشپړتیا یې پړاو وهي، لکه پښتو (غ-ل-و) یا پامیري (غ-ذ-و) د پارسي او نورو (ګ-د-ب) په وړاندې او داسې نور غبرګژ بېز (ټ، ډ، ڼ، ړ، ښ (یا ځ، څ... هم همداسې درواخله. (۱-۲-۳-) همدا خبره ده چې نه یوازې ساکي، بلکې دویمه نژدې باختري خور یې (اوستا) هم د پارسي ومادي او پارتي په پرتله زیات غړونج منونکې ده او اوسنی ختیزې آریاني ژبې په تېره شمال ختیزې لکه پښتو، پامیري ژبې، اوسېتي او نورې له دغه پلوه په یوه لړ کې راځي. د پښتو په ګډون ددغو ټولو نژدې خپلوانو ژبو بله ګډه ځانګړتیا بیا دا ده چې د لېکزیکي او ګرامري ارکاییزم له پلوه، په سرچپه ډول د پارسي ډلې په وړاندې له خورا ځانساتیو (محافظه کارو) ژبو څخه ګڼل کېږي.

۴-۸-۲: دا دي: پـه دې وروستـه ډول د خوتنـي ساکی غږونجونـه (بدلونونـه) وړانـدې کـېږي، چې زړه ساکي پـېړ تـه رسـي او لـه دې سـره سـره لـه پښتـو غـږونج سـره ښه تـرا اړخ لـګولای شـي.

۴-۸-۲-۱: واولي سيستم په خوتني ساکي کې هغه مهال له سخت ونج (بدلون) سره مخامخېږي چې -i- او y وړپسې ټيکاو لري، دا يو داسې ونج دی چې په تومشوق ګردود کې يې څرك نه لګي. اوښتی i (i-umlaut) الف (ā) او (e)، زور (a) پروازه ې (ä) اوي (ī)؛ لنډو (u,ū) پـر اوي uī اووي vī؛ اوږد و (o) اوزوروال و (au) پروې (ve) اوې (e) ونجوي، لکه په بېره -bera "زېږېدل" -ysīdaa "زېږوي"، bīdä "ســــــتر"، mista او mästa- زېږ. Paltcīmphāka- "ړنګول، تباکول"... کې چې اوستایی پـه وړانـدې دا انډولونه لري:

masıta-, barati ,zarita- * pari –scamfayāka- (or-fyāka-)...

(-۱ يوه –aiva پر (يو- yū-) اوړي، لکه پـه (ديـووا-dyūva) "دېو" کـې، زړه پارسي daiva او اوستا -daēva....

۴-۸-۲-۲: ببوا کونج يا کنسونتني بدلون يې هم خورا څواکمن دی:

منځخپلواك تمغږونه (intervocalic stops) يې غـږن شـوي، او غـږن تـم هغـه يې لـه منځه تللي دي، لکـه -kava (کـب) سـوغدي -kp، سـپاته spāta "بولندوی" دېخوا نيو -spāda-pati استازي کوي او (ری rrai "جلګه د (راګه rāga) چې پښتو انډول يې "راغه" او "رغځی" دی، بل خوا بيـا سرتمغږونه ګ-د-ب (g-d-b) څانونـه راښکـاره کـوي، لکـه پـه ggara "غـر" -dar "تيـول" "بسته" -basta کې مګر تـر ū مخکـې ب b لپـاره -v راځي او يـا ګرد سـره ورکېږي، لکه پـه -ūda "څوان، لوی adult" کې چې پـه <-brždā* پسې څې او اوستا -barazant اويستي bärzond ... يې انډولونه دي پخواني ناغږن مښلي f θ x د خپلواکو (واولو) ترمنځ پر ه h اوښتي دي،لکه په sah "سوه"، -raha "ګاډی cart ... کې. همداسې -xv- درواخله لکه پـه -paha- "پوخ، سهلی" کې چې پښتو يې پوخ، پاخه "cooked, ripe" راځي.

۴-۸-۲-۳: زاړه اریائي سر بېواکوړي (initial clusters) چې بیا پېښې یې ډېره ده پراخ ونجونه رابنیي -fr, θr, xr د -br-, dr-, gr- په بڼو کښل شوي دي، لکه په ,bry- یا -brya "گران" کې. اوستا -frya د friya لپاره، -draya "درې" او -grīta- یا gäratä "پېرلی، پېرودلی" په uysgrī یا -uysgärya له <-xrīta څخه. منځبیواکوړیو -θr- او-xr- داسې -r- ته لوړتیا یا یووستیا مونډلې چې مخنې خپلواك ورسره اوړد شوي دي، لکه په -pūra زوی کې چې له زړې بڼې-puθra څخه یې سرچینه اخیستې ده، یا په څیرو tcīrau "هیلۍ Duck" کې چې له -čaxravāka څخه یې پرمختیا مونډلې ده. دلته لومړی بېلگه له پښتو - بور (تربور...) سره اړخ لگوي.

-fr- په -u- کې خپل ځرك -f- پرې ایښی دی، لکه په -baura- "واوره" کې چې په زړې بڼې <-vafra پسې ځي، دغه ویی په پامیري ژبو کې څه ناڅه په همدې بڼه زاپاتې دی او پښتو ترې واوره wāwra جوړه کړېده.

۴-۸-۲-۴: زړه اریاني č(چ) او j (ج) چې له زړوتر k,g څخه سرچینه اخلي، په ساکې کې پر ts(څ) او dz (ځ) اوښتي. خوتني لیکدود یې tc او js دی لکه په -tcātaka "بنه"، -tcās (څښ) "لېدل، کسل"، jsa (ځا) "تلل"، -jsīnā (ځینا) "ژوند" کې.

۴-۸-۲-۵: یزیز غږونه له ځان سره یا -d- (د) ملگری کوي، لکه -nd- چې د پخواني -nt- استازي کوي، په īnda "دوی دي" کې، یا g ملگري کوي، لکه -nk->-ng په -hamgār" او-dīramggāra کې، یا js(j=ځ) لکه -nč->-mjs په pamjsa "پنځه" کې، یا b-(-ب)، لکه -mp->-mb- په -hambada "ډك کړشوی"، په داسې اکرکې چې -nd- بیا پر -n- اوښتی، لکه په -hana "ړوند" کې اوستا -anda او -mb- پر m اوښتی لکه-skamb "fashion" چې skam (ښکم) بڼه یې غوره کړې ده. [پښتو قاموس "ښکوم" د پند و نصیحت په مانا را اخیستی دی.]

مګر په دې لړکې -ng- پرځپل اکر پاتې دی، لکه په -samgga "تيره" کې چې زړه پارسي aθanga راځي.

۴-۸-۲-۶: سرغږ -y(ی-) -j (ج) ته اوړي چې ليکنی. جوله يې -gyاو j ده، لکه په -gyaysna او -jaysna "پرښتنه، عبادت" کې، اوستايي انډول يې يسنا -yasna او د زړې پارسي انډول يې yzn، يا په بله وينا -yazna* راځي.

۴-۸-۲-۷: سرغږ -v يا پرځپل ځای پاتېږي او يا پر -h او -g ونجبږي، لکه په -vathuka او ستا "لبوه" birgga-.vrda-> ګل =rose vala او ābeisa "زغومی، ګرداب"، -bais اړولو "اړاستل" -ggeis "اړول" له -vart ځخه ācī-vesāra "په لمبو کې رانغښتل"، -gesara "غاړه" له پخواني <-ggālsāra ځخه او نورو کې.

۴-۸-۲-۸: په داسې اکر کې چې -rk- غونډ پر -rg- او rp پر -rb-، لکه په -tcārba(خورب" کې اوښتی، -rg- بيا -g- له لاسه ورکړی دی، لکه په -mura"مرغه" کې چې اوستايي انډول يې -maraya دی.

۴-۸-۲-۹: -rt- پر d (ډ) اوښتی له په -krta->kāḍa کې، په داسې اکر کې چې -rd - بيا -ل- ( l ) ته اوښتی، لکه په -sala" کال" کې.

۴-۸-۲-۱۰: دواړه xš او fš د kṣ په بڼه را څرګندېږي، لکه په kṣūtä "تېلـه كـوي، تمبـوي، ورکـښوي "-kṣāna" "اوړې kṣārma "شـرم" او kṣundai "مېږه" کې او xš پر ṣṣ (ښ) اوښتای شي لکه په -ṣṣavā "شپه" کې چې اوستايي -xšapā ده، مګر -š (سرغږش) له -xš سره درغلېږي، لکه په ksū - "لوړه" کې چې اوستايي انډول يې -šud او sud اوسيتي -ksīra"خای" اوستا -šōiθra او ارمني (د پورويي په توګه) "šen" کرل شوی، شين شوی" راځي؛ همدارنګه مورګن ستيرنې (۳۴مخ د še "کښې په اړه).

۴-۸-۲-۱۱: د -xt-(-خت -) او -γd-(-غد-) غونډونو منځلي غږونه (خ او غ) له لاسه ورکړي دي. لکه په -siīa يا-sīya "زده کړی، ښوول شوی

"dīya- او dīta- (ساځ)، saj- د ‎<-sak دی، یې بنسټ چې کې " learned
سوځلی، سېځلی " ‎<-dag استازي کوي. همداراز ‎suti- "اوړي" دړواخله
چې له ‎<-sufti*ځخه آره اخلي،اوستایي اندول یې supti دی، او بله بېلګه
یې hauda "اووه" ‎<hafta* ده چې اوستایې hapta راځي.

۴-۸-۲-۱۲: sr- غونډ پر s اوښتی، لکه په ṣṣū "ښکر" کې. اوستا
ṣṣūkā, sru- (ښوکا) "او ځارتیا، شهرت"له ‎<-srav" اوریدل".

۴-۸-۱۳: له gn- څخه g غورځیدلی، لکه په būnnā- " بربنډ " کي او
سیتي خپلوان یي bäγnäg او rrūna- " غوړي " اوستا raoγna-.

۴-۸-۲-۱۴: د (ځلور) ویـي θu– پـر h- اوښتــــــــــی، لکـه پـه
tcahora (څهوره) کې.

۴-۸-۲-۱۵: rn- او ršn- پر rr– (r) تـه ساده والی موندلی، لکه په
kārra- "کوڼ" کې، اوستایي karana- یا پـه trna->tarra- او pārrā-
"پو نده" کي اوستایي pāšna- او سانسکریت یې pārṣni-

۴-۸-۲-۱۶: لـه پخوانـي rs– څخـه r– رامنځتـه شـوی، لکــه پــه
hamura- (هېرتیا" کې.

۴-۸-۲-۱۷: د بېواکـو دویمـي تمـاس چـې د خپلواکـو د ورکــاوي
پایلـه منځتــه راوړي، د ونجونــو یــوه بلــه لـړۍ رازبېږوي، دلتـه یـې یـوه
لنډه غونډي یادونه کـولای شـو:

pyusta- "اوریدلی" لـه ‎<-pati-gušta* پـه لومړي تماس کې st– تـه
اوښتـی، خـو pyusde"دی اوري " sd– تـه اوښتـی چې پخوانـي بڼه یـې
pati-gaušatai* اټکلېدای شـي. پـه ورتـه تـوګه ditte "ښکــاري" لــه
<didatai* خو diyāre" دوی ښکاري "راځرګندېږي "چې تر ځنګه یې تېر
مهال کړستاینوم (مفعولي صفت) بیا dista- "لیدلی" ټیکاو لري.

همدارنګه drysde" دی نیسي " له ‎<drjatai* د drjsare تر ځنګه.

۴-۹: نـوم اوړون یـا اسـمي صـرف (nominal diclension):



ACKU

۴- ۹-۱: لـه خـو تنـه پـه لاسـته راغلیـو لاسـوندو کـې دا زبـات تـه رسـېدلې چـې سـاکه ژبــې د منځنیـو آریـاني ژبـو پـه یـوه لـوړ اوړونـي (تصریفـي) پـړاو کـې تیکـاو لـري. نومـاوړون د کړنـد پـېر (فـاعلي حـالت)، لوښنپـېر (الـي حـالت)، وتونپـېر (مفعـول منـه حـالت) او تونپـېر (مکـاني حـالت) لپـاره بـېلا بیلې جولـې (forms) لـري هغـه هـم پـه دوه ګونـو ګڼو (عددونـو)، یـوګړي (مفـرد) او ډېـرګړي (جمـع) کـې.

نوموالـې ستڼې یـې پـه دې ډول دي:

-a-, -aka-, -ā akā-, i-, -ī-, -u-, -r-, n-, nt-, -h-

پښتـو یـې پـه وړانـدې درې پـېره لـري: آرپـیر (اصلـی حـالت)، اوښتی پیر (مغـیره حـالت) او بلنپـیر (نداییـه حـالت). پـه دې تـوګه پښتـو لـه سـاکي پـاتمڼې څخـه لږترلـږه همدغـه وروسـتی پـېر (نداییـه حـالت) راخونـدي کـړي چـې پـایلې (خـاتمې endings) یـې ورسـره هـم څه نـاڅه پـه آره بـڼه رااخېسـتی دي.

۴-۹-۲: ځانګړي نومځري (شخصي ضمیرونه) له پوره پرمختیا سره مخامخ شوي، په دې ډول: aysu "زه" muhu,muho, buhu "موږ".

تولنومځري (ملکي ضمیرونه) لکه: -mānaa "زما"-mājaa (ماځه) "زموږ"، thu "ته" umä, uhu راوروسته ama" تاسې" -tvānaa "ستا" "ستاسې". umājaa- او -umānya نغوتنومځري (اشاري ضمیرونه) لکه: (ttāru=)sāra, (ttutu=)sei (ttu=)sa. اړیکنومځري او پوښتنومځري (ارتباطي او استفهامي ضمیرونه) لکه kye,ce "څوك" cu "څه" -cira "څومره"، -tanka-,canka " څنګه" همدارنګه -kama (کوم) او نور.

۴-۹-۳: شـېمېرنومونه هــم د نــورو نــوم ډولونــو غونـدې بېلابیـل پېرونـه (حالتونـه) لــري او ورســره اوړي رااوړي لکــه śśau "یـو" تولـی (اضــافی) śe الــي śśäne تونــي (مکــاني) śśäna او śśo̜a؛ duva یـا dva "دوه"... تـرپایــه. لسیزشمېرترشـلو (۲۰) پورتــه د-pare او-vare پـه زیـاتولو جـوړېږي، لکـه:

drai-vare-، dvāre-,dvāra- śśū- vare-, śuri-
یـا :-draira او

pus-pare-,spare-,spara/tcohoru-vare/tcahauri/ tcaure/ drair-
پخوانـی -sata (۱۰۰) پـر خپـل اکـر پـاتې پـاتی دی او -ysāra- د
byūrru د "۱۰۰۰۰" baivar- اسـتازي کـوي. (۱۰۰۰) hazahra-
او byūrä پـه بـڼو راپـاتې دی.) د زیـاتې څرګندتیـا لپـاره: والـتربېلي
(۱۴۳ مـخ).

۴-۱۰: کـړاو ړون یـا د فعـل ګردان (conjugation)

چـاروال یـا معلـوم (active)

| يوګړی (مفرد) | ډېرګړی (جمـع) |
|---|---|
| ۱. pulsīmä "پوښتم" | pulsāmä "پوښتـو" |
| ۲. pulsta "پوښتې" | pulśi "پوښتـئ" |
| ۳. pulśta "پوښتي" | pulsīnda "پوښتـي" |

نـورې بېلـګې (والـتربېلي ۱۴۴-۱۴۶ مـخ)

۴-۱۰-۱: په کړنومونو کې دساکې او پښتو اړوندي وسمهالکړستاینوم (فـاعـلی صـفت) ښه تـرا راڅرګندوي او هـغـه دا چـې پـایـلې یـې -and-, anda-,andaa سره ډېرې ورتـه دي، لکـه: husand "خوبند "sleeping"، -jundaa "ژوند "žwand". ژوند په پښتو کې د آر جوړښت له مخې ورته (فـاعلي صفت) دی، خوراوروستـه پر نو م (noun) اوښتـی دی. ژوه žówa پښتـو قـاموس لـه کـوم ګړدود څخـه د "ژونـد وکـړه! یـا ژونـدی اوسه!" په مانا راخوندي کړی دی.

۴-۱۰-۲: دزړې آریانـی او زړې هنـدی پـه څېر پـه سـاکې ژبـه کـې یـوګڼ شـمېر روسـتاړي،نومونـه او کړونـه (فعلونـه) جـوړوي. ترنـګ (ترکیـب) پکـې هـم ډېر دود لـري. لکـه mārāpätara "مـوروپـلار" — dāta-hvāna" د قـانون ورمـګر یـا واعـظ "-dīra-jsīnya," داوړده ژونـد لرونکـی، اوږد منـګی"، پـه دې تـوګه دغـه ویـې رغاونـه لـه پښتـو

هغې سره پوره سمون لري او هغه داچې د ترنګ تاکنده غږی پر تاکلی غږي له مخه راځي. (د پوره څرګندتیا لپاره، زیار: ویې پوهنه ۲۸۸مخ)

## ۴-۱۱: له پامیري ژبوسره نژدېوالی د پښتو د ساکیوالي یو بل لاسوند

۴-۱۱-۱: له بنه مرغه د مشراستاد اروابناد مورګن ستیرني (Morgenstierne) یو لږ ناچاپ یادښتونه چې ترماله مخه دده لومړني افغاني شاګرد "دکتور روان فرهادی" ترلاسه کړي او د استاد تر مړینې یې څه ناڅه یو کال وړاندې (پر ۱۹۷۷ کال) په خپل ګټور اثر او ژباړه (تاریخ تلفظ وصرف پشتو جلد اول ص ۲۱۱-۱۵۶) کې د "تلخیص وتکمله" تر سرلیك لاندې خپاره کړي دي، له پامیري ژبو په تېره له مونجي، ییدغا، سنګلېچي او شوغني ژبو سره د پښتو نژدې اړوندي بیا هم راټینګوي او دا پایله په لاس راکوي چې نه یوازې د پامیري ژبو داړوندی په لاسوند چې تر پښتو یې ساکیوالی له مخه باوري شوی دی (اړوند جدول)، بلکې ورسره دا هم راڅرګندوي چې پښتو له همدغه لرغوني تاتوبې (پامیر) څخه له یوې منځنی ساکي ژبې (خوتني ساکي) سره اړیکه (تماس) درلودلی دی (فرهادي ۱۵۶ مخ).

د اړوندي څرګندونې د پارسي ژباړې پښتو لنډیز په دې لاندې ډول دی:

په آریاني کورنی کې شمال ختیزه څانګه یوه غوره څانګه ده او پښتو په پوره باور په همدغې څانګې اړه لري.

۴-۱۱-۲: (ذ) پر(ل) اوښتنه هم په پښتو او هم په مونجی کې تر سره شوي دَه. د پښتو (زور) ګردود "ونېځي" له مونجی سره یو راز پخوانی (ت) پر(ی) بدلوي.

۴-۱۱-۳: د پښتو او منجي بل ګډ ټکی "زه" دی، په منجي کې بيا د "زه" ترڅنګه "زو" هم شته. ددغو دواړو ژبو همدا ګډ ويی (نومځری) په اوستاکې د "ازه" په بڼه ليدل کيږي (په داسې اکرکې چې په نورو (زړو) آرياني ژبو کې يې اندول "ازم" دی).

۴-۱۱-۴: پخوانی ث (θ) په پښتو کې پرل (l) او په پاميري ژبو کې پر (ل، خ او ښ) اوښتې ده، لکه:

| پښتو | پاميري (منجي) | اوستا |
|---|---|---|
| پلن (plan) | پخی paxəy | پثنا-paθana |
| څلور (calor) | چلور (člur) | چثارو-čaθārō |

۴-۱۱-۵: په يدغا کې (چې چترال خوا ته ويل کيږي اوله منجي سره ډېره نژدې ده) "څلور" ته چشير čšir وايي چې د يوي زړې بڼې چښتور čaxtur استازي کوي.

۴-۱۱-۶: له منځني ساکي (ختني ساکي) سره د پښتو غوري ګډې ځانګړتياوې د زړ وآرياني ثر- (-θr) او –فر- (-fr-) پر-در- (-dr-) او –ور- (-wr-) اوښتې دي، لکه (والتربيلي ۱۴۰ ،مورګن ستيرنې EVP ۹۴ مخ).

| پښتو | خوتني ساکي | اوستا |
|---|---|---|
| درې (dre) | دريه (draya) | ثرايو(θrāyō) |
| واوره(wāwra) | | وفره (-vafra) |
| وری (wray) | بريه (-brya هوسی) | فريه (frya) |

۴-۱۱-۷: پښتو په پاميري ژبو کې پر مونجی او يدغا سربېره له سنګليچي ژبې سره هم يو تړاو لري او هغه داچې په دواړو ژبو کي ورته بدلون ليدل کيږي، لکه:

| پښتو | سنګليچي | شوغني |
|---|---|---|
| س+ ت/ ز+ د | س+ ت/ز+د | ... |
| اوښته (صنوبر) | وښت | امښځ |
| وورد ) اوږد | ويږدوك | ووغځ |

۴-۱۱-۸: داسې برېښي، -ږس- ښواکوړی (cluster) چې -ږ- يې ناغړنه شوې ده، پر ښ+ س اوښتی او بيا س+ ځ او ږ+ز شوي دي. په همدې ډول ږ+ز بيا پر ږ + ځ اوښتون مونډلی دی چې په شوغنۍ کې پر خ + ځ او غ + ځ اوښتی دی. په پښتو او سنگلېچۍ کې بيا يو بل ورته ونج رامنځته شوی او ش + ت او ږ + د پر خ + ت او ګ + د ونجېدلي دي.

۴-۱۱-۹: هر ګوره، پښتو له پاميري ژبو څخه را بېله شوې نه ده او له دغو ياد کړو همرنګيو پر ته ورسره نه په غږ پوهه، نه په ګړپوهه (صرف) او نه په ويپوکې دومره سمونونه لري، خو بيا هم، کېدای شي د پښتو لومړني ټاټوبي او همدارنګه ددغو پاسنيو نږدې خپلوانو پاميري ژبو له ټاټوبي سره جغرافيايي نږدېوالی درلودی وي او ښايي د پښتو پخوانی ټاټوبی په داسې ځای کې تيکاو لرلی اوسي چې يو خوا به د مونجۍ (او ييدغا) او بل خوا به د سنګلېچۍ او شوغنۍ له ټاټوبي سره نږدې و او په يوه مهال کې به له هغه ساکي ګړدود سره په تماس کې و چې دخوتني (يا خوتني ساکي) ژبې په نامه نوموول شوی دی او په منځني پېړاړه لري، ساکي نوم يا ويی خورا پراخه دی او د ژبپوهنې له پلوه يې پوره شننه نه ده شوې، خو همدغه ساکي ژبه يا ګړدود چې لاسوندونه يې په لاس کې لرو، يو داسې اړيك مزی دی چې د ساکي ګړدودونو د يوې پوره ډلې ګړدودونو شتوالی ترې سهی کولای شو.

۴-۱۱-۱۰: جوته ده، هغه لرغونې آرياني ځانګه (ژبه) چې د پښتو "انا" ګڼل کېږي، بايد د اوستاله زړې ترينې بڼې "ګاثاوو" سره زيات نږدېوالی ولري... (فرهادي ۲۵۴-۲۵۶مخ)

د پښتو په اړه د استاد مورګن ستيرني دغه تکنيتوب چې همزمان يې هم ساکي بلله او هم اوستايي، د ۱۹۷۵ په ياده شوې ليکنه کې په پرېکړونې توګه په ساکي ژبو کې راوستې او زياته کړې

يې ده چې پښتو تر اوستا ساکي ژبو ته ډېره نږدې بربښي. همدا خبره وه، کله يې چې په هماغه اړوند سيمينار کې د پروفيسور مکنزي وړاندې کړې ډلبندې لښتيليک (جدول) ترکتنې تېر کړ، په زغرده يې وويل: "پښتو ښيلې دې چې له ساکي ژبې سره وتړل شي، بل کېدون نه لري. "او بيا يې مکنزي، شارل کيفر او ماته مخ کړ چې که څه هم په جدول کې پښتو تر ساکي ژبو لاندې له پاميري ژبو او اوسېتي ژبې سره په يوه ليکه کې په نښه شوې نه ده، خو بيا هم بايد پښتو ورسره د ليکې پرځاى په ټکيو (...) ونښلول شي، لکه څنګه چې دلته په اړوند کښلي لښتيليک کې همداسې يو تړاو ورکړ شوى دى؛ همداسې يې له باختري (کوشاني) هغې سره هم درواخله.

۴-۱۱-۱۱: په دې وروستيو کې د پښتو ديوې نږدې ترلې "شغنى" ويونکي، ښاغلي خوشنظر (پاميرزاد) په تاجيکستان کې د آريان پوهنې زده کړې بشپړې کړې او د دوکتورا پوهنليک (تېزس) يې هم شغنى ژبه ده. ترده له مخه يو بل شغنى ژبي دلبرشاه سرچينه وال زما تر لارښوونې لاندې د کابل پوهنتون په پښتو څانګه کې د ليسانس پوهنليک کښلى او په ترخ کې يې ورسره د بلې نږدې خور ژبې "روښانى" لړ و ډېره پرتله هم کړې وه، چې اوس يې په برلين هومبولت پوهنتون کې هغه پوهنليک ته نوره پراختيا او پرمختيا ورکړې او غواړي چې د دوکتورا تېزس په توګه يې دفاع ته وړاندې کړي او له دې سره سره چې زه يې د يوه بل استاد تر څنګه دويم لارښود استاد غوره کړى يم، مګر له څه مهال راهيسې يې راسره ليک ليکاني پرې شوې او له دې کبله يې لاسلاندې اثر هم په واك کې نه لرم.

د ښاغلي خوشنظر له اړوندې څېړنې څخه دوى په زړه پورې ليکنې تازه لاسته راغلې، لومړنى يې تر "قرابت زبان شغني وپشتو" نامه لاندې د شمشاد شپږ مياشتنى (۹۸-۱۹۹۷، ۱-۲ ګڼه) او

دویمـه یـې د "قرابـت میـان زبـان شـغنی واوسـتایی" پـه نامـه د همبـورګ د یاد شوي سـیمینار د چـاپ شـوي غونډلـه دویـم ټوك څخـه.

۴-۱۱-۱۱-۱: دغـه ځوان آریـانپوه پښتـو او شـغني د خوینـدو ژبـو پـه تـوګه د اوسـتا زوزات ګڼي او د ښ (x)، څ (c)، ځ (j)، ږ (?) لـه پلـوه تـر فونېتیکـي اړیکـو وروسـته د دغـو درو واړو ژبـو تـر منـځ یـو لـړ همـآري ویبونـه هـم د لاسـوند پـه تـوګه وړانـدې کـوي. پـه دې ډول د پښتـو شـغنی د سـاکیوالي الـواك (نظریـه) ردوي او وایـي:

" براسـاس اسـناد تـاریخی زبـان سـکایی مبـدأ فرضـی زبـان هـای شغنی و پشتو قبـول شـده و زبانشناسـان آنـرا نشـان داده انـد، بـر عـلاوه ایـن اسـناد و شـواهد تـاریخی قرابـت ایـن دو زبـان را میتـوان در سـاختنمان، آواهـای مشـترك، کلمـات مشـترك درحـالات مختلفـه افعـال درهـر دوزبـان مشـاهده نمـود." (د شمشـاد هماغـه ګڼه ۳۲، ۳۶ مخونـه).

نومـوړی تـر پروفیسـر کرېسـتن سـن وروسـته د یـوه ایرانـي آریانپوهـاند دکتـور بـهرام فـره وشـی د سـاکیوالي الـواك هـم ردوي: "زبانـهای شـرقی ایرانـی (آریـانی) از زبانـهای قدیمـی شـرقی میانـه سـرچشـمه میګیرنـد و شـامل زبانـهای زیـر اسـتند: پښتـو، آسـی یـا اوسـتی، پـامیری، مونجـانی (مونجـی) ویغنـابی ودارای دوګروه اسـتند، شـمال شـرقی وجنـوب شـرقی، اسـی ویغنـابی وخوارزمـی جـزوګروه هـای شمالشـرقی اسـتند وګروه جنـوب شـرقی شـامل پشـتو ومونجـانی وپـامیری اسـت کـه دنبالـه لهجـه هـای سـکایی تخـاری اسـتند." (د نومـوړي شپږمیاشـتنۍ هماغـه ګڼه، ۳۵ مـخ)

۴-۱۱-۱۱-۲: د ښاغلـي فـره وشـي پـه څرګندونـه کـې دا ټکـی هـم پـه زړه پـورې دی چـې پـه شـمال ختـیزه آریانـا کـې دننـه دشـمالترین او جنوبـترین نومونـې کـاروي او پـه دې تـوګه اړونـدې سـاکي ژبـې پـر دوو ډلـو ویشـي او همداسـې هـم وړنـده او اړینـه بـرېښي.

د اســتاد مــورګن ســتیرنې د څېړنــې لــه مخــې پښتــو تــه تــر شـوغني،روښانـۍ، واخـۍ او نـورو پـامیري ژبـو مونجـي ډېره نـژدې ده (پـه بـرن پوهنتـون کې داسـتاد لـه لکچرونـو څخـه د ۱۹۶۷ کـال ددوبـې سیمېسـتر). خـو شـنظر څه د خپلـې پلټنـې او څه د اروابښاد شـاه عبـدالله بدخشـي" برخـی زبانـها ولهجـه هـای افغانسـتان" لـه مخـې د شـوغنۍ او پښتـو یو لـړ ورتـه ویپونـه او کړونـه پـه دې ډول ښوولـي دي:

غـوږ پـه دواړو ژبـو کـې یـو رنـګ، ناسـت (شـوغني) د پښتـو (ناسـته) انـډول، خـهرم (شـوغني) د پښتـو خـورم انـډول، یـاس (شـوغني) د پښتـو (یوسـه) انـډول، پـایم (شـوغني) د پښتـو (پیـایم) انـډول، شـغني (سـهم) - پښتـو (څم)، شـوغني (سـه) -پښتـو (ځه). همـداراز مـون - مـنه، -شـند - شـونډه، - واښ - واښه، - مـږ - مـېږه، -پـرښ -پرخـه، خور -ځاروی، - تـهرمږ- تـوره مـېږه، -ژېرومـون - ژېره مـنه، -سـفي وهـرګ-سـپین وری، -سـین پشـك -شـنه پیشـو، -خېږګهـې- خـوږې خـبرې...

ګړنـې (اصطـلاح ګانـې) لکـه: څرهنـګت؟ -څرنـګه یـې؟ -څرهنـګ کنهم - څرنګه وکړو، مه بغ- مـه بغېږه، مـه کـه- مـه کـوه، مـه خـهر- مـه خوره، نـه کهنم- نـه کـوم (پـه دې ځـاج چـی نـهې او نفـې پـه دواړوژبـو کـې یـوراز دي) ... (خوشـنظر هماغـه مجلـه ۳۶-۴۰ مـخ) لکـه څنـګه چـې دغـه لیکـوال ورتـه نغوتـه کـړې، د شـاه عبدالـه بدخشـي د نومـوړي اتـه ژبـیز قـاموس پـه سریزه کـې اروابښاد اسـتاد ګل پـاچـا الفـت د بدخشـي پـه لارویۍ د لومـړي پښتانـه پوهـاند پـه تـوګه د پښتـو او پـامیري ژبـو تـر منـځ خپلـوۍ تـه ځیـر شـوی او د هغـې پخلـی یـې کـړی دی. دافغانســتان د ژبپوهنـې اتلـس تـر پـروژې لانـدې عبدالـرازق پـالوال بیـا دنــوې ژبپوهنـې ځوان پښتــون اسـتازی و چـې د شـپېتمو زېږدي کلونـو پــه سرکې یـې د یـوه ګڼ شـمېر پـامیري ژبـو کښنـه (ثبت) تـر سره کـړاو مـاه ګل سـلیمان دوسـت د لومړنـۍ پښتنـې پـه تـوګه پکـې خپـل بریلیـك پـه اتیایمـه کـې لـه شـوروي څخـه راوړ. خولکـه چـې مخکـې ورتـه ګوتـه

ونیـول شـوه. تراوسـه یـوه چـا هـم پـه هـر ارخـیز ډول لـه پښتـو سـره د پـامیري ژبـو کومـه پرتلـه تـر سـره کـړې نـه ده او بیـا هـم پـه دغـه اړه د اسـتاد مـورګن سـتیرنې او نـور و ختځیپوهـانو یـو پیړیـزې بریـاوې لـه بـاوري اخځونـو څخـه ګټل کـېږي.

۴-۱۱-۱۱-۳: د دوکتـور خوشـنظر دا پـایلنیوی (نتیجـه ګیـري) د استـاد مـورګن سـتیرنې لـه هغـو سره کـورټ سمون خـوري چـې وایـي: "...بـه اسـاس ایـن حـدس و ګمـان جداشـدن ایـن دو زبـان (شـغنی و پشـتو) بـه دوره یـی ارتبـاط میګیـرد کـه اقـوام و قبـایل آریـایی در دوره هـای بعـدی از سـر زمیـن آنـهای میـان دو رود سـیحون و جیحـون خواهـد بـود کـه اقـوام شغنی بعـداز انقـراض سـلاله یفتلیـها در دل دره هـای پـامیر مسـکن ګزیـن شـدند و اقـوام پشـتون بدامنـه هـای هندوکش و سرزمینهای اطـراف قـرار ګـرفتنـد".

۴-۱۱-۱۱-۴: د پـامیری ژبـو پـه لړکـي بیـا واخـي دو یونکیـو د شمېر او اوېچې (قلمرو. لـه مخـې تـر نـورو پـامیری ژبـو دیـوه خـورا لـوړ دریـځ لرونکـې ده واخـي ژبـي پـر لویدیـز واخـان او درواز سـربېره پـه تاجیکسـتان، ګیلـګیت (پاکسـتان) کـې هـم اوسـېږي دواخـان پـه څېر واخـي نـوم هـم پـرې دنـورو لـه خـوا اېښوول شـوی، پخپلـه ویونکـي دغـه ژبـه "ښیـك" (xīk) بولـي او واخـان تـه هـم ووښ Wux وایـي x لکـه د منځنـی پښتـو ښ ادا کـېږي چـې پـه شـوغنی، روښانـی او نـورو پـامیري ژبـو کـې هـم شته. پـر دغـه فونیـم سربېره یـې لـه نـورو پـامیري ژبـو او پښتـو سـره غـبرګژبـیز اوازونـه ښ (کندهـاری ښ) ډ، ټ ګډون لري. داسې برېښي چـي واخـي د پښتـو غونـدې دغـه غبرګژبـیزوالي لـه هنـدي ژبـو څخـه اخیسـتی وي. د ګرامـري همرنګیـو پـه لړکـې یـې د سـریلونو او اوسـتربلونو شـتوالی هـم لـه پښتـو سـره د خپلـوی یـو بـل ښکـارندوی د ی (شـارل کیفـر: د واخـي ژبیـو تولنـیز دریـځ، کـانفرانس کـابل پوهنتـون ۱۹۷۸، مـاه ګل سـلیمان دوسـت ۵۳۱ -۵۴۳ مـخ).

**۴-۱۲: ساکي ستې او آرياني آري پښتو او پښتانه**

۴-۱۲-۱: دا څه د هېښتيا خبره نه ده، چې د پښتنو آره او سته د پښتو آرو ستې له مخې جوتتيا موندلې او د تاريخوالو او توکمپوهانو بې کچو اټکلونو او ما ويليو تا ويليوته يې د پای ټکی اېښی دی. ختيځپوهان، يا په نومېرلې (مشخصه) توګه پښتو څېړونکي آريانپوهان د خپلوڅه له پاسه دوه سوکلنو څېړنو پلټنو په پايله کې پردې بريالي شوي دي چې پښتو د ژبپوهنې او بيا آريانپوهنې د ټاکلو آرونو او د ويونو (اصولو او قوانينو، او په ځانګړي ډول د غږ پوهيزو او آر پوهيزو (فونولوجيکو او اتمولوجيکو) ځانګړتياوو پر بنسټ د هندو اروپايي (Indo–Eropean) سترې ژبنۍ کورنۍ د هندوآرياني (آريايي) ځانګې په آرياني ښرانګې او بيا په پای کې په شمال ختيزې ځانګوړې اړه لري اوله دې سره دا پخپله جوته او زباته شوه چې پښتانه آرياييان او په آرياييانو کې له آرياني (Aryanian=Iranian-) ژبتوکميزې اتنولينګويستيکي ځانګې سره اړوندي لري.

دا هم څرګنده ده چې نومورې ځانګوال ژبپوهان (پښتو پوهان) هم په تېرو غبرګو پېړيوکې زياتره د دوديزو تاريخوالو او بيا په خپله د پښتني افسانو او اساطيرو تر اغېز لاندې پښتو او پښتانه سامي آري او داسې نور بللي، خو د همدغو ژبنيو څېړنو پلټنو له بشپړېدو او کره کېدوسره اوسنۍ سمې او سيخې پايلې ته رسېدلي او په دې وروستيو دروځلورو لسېزوکې په دې پسې شوي چې په زاړه آرياني پير کې پښتو او ورسره ورسره يې ويونکي له دوه ګونو ژبو اوستا او ساکي هغو څخه په کومې ژبې او ويونکيو اړه لري!

۴-۱۲-۲: پوهاند دوکتور تږي په تولـه زغمناکـۍ د خپـل نـوي چاپ کړي کتاب "پښتانه" لومړي څپرکی "د پښتنو اصل او نسب" او دويم هغه "د پښتنواصل او ريښې" ته ځانګړی کړی او دا هڅه يې کړې چې هم د پښتو په اړه او هم د پښتنو په اړه د تېرولس يوولس او بيا په ځانګړې توګه د تېرو دوو پېړيو ټولې افسانې، اسطورې،

روایتونه او درایتونه رالړی کړي. د ساري په توګه، د پښتو په اړه، لکه چا پښتو بللې، چاهندی اریایي چا آریاني (ایراني) او چا هم د هندي آریایي او آریاني څانګو تر منځه د یوې جلا خپلواکې څانګې رامنځته کوونکې او د پښتنو په برخه کې دا کیسې چې چا بني اسرائیل بللي، چا قبطیان ګڼلي دي. چا په مغولو ورګډ کړي او چا د ارمنیانو، تاتارانو، هپتالیانو او ساکانو په کتارکې درولي دي. چا بیا له راجپوتانو، برهمنیانو، جټانو، یونانیانو، تورکانو، عربانو او نورو سره ګډ کړي دي. په پای کې له دې سره سره پوهاند تړي د یوه ژبپوهاند په توګه بیا هم ژبنۍ څېړنه دلته اړینه او تاکنده بللې او لیکي: "په پای کې باید وویل شي چې په معاصر وخت کې پوهانو د یوه ولس د اصل او نسب د معلومولو شه لاره د هغه ولس د ژبې اصل او ریښې د ماهیت څرګندول ګڼلي او د پښتو ژبې په باره کې هم په دې ارتباط کافي څېړنې شوې دي..."

خو لکه څنګه چې ددې څېړنې په اړوندوبرخو کې ورته هم نغوتې شوې، پوهاندتړۍ په دې پلمه چې دده پخپله خبره له عنندي قضاوته یې ځان ژغورلی وی، نو زیات زوریې پرمتنپوهنه اچولی او له خپلې کره کتنې او پرېکړې څرګندونې یې دومره لږ کار اخیستې چې د کتاب له سره تر پایه یې د ځانګړې لیدتوګې یو څرګند څرك لګېدای نه شي. دغه ټکي ته په خپله سریزه کې داسې نغوته کوي:

"*...څکه نو دا کتاب په عمومي ډول، د پخوانو متونو او د نورو د اقوالو یوه مجموعه ده... موږ په دا اوسنۍ مجموعه کې د ځینو مهمو ټکو په باره کې لکه په تاریخ حافظ رحمت خاني کې د یوسفزو د مهاجرت د وخت او د پښتنو غلځو او ترکو خلجو د فرضیې اختلاط د روایت او یو نیم بل ټکي په باره کې د خپل توان په اندازه کره کتنه او تبصره کړې ده. خو نور متون او مطالب مو لکه څنګه چې*

*دي، هغسې پرې اينبي دي او دا ځکه چې نه مونور وخت لاره او نه کافي صلاحيت.* " که نه د يوه پياوړي ژبپوهاند په توګه ترې دا تمه کېده، د پښتو او پښتنو په اړه د نورو ژبپوهانو او اريانيپوهان د دومره ګڼو الواکونو د رالړې کولو په ترڅ کې تر ټولو هماغه يو پياوړي الواک راټينګ کړي چې له ژبني سيانس او بيا تاريخي ژبپوهنې او ورسره ورسره له تاريخي لاسوندونو سره سمون ولري. ننني پرمختللې ژبپوهنه په خپلو ټاکلو سانتيفيکو آرونو تر ډېر ځايه د کره او کوټه توپير کولای شي. ان په کار وه، اساطيرې او فولکلوري ما ويليو تا ويليو او روايتونو ته د ساينس فېکشن هومره ارزښت ورکړي او د واقعيت بخړى نيم ترې ترګوتوکړي، ډېرې اوسنۍ پوهنيزې ښکارندې يو مهال هسې کيسې افسانې وي. نوي منځته راغلي فلسفي رياضيات د احتمالاتو "له مېتوده کار اخلي او په ټولنيزو پوهنو کې يې کارونګ ډېرې ناسپړلې راسپړي. د بېلګې په توګه څنګه کېدای شي، قيس عبدالرشيد يا ضحاك له کاس او سهاك سره کومه اړوندي ونه لري او داسې نورې کيسې او روايتونه چې له پېړيو پېړيو او ان زريو زريو راهيسې يې د يوه ولس زړه او ذهن دومره بوخت ساتلى وي، هېڅ يوه آره او بنسټ ونه لري؟ حال داچې زموږ ستړپوهاند ترې ښوى تېرېږي اولاګرد سره يې" د اصولي کره کتنې او منطقي استدلال جوګه نه ګڼي." (پښتانه د سريزې "شپږم" مخ).

که يوازې متنپوهنې د پښتو او پښتنو آره اوسته، تاريخ او تېرمهال په ټوله رښتينه مانا را سپړلای شواى، نوله علامه استاد حبيبي څخه د چا خبره يو خلې هومره هم پاتې نه دى، د پوهاند ترې به ورسره توپير په دغه اړه هم دومره وي چې يو څه زيات او لومړى لاس انګرېزي لاسوندونه به يې پرې نور هم سرباري کړي او بله دا چې بې له خپلو ځانګړو پردازونو يې د لوستونکو په وړاندې اينبي دي او بنايي همدغه توپير يې د نوي اکادميك پښت داستازيوالي ښکارندوى وبلل شي، ځکه د اړوندو متنونو او اخځونو، لاسوندونو

او سرچینو راخوندیینه او هوبهو وړاند یینه هم د اوسني منلي پوهنیز څېړندود له بنستیزو آرونو څخه ګڼل کېږي او هغه هم د پښتواو پښتنو په اړه چې ډېر څه پرې ویل شوي، لیکل شوي خو بیا هم هماغسې د تېر مهال په تورتمونو کې ورك راورك دي چې ته به وایې، هډو هېڅ پرې ویل شوي، لیکل شوي نه دي.

## ۴-۱۳: پښتانه ټول سکه دي ناسکه پکې نشته

۴-۱۳-۱: داهم د سوچ وړده چې د نومیالو دودیزو پښتنو پوهانو لکه ارواښاد علامه حبیبي او ارواښاد مولانا خادم او ارواښاد کوثر غوریاخېل ، ظفر کاکاخېل تر څنګه ارواښاد دوست شینواري د لومړي اکادمیك پښتون پښت د استازي په توګه هم پښتانه بشپړساك نه بولي، بلکې یوه زیاته برخه یې په ساکو پورې تړي، دویمه برخه یې "سلیماني" او درېیمه کوچنی هغه یې "عبراني" انګېري او لیکي: "د پښتو موجوده ټولنه زما په خیال د اوږدو پیړیو په بهیر کې عموماً له درو توکو څخه جوړه شوې ده چې ډېر ستر یې سلیمان، بل یې ساك او درېیم یې ډېر کوشنی عبراني توکم دی." (دوست " پښتانه څوك دي؟" ۳۳مخ او دغه راز یې د خادم په اړه بل اثر "افغانستان په اوېستا کې" ۵۷ مخ). اولاف کېرو (کریمي ۲۰ مخ) بیا نورهم پر مختللی او په خپله نومونه یې د پښتنو مشر ټبر" یا "اصلي افغانان" یو مخیز بني اسرائیل بللي دي.

۴-۱۳-۲: ارواښاد دوست په خپلو دواړو کتابونو کې په دغه اړه له ژبپوهنیزو څرګندونو سره خپلې انګېرنې او دودیز "ماویلي تاویلي" هم اخیستلي را اخیستلي دي، په لومړني یاد شوي اثر (۱۹مخ) کې لیکي: "د پښتني ټولنې د تعمیر یو ډېر مهم عنصر د ساکو توکم دی. د پښتني ټولنې په جوړولو کې د ساکو د اغېزې په باب ځینو پوهانو دومره مبالغه کړې چې حتی پښتانه یې یوازې د ساکو

دویم نوم بللی دی. مثلاً په ۱۳۵۴ (۱۹۷۵) کال کې د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز پرانیستلو په ویاړ په نړیوال سیمینار کې نامتو او ستر پوهاند مورګن ستیرنې په خپله وینا کې پښتانه ساك وبلل. البته د هغه د وینا کمزوری اړخ دا و چې د سلیمان د غرونو او په افغانستان کې د نورو لرغونو پښتنو یادونه پکې نه وه.

"دلته له ورایه څرګندیږي چې ښاغلی دوست د استاد مورګن ستیرنې نه آره انګریزي لیکنه او نه دهغې پښتو او پارسي ژباړې سمې لوستې چې په هماغه نوموړې علمي غونډه کې په دغو درو واړو بڼو وېشل شوې وه. که نه نوموړي پوهاند هلته د پښتواو پښتنو بېلابېل انګېرلي (فرضي) ټاټوبي له بلخه رانیولي، تر هېلمند او کسي (سلیمان) غره څېرلي او څېرلي دي. (د مورګن ستیرنې د یادې شوې وینا او لیکنې متن په درو واړو بڼو له ما سره خوندي دی).

د اروانښاد دوست دا خبره "...او په افغانستان کې د نورو لرغونو پښتنو یادونه پکې نه وه." کوږ دیوه دوګماتېزم (جزمیت) ښکارندو یې کوي، مانا دا چې پښتانه له ازله د اوسني افغانستان او نورو سیمواستوګن وو او هېڅ تاریخي جغرافیایي او څومره یېز او څرنګیز بشپړتیایي پړاوونه یې تر شا پرې ایښي نه دي. استاد مورګن ستیرنې لکه څنګه چې له مخه وویل شول، دغه پړاوونه له پامیر او بلخه راپیلوي، بیا یې تر هېلمنداو اراکوزیا او وروسته تر سلیمان غرونو رسوي. نورو سیمو ته خو وروسته وروسته راخپاره شوي دي.

له بېلابېلو توکمونو څخه د یوه یوازیني توکم رغېدنه هېڅ علمي بنسټ درلودای نه شي او بیا د پښتنو په برخه کې چې له نژدې دوه نیم زرو کلو راهیسې یې د یوه یوازیني آریایي او بیا آریاني اتنولینګوېستیکي یوون (واحد) په توګه رانومېرل

(تشخیص) شوی دی. لـه ژبني پلـوه خـو یې د آریـانیوالي او بیـا شـمال ختیزوالي (بـاختریوالي پـه اړه آریانپوهـانو د پښتـو د رغـاونیزو او بیـا آر پوهنـیزو (اتېمولوجیکـو) او غـږ پوهنـیزو (فونولوجیکـو) بنسـټونو لـه مخې سپیناوی کړی - چـې پـه همـدې څېرکـي او نـورو څېرکـو کـې پـرې رڼا اچـول شـوې ده او لـه نـږه توکمـیز پـه بلـه وینـا ، توکمپوهنـیز (اتنولوجیـك) پلـوه یـې، کـه د هـیرودت پکتویـس او پښتـو سـره ژبپوهنیزسمون نـه شـي درلـودای، د بطلیمـوس پـر سـویتي parsuētai خـو ورسره سمون پیداکـولای شي چـې مـورګن ستیرني یـې د اخـځ لـه مخې پـه شـمال کـې د یـوه ټبـر د نامـه پـه تـوګه یادونـه کـړې او د ۱۹۷۵ پـه لیکنـه کـې یـې د پښتـنو پـر ژبتوکمـیز اتنولېنګوېستیکي یووالـي پـه همـدې لامـل ټینـګار کـړی او زباتـه کـړې یـې ده چـې اوسـنیو خـورو ورو پښتـنو هرومـرو یـو یوازینـی تـاریخي - جغرافیـایي یووالـی درلـودی دی او هغـه پـه دې چـې ژبنـي او فولکلـوري او کولتـوري یـو رنـګي یکـې لـه ورایـه لیـدل کـېږي. همـداراز یـې لـه سـاکو سـره اتنولېنګوېستیکي اړونـدي لـه څرخشـې رااېسـتلې او پـه دویمـه زېږدي پېړۍ کـې د جـهلم د ډبرلیـك، د سـاکي واکمـن نـوم "ځښتنـه" یـې یـو څرګنـد دلیـل وړانـدې کـړی دی (اړونـدي څرګندونـې تـه دې پـه همدې څېرکې کـې مخـه وشـي).

دا کـېدای شـي، سـلیمان د پښتنـو کـوم نیکـه اوسـي، مـګر اړینـه نـه ده، هغـه دې ددوسـت پـه وینـا د پښتنـو لـه درو ډلـو څخـه پـه یـوې ډلـې اړه ولـري، دویمـه ډلـه دې د سـاك (ضحـاك) نبـیره وي او دریـیمـه دې عبراني یـا یـهوده(!)

۴-۱۳-۳: دوسـت شـینواری پـه لـوی لاس پښتنـي ضـد انـګروزه والـو تـه پلمـه پرلاس ورکـوي چـې وایـي پښتانـه یـو ګډولـه (!) ټبـر یـا توکـم دی. د اولاف کـېرود ښکېلاکګرانـه څرګندونـو لـه مخـې پښتـون یـو

ځوك دى، پټهــان بــل ځوك او افغــان بــل ځوك... (دوســت، پښتانــه ځوك دى؟، ۵۸مـــخ).

همداســې قلندرمومنــد بــرپښتانــه اريايــان اولرهغــه بنــى اســرائيل بولــي، بــې لــه دې چــې كــوم لاسوند وړانــدې كـړي او يـا ليكنــى بــنه وركـړي. پــه خپلــه خــاوره كــې د پښتنــو پرتــاريخي شــتوالي ســكوټ او كــوړټ ځان نــاكاره اچــوي (رفيــع ۲۳۹ –۲۴۸). قيــام الديــن راعــى بــرلاس د پښتنــو لــه پنځو ځانــگو څخــه دوې واكمنــى هغــه (غلجــي او ابدالــي) خپــل توركــي توكــم تــه وركــاړي، غلجــي پــه توركــې خلجيــانو پســې وړي او ابدال پــه يپتلانــو (يفتلانــو) پســې، او بيــا يفتــلان لــه ســاكو ســره نښلــوي او ســاكان پســې لــه توركــانو "هونــانو" ســره (زيــار، نــگرش گذرايــى اتنولنگويســتيك برمضحكــه ارتبــاط خلجــى هــاى تــرك بــا غلجــى هــاى پشــتون و همچنــان ارايــه ابدالى‌هــا ويفتلــى هــا بــه مثابــه هونــهاى ســپيد (!)). جــلال الديــن صديقــي بيــا پــه "افغانســتان درقــرون جديــده" كــې پښتانــه كــډوال كــوچيــان بولــي او بيــا پــردي ټينگاركــوي چــې پخپلــه آريانيــان نــه دي، خــو آريــاني ژبــه (پښتــو) يــې دلتــه زده كــړې ده.

دوســت شــينواري لــه "ســيانس فكشــن" څخــه پــه كټه اخيســتنه لومړى اســاطيرى "ضحاك" لــه ســهاك ســره تــړي او لــه واقعيــت ســره ســمه دا زبــاتوي چــې هغــه پــه "هومــاورگه ســاكو اړه درلــودې چــې لــه شــمال څخــه غورتــه رالېږدلىاو دپښتنــو مخنيــان گډل كــېږي خــو بيــا ورســره يــهودي افســانه هــم راگډوي او د زبــات لپــاره يــې د هغــه عــبراني ډبرليك يادونــه كــوي چــې پــه فــيروز كــوه كــې د هريــرود پــر غــاړه د يــوې يــهودي ډلــې د راتــگ او مېشــتېدنې ښكــارندويي كــوي او بيــايي پــه پښتنوكــې يــو رنــگي (assimilation) موندلــى دى(!) (دوســت هماغــه اثــر، ۲۴-۳۰مــخ).

دا دویمه پایلنیونه (نتیجه گیري) یې هماغسې بې سروبوله برېښي، لکه د خلجي -غلجي افسانه چې وایي، خلجي تورکان په پښتنو کې یو رنګ (اسیمیلېټ) شول او غلجي ټبرترې را پیداشو! (هماغه پارسي لیکنه).

۴-۱۳-۴: دوست، سره له دې چې د ارغنداو، غوراو کسې غره ترمینځ د پښتني ټبرونو اړیکوته په ټول کتاب کې نغوتې کړي، خو بیاهم د غور، یا په بله وینا ارغنداو پښتانه په ساکو پورې تړي چې دغلته ورسره یهودهم راګډشوي دي، او د کسې هغه په سلیمانیانو پورې اړوندوي، هغه هم په دې سست دلیل چې په سلیمان غره پورې اړه لري، یا پښتانه سلیمانیان هم بلل شوي دي، بل ځای (۸ مخ) دا افسانه یې روایت هم رااخلي چې سلیمان له آره دضحاك له نمسي او د فریدون له زوی "سلم (salm) سره همریښه دی. هرګوره د سلیمان اتیمولوجي یې څه ناڅه علمي څېړلې ده (هماغه اثر ۱۱-۱۳ مخ).

همداراز دتواریخ خورشید جهان وینا را اخلي: "بیا افغانان هلته (په غورکې) تنګ شول، مالونه او دوی پر ۲۱۲ هـ کې دومره زیات شول چې د غورپه غرونوکې نه ځایېدل، په پنځو ځانګو ووېشل شول: سړبني، بېټني، غورغښتي، متي، کرراني (کرلاڼي). بیا له غوره راووتل، د هرات کندهار او غزني خواته خپاره شول او څه یې په غور کې پاتي شول خو د سبکتګیانواو سوریانو تر منځه د جګړې د اور ترلګېدو وروروسته ټول پاتې پښتانه له غوره ووتل او له پورتنیو ځانګو سره یو ځای شول، پرته له څلورو چې دوه یې د ضحاك له اصله او دوه یې د افغان له نژاده وو. د ضحاك له نژاده یې سوري اوجمشیدي او د افغان له نسبه تایمني او فیروزکوهي، چې دغه څلور یې سره په ساخر (ساغر)، فیروزکوه او بادغیس کې یو ځای مېشته شول، سوریان په تدریج سره کم شول اوله حسابه

ولـوېدل (دوسـت هماغـه اثـر، ۲۵-۲۶ مـخ) نـاويلې دې پـاتې نـه شـي چـې نــن سـبا جمشـيدي ځانتـه تـورك آرى وايـي او يـوازې زوري (سـوري)، تـايمني او فـيروز كوهـي ځانونـه پښتانـه ګڼي (زيـار، د راعـى پـه غبرګون كې ياده شوې ليكنه).

دوسـت دې تـه هـم پـام نـه دى كـړى چـې د غـور د مركـز ځايـي نـوم (كاسـي)ئم لـه (كسـي) غـره سـره سـمون وركـړي او يـا كـاس او كاسـي د سـاك اوسـاكي داوړېدن metathese پـه تـوګه سـم وځېري، كـه څه هـم بيـا ليكـي: "د كاسـيانو (كاسـوانو) پـه نامـه څه خلـك د ايرانـى (آريـاني) پوهـانو پـه وينـا د زاګرس پـه غرونـو كـې اوسـني كرمانشـاه تـه نـږدي او يـا دعيـلام شـمال تـه اوسـېدل، د ځينـو څېړونكـو پـه عقيـده دوى آريايـان وو، ځكـه چـې ددوى لـوى رب النـوع يـا د لمـر خـداى (سـورباش) نومـېده چـې دا يـوه آريـايي كلمـه ده... دلتـه د كاسـي كلمـه موږ تـه د تـاريخ لـه سـتر زمـاني واټن سـره سـره (كسـي او كاسـي) نومونـه راپـر زړه كـوي، پـردې سـربېره د چـې د پښتنـو د اصلـي ټاټوبـي (د كسـي غر) او بـل د پښتنـو د يـوې سـترې ځـانګې (كاسـي پښتانـه) نـوم دى، پـه غـور كې دا ديوې درې تـاريخي نـوم هـم دى اودلتـه كـېداى شي لـه دغـه نامـه سـره ارتبـاط ولـري، ممكنـه ده پـه بـابل كـې وهـل شـوي كاسـيان بيرتـه خپـل ټاټوبـي تـه راسـتانه شـوي وي او همدلتـه د پښتنـو د عـبرانيت دروايـت منشـه ګرځېدلـې وي. پـه پاسـنى يادونـه كـې د لمـر پالنـه د سـاكو پـه مذهبـي ګروهـه كـې ژورې ريښې لـري. همدارنـګه د دوى د لـوى رب النـوع (سـورباش) نـوم سـاك او سـور راپـر زړه كـوي..." (دوسـت هماغـه اثـر، ۳۱-۳۲ مـخ). كـېږي، كـوم "كاسـي" چـې د غـور دبوې درې نـوم ښوول شـوى، اوسـنى چخچـران، يـا پـه بلـه وينـا كاسي اوسي. دلتـه ښاغلـى ليكـوال د بـاور پـر ځاى لـه اټكلـه كـار اخلـي او رښتينـى فونېتيكـي بدلـون نـه يـادوي او يـا پـرې نـه پوهـېږي. بـل خـوا، لكـه څنـګه چـې دكتـور معيـن د هـېرودت او نـورو پـه اخـځ ويلـى،

دغـه پورتنـي کاسـيان هماغـه سـاکان وو چـې پـر بـابل او نـورو شـاوخوا سيمو يې واکمنـي چلولـه او تـر مـاتې وروسـته يـې ببرتـه د آريانـا شـمال تـه مخـه کـړه او پارتيـان يـې و ځـپـل... (د معيـن فرهنـګ فارسـي، جلـد پنجـم –اعـلام). دوسـت پـه همدغـه برخـه کـې لـه پخوانـۍ خبرې چـې پـه غـور کـې کـډوال يـهود لـه پښتنـو سـره ګډ شـوي، راوړي او څرګنـدوي چـې ګونـدي لـه بابلـه د سـاکانو راتـګ دا اټکـل رامنځتـه کـړي وي چـې پښتانـه دې عـبراني وبلـل شـي. د معيـن د فرهنـګ پـه يادشـوي ټوك کـې داهـم راغلـي چـې پـه تـورات کـې د سـاکانو د زور و تېريـو، يرغلونـو او تـاړاکونو يادونـه شـوې او پـه دې ډول يـې لارويـانو (يـهودو) څنـګه دومـره زړه کـاوه چـې لـه فلسـطينه داسـې خطرنـاکو وګړوتـه پنـاه راوړي او لـه هخامنشـي تربورانو يـې راتـېر شي او غورتـه پسـې راشـي!

لکـه څنـګه چـې پـه روانـه څېړنـه کـې د سـاکانو پـر تـاريخي – جغرافيـايي او سياسـي تـېر مـهال لـه هـرې لـورې رڼا اچـول شـوې چـې د ختيزې آريانـا پـه دواړو شـمالي او سـويلي برخـو کـې ددغـه سـتر آريـاني ټبر مېشـتېدنه او پاتېدنـه تـر بـل هـر توکـم و ټبـره زياتـه بـاوري او جوتـه ده. شـمال خـوا تـه لـه سـوغديانو، خوارزميـانو، اوسـېتيانو او رانـژدې کوشـانيانو او يېتليـانو او اوسـنيو نـو مېشـتو دوو ميلونـو پښتنـو اولـس يـو ولسـو پـاميري ټبرونـو او يغنوبيـانو او سـوېل خـوا تـه لـه ايرانـي خراسـان او سېسـتانه رانيولـې، د آباسـين (سـيند) تـر نـاوې او ټکسـيلا او بيـا لـه بولانـه ترواخانـه پـورې همداسـاکي ټبرونـه، هغـه هـم بيـا د پښتنو لـه پلوه بشپړ ډېرې (مطلق اکثريت) جوړوي. پـه وړانـدې يـې د لويديـزي آريانـا (Persia) لـړه کيـو دټبرونـو راتـګ تـر څوارلـس سـوو کلونـو پرشـانه ځي. خراسـاني پارسـيوان د پـهلوي يـا منځنـي پارسي پېر په وروسـتۍ پېړۍ، يـا پـه بلـه وينـا تـر اسـلام مخکـې پېړۍ کـې لـه ساسـاني او تـاجيکي يـا پـورې غـاړي (پارادريـا) پارسيوان پـه څلورمـه اسـلامي پېړۍ کـې لـه سـاماني واکمنـۍ سـره لومـړۍ خراسـان

او بيا د افغانستان نورو برخو ته رالېږدېدلي دي. نور لويديز لږه کيان لکه کورد وبلوخ له شمال لويديزې آريانا څخه په راوروسته پيړيو کې د دغه هېواد سوېل - لويديځ ته رالېږديدلي او همداسې پسې اورمړ او پراچيان هم درواخله. دالتايي يا تورك -مغولې توکمونو رالېږدېدنه هم تردولسمې زېږدي (ميلادي) يا په بله وينا سبکتګيانو مخکې دومره باور وړ نه برېښي. همداسې هندي آرياييان، لکه دردي ټبرونه او پشه ييان، خواريان او...) يا ګوجر، هندکيان يا دراويدي براهويان هم همداسې در واخله، پنجابي ژبي او سندي ژبي هندوان او سېکهان ياجټان هم په همدې لړ کې ټيکاو لري.

پاتې شول، سامي توکمي عرب او يهود چې متې له دويمې اسلامي پېړۍ سره يې پيلامه رانښلي، نه يوازې د ژبنۍ ډلبندۍ له مخې، بلکې د اتنوګرافيکي وېش او بريد بندۍ له پلوه سره د اوسني افغانستان څلورګړنۍ غوره توکمونه (آريايي، التايي، سامي، دراوېدي) د پوره نومېرنې (تشخيص) څه چې هر ګوره، ګران ايسي، هغه د آرياييانو او بيا آريانيانو د ننه دننه د بېلا بېلو ژبنيو ډلو ټپلو توپيرول دي. په پښتنو کې راګډ شوي نآريايي توکونه، که عرب دي او که عجم، له ټول همرنګوالي او همژبيزوالي سره سره په ډاګه پېژندل کېږي، چې د پښتونولۍ تر پولادينو دېوالونو بهر ساتل کېږي او دګاونډيانو (همسايه وو) يا ورهڼګرو (کسبګرو) او يا هم ستانه وو په توګه ورسره چال چلند کېږي. له دې کبله پکې پيټ پزي او درېګوټ (مثلث) مخې تورك -مغول، تورسکې هنديان او جګېزې ساميان او په تېره يهودله ورايه پېژندل کېږي او نومېرل کېږي او ژبني او فرهنګي يو رنګوالي يې د بشپړ فېزيکي او اتنيکي يورنګوالي (assimilation) لامل کېداى نه شي او په هسې نا پوهنيز او بيا دښمنانه تور ټييو څوك د غلجيانو او ابداليانو

غونـدې برمیـالي واکمـن ټبرونـه پرتـورك وتاتـارو یـا عربـو یهودونـه شـي ورتپلای. پښتانـه نـا پښتنـو ټبرونـو تـه پـه ټولـیزدول د یـګان هـم وایـي، پـه تـېره پارسیوانو او پشـه یـانو - نورسـتانیانوته. داسـې بـرېښي چـې اروابناد دوسـت شـینواري د پنځګونـو غورواونـورو لویـو ورو پښتنـي ټبرونـو ارکـاییکو نومونـو، لکـه سـړبن (ثړه بـن)، بیټنـي (د ښتـي کـوچـي)، غورغوشـتي یـا غرغښتـي (غرغوښتـي، غرلټوونکـي یـا د غـور اړونـد ټبر، یـا د کـهزاد پـه شننه ګرشاسـپ)، کـرلاڼي(کرونـدګر)، اپریـدي (Aparati) خـټك (sttagyae)... دې پـایلې تـه رارسـولي چـې پښتانـه دې لـړ تـر لـړه درې بیلابیلـې ارې ((نسـبونه) ولـري(!) کـه څه هـم پـر اولاف کـېرو دا نیوکـه کـوي چـې ولـې یـې (د پښتانـه یـو وجـود د افغـان او پـټان پـه نامـه سره دوه ټوټې کـړي دي...' (دوست ۵۸مـخ).

۴-۱۳-۵: پـه دې کـې خـو څه اړنـګ پـاتې نـه دی چـې ډېر پښتنـي ټبرنومونـه ډېر لرغونـي او تـاریخي سرچینـې لـري، لکـه ابـدال د یپتـل او یپتـال اوښتـې بـڼه چـې پراسـتاد حبیبـي او کـهزاد سـربېره یـې ان تورکتومـي دوکتـور راعـي بـرلاس هـم پخلـی کـړی دی. (نیمـروز، لنـدن ۲۲ ثـور۷۷).

یـا الکـوزي او اراکـوزي د یـوې اتمولوجـی پـه درلودلـو سـره دا مانـا نـه لـري چـې هرومـرو دې ورسره نومولـي (مسمی ګانـې) هـم تـر اوسـني پښتني ټبریز جوړښته پـر شـا ولاړ شـي.

د سـاري پـه تـوګه پـه پښتنـو کـې د کـوم پښتانـه نـوم (مغولخـان) ټېرشـوی او بیـایې نبـیره هـم "مغـول خـېل" بلـل کـېږي، بېلـه دې چـې مغـول اري وګڼل شـي، همداسـې بـابړ(بـابر) هـم درواخلـه، لکـه څنـګه چـې د ټولـیز تـاریخي سـاك او څرمـه پښتنـي پښې سـهاك پـه اړه ورتـه پـه همدې څېړنـه کـې نغوتـه شـوې ده. ښایـي پـه نـادوده تـوګه د ابـدال پـه برخـه کـې داسـمه وخـېژي چـې پرنامـه سـربېره سـره نومولـي هـم بـې اړیکـي نـه اوسـي، مانـا داچـې کـېدای شـي، د یپتلانو پـاتې شـوني پـه

پښتنو کې راننوتي، او تر همرنګۍ وروسته يې له نورو سړېني او بيا (بورو) ترينو پښتنو سره ابدالي تېر رامنځته کړی وي، څکه لکه څنګه چې پاس نغوته وشوه، پښتانه او يپتلان او همدارنګه کوشانيان له ختيزو آريانيانو او بيا ساکانو څخه ګډل کېږي، نو همرنګي يې له هره پلوه زياته کېدونې ده. په نړيواله کچه څرګنداو نومېرلي (تشخيص شوي) نژادونه، هغه هم د اتنوګرافۍ يا فزيکي انتروپولوجۍ له پلوه جوت شوي او ډلبندي شوي نژادونه سره په اسانه ګډېدای او همرنګېدای نه شي او که سره ودونه هم وکړي، بيا هم يکې هماغه ګډې نبنې نښانې ليدل کېږي، د ساري په توګه پښتون -تورك يا پښتون -هزاره يو "ګډوله توکم" رامنځته کوي چې لږ ودېږي بېلګې يې هم موندلای شو. په يوه يوازيني توکم کې سره بيا د بېلابېلو ژبنيو ډلو بېلول او نومېرل د ژېپوهنې کاردی، نه دوګړپوهنې (انتراپالوجۍ)، نه دتوکمپوهنې (اتنالوجۍ) او نه د فولکلوپوهنې او کولتورپوهنې يا تاريخ او لرغونپوهنې.

۴-۱۳-۶: په تولیز ډول ويلای شو، چې ښايي پښتانه هم د نړۍ د نورو توکمونو غوندې سل په سل کې سوچه او نږه پاتې نه وي، لکه څنګه يې چې ژبه (پښتو) هم د نورو ژبوله اغېزه بچ پاتې نه ده، خو لکه څنګه چې د پښتو په برخه کې د څه له پاسه دوه سوه کلنو آريا نپوهنيزو څېړنو پايلې وښووله چې له هندي آريايي ژبو څخه له تولې اغېزمنۍ سره سره بيا هم يوه آرياني آرې ژبه ده او په آرياني کې بيا شمال ختيزه آرياني او په پای کې هم يوه ساکي ژبه. په دې توګه پخپله د پښتني توکم يا تبر په برخه کې دغه پورتنۍ خبره رښتينوالی موندلای شوې، په دې مانا چې که هرڅومره خپل او پردي توکمونه او تبرونه يکې راګډ شوي هم وي، بيا يې هم آرې (منشا) ته بدلون ورکولای نه شي، نه يې له آرياتوبه ايستلای شي او نه له آريانيتوب او ساکيتوبه. که دا انګېرنه په پټو سترګو هم

ومنو چې د یهودو کومه کوچنوتې کډوالـه ډلـه د پښتنو پـه زاړه (ساکي) پېر کې غورتـه راغلې او پکې مدغم شوې وه او دلیل یې هم دا چې سامي توکمي او آریاتوکمي سره د تورك مغولو یا نورو نژادونو هومره فیزیکي توپیرنه لري، خو دا چې لـه هغو لـږه کیو کډوالو دې د ساك او سلیمان ترځنگه یو دریم پښتون ورنیکـه را پیدل شوی وي، کورته او سکوته بې سروبوله لاځه چې گردسره د خندا وړده. د خلجي –غلجي خوبوړې افسانه هم همداسې درواخلـه او چې بیا تورك یو مخیز پېژندوړ توکم هم دی.

دوست شینواری پـه خپلو اړوندو شننو او پایلنیونو (نتیجه گیریو) کې د نوې ژېپوهنې لـه جوتو (سانتیفیکو) آرونو څخه زیات ددودیز و ما ویلیو تا ویلیو تر اغېز لاندې تللی دی. ده دا هڅه کړې چې د پښتو او پښتنو د آرې او تاریخ پـه برخه کې د نوې اکاډمیکې ژبپوهنې لـه استازی سره سره د زړې دودیزې هغې خیال هم وساتي، داهم لـه نارسایۍ او ځانساتۍ (محافظه کارۍ) نـه، بلکې زیاتره د لرغونپالنې (قدامت پسندۍ) لـه مخې. د هېرودت د پکتویس او پښتون پر ناسم ختلي اړیکي باندې یې بې کچه او بېخرته ټینگار د همدې خبرې یو بل غوره ښکارندوی دی. څکه تر گایگر راوروسته د استاد مورگن ستیرني پـه مخکښۍ لـه ۱۹۲۷ کال راهیسې تولو پښتو څېړونکو آریانپوهانو نوموړې اړوندي تر هر څه لـه مخه پـه دې غږ پوهنیز (فونېتیکي) لاسوند ناسمه بللې چې پښتو -ښت- (-ṣṭ) د پخوانـي کانسوننتي گروپ (-rs-) وروستنۍ پرمختیا ده او پـه دې توگه پښتون (paṣ̌tún) زر یو نیم زر کالـه پخوا پـه منځنـي آریاني او
¹دوه دوه نیم زر کالـه پخوا پـه لرغوني آریاني ساکي پېرکې پرسوانه parswāna کېدون لري چې پښتو بیا پرسوا-parsawā او پرسوه parsūaḥ*– راځي. (مکنزي ۵۴۹ مخ) مورگن ستیرنې –اتمولوجي ۶۰ مخ او سکبرو ۱ مخ، دغه راز د همدې څېرکي پـه وروستۍ

برخه کې) داچې د پرسواته الف پر لنډ (معروف) واو اوښتی، هم له تاریخي بدلونونو څخه ګڼل کېږي.

اروانښاد دوست ددې لپاره چې د "تربوري پارسی" پخوانی غږونه او غږ غونډونه له خپلې ځانساتې غږپوهنې سره سم تراوسه ساتلي دي او په دغه لړکې يې –رس –(-rs-) غږغونډ، یا په بله وینا ښواکغونډ (کانسوننټي ګروپ) د پښتود – ښت – په وړاندې، نو داورته ستغه او نازغم وړه برېښي او وايي (دوست، پښتانه څوک دی؟ ۴۰ مخ): "دغه اشتقاق که څه هم د (پرس =پوښتنه) په څېر لفظي بدلون موږ ته راپر زړه کوي، خو دا ېتيمولوژۍ نور کوم منلي اساسونه نه لري، اېتيمولوژيك اساس يې هماغه دويدا پکته، ديونانی مؤرخينو پکتويس دی." د- رس- او – ښت – همدایوه ښېلګه "پرسیدن - پوښتل" نه، بلکې نورې هم شته لکه په (ترسېدن – تښتېدل یا ښايي ترهېدل، (راست – رښتیا)، اوښتی او ان (پارسي – پښتو) چې پارتي او پهلوي هم ورسره ګډه آرپوهه (اتېمولوجي) لري. اوستا ورېسه varesa (وېښته) او نورې ورته ښېلګې کمې نه دي. د پښتو (-ښت-) پخوانی بڼه (-rs) بیا پر خپل وار په زړې آریاني -rz– پسې ځي (مورګنستيرني، برن پوهنتون ۲۰-۱۱-۱۹۶۷). په يو نيم پښتو ګړدود (د کوټې خواته) د وېښته زړه بڼه wresta تر اوسه ژوندۍ ده. د (ګ- د ب- غ ل و) او داسې نور بې شمېره انډولونه هم دروا خله. که هسې د لرغونوالي د سیالۍ تریګنۍ خبره وي، خو پښتو بيا له ګرامري او ويي پانګيز (لغوي) ارکاییزم پلوه، نه يوازې له پارسۍ څخه میدان وړي، بلکې تر ټولو آريائي ژبومخکې ده. ان په یوناني پوروپیونو، لکه میچن او مچنوغزه کې تردووزروکلو زياته مخينه لري. (د مېکنزي د ليکنې هماغه مخ).

کـه ښاغلـي دوسـت نـوي ژبپوهنـه او بيـا آريـاني فلالوجـي پـوره سـهلې واي، هيڅکلـه بـه يـې د لرغونپـالنې لار. هغـه هـم ددوديـزو ليکوالـو لار نـه واى را خپلـه کـړې. بلـه‌ئيمـګړتيـا يـې داچـې د نوروخپلوانـو ژبـو غونـدې د پښتـو درېګونـي تـاريخي پړاونـه (دورې) سره نـه بېلـوي يـا بېلـولای نـه شـي او پـه دې تـوګه دغـور او اراکوزيـا پښتانـه پـه يـوه اولادوونلـرو يـا ورنيکونـو (سـاك او يـهود) پـورې تـړي او د کسـي (سـليمان) غـره او نـور پښتانـه پـه سليمان نېکـه پـورې، بـې لـه دې چـې سـوچ وکـړي، لکـه څنـګه چـې استـاد مـورګن ستـېرنې پـرې د ۱۹۷۵ کـال پـه وينـا (او ليکنـه) کـې رڼا اچولـې، د پښتنـو زوړ(سـاکي) پـېر لـه پاميرو بلخ څخـه ساکسـتان تـه لـه نوروسـاکي ټبرونـو او ژبـو سره يـو ځای را پيلـېږي، هېلمنـد، غـور، زمينـداور، ارغنـداو او بيـا کسـې غـره تـه رسـېږي، پـه دې تـوګه يـې منځنـى او اوسنى پـېر د کسـې غـره او ژوب نـاوې او نـورو سيمو کـې نومـېږداى (تشـخيصېداى)، يـا پـه بلـه وينـا اټکلېداى شـي. دغـه تـاريخي پړاونـه سره سـم لـه لاسـه چـې نـور لاسـوندونه لاترلاسـه شـوي نـه دي، د پارسـي هغـو لـه مخـې بېلـېداى شـي، لکـه زوړ هخامنشـي پـېر، منځنـى ساسـاني پـير او اوسـني اسـلامى پـېر. بـل خـوا پښتانـه د يـوه ژبـات شـوي آريـاني اتنولېنګوېستيك يـوون (واحـد) پـه تـوګه هرومـرو بـايد لـه سـترو لومړنيـو آريـاني (پارسـي، مـادي، پـارتي، اوسـتايي او سـاکي) څانـګو څخـه پـه يـوې دې اړه ولـري چـې لـه نېکـه مرغـه يـې لـه وروسـتۍ هغـې (سـاکي) څانـګې سره اړونـدي ژبـات تـه رسـېدلې او پـه سـاکو کـې د پکت يـا پکتويس هـم کـوم څرك نشـته.

۴-۱۳-۷: ارواښاد دوسـت داسـتاد حبيبـي پـه لاروۍ لـه "پښتـون" سره د هـېرودت د "پکتويـس" د اړونـدي لپـاره (۴-۲) د پښتـو ختيز ګړدود اوسـنى "پختـون" رامختـه کـوي او لـه دې سره ددغـه ويـې دوه نيم زرکلن غـږيز (فونېتيکي) بدلـون لـه پـاى څخـه بېرتـه پيـل تـه وړي د

ژبپوهنيز او بيا غږ پوهنيز آرله مخې غږ بدلون په تولیزډول له تاريخي بهير (مسير) سره مخ پروړاندې ځي، نه پرشا، نو په همدې لړ کې "پښتون" او "پښتو" له خپل اړوند فونېتيکي قانون سره سم له مخينيو بڼو پرسوانا -parswāna* او پرسوا -parsawā* څخه پښتون paštún او پښتو paštó ته را اوړي، راوروسته دغه دواړې بڼې بيا په منځنی پښتوکې paxǔn او paxto او په ختيزه پښتو کې پختون paxtún او پختو paxtó ته رااوړي -هر ګوره د سويل - لويديز د paṣ̌tún او paṣ̌to ترځنګه سوېل ختيز paštún او paštó ځېلونه (وارينتونه) هم تر منځنيو او ختيزو هغو لرغوني برېښي. په دې ډول دغو ويبونو له دونيم زرو کلو راهيسې تر اوسه څلورګوني بدلونونه موندلي، يا په بله وينا څلور ځلې يې خپلې بڼې اړولې دي.

له دې کبله، د دې پرځای چې د تاريخ د پلار هېرودت د (۴۲۵-۴۸۵) مخزېږدي کلونو پرناسم جوت شوي "پکتويس" ببځايه او بې ګټې تينګاروکړو، ولې د ځمکپوهنې (جغرافيا) د پلار بطليموس ددويمې زېږدي پيړۍ پرسويتي (parsuētai) راتينګ نه کړو چې هم له تاريخي - جغرافيايي پلوه او هم له تاريخي غږ پوهې او آرپوهنې (فونولوجۍ او اتېمولوجۍ) له پلوه له پښتنو سره پوره اړخ لګوي چې وايي:

"هغوی خپل آرتاتوبي له آراکوزيا او هېلمند څخه د سليمان غرونو او غزني -کابل خواته وغځاوه." (سکېرو ۳۸۴ مخ)

دوست که څه هم د پکتويس ترڅنګه د "د پاکستان ولسونه" parsa او parsava او د ګرانتوفسکي پرچوه parcava او پرسو parsu او داسې نور په څرمه ډول له پښتون سره اړوند ښوولي، خو بيا يې هم د استاد حبيبي پر بې سروبولو څرګندونو ډېر زور اچولی

او د پکتویس په اړه یې بطلیموس هم له هیرودت سره ملګری کړی دی(!) (دوست، هماغه اثر ۳۳-۳۹ مخ)

د پتهان، روه، روهي او افغان په برخه کې یې هم له همداسې ګډولې څخه کار اخیستی او خپل کتابګوتی یې پرې بېځایه پړسولی دی، که څه هم دواړه اړوند اثار یې د بېلا بېلو لیکنو د غونډونو په توګه د پر له غښتیو او پرله پېلیو کتابو مېتودیکه بڼه نه لري. د "په اسلامي عصر کې" تر سرلیك لاندې یې چې کوم توکي د پښتنو او افغانانو او افغانستان په اړه راټول کړي او اوډلي دي، هم کوم نوښت نه لري او زیاتره بیا ځلي (تکراري) یا د جوماتي پوهانو خبره "تحصیل حاصل" بلل کېدای شي. په زړه پوري لا دا چې په دغه برخه کې یې بیا هم زیات زور پر اټکلي "وجه تسمیو" اچولې دی. (دوست پښتانه څوك دي؟ ۴۵-۶۶مخ)

زما په اند داړوند "اسلامي پېر په اړه د پوهاند دوکتورحبیب الله تږي هغه هر اړخیزې" څېړنې او پلټنې هم بشپړې دي او هم کره، چې د دوست دوروستي کتاب "پښتانه څوك دي؟ ترچاپ له مخه او را وروسته پر۱۹۹۸ کال د ازاد افغانستان په میاشتنۍ کې برخه برخه خپرې شوې او د همدغه کال په پای کې یې کتابي بڼه "پښتانه" موندلې ده.

## ۴-۱۴: پښتو او پښتانه سره نه بېلېدونکي دي

۴-۱۴-۱: ښاغلی محمد انور نومیالي په خپل "د پښتنو د ټولنیز تاریخ مبادي" نومی اثر کې د پښتو او پښتنو وبله پیوستون او یوون ډېر ښه ترا څېړلي او لیکي (۱۸-۱۹ مخ):

"د ژبې او قوم (اتنیوس) ترمنځ د نسبت مساله د هغو خبرو له جملې څخه ده چې په تیوریك ډول په اتنولوجۍ او په امپریك ډول په اتنوګرافۍ کې تر څېړنې لاندې نیول کېږي. تر هغه ځایه چې د ژبې او قوم رابطه د بشري تاریخ په سابقه کې په عمومي توګه تعقیب

کېدای شي، نو له یوې خوا څخه لیده کېږي چې یو شمېر ژبې د خپل اصلي قوم د اقتصادي، اجتماعي، کولتوري او سیاسي انکشاف په دلیل له خپلې اېتنیکي محدودې څخه وتلې او نور بېلا بېل اېتنیکي هویتونه یې هم په خپله حوزه کې را کښیایستلي وي. خو بل پلو ته بیا داسې ژبې پر مخه راځي چې دغه راز انکشاف یې نه وي په برخه شوی بلکې د قوم نوم او د ژبې نوم یې یو له بل سره تړلي پاتې او په همدې اساس یې "ژبني جمعیت" له "اېتنیکي هویت" سره بشپړ مطابقت کوي.

کومې ژبې چې د اقتصادي، اجتماعي، سیاسي او کولتوري رشد په نتیجه کې یې د خپل قوم له نامه اړیکي شلېدلي وي او بېلا بېل اېتنیکي واحدونه یا قومي هویتونه یې په خپله غېږ کې را یو ځای کړي وي، نو د کلماتو او الفاظو تاریخي بېلګې او داسې نورې ژبنۍ پدیدې یې یوازې د یو ځانګړي قوم پخواني جریانات نه انعکاسوي، بلکې د متعددو قومونو او ګڼو ولسونو د ژوند حالات بیانولای شي. اما داسې ژبې چې د یو شمېر عواملو تر اغېزې لاندې د خپل قوم له بومي ساحې څخه نه وي وتلې او د هغه له نامه سره یې خپله رابطه نه وي شکېدلې، نو ضرور د هغه قوم د اجتماعي، کولتوري او اقتصادي سابقې په نسبت د تاریخي مدارکو او منابعو په توګه ژبني ذخایر ورکولای شي. زموږ د هېواد په ژبو کې پښتو تقریبا هغه راز ژبه ده چې تر ډېره حده یې د پښتنو له قومي هویته سره د خپل نامه تاریخي رابطه تر نن ورځې پورې ټینګه او ژوندۍ ساتلې ده. که څه هم ځینې واړه ګاونډي اېتنیکي واحدونه یې دلته هلته د خپل نفوذ په ساحه کې را کښېایستلي دی، اما نه د کمیت په لحاظ او نه هم د کیفیت په لحاظ پر دغه محدوده پراختیا باندې لویه تاریخي محاسبه بنا کېدای شي.

*په دې اساس نو دا علمي فرضیه مطرح کېدای شي چې پښتون له خپلې پښتو سره یو ځای د واحدې دورې یو همزولي*

محصول دی او لـه هره ځایه چې د پښتـو مبداء را نیـول کـېږي، بـايد د پښتـون موجوديت لـه هم هغـې زمـانې څخـه پـه پـام کـې ونیـول شـي. ځکـه پـه دې مـوده کـې چـې د قـوم او د هغــه د ژبنـي نـوم يـوه لغـوی ریـښه لـري، نـو د قـوم او ژبـې تـاريخي سـوابق او مظـاهر يـې هـم يـو د بـل پـه روښانـه کولـو کـې متقابلـه مرسـته کـولای شـي. پـه دې ترتیـب نـو هـر څه چـې يـې د ولـس تـاريخ وي، هغـه يـې د ژبـې پـر تـاريخ رڼا اچـوي او هـر څه چـې يـې د ژبـې تـاريخ وي، هغـه يـې د ولـس تـاريخي حـالات روښانـه کـولای شـي. ددې خـبرې ويلـو تـه ځکه ضـرورت نشـته چـې ژبنـی ببلـګې پـه دغسـې مواردو کـې هغـه شـان مـدارك او منـابع نشـي کـېدای چـې د يـوه پخوانـي سـلطان او يـا قـهرمان شـخصي بيـوګرافـي او يـا فـردي ګزارشـات پـه کرونولوجيـك تـوګه مـوږ تـه را وښيـي، بلکـې پـه کلـی او مجموعـی ډول د يـوه ولـس يـا قـوم د ټولنیز تـاريخ پـه روښانـه کولـو کـې لازمـه مرسـته کـولای شـي".

۴-۱۴-۲: روسـی پښتـو پوهـاند نيکـولای دو ريـانکوف پـه کـابل کـې د ۱۹۷۵ کـال نړيـوال پښتـو سيمنار تـه پـه خپلـه را استولې ليکنـه کـې د پښتـو او پښتنـو د سـاکيوالي د پخلـي تـر څنګه ښاغلی نوميـالي تـه ورتـه ټولنژبپوهـنيزه (سوسـيو لينګويسـتيکي) شـننه وړانـدې کـوي چې داسې پيـل مومـي:

۱- د پښتـو يـو مشـهور ولسـي متـل وايـی چې "ژبـه هغـه ده چې پر خولـه ده"

ددې ولسـي سـوليز (منطقـي) متـل جـاج چـې لـه پيړيـو پيړيـو را هيسـې د وګړو پـر خولـو ګرځي، پـه انسـاني ټولنـه کـې د ژبـې رښتينـی ارزښت او رول څرګنـدوي چې پوهـان ورتـه ټولنیز ژبنی ژونـد وايـي. پـه دې تـوګه دغـه ګروهـه منځتـه راغلې ده: ژبـه هغـه ده چې خلکـو خپلـه کړې ده او د ولسـونو د اوږدو اوږدو پيړيـو پـه ژونـد کـې د کـړن ډګر تـه

راوځي. د متل په ساده او دوده نومونه (اصطلاح) په ټولنه کې د ژبې رول او ټولنيزې دندې ښوول کېږي. د پښتو علمي څېړنه او د پېژندنې د دريځ پوښتنه يې هم علمي او هم عملي موضوع ده. په دې ځانګه کې علمي څېړنې د وګړو له ژوند سره ټينګ اړيکي لري.

ژبه په ټولنه کې د نومونې (نوم اېښوونې)، اړيکي او د ولسونو د څرګندونې پازه پر غاړه اخلي. د ټولنې په هره برخه کې د ژبپېژندنې او ژبکارونې پوړې (دريځ) اړين دي، ځکه چې ژبه په ټولنه کې د اړيکي ټينګولو وسيله ده. علمي څېړنه بايد د خلکو د کارندويې (فعاليت) ټول ډګرونه تر پام لاندې ونيسي او د ژبې د پرمختيا تاريخ ولولي: *يوازې د ژبې علمي څېړنې موږ ته دا را ښوولای شي چې ژبه څنګه وده کوي، پخوا څنګه وه، بيا څنګه شوه او په اوسنۍ ټولنه کې د ژبې اړيکنيو ځانګړتياوو د بشپړتيا په وړاندې لارې چارې کومې دي*

۲- موږ ټول هم مورنۍ او هم پردۍ ژبې څېړو. اوسنۍ ټولنيز ژوند او د انسان کار کړن د زده کړې لپاره لوی ښوونځی دی. د ژوند په همدغه ښوونځي کې موږ پر له پسې له ناپوهۍ څخه د پوهې پوړۍ ته ور نژدې کېږو او خپله ژبه د اړيکنې وسيلې په توګه ورځ پر ورځ بشپړوو. په دې کې اړنګ (شك) نشته چې د زده کړې د هاند و هڅې پايلې، مهال او پوهيزه کچه په ځانګړې ورتيا پورې اړه لري، خو بيايي هم په هر ټولنيز ډګر کې د ټولنې وده او ژبنۍ ژوند يوې ټوليزې اړيکنې پوړۍ ته اړتيا لري.

د ديالکتيك فلسفې له مخې هر راز انساني کار کړن د پېژندنې ځانګړتيا لري په دې توګه ژبه چې د انساني کړن په ټولو اړخونو کې کارول کېږي، ددغې پېژندنې د بهير يووالی ښيي. ژبه له مادي (توکيزو) پيداوارو او مانيز کولتور سره سيده ټينګ اړيکي لري، هر ګوره، پښتو ژبه هم داسې تاريخي، ټولنيزې او ځانخبرې (شعوري) ځانګړتياوې لري او دغه ځانګړتياوې بايد په پوره کچه

وځېږل شي چې د ژبنی ژوند په اړه یا په بله وینا د پښتو ژبې د پرمختیا او پیاوړتیا په اړه یا ددغې ژبې د ښوونې او مېتود او نورو اړوندو سکالوو په برخه کې خبرې اترې تر سره کېږي.

کله دا پوښتنه رامنځته کېږي چې د پښتو ژبې جوړوونکي څوك دي او ددې ژبې په پرمختیا کې پوهنه څه نقش لوبوي؟

۳- پښتو شعر و ادب ته په لرغونو پېړیو کې د لویو پوهانو او شاعرانو نومونه څرګند دي، خو د تېر مهال دغه شاعران او پوهان چې هر څومره ستر وو، که روښان و، که حمید، که خوشال و، که رحمان، یو هم نه شي ویلای چې پښتو ژبه زه یم. په دې کې شك نشته چې هر یوه لویې ادبي کارنامې تر سره کړې دي، دا ددې لپاره چې پښتو خپله پښتو شي. مګر ټول په ګډه له خپلو لارویانو او دښمنانو سره له هماغه زمانو را هیسې په ټولیز ډول "پښتو ژبه" کېدای نه شي. *یوازې همدا پښتون ولس و چې په زرګونو زرګونو کلونو یې خپله ژبه رغولې او په خپله ژبه کې یې ولسي برخلیکونه را خوندي کړي دي. په خپل اتل تېر مهال کې یې ښېسارې بد مرغۍ، لوړ و ځوړ د خلکو روان، وینه مینه او تر ټولو وروسته د دوی د خورا اصیلو لونړو او زامنو هیلې او اسرې پکې را خوندي کړې دي. یوازې همدغه بې مرګه (تل ژوندي) خلك ویلای شي چې "پښتو ژبه" موږ یو.*

۴- په کار ده، هره پوهه علمي بنسټ ولري. پوهنیزه څېړنه باید د پښتو ژبې پېژندنې لپاره تر ټولو لوړه وي. په خواشینۍ سره وایو چې په کړن کې خبره سرچپه ده، تېروتنې، کړنې او انګېرنې ربتینه پوهه پر شا تمبوي. ددې لپاره چې د پوهنې ځای او پوړۍ برابر شي، په کار ده، تېروتنې، کړنې او انګېرنې لرې کړ شي، ان دا په هغو پوښتنو اړه لري چې وایي: پښتون څوك دی او پښتو څه ده؟

دا پته خبره نه ده چې تر اوسه پورې کله ناکله دغو پوښتنو ته داسې ځوابونه ورکول کېږي چې له تېروتنو، کږنو او انګېرنو څخه رنګ اخلي. دا ډول ناسم او بې سروبوله ځوابونه د تولنيزې ځانخبرۍ (تولنيز شعور)، لوړتيا او ملي ښاخ (غرور) له پالنې سره مرسته نه شي کولای.

دا ښکاره خبره ده چې پښتانه، پښتانه دي. له بده مرغه په ځينو کتابګوټوکې کښل کېږي چې پښتانه د تورات له مخې د يهودانو کومه ورکه ځانګه ده. ځينې ليکي چې پښتانه يوه عربي قبيله ده چې لار ترې ورکه شوې ده. ځينې نور پردې ټينګار کوي، پښتانه هغه څوك دي چې خپله ژبه يې ورکه کړې ده. او اوس په پردۍ ژبه خبره کوي. يا دا چې پښتانه پارسيان يا پنجابيان دي. خو پښتانه، پښتانه دي.

۵-که څه هم پښتو ژبه تر اوسه پورې په پوره کچه نه ده څېړل شوې، خو دا به سمه نه وي که وويل شي. چې پښتو ژبه لږه څېړل شوې ده. د پښتو ژبې او ادبياتو ځينې اړخونه ښايسته ډېر کتل شوي دي. مګر اوس به غوره دا وي چې له نړيوال ازمېښت څخه ګټه واخيستل شي او د پښتو ژبې او ادب مسالې له پوهنيز اړخه هوارې شي. څه له پاسه زر کاله له مخه نړۍ لمه پښتون او افغان نومونو سره اشنا شوې ده. نامتو فيلالوجيست او پوهاند آرانسکي په رښتيا وايي چې د افغان او پښتون وييونو اتمالوجي په ژوره توګه نه ده ځرګنده شوې. زه له همدغه ليده په ګټه اخيستنه ګورم چې نړيوال ازمېښت داسې ربړې (مسئلې) څنګه اوارولاي شي. د نوميالو مشرانو پوهانو لکه وسيلي ابايوف او ګيورګ مارګن ستيرنې د اثرو له مخې مونږ ويلای شو چې افغان اوپښتون د يوه ولس دوه نومونه دي چې لومړنۍ مانا وې يې سره نژدې دي.

په پښتو پېژندنه کې څو ځلې ښوول شوي چې پښتو له سکيفو - ساك ګړ دود (ډايلکټ) سره نږدې ده. د سکه ويي ستاينومونه (صفتونه) لکه سکه ورور... هم شته دي.

۴-۱۴-۳: ابايوف دا ښووله چې د ساکانو د ژبې آره (ريښه) (-ap) وه چې مانا يې (اوبه) ده، لکه په (av/af=av-darak) کې (av-darak) اوبلن يا اوبلري (آبدار) مانا لري. دغه بېلګه موږ ته دا کابو را کوي چې د پښتنو تېرنۍ نوم ابدال (Abdal) څرګند کړو، مګر دغه ويي تاريخي او ګړ دودي بڼه لري، لکه (Abdal/avdal awtal, atal?) له لومړنۍ مانا څخه يې نوې مانا وې جوړې شوې او په دې لړ کې د (ابدل) ويي مانا د ټينګ سړي، پياوړي سړي، يا بهادر سړي پر ماناوو بدله شوه. دغه ماناوې له موږ سره دا مرسته کوي چې د افغان ويی awγan/afγan=aw+xān سره برابر کړو. دلته خان xānله خاقان څخه اخيستل شوی او د đarak پر ځای وکارول شو. د ژبې د تاريخ يوه برخه د لرغوني ليکدود له مخې څرګندېږي، لکه اوغان، د پښتون ويی د آرپوهې (اتمالوجی) خپلې بېلې ځانګړتياوې لري چې آره يې pat بلل کېږي. ددې ويی تاريخي ګړدودي بڼې دادي:

pašt/ pašt/ paxt/ pakt

ګ. مورګن ستيرنې د pašt ويی د اوستا له paršta(شا)، د سانسکرېټ له prstha(شا) سره همآری انډول بللی او په دغه لړ کې يې پښته (غر يا د غره سر، لوړه) يو مانيز بدلون مونډلی، په دې ډول مارګنسترنې تري ټوليزه مانا The hill people (غرني وګړي) اخيستې ده او بله مانا يې پياوړي وګړي prominent ones. په دې توګه د باوري آرپوهو له مخې: نه يوازې دا چې د پښتنو او ساکانو نېکونه نږدې او خپلوان وو، بلکې له دې وييو څخه د ژبپوهنې غوري پايلې منځته راځي. پښتنو ساکان سکه ورونه بلل. د افغان او پښتون د وييو په بنسټ کې نږدې مفهومونه پراته دي، لکه ټينګ سړی، پياوړی سړی، بهادر سړی او نور... (د نيکولاي الکساندرويچ دو وريانکوف له ليکنې څخه چې د پښتو نړيوال

ځېړنيز مرکز د پرانيستې له کبله يې پر ۱۹۷۵ کال نړيوال پښتو سمينار ته راستولې وه). د "پښتو" او "پښتون" د ګډې اړې او مانا تر څنګه دا سوسيو لېنګوېستيکي او اتنولينګويستيکي تړاو هم هېرول په کار نه دي چې "پښتو" يې د "پښتونولۍ" د همماني په توګه له "پښتون" سره لري، لکه چې وايي : پښتون هغه چاته ويل کېږي چې "پښتو" لري، نه هغه چا ته چې پښتو وايي، لکه څنګه چې استاد مورګن ستيرنې دغه تړاو ته ډېر ارزښت ورکاوه، (فرهادي، ۳۱۱مخ). دا چې استاد د دووريانکوف او بيا زموږ ژوراندي ليکوال نوميالي په خپلو اړوندو شننو کې دا پولادي اتنولېنګويستيکي او سوسيو لېنګويستيکي اړوندي له پامه ايستې، د هېښتيا خبره ده. اولاف کېرو(72) O.Caro مخ) د پښتنې تېر په رغاونه کې له ساکانو سره پارتيان هم راګډوي.

هغه هم ښايي له پارتيانو سره د پټهان Pathan د جوليز (لفظي) نژدېوالي له مخې، لکه څنګه چې کاکا ستار پوپلزی او داکټر پالوال (۲-۱۵۹ مخ) پرې هم هسې بېځايه ټينګار کوي.

## ۴-۱۵: د غلجي او ابدالي د تورکيوالي زړه ببولالــه:

۴-۱۵-۱: د پښتنو د اريانيوالي او بيا ساکيوالي په اړه د ډېرو ګنو کورنيو او بهرنيو اريانپوهانو له ټولو ياد شويو انکار نه منونکو لاسوندونو او زياتونو سره سره بيا هم يو نيم تش په نامه تاريخوال او توکمپال د نومهالو پوهنو تر پوښ (ماسك) لاندې هسې د پښتني ضد او افغاني ضد ګرومو (عقدو) له مخې دا هڅه کوي چې د هېواد له اوسني بداکر او جلا هېوادي څخه په ګټه اخېستنه هماغه پخوانۍ کرغېړنې او تاريخ ځيلې افسانې له سره سوان او صيقل کړي او د چا خبره د "ملی ستم ځپلو لړه کيو" د ذهنونو په کرونده کې يې د بېلتونپالنې د تخمونو په توګه وشيندي. نُو بېځايه به نه وي، دلته د بېلګې په توګه د يوه تورکتوکمي، يا په بله وينا "پان تورکيست" افغان ليکوال قيام الدين راعی بر لاس د يوې

اخباري ليکنې په وړاندې د خپل غبرګون يو لنډيز د ربښتينو هېواد پالو او بې پلوه روښاندو پوهانو مخې ته کېږدم:

۴-۱۵-۲ : دوکتور راعي چې په چين او ترکيه کې يې خپلې زده کړې سرته رسولي او اوس د المان په مونشن کې د کډوالۍ شپې ورځې تېروي، په لندن کې د ايرانيانو له خوا په خپرېدونکې اوونيزه (نيمروز افغانستان، د ۱۳۷۷ د ثور ۲۲ مه ګڼه) کې تر "تسلسل اتنولوجيك ميان ابدالى ها، يفتلى ها وهون ها - ارائه ابدالى ها (درانى ها) و غلجايى ها به صفت پشتون، چون تاجيك شمردن هزاره ها را ماند" سر ليك لاندې يوه وږه ليكنه خپره كړې ده، دغه ليكنه له آره د هماغو اپلتو او بې سرو بوله يبولالو يو پايخوړ دى چې له زمانو راهيسې پرې يو شمېر تش په نامه تاريخ ليكونكيو او لنډاندو (متعصبو) ليكوالو شخوند وهلى او لا يې وهي. دا چې راعي باتې وهلى، دغه څېړنه يې پر نژاد پوهنه او ان ننني ژبپوهنه ډډه لګوي، هسې خلك پر ځان خندوي، زه ددغو دوو علمي څانګو د شاګرد په توګه له ښاغلي راعي څخه لومړى پوښتنه داكوم چې تر هر څه له مخه يې د توركو خلجيانو او پښتنو غلجييانو د همآروالي په برخه كې له يو دوو توركي توكمپوهانو پرته د پوهاند جاويد او پوهاند رښتين د ۱۳۴۰ كلو له تكري ليكنو څه كوم نوي اتنولېنګويستيكي توپير لري چې په پرله پسې توګه يې د كابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي په خپرونو "ادب" او "وږمه" كې خپرې كړې وې او دي او زه يې د شاګردانو په توګه نژدې پر نژدې د ټولو پايلو شاهدان وو؟

۴-۱۵-۳: دويمه پوښتنه مې ترې له سپينوهونانو سره د يفتليانو او ابداليانو د اړوندولو په برخه كې ده چې ايا د زبات لپاره يې د ناسمو تاريخي اټكلونو او ناپوهنيزو اخځونو او بيا چيني او توركي هغو تر څنګه پر كومو نويو اتنوګرافيكو او لېنګويستيكو بر سېرونو او ريكاډونو يې لاسبرى موندلى دى؟ په

هر ډول که ټاکلي وي، هسې د نومونو او ویيونو جولیز (شکلي) همرنګوالي اوتاریخ فرشته او بيا جهان نامه ورته زړو دوديزو او فولکوریکو سر چینو څرګندونې چې مخینه یې تر ۶۰۵ هـ کاله پر شا ځي، د بېلا بېلو توکمونو او ژبتوکمیزو ډلو د پېژندنې او نومېرنې (تشخیص) کره کاڼي (ملاك) وګرځي، په کار ده، د وګړپوهنې (انتراپالوجي) او توکمپوهنې (اتنالوجي)، یا په بله وینا د ننني اتنولېنګوېستیکو پلټنو او څېړنو تغر یومخیز را ونغښتل شي او پایله یې دا شي چې د نړۍ ملي- نژادي ډلبندۍ او برید بندۍ او په دې لړ کې د آریاییانو، یا په بله وینا آریانیانو او التایانو (تورك --مغولانو) تر منځ هغه له خرخشې، پوښتنې او نوې کتنې سره مخامخ شي چې له پېړیو پېړیو راهیسې سره دېوال پر دېوال ګاونډیان ولي دي. دا چې چیني تاریخوالو کوشانیان یوچي (Yuehchi) او یپتلان سپین هونان (سیتا اونا) نومولي،هسې یوه تېروتنه ده (همغریز ۷۵ مخ).

له ښه مرغه نن سبا اتنوګرافیکي څېړنې پلټنې دومره پر مخ تللې چې د ریاضي فارمولو په وسیله ان د انسانانو د څو میلیون کلنو ډېر وزمو (فوسیلي) کوپړیو تر مینځه د بېلابېلو لویو لویو نژادونو توپیر او نومېرنه (تشخیص) کولای شي، پاتې لاد ژوند یو شتو هغو.

۴-۱۵-۴: همدارز نن سبا نوې ژبپوهنې په تېره پرتلیزې او تاریخي آر پوهې (اتېمولوجي) او غږ پوهې (فونولوجي) پر خپل وار د وګړنیو کړنو انګېرنو، یا په بله وینا فولکس اتېمولوجي، ځای نیولی او چاته نوره دا اجازه نه ورکوي چې هسې نومونه او نومونې او جولیزې (شکلي او لفظي) همرنګۍ د ژبتوکمیزو، یا په بله ژبه، توکمیزو برید بندیو وسیله وګرځوي او ددې یا هغه تېرو نژاد تاریخي ویاړونه په خپل توکم او تبر پورې وتړي.

زه د شپېتمې زېږدي لسیزې په لومړۍ نیمه کې، څه د افغانستان د ژبپوهنې اتلس تر پروژې لاندې د اروپایي آریانپوهانو

په لارښوونه د ګړ دودي څېړنو او څه د شوروي انتراپا لوجېست پروفیسر دیبېتس په ملګرتیا د اتنو ګرافیکي څېړنو په اوږدو کې د بېلا بېلو افغاني سیمو او ټبرونو په اړه له بې کچه کړنو انګېرنو او فولکس اتېمولوجیو سره مخ شوی یم. د بېلګې په توګه زیاتره پنجشیریان له عادی کلیوالو نیولې تر زده کړه والو پورې په دې ګروهه وو اولادي چې د پنجشیر نوم له هغو پنځو شېرانو (پیرانو) څخه آره اخلي چې په پنځګونو دروکي یې مړیستونونه ټیکاو لري، حال دا چې پنجشېر د پخواني پنتهېر (پنځه نهره یا روده) اوښتي بڼه ده، ان د اتلسمې پېړۍ تر پایه د احمد شاه بابا په مالیاتي دوترو کې هماغه آرلیکدود "پنتهیر" کښلی پاتې دی، (نورزی)، د مغولو په دربار کې لیکل شوې تاریخ، دکابل پوهنتون له خپرونو څخه)، د هندوکش عامیانه اېتمولوجي خو په ټولو افغانانو کې ټولیزوالی (عمومیت) لري. په پښتنو کې بیا وردګ زیات زور پر عربي آرې او نسب اچوي او ځانونه کورنۍ قریش او سیدان بولي. په دې لړ کې ډیر زده کړه وال وردګ له خپلونومونو سره "سید" ملګری کوي، لکه واخلی "جنرال سید عبد الغني وردګ ، ډګروال سید عزیز احمد وردګ او نور.

حال دا چې دغه ټبر د کرلاني پښتنو د یوې پښې په توګه څو پېړۍ له مخه له سویل ختیزو سیمو څخه اوسنۍ سیمې ته را لېږدېدلی او په زړه پورې یې بیا دا چې د غلجي پښتنو ګاونډیانو په منځ کې یې تر اوسه خپل ګړ دودي ځانګړتیاوې خوندي ساتلې دي، لکه ش د س په ورانډې په شته، شول... کې او یا واولي بدلونونه. پروفیسر د ببېتس د خوات درې د وردګو د کچ و میچ په ترخ کې نور زغم له لاسه ورکړ او زه یې اړایستم، لږه تر لږه یې نیم لوستو مخورو ته خبرې ور وژباړم چې د اتنوګرافیکي کچ ومېچ له مخې هغوی له نورو پښتنو څخه کوم توپیر نه لري او هغوی هم په خندا او خندې سره خپل غبرګون وښووه. دا هم په زړه پورې ده، چې

د یوه هندي لرغونپوه د شنني له مخې د "وردك" نوم هم له خوات درې سره تړاو لري او هغه دا چې دغلته د خروشتي ډبر لیکونو تر څنګه یو لړ بودایي بوتان هم را بر سېره شوي او په زړه هندي "ویهارا" بوت ته وایي او (دك) توني (مکاني) روستاړی دی چې په دې ډول "وردك" له آره "ویهارادك" و. د بلخ زرتشتي "نوبهار" اورتون، یا په بله وینا بودتون هم نو ویهارا "نوی بوت یا بودتون" یا داسې ورته بنه او مانا درلودې ده او ننګرهار هم "ناګره ویهارا" یا "د بوتانو ښار" مانا کېدای شي.

۵-۱-۴: په همدې ډول ددې بېلګې هم ډېرې مومو چې په نابېره (تصادفي) توګه ځینې وییونه او نومونه سره همجوله او ان همماناسره برېښي، خو رښتینه آره یې سره یوه نه وي او له همدې لامله ورته ژبپوهان "accidental-words" وایي، لکه پاس یاد شوي پنجشېر او هندوکش یا چیني شي (shi)، زېو (zeo)، پېزه (peza) او یووي (yowi) چې له پښتو (ښه، ځو، پزه، یو) سره هسې تصادفي همرنګ او همماناښکاري. ان د ښاغلي راعي دویم تېر نوم یا لنډ نوم "بر لاس" له پښتو بر لاس (زبر دست، بالادست، برتر) سره هسې د برابرۍ له مخې په یوه بڼه دی، مګر نه سېره همماننیزدی او نه همآري او همریشه. نو د پښتون غلجي او تورك خلجي تر منځ هم یو تصادفي همرنګوالی لیدل کېږي او نومولي (مسمی ګانې) یې سره هیڅ کوم تړاو او اړیکې نه لري. "خلجي" د تورکو هغه تبر دی چې د تورکیې په خلج درې یا سیمې اړه لري او "غلجي" د پښتو اتېمولوجي له مخې له (غر) او اړیك روستاړی یا توني روستاړي څخه آره اخېستلای شي چې په همدې څېړکې کې یې څرګندونې شوي. غور د پښتنو له پخوانیو مېشتځایونو څخه ګڼل کېږي، هسې خو پښتانه له هماغو لومړیو څخه زیات غرني استوګن پاتي شوي، که په پامیر کې وو او که په غور او کسي غره.... کې. لوی ختیځپوهاند او پښتو پوهاند دارمستېتر ښایي لومړی سړی و چې پښتونخوا ته

د ۱۸۸۶-۱۸۸۷ کلونـو د څېړنـيز سـفر پـه تـرڅ کـې تورکـی خلجيـان هـم پښتانـه غلجيـان بللـي دي چـې پـه "افغانـانو آره او تـاريخ" نومـی کتـاب کـې يـې ورتـه نغوتـه کـړې، خـو سرچپـه موخـه يـې نـه درلـوده (د دارمستېتر ژونـد ليـك)

استـاد مـورګن سـتيرنې چـې کلـه غـواړي پـه سـويلي افغانسـتان کـې د پښتنو ړومبني پښوخاپونـه سـهي کـړي، لـه سيسـتانه نيولـې تـر کسـې (سـليمان) غـره پـورې تـوپونومـي (ځاينومپوهنـه) تراتېموجيکـي څېړنـې لانـدې نيسـي، لکـه خاشـرود، هېلمنـد او ژوب او داسـې نـور. ځينـی پښتانـه د غلجـي را وروسـته بـڼې لکـه غلـځی او بيـا غلـزی لـه زړو فولکـوري کيسـو سره تـړي چـې د ببېټ نيکـه د لـور بـي بـي متـو لـه حسـين نومـي غـوري شـاهزي سـره کـوژده کـړې وه او تـر واده مخکـې راوړی زوی يـې "غلـزی" نومولـی و او لـه همـدې کبلـه هـم د متوزيـو پښتنـو لـه دوو ځانـګو څخـه يـوه "غلـزی" بلـل کـېږي. خـو د ژبنـي بدلـون لـه مخـې تـر غلـزي څخـه غلـځي، غلجـی تـه نـږدې بـرېښي. ځينـې دوديـزو پښتنـو ليکوالـو د خوشـال خـان او بيـا د دار مسـتېتر پـر لاروۍ پـه سر چپـه ډول د غلجـي او خلجـي د تصـادفي جولـيزې همرنـګۍ لـه مخـې تورکتومـي خلجـي هـم پښتانـه غلجـي بللـي دي چـې د غـوري پښتنـو شـاهانو د مربيـانو (مواليـانو) پـه تـوګه يـې پـه هنـد کـې يـوه شـاهي لـړۍ را منځتـه کـړې وه. کـه څېرې هـر يـو نـوم لـه خپـل نومولـي سره تـل هـم آهنـګي درلـوداى، نـو پـه کـار وه، د افغانسـتان او ايـران مغولتوکمـي هـزاره د همدغـه نـوم پـر بنسـټ پارسـي توکمـي، او لکـه څنـګه چـې ښاغلي راعـی د اسـتاد حبيبـي پـه اخـځ پـه ملنـډو يادونـه کـړې، "تـاجيك" بلـل شـوی وای. د اسـتاد دا تـاريخي سـمونه هـم ردوي چـې سـپين هونـان هسـې پـه تېر کـې اروپاييـانو يپټلانـو تـه ويلـي، کـه نـه لـه آره سـپين آريانـان دي، د راعـي د اګوتنيونـه پـر ځاى ده چـې دا راز سـتاينومونه پـه ارياييـانو کـې دود نـه وو، بلکـې يـوازې د تورکـانو او مغولانـو تـر منـځ، لکـه زېړ اغـوران، تـور قرغـزان، سـپين تاتـاران او تـور

تاتاران او داسې نور سره تو پېږېدل. په هره توګه يپتلان آريايان او يا آريانيان وو او هماغو اروپايي ختيځپوهانو او بيا آرينپوهانو دغه زړه تېروتنه ناسمه زباته کړې او هونان ربښتيا هماغه تورک - مغول آري "خانان" دي.

دلته يوازې يپتال له ابدال سره اړيکي درلودای شي چې د نومونو په څېر يې نومولي هم سره همتېري دي، څکه که پخوانيو له بغپور څخه فغفور جوړولای شو، له يپتال څخه يې هم يفتال، هفتال، هيطل، هيفطالی او يفتلی هم جوړولای شو.

دا چې ښاغلی راعی بر لاس بيا هم د استاد حبيبی په اخځ هپتالي (ابدالي، يفتلي) په "يوچی" تورکو پورې تړي او بيا پرې د ضدونقيض خبرو نيوکه کوي، دی پوه شه او د هغه منلي استاد پاکه علمي اروا، خو په هر ډول يې تر پايه دده له "تورکي ذهنيت" سره سمه خبره نه ده کړې او په پوره باور استاد حبيبی هيڅکله دا ويلاړ نه دی لرلی چې خپل ابداليان او همداراز د هغو مخينان يپتلان دې په لوی لاس په تورکو پورې وتړي. استاد دووريانکوف (۴-۱۲-۱-۳) پر خپل وار د ابدال پخوانی بڼې اودل (abdal)، اوتل (awtal)، اتل (atal) او داسې نورې ښوولې او دا هڅه يې کړې چې لومړی توک aw د مختاړي په توګه ساکي ap (اوبه) ته ورسوي او د اوغان awγān له aw سره يې په يوه لړکې راوړي او بيا يې (aw-xān اوخان) ته ورسوي. د هندو اروپايي او په تېره بيا هندو آرياني ژبو څېړونکو او بيا په تېره تېره اروپايي ختيځپوهانو د دوه دوه نيم سوو کلنو څېړنو او شننو له مخې ان د پروفيسر د ښبتس تر اتنوګرافيك ريکارد له مخه د سراسري افغانستان ژبتوکميز تړښت (اتنولېنګويستيك ترکيب) نومېرلی او پر څلور ګونو (آريايي) التيايي يا تورک - مغولي، سامي او دراوېدي) ژبتوکميزو ډلو يې ډلبندي کړې دی. په دغه لړکې پروفيسر مورګن ستېرنې (۱۸۹۲-۱۹۷۷) پر ۱۹۳۱ کال د افغانستان په دويم څېړنيز سفر کې د

لومړنـي ختيـځپوهـاند او بيـا ژبپوهـاند پـه تـوګه د نورسـتانيانو د يونـانيوالي افسـانه را ونغښتـه او پـه ډاګه يـې کـړه چـې دا د زړو آرياييـانو پـه يـوه لـوی ټبـر اړه لـري. (روان فرهـادی ۳۶ مـخ همـدا راز ياسـمين جنـاء ۹۶۲ مـخ) اسـتاد مـورګن سـتيرنې تـر فرانسـي جېمـز دارمسـتېتر (۱۸۴۹-۱۸۹۴) او خپـل اسـتاد ويلـهلم ګايـګر (۱۸۵۶-۱۹۴۳) وروسـته دريـم او وروسـتی آيارنپوهـاند او پښتـو پوهـاندو چـې پـه هـر اړخيز او پرېکړونـي ډول يـې د پښتـو آريـاني دريـځ زبـات کـړ او بيـا يـې د پښتـو او پښتنـو د سـاکيوالي ليـد تـوګه را منځتـه کـړه او تـر مړينـې يـې دری کالـه لـه مخـه د افغانسـتان د وروسـتي سـفر او بيـا د پښتونړيـوال سـيمينار پـه تـرڅ کـې دغـه وروسـتی پرېکـړه ډاګيـزه کـړه. کـه يې څه هـم د خپـل نومـاند شـاګرد پروفيسـر مکـنزي لـه خـوا د آريـاني ژبـو پـه جوړ کـړي جـدول کـې پښتـو تـه د اوسـتا او سـاکي تـر منـځ دريـځ پـه نـښه شـوی و، خـو فرانسـي شـارل کيفـر، انـګرېز مکسـنزي او ماتـه يې وويـل: "تاسـې کـولای شـئ، بـې لـه کومـې خرخشـې پښتـو تـر سـاکې لانـدې پـه نـښه کـړئ!" هغـه وو چـې مـا د درو واړو پـه سـپارښت پـه نومـوړي جـدول کـې د ليکـې پـر ځای ټکـي کـېښوول. (اړونـد جـدول دې وکتـل شـي).

۴-۱۵-۶: پـه هـره تـوګه د نـورو آريـاني ټبرونـو غونـدې د پښتنـو ژبتوکميز يـا پـه جـوت ډول، ژبتبرېـز يووالـی او سـموالی (مطـابقت) نـور لـه شـك اړنـګه وتلـی، پښتـو د پښتنـو آره ژبـه ده او پښتانـه لـه همدغـې پښتـو سره يـو ځای "سـکه" آريـاني زبـات شـوي او پـه دې لـړ کـې يـې دوه سـتر واکمـن ټبرونـه (ابدالـي او غلجـي) آر او رښتينـي پښتانـه دي. دلتـه بـه بيځايـه نـه وي. د راعـي بـرلاس اړونـدې ببولالـې تـه بـير تـه را سـتانه شـو، پوهـاند دوکتـور حبيـب الله تـږی (پښتانـه ۸۱-۸۴ مـخ) د پښتنـو غلجيـو او تورکـو خلجيـو د اټکلـي (فرضـي) اړيکـي پـه اړه خپلـې خـبرې د محمـد بـن نجيـب بېکـران لـه ۶۰۵ هـ ليکنـې "جـهان نـامي" څخـه راپيلـوي چـې ښايـې لومـړی ځل يـې دغـه اټکـل را منځتـه کـړی وي او د

تاریخ فرشته او نورو اثارو سرچینه گرځېدلې وي. هلته ویل شوي دي:

"د تورکانو یو قوم د خلج له شاوخوا نه زابلستان ته ورواوښته او په یوه بیدیا کې چې د غزني خواته پرته ده، مېشته شو. وروسته یې د هوا د ګرمۍ له لامله څېره بدله او توربخنه او ژبه یې بله شوه"

پوهاند تړي یې د ردغبرګون په دې منطقي استدلال کوي:

"څرنګه چې د خلجیانو د مهاجرت او د زابلستان په ځایي اوسېدونکو کې د هغو د منحلېدو یادونه په جهان نامه کې شوې ده او څرنګه چې جهاننامه په (۶۰۵ هجري) کې لیکل شوې ده، نو د خلجیانو د مهاجرت او په زابلستان کې د هغو د منحلېدو پېښه طبعاً له ۶۰۵ هجري نه پخوا شوې ده. د جهان نامې له متن نه دا هم په صراحت ښکاري چې ددغو مهاجرو څېره او ژبه د جهان نامې د لیکلو له وخت نه پخوا بدله او توربخونه شوې او ژبه یې هم له دې نه وړاندې بله شوې ده. که څوك د جهان نامې خبره مني، هغه به ضرور دا هم مني چې ترك خلجیان د شپږمې هجري پېړۍ له اواخرونه ډېر پخوا زابلستان ته ور لېږدېدلي دي. ځکه په هغې زمانې کې د خلجیانو په شان د یوه غښتلي قوم دومره بدلېدل او د زابلستان په یوه ځایي قوم کې یې بېخي منحلېدل باید د کلونو او لسیزونه، بلکه د پېړیو کار وي او په دې حساب سړی په پوره اطمېنان ویلای شي چې ترك خلجیان به لږ تر لږه په دویمه یا درېمه هجري پېړۍ کې زابلستان ته لېږدېدلي او بیا د هغې سیمې په ځایي خلکو کې منحل شوي وي.

کوم څېړونکي او مولفین چې وایي ترکي خلجیان د زابلستان په ځایي خلکو کې منحل شوي او په نهایت کې پر پښتنو غلځیانو بدل شوې دي، هغوی په حقیقت کې دا خبره تصدیقوي چې لږ تر لږه د دویمې او درېمې هجري پېړۍ په حدودو کې د زابلستان ځایي اوسېدونکي پښتانه وو، ځکه چې جهاننامه وایي چې ترکو خلجیانو

خپله ژبه بایلوده او د زابلستان د ځایي اوسېدونکو ژبه یې زده کړې وه. که د غلځیانو ژبه تر اوسه پښتو وي او غلځیان او خلجیان سره یو شي وي. نو د خلجیانو د مهاجرت په وخت کې به د زابلستان د ځایي او سېدونکو ژبه هرومرو پښتو وه...)

نو چې دغه داوه (دعوه) د داسې عام منطق له مخې د منلو وړ نه بریښي، د علمي منطق له مخې خو په هېڅ ډول کوم بنسټ درلودای نه شي.

نننی توکمپوهنه او وګړپوهنه (اتنالوجي او انتراپالوجي) دا وایي چې ښایي د یوې وګړ ډلي ژبه د بلې ډلې له ژبې سره تر یو لړ آړونو (شرطونو) لکه سیاسي - فرهنګي فشار لاندې په یوه پېړۍ کې بدله شي او فرهنګي بدلون یې یوه څه اوږد پړاو ووهي، مګر تش د رنګ و پوست، وېښتو او ورته ځانګړتیاوو بدلون یې تر یوې زرۍ کم وخت نه نیسي.څه به ورسي یومخیز او بنسټیز فزیکي اوړون،لکه د هډوکو، کوپړۍ او نورو هغه ته. د ساري په توګه د شمالي افریقا عربو د یو زرو څو سووکلو په اوږدو کې د پوست له تور وزموالي او د وېښتو له ګوړګوړ یوالي (مجعدوالي) پرته د توري لویې وچې (توري قارې) نورې انتراپالوجیکي ځانګړتیاوې را خپلې کړې نه دي. یهود څه له پاسه دوې زرۍ پخوا له یورشلمه شړوني شوي او په کابو څلورو لویو وچو کې خپاره شوی وو، خو بشپړ ډېري یې له افریقایي هغو پرته، تر اوسه خپلې اتنیکي ځانګړتیاوې لکه جګې پزې، تور ویښته او تورې سترګي خوندي ساتلي دي.

همدارنګه هندي آریاییان د دردیانو په ګډون چې له آریاناوېجې یې له لېږد څخه درې نیم زره کاله تېرېږي، بیا هم له ځایي دراویدیانو څخه کوږ توپیرېږي. بنګړیوال یا جټان هم همداسې دي واخله. که له دا راز ګردو علمي "اتنو ګرافیکو او اتنو لېنګوېستیکو) استدلالونو څخه هم تېر شو او د پوهاند تړی په څېر بیا هم له عام منطقي استدلاله کار واخلو او د غلجي - خلجي د

یووالـي لـه پلویـانو څخـه دا سـاده پوښتـه وکـړو چـې پـه ناشـوني اټکـل (فرض محال) خلجیـانو د نامـه لـه یـوه نـا څیـز فونېتیکـي بدلـون پرتـه د څېرې، وېښتـو، ژبـې دودونـو جـالونو، فولکلـور، کولتـور او نـورې نـښې نښانـې د را لېږدېدنـې پـه هماغو ړومبیـو کـې لـه لاسـه ورکـړي او لـه اړونـدو پښتنـو سـره همرنـګ (assimilate) شـوي وي، پخپلـه دا را زبـاتوي چـې هغـه پښتنـو پـرې هرومـرو څومـره یـیز او څرنګیـر (کمـي و کیفي) بـر لاسـی درلـود او دا زبـات مـودې منطقـي پـایلې تـه رسـوي چـې هغـه کوشنی توکي ډله پـه لویـه پښتنـی ډلـه کـې لکـه ټوك پـه ټول (جزء پـه کـل) کـې اسـیمیلیټ شـوې او د پښتنـو لـه پنځګونـو څانـګو یـې (غلجـی) دا جـوړه کـړې ده، نـو څنـګه بیـا دغـه ډېره کـې پښتانـه یومخـیز تورکتـو مـې شـوي او د انحلالـګر (assimilator) اکـثریت پـه تـوګه یـې هسـې تـش پـه یـوه نـوم را خپلونـه adaptation ټول اتنیکـي وکـر (هویت) لـه لاسـه ورکـړی دی؟

دا هماغـه افسـانه را پـر زړه کـوي چـې وایـي یـو سـاده سـړی چـېرې پریانـه (سـفر) تللـی و او لـه دې اندېښنـې یـې چـې پـه نـابلده ځای کـې تـرې لـه شـپې تېرولـو سـره خپـل ځان ورك نـه شـي، یـو د ګلـو هـار یـې پـه غـاړه کـې اچولـی و، همدا چـې پـه خـوب کـې ورتـه د یـوه بـل مسـاپر پـام شـوې و، نـو پـه ټوکـو یـې تـرې هغـه هـار لـه غـاړې را کښلـی و او پـه خپلـه غـاړه کـې یـې اچولـی و، سـهار چـې سـاده سـړي ولیـدل، هـار د بـل سـړي پـه غـاړه کـې دی، نـو پـه خنـدا خنـدا یـې تـرې وپوښتـل: " یـه وروره زه پوهېږم چـې تـه زه شـوم، نـو اوس را تـه دا وایـه چـې زه څه شـوم؟

پـه رښتیـا سـره چـې د پښتنـو تـورك بلـل، هغـه هـم د خلجـي او غلجي د نومونـو پـه اټکلـي او تصـادفي ورتوالـې، همداسـې ورتـه خنـدا وړ افسـانه نـه ده؟

۴-۱۵-۷: د راغـي بـر لاس دویمـه ملنـډه (مضحکـه) تـر لومـړۍ هغـې هـم زیاتـه د هېښتیـااو خنـدا وړ ده چـې یـوازې پـه یـوه پښتنـي تبـر (ابدالـي) پـورې تړلـې نـه پـاتېږي، بلکـې نـژدې د نیمـو آریانیـانو

(ساکانو) شتوالی هم تر پوښتنې لاندې راوړي. دی ابدال له یپتالو (یفتالو) سره په دې اړوند وي چې هغه خو "سپین هونان" بلل شوي او هونان هماغه تورکي "خانان" دي او بیا ساکان د هغو (یپتلانو) او ور سره ورسره "کوشانیانو" د پلرونو په توګه هم تورکتومي دي!.

که تاکلې وي چې هسې تش د یو لړ پخوانیو او څه نا څه اوسنیو تاریخوالو او توکمپوهانو (اتنولوجیستانو) د ناپوهنیزو روایتو او ناسمې نومونې یا نومونو په پلمه د افغانستان د پرېز (اکثریتي) ساکي ټبرونه (پښتانه، پامیریان، یپتلیان، کوشانیان...) تورکتو کمې وګڼل شي، دا هم کېدون او شونتیا پیدا کولای شي چې نور ټول آریانیان (پارسیان یا هخامنشیان، پارتیان، اوستایان او مادیان) او ان واړه هندي آر یاییان له ټول تاریخي ټبر مهال سره په همدغو نژدې داوه ګیرو (تورك- مغولو او بیا تورکو) پورې ونښلول شي، ځکه له لس - دولسو پېړیو را هیسې د التاي له غرونو (مغولستان) یا په راوروسته نومونو چینې تورکستان، افغاني تورکستان او (پخوانۍ) روسي تورکستانه نیولې د ایران د شمال لویدیځ تر وروستنۍ پیڅکې پورې ټول تورك (مغولي) ټبرونه په تاریخي آریاناوېجه کې را ننوتي او له آریانیانو سره یې ډېر نژدې او اوږد تاریخي- جغرافیایي او سیاسي- فرهنګي ګاونډیتوب درلودی دی او تر دیارلسمې پېړۍ وروسته یې هند ته هم سر رسېدلی دی.

او دا هم هېښنده (اریانوونکې) نه ده چې د ټولو هندو اروپاییانو لومړني ګڼ شپېږ زر کلن تاریخي لاسوندونه هم په اوسنۍ تورکیه کې را برسېره شوي او په اړوندو موزیمو کې یې را خوندي شوي دي او دا ځکه چې دغه ځمکه یې د هندو اروپایي ژبتوکمیزې کورنۍ له رښتینو آریاني ټبرونو، په تېره له کوردي نیکونو "مادیانو" بلوسلې ده. (زیار: د هندو اروپایي ژبو لرغونې تاریخ).

۴-۱۵-۸: په دا دومره پېړیو کې بیا هم، نه تورکانو آریانیان په بنستیزه توګه تورکان کړي او نه افغانانو او ایرانیانو تورکان آریانیان کړي دي او



ACKU

هماغسې چې تورکيې د ستر مادي تېر پاتې شونې کوردان را خپل نه کړای شول، دغسې ايران هم تورکان، آذريان، تورکمنان، افشاران... ايرانيان نه شو کړای. البته له ټولو ځبېښاکګرانه او همرنګونې (assimilation) سياست سره دواړو هېوادو همدومره وکړای شول چې څه ناڅه پرې خپله خپله ژبه او فرهنګ په زور تپي، مګر ځېرې يې هماغسې پر خپل اکرپاتې دي. په هره توګه، لکه څنګه چې د کتاب په سر کې پرې هر اړخيزه رڼا اچول شوې، دغه ټولې يادې شوې اوسنۍ تورك – مغولي سيمې په ټول څه نا څه زر کلن تاريخ کې په بشپړ ډېري (اکثريت) سره د ساکانو تر واکمنۍ لاندې وې او دا چې ولې يې دغو التاييانو ته پرېښووی، پخپله د همدوی (ساکو) روښان او ځلان تاريخ يې ښه ترا څرګندويي کوي او هغه دا چې د لومړنی خپلواك افغان دولت د بنسټوالو په توګه يې رومبی باختر او سيستان (ساکستان) ته مخه کړه او بيا ورته سمسور او ښېراز هندوستان تر شمال ختيځ او شمال يا په بله وينا منځنۍ آسيا غوره ښکاره شو، نه دا چې په ماتې د پخوانيو سيمو پرېښوولو ته اړ ايستل شوي وو. که څه هم آسيتيان، يغنوبيان او پاميريان يې د پاتې شونو په توګه تر اوسه په هغو شمالي سيمو کې استازي کوي. د ساکي ژبې توني روستاړي په تاشکند، سمرکند، يار کند... کې يې يو بل باوري لاسوند بلل کېږي. (۴-۵)

کوم تورك مغولي يا يوچي خانخاني واکمنۍ چې ان د چنګيز له تاړاکونو له مخه او تر ساکانو را وروسته په پخوانيو تورکستانو کې منځته راغلې وې د تېرو پېړيو اروپايي تاريخوالو ته، هغه هم د چيني تاريخوالو په ناسمونومونو (ترمونو) دومره په زړه پورې برېښېدلې چې نړه يفتليان او کوشانيان هم ورته هماغه يوچي هونان (خانان) ايسېدلي او ان چې مجاريان يې هم هونان بللي او هنګري (Hungary) نوم يې پر هېواد ورتپلی دي. هغوی پخپله ځان ته مجار (Magyars)، خپل هېواد ته مجارستان (Magyaroszag) او خپلې ژبې ته مجاري (Magyar)، وايي. هنګري، هنګريان او داسې نور نومونه پرې ډېر بد لګي او وايي: "موږ د اورال له آسيايي ډډې

څخه څه له پاسه یوه زري پخوا اوسني ټاټوبي ته راغلی یو او له هونانو. یا په بله وینا تورکانو یا مغولانو سره هیڅ راز اړیکې نه لرو، توکم مو مجار، ژبه مو مجاري او هېواد مو مجارستان دی..." (له ځانګړو یا د ښتو څخه چې پر ۱۹۸۰ کال د مجارستان په یوه میاشتنی کتنه کې مې له مېلمه پالې ختیځپوهې "مګداکتونا" څخه اخیستي وو). د نړی د ژبو په لښتیلیک (جدول) کې مجاري ژبه له فېنلنډی او نورو سره فینو اوګریک (Finno-ugric ) ژبنی ډله جوړوي او له دې سره یې ویونکي هم په همدې نامه یادېږي. نورې خویندې یې د شمال لویدیزې سایبریا اوستیك (Ostyak) او اوګول Vogul ژبې دي، البته دا ژبنی ډله په اورال التاییك (Ural-Altaic) ګروپ کې له تورك - مغولي هغې سره تش په اټکلي توګه اړوندي درلوداى شي. (.The Collins Eng. Dict) زړه بلغاري چې پر خپل وار له هماغې اورال سیمې څه نا څه دوه زری له مخه د مجاری غونډې د التایي ژبو یو لړ ویبونه له ځان سره وړي، لکه څنګه چې راعی بر لاس یې هم د منګس دا خځ له مخې یادونه کوي. مګر هغو پورویبونو ددغو دواړو ژبو آرې ته کوم بدلون نه دی ورکړی، په پارسی کې د تورکي پورویبونو کچه څو ټوکیز چا پېر سیند (جامع قاموس) ته رسېدلې او په همدې کچه او لازیات پکې عربي هغه هم را ننوتي دي، خو بیا هم له ټول ګډ والي سره سره پارسي یوه آریاني ژبه پاتې شوې او په دې وروستی پېړی نیمه کې یې د زړې ویېپانګې (ارکاییرمونو) او نویورغاونو (نیولوجیزمونو) له را دودولو سره خپل تاریخي، فرهنګي ځواك او وړتیا نور هم زبات کړي دي.

پښتو هم د یوې ژوندی آریاني او بیا ساکي ژبې په توګه په یو څه کمه کچه د پېړیو په پوړیو کې یو لړ تورك - مغولي ویبونه داسې را خپل کړي چې د پارسي، هندي، عربي او ان اروپایي هغو غونډې یې کورټ د خپل غرېز او مانیز جوړښت او بیا فرهنك، رغنده ټوك

ګرځولــي دي : لکــه: ولــس، جــرګه، يرغــل، يرغمــل، بېلــګه، بولــګه، بونــګه، برمتــه، خــان، قاجــاق، ګمــرك، تــارتوك، غالــۍ، ســوغات، کارغــه، تــوغ، بــيرغ، کــورت، انــځر، پلــو، منتــو، آش، چــګت، (پندانــه)، کپــه، چپــن، چېلکــه، چــول، مــهره، کنجوغــه، يرعــه، کاشــوغ، غــاب، بشــقاب، غورمــه، غــوچ، کــول، کــره کــول، کاروانــه، چنغالــه، تلتــك، توشــك.... دغــه پــورو ييونــه يــا اداپتېزمونــه پــه هــره تــوګه د هنــدي، پارســي او عربــي هغــو پــه پرتلــه ډېر نــاڅيز دي. د ا هــم پــوره څرګنده ده چې پــه دولســمه زيــږدي پــېړۍ کــې لــه مغولــي تــاړاکونو را وروســته ځينــې وړې وړې تــورك - مغولــي ډلــې د پښتنــو پــه منــځ کــې ورننوتــې او دودونــو لــه لارې ورســره تــر ډېر ځايــه همرنــګې شــوې دي، خــو دا پــه دې مانــا نــه چــې ګرد ســره يکــې ويلــې شــوي او نــور يــې ســره بېلتــون نــه شــي کــېداى، لکــه واخلــې د د دروګونــو ختــيزو ولايتونــو پــه مرکزونــو کــې چغتــايي پــاتې شــوني، يــا د غزنــي د اندړو پــه منــځ کــې تورکمــن آري جلاليــان چــې څو پــېړۍ پخــوا هغلتــه مېشــته شــوي او تــر اوســه يــې اولاد د خپــل ټبــر يــا بــل پښتنــي ټبــر پــه تــوګه نــه پــېژنــي او ښايــي، تــر څو پــه ټولــيز ډول پښتنــي ټبرنــي نظــام رنــګ شــوى نــه وي، پــېژندنښې يــې تتېدونکې نــه دي، او کــه دغــه ټبــر واکــي، پانګوالــۍ تــه ورســېده، بيــا بــه نــو لــه اتنوګرافيــك کــچ ومــېچــه پرتــه نــور پــه آســانه د پــېژندلو وړ نــه وي.

**۴-۱۵-۹**: لکــه لــه مخــه چــې ورتــه نغوتــه وشــوه، "پښتونولــي" چــې ختيــځپوهــانو د پښتنــي ټبرنــي او ټولنــيز جــوړښت او وکــر (هويــت) ښکارندويــه ګڼلــې، يــو داســې نــاتېرېدونکی پــولادي ديــوال دی چــې هيڅ ناپښتانــه توکم ټبر تــرې تــېرېداى نــه شــي. (شــارل کيفــر، پښتانــه او پښتو نولي يې، آر المــاني متــن او پــر ۱۹۷۴ کــال پــه عرفــان مجلــه کــې پښتو ژباړه يې لــه مــا ســره خونــدي دي).

پــر دې ســر بــېره ټول پښتانــه خپــل ټبرنــي روايتونــه او ان پــښت لړونــه (شجرې) لــه يــاده نــه باسي او پــښت پــر پــښت يــې يــو بــل تــه لــېږدوي چــې

په دې وروستيو پېړيو دوو کې د ختيځپوهانو او پښتنو ليکوالو له خوا يې څه نا څه ليکلې بڼه هم موندلې ده. که څه هم دغه پښت لړونه يا شجرې له يو لړ ضد نقيضو افسانو او ګروهيزو روايتونو سره اخښلي را اخښلي شوې دي، خو په ټوليز او بنسټيز ډول د پښتنو د ځانپېژندنې ښکارندويي کوي او د ساينس فېکشن له مخې ډېر څه د توکمپوهانو او تاريخپوهانو په واك کې ورکولای شي، لکه واخلې د قيس عبد الرشيد يا ضحاك او سهاك په اړه کړنې انګېرنې چې د پښتنو او پښتو له ساکيوالي سره اړوندې پيدا کوي. دلته په دغه اړه له نورو زياتو څرګندونو په دې تېرېږو چې په همدې ځپر کې کې وړاندې شوې دي. د شلمې زېږدي پېړۍ په سر کې له تورفان سيمې څخه لاسته راغلي ساکي ليکنې ددې خبرې يو بل انکار نه منونکی زبات دی چې ختن (سينکيانګ) تر ټولو زيات د ساکانو د واکمنۍ يوه غوره سيمه وه او په دې توګه لکه د ګاونډ کاشغر او کاشمير غونډې (سينکيانګ) له ساکي نامه سره اتمولوجيك تړاو درلودای شي؛ نو دا هم څه هيښنده نه وه چې نوماند نا رويږي اريا نپوهاند ستنکنو (د مورګن ستيرنې استاد او خسر) اړوند ساکي متونه "ختن ساکي" ژبه نومولې ده.

(Sten Konow, Khotansakisch, verl. O.Harrassowitz, Leipzig 1941)

۴-۱۵-۱۰: د "سکه" ويی د "اعياني" په مانا، تر بلې هرې افغاني ژبې په پښتو کې ډېر کارول کېږي او دا د همدې خبرې يو بل لاسوند دی چې پښتانه له ساکانو سره نه شلېدونکې اړوندې لري. روسي پښتو پوهاند نيکولای دووريانکوف د همدغه ستاينوم په اړه ليکي (۴-۱۲-۲):

"په پښتو پوهنه کې څو ځلی ښوول شوې ده چې پښتو له سکيفو – ساك ګړ دود سره نږدې ده. يوازې په پښتو کې د "سکه" ويي را خوندي شوی دی چې "خپل" مانا لري. د سکه ويي ستاينومونه، لکه سکه ورور يا سکنی ورور "مورنی- پلرنی ورور" اوس هم شته دي.

دا هـم پـوره څرګنـده ده، د سـینکیانګ (Xinjiang, Sinkiang) په تېره د کاشغر او ختن په ژبتوکمیز تړښت کې لـه ساکي پـاتې شـونو سـره تورکـي تېرونـه (اویغـور، قرغـز، قـزاق) وروسـته ورو ورو ګډ شـوي او زيـات کـېدون لـري، د څوارلسـمې او پنځلسـمې زېږدي پـېړۍ تر منځ دغـی سیمې تـه لـه اسـلام راتـګ سـره لـه منځنـی آسـیا څخـه ور لېږدېدلـي وي. "کاشـغر" پـه څرګنـد ډول د "کسـې غـر" د انـډول پـه تـوګه دا را ښيـي چې هـرو مـرو يکـې د پښتنـو پـاتې شوني اوسـېدلي دي. پـه نـږدې ګاونـډ ګېلـګېت (پاکسـتان) او کشـمیر کـې هـم همداسـې در واخله. واخی ژبې خو پر چیني تورکسـتان سر بېره یـوازې پـه ګېلـګېت کې تر یو نیم لکو پوري اوسي. یـو ګڼ شمېر پښتانـه ي پـه کاشغر کـې نـن سـبا اوسـېږي، ښایـي د را وروسـته لېږدنـو پایلـه اوسـي (د اسـتاد پروېش شاهین لـه ځانګړو لیدنـو کتنو څخـه)

۴-۱۵-۱۱: همـدا ژبتوکمـیز (اتنولینګویسـتیك) واقعیـت دی چـې ختـن یا خوتـن د هغـې تولـې سیمې د یـوه ګډ نامـه پـه تـوګه د ګاونـډ یـو هېوادونـو پـه شـعرو فولکلـور، پـه تـېره پارسـي او پښتـو کـې، څه د ښکلیـو او څه د مشـکو او کبلیـو لـه پلـوه ژورې ریـښي لرلـې دي. کـه نـه دا ناشـونې وه چـې د بدرنـګو چـوخ سـترګو، ډډسـتر غلیـو، پلـن پـزو او درې ګوتیـز "رفیـده" مخیـو او یغـورو، قرغـزو، قزاقـو یـا وزبیکـو یـا نـورو تورك مغولـي ډلـو ټپلـو او یـا چینایـانو لـه پلـوه دغـه افسـانه یـي او شـاعرانه نـوم وګټي، کـه سمرقند و بخـارا چـې د سـاکي پـاتی شـونو تـر څنـګه تـر اوسـه د آریـاني توکمـو پارسـي ژبیـو ښارونـه دی، شـیرازي حـافظ لـه هندویـی خالـه ځار کـړي، دغسـې هغـه پخوانـی ختـن بیـا جـامي د خپـل د اسـتاني اتـل د ښایسـت - وږیخانـدی (خوشـه چیـن) کـړی دی:

اګر فغفـور و ګرخاقـان چیـن اسـت بـه ګرد خرمـن او خوشـه چیـن
است

دلته آرياني توكمي شاعر په لوى لاس، ان له حافظه هم په خورا سخاوتمندانه ډول خپل كوشاني شاهان چينيان كړي او ور سره تړلي ټول تاريخي وياړونه يې پرې ښندلي دي. همدارنګه تورك (د سپاهي، جنګ و ظلم تر څنګه) د ښكلا سېمبولول هم ډېر كېدون لري، د ورته تاريخي تېروتنو، يا د چا خبره "غلط مشهور" زېږنده اوسي - هر ګوره لويديز يا عثماني توركان، په تېره بيا د اروپايي برخې (استانبول) هغه ښايي د كوم چاپيريالي سمون او اتنيكي ګډون پايله اوسي، لكه څنګه چې برتانيكا انسايكلوپيديا (۵۷ مخ) يې مديټراني - مغولي ګډوله بولي او د څه نا څه د يوې يا نيمې زريزې زېږنده. په دغه مهالې كې يې له ځمكو سره نور ډېرو وګړني لړه كي په تېره لويديز آريانيان هم را خپل كړي او آري پاتې شوني "كورد" يې خو لاژوندي بيلګه ده. په ټوليز ډول د دروګونو توركستانونو په ګډون آرياني اوبجې (قلمرو) ته د تورك - مغولو رالېږدېدنه له دويمې زريزې سره را پيلېږي.

۴-۱۵-۱۲: د نوم او نومولي سمون په ځانګړي ډول هله له خرخشې سره زيات مخامخېداى شي چې اړوند نوم پخپله د نومولي له خوا، نه، بلكې د پرديو له خوا پرې ايښوول شوى وي، لكه يونانيانو نايونانيانو ته "بربروس "بلبلان" ويل او يا عربو نا عربو ته عجم. روسان المانيانو ته هم د عجم همانيز نوم "نيميسكي" كاروي. ان ډېر پښتانه هغه نومونه چې د نورو له خوا پرې ايښوول شوي، نه پېژني، لكه افغان، روهي، پټهان، ، سليماني... روسان " چين" ته "كتاى" وايي چې له ختا او ختن سره همريښه برېښي، لكه: پښتني جونه يې وليدې په سترګو - څوك چې سترګې د "ختا" ستايي خطا دي (خوشال)

او چينيان افغانستان "دايشي" بولي. په همدې لړ كې د كوشانيانو "يوچي" بلل او يفتليان "سپين هونان" نومول هم له چيني

سرچینو څخه آره اخلي، لکه د همفریز (۷۵ مخ) په دې څرګندونه کې:

په ساکانو پسې کوشانیان چې په چیني پېښلیکونو (وقایع نګاریو) کې یو چي بلل شوي، د ګوبي د دښتو له بریدونو څخه راغلل، د پارتیانو تر را پرځونې وروسته یې زیاتره سیمه (باختر) لاندې کړ او د سترې امپراتورۍ بنسټ یې کېښووه".

لکه څنګه چې د دکتور معین د فرهنګ له مخې هم څرګندېږي، هونان او یوچیان سره د راعي د وینا پر خلاف یو نه دي. هلته داسې یادونه کېږي: "ساکانو نور د پارتیانو له سوبې او مرګ و ژوبلې او چورچپاول لاس واخیست او خپل ټاټوبي ته را ستانه شول. د وروستي پارتي شاه په زمانه کې هونانو پر یوچیانو فشار راوړ." بیا زیاتوي:

"ساکانو له یوچیانو سره په ګډه پر پارت او باختر فشار راوست". دلته په څرګنده له یوچیانو څخه موخه کوشانیان دي چې له نورو ساکي ټبرونو سره یې ملګرتیا کړې وه.

راعي د همدغو ناسمو نوم اېښوونو په ګټه اخېستنه زموږ د هېواد درې ګوني تاریخي پېرونه (آریانا، خراسان او افغانستان) له تولو سیاسي – فرهنګي ویاړونو سره یو مخیز بلوسي او په خپل تورکي توکم پورې یې تړي. بې له دې چې سوچ وکړي، دغه اړوند تورکي توکم یا توکمونو له هماغو لومړیو راهیسې له دا دومره اتنیکي پیاوړتیا سره سره څنګه خپله ژبه یا ژبې له لاسه ورکړې او په درو واړو تاریخي پېرونو (مرحلو) کې یې آریایي ساکي، باختري (یفتل، کوشاني) او پښتو را خپلولو ته اړوتي دي؟ هماغسې چې د غلجیو او خلجیو په برخه کې وویل شول، که دا تورکان وو، نو اړوندې ژبې یې له چا واخیستې؟ پر سنایز کېدنه یې خو د دریم پېر په شپږمه (دیارلسمه زېږدي) پېړۍ کې د چنګیز او ګوډ تیمور را وروسته پیلېږي. که څه هم د هرات تر تیموریانو پورې یې د پارسۍ

تـر څنـګه خپلـه توركـي هـم تـر پايـه سـاتلې وه چـې د عليشـيرنوايي تورکـي شـاعري يـې يـو جـوت لاسـوند بلـل کېږي. پـه ورتـه توركـي ژبـه "چغتـايي" د بـابر "تـزك" هـم همداسـې در واخلـه.

تـر ټولـو وروسـته کـه بيـا هـم "راعـی بـرلاس" او نـور همـاندي يـې پـر خپلـو بـې سـرو بولـو او نـاپوهنـيزو تعصبګرانـه داوو دنګلـو ټينـګار کـوي، د "قـالواسلاما" لـه جـاج سـره سـم نـوره چپـه خولـه غـوره کـوم او د سـتر پارسـي سـتايوال شـاعر "انـوری" پـر وينـا بـس راوړم چـې ويلـي يـې وو: "د شـعر غـلا مـې لېدلـې وه، خـو د شـاعر غـلا نـه" او زه پـرې دا زيـاتوم چـې د نـوم غلامـې ليدلـې وه، خـو د نومولـي نـه، هغـه هـم د يـوه ستر آرياني ساکي او بيا پښتني ولس غلاکول! او بيا يې د کاظم خان شيدا دا څلوريزه په سترګو کې ورننه باسم:

ژر بـه رسـوا شـې د مضمـون دزده ‌ ‌ ‌ ‌ جامــه غمــازه، د جامــه دزده
کلــه پــټېږي لــه مبصــره ‌ ‌ ‌ ‌ متـاع پـه بلخ کې چـې د کندز ده

(ديوان / ۸۴۴)

يـادښت: د پروفيسـر ډاکـتر راعـی بـرلاس پـه غـبرګون کـې دغـه پاسنی ليکنـه ځای ځای لنـډه او کـره کـړ شـوه. پـوره آره يـې بـڼه يـې تـر "نـګرش ګذرايـي اتنـو لنـګو يسـتيك بـر مضحکـه ارتبـاط خلجـی هـای تـرك بـا غلجـی هـای پشـتون، همچنـان ارايـه ابدالـی هـا و يفتلـی هـا بـه مثابـه هونـهای سـپيد (!)" سـر ليـك لانـدې د شمشـاد د شـپږ مياشـتنۍ د ۱۳۷۷ کـال پـه ۱-۲ ګڼه کـې خپـره شـوې ده.

د ډېرې خواشـينۍ خبـره داده چـې دغـه "پـان توركيسـت" پـر پورتنـي انكـار نـه منونكـي علمـی غـبرګون بيـا هـم ځان نـاګاره كـړی او دا ځل د همـاغ غلجـی /خلجـی او ابـدال /يپتـال تـر الـواك لانـدې يـې دا ځل غوريـان، لوديـان او سـوريان لـه يـوې مخـې "پښتـو ژبـې تـورك" بللـي دي چـې ددې وروسـته ليكنـې پـه تـرڅ كـې يـې يـو بـل غـابښ مـاتوونكی غـبرګون وړانـدې كـېږي.

## ۴-۱٦: د هزاره وو دتورکیوالي تېزس
## او د پښتنو د تورکیوالي بې سروبوله هڅه

۴-۱۶-۱: تورك او مغول له آره د نړۍ په درېګونې نژادي وېش کې تر سپين (caucasoid) او تور (Negroid) تر څنګه د زېړ (Mongoloid) توکم التايي Altaic يا تورك/مغولي (-Turko Mongolian) څانګه جوړوي. دغو دواړو همتوکمو وګړ ډلو سره د پېړيو په پوړيواو بېلا بېلو ژوند چاپېريالو کې څانته څانته خپل پر مختيا يې پراوونه تر شاپرې ايښي اونه يوازې په ژوند ژواك او ژبو، بلکې په پېژني (فيزيکي) رغښت کې يې هم پوره توپيرونه منځته راغلي دي (کولېز دېکشنري). بل خواترکومه چې څرګنده ده، تورکان هم له تاريخي او هم له ځومره ييز (demographic) پلوه تر مغولو مخکې دي. مغول متې ددپارلسمې زېږدي پېړۍ په درشل کې د چنګېز له تاړاکونو سره له خپل التايي، يا په بله وينا ګو بې دښتې څخه بهرنۍ نړۍ ته راوتلي، حال دا چې تورکان پېړۍ پېړۍ له مخه راخپاره شوي او په دغه مهالپېر(زماني دور) کې يې بياوختنه منځنۍ اسيا، د افغانستان او پارس د شمالي سيمو په ګډون د کوکاس (ققفاز) سويلي برخې تر تورسمندرګي، کاسپين او مديترانې پورې له آرياني ټېرونو څخه لاندې کړي وې او نور هم لاد پرمختګ په تکل کې وو. مغولو تر هر څه له مخه د همدغو تورکي ترږورانو د سوبو بهير (دفتوحاتو مسير) پرمخه واخېست او بيا يې وروسته د هند و چين او اروپا خوا ته مخه شوه.

چنګېزاو هلاکو په خپل بهسياري وحشت او بربريت خپل تېر دومره اوځار او نومورکړ چې تورکان يې له ټولو سوبواو بريو سره تر خپل سيوري لاندې راوستل. په دغه لړکې چنګيزهم په لوی لاس ډېر

توركي ټبرونه له ځان سره ملګري کړي وو او په دې توګه يې چې کومه مغولي ټولنه رامنځته کړې وه، له آره د توركو - مغولو يوه ګډوله وه، نوله همدې لامله راوروسته تر دغه منځ بېلتيايي نښې نښانې هم ورو ورو له نومېرنې (تشخيص) ووتې. ډېرې تورکي آرې ډلې ټپلې په مغولي خم کې داسې رنګ رنګ شوې چې نه يوازې نورو، بلکې پخپله هغوی هم خپله ځانونه په مغولو کې وشمېرل (غبار ۱۲۹مخ)

همدغه اخښلنې راخښلنې ددې لامل شوې چې تاريخپوهان او ان وګړپوهان (انتراپالوجېستان) چې د وګړوله طبيعي تاريخ سره کار لري او دهغو د توپيرنې او نومېرنې (تفكيك او تشخيص) لپاره ساتنيفيك آرونه او فارمولونه پرکار اچوي، تر دغه مينځ ګډونونه او التباسونه ورلندې کړي او په دې لړکې يې زياتره تورکي ټبرونه هم په مغولو کې شمېرلي او ډلبندي کړي دي، نو دا کومه هېښنده خبره نه ده چې د اوزبکستان نوی رامنځته شوي دولت د خپلو تورکي آرو امپراتورانو د راخپلولو سپيناوي ته متې رانغښتي او هغه يې د خپلو ټوليزورسنيو (mass media) سکالو ګرځولې ده. همدارنګه د افغاني هزاره وو د مغولوالي او تورکيوالي شخړه هم درواخله چې د کورنيو او بهرنيو (ختيځپوهانو) بشپړ ډېری يې پر لومړي، ارونديز ټينګار کوي او د چنګېز د يوه لښکر غونډپاټې شوني، هغه هم بيا يو مخيز سوچه مغول ګڼي. حال دا چې په رښتينې توګه داسې نه برېښي او د يوې عادي کتنې (مشاهدې) له مخې په ځرګنده ښکاري چې بايد لږترلږه ورسره نژدې هم آری تورکي ټبرونه هم ملګري وي او لکه څنګه چې له مخه ورته نغوته وشوه، چنګيز په خپل لښکر او دولت کې ډېرې تورکي ډلې ټپلې هم راګډې کړې وې او په دې توګه که هزاره يو زړکسيز (يا ښايي څوززيز) لښکري يوون

(واحد) ومنو هم، دا اړینه نه ده چې هغه دې هرومرو تر چنګیزي چغتايي مغول اوسي!

د لیکونکي د خبرتیا له مخې پوهاند شاه علی اکبر شهرستاني لومړنی افغاني پوهاند دی چې په دغه اړه یې، له مخه دننه په هېوادکې د غرجستان مجلې او دا دی په جلاهېوادۍ کې یې د آریانا د درېیمی ګڼې له لارې نوی تېزس وړاندې کړی او داسې یې ښوولي ده چې هزاره ډلې ټپلې په لومړۍ زېږدي (میلادي) پېړۍ کې له کاسپین سمندرګي څخه له ساکو سره یو ځای خراسان ته را لېږدېدلي او له آره تورکتومي دي!

پوهاند شهرستاني دغه الواك د هوګ ژان دودیانوس د څرګندونې پرېنسټ وړاندې کړی او زیاتوي چې د هزاره وو ژبه که څه هم خراساني دري (پارسي) ده، مګر داړوندو مېشت سیمو یو لړځاینومونه یې خورا لرغوني بللي، بې له دې چې یې آره سرچینه په ګوته کړي. دغه راز یې د خپل دغه تېزس د پخلي لپاره چې هزاره په ختېه تورك دي، د دودیانوس نه، بلکې د جاپاني پروفېسر هیوامورا، امریکايي ختیځپوهاند شورمان او ډاکټر ګوناریارینګ څرګندونې را اخلي، خو په خپله له هزاره مخورو څخه یوازې د ارواښاد فرقه مشر علي دوست پر ګروهه بسنه کوي. نوریې ټولې یادې کړې سرچینې او اخځونه (منابع او ماخذ) د تورکیوالي د تېزس پر خلاف، یا په بله وینا د هزاره وو د مغولوالي د زبات او پخلي لپاره رااخېستي دي. هرګوره په خپلو څوارلس سوو څېړلو ویپونو "قاموس لهجه دری هزاره ګي" کې یې ځینې تورکي هغه په نښه کړي او دې پایلې ته رسېدلی چې په دغه ګردود کې پرمغولي او تورکي ویې پانګې سربېره یو لړ داسې زاړه پارسي ویپونه هم خوندي پاتې دي چې نه یې په اوسنۍ لیکنۍ پارسۍ(!) کې څرك لګي او نه یې په کوم ګردود کې.

زه پخپله د خپلواوړدوډ کرځېړنو (فیلدریسر چونو) او کتابي څېړنو په ترڅ کې دې پایلې ته رسیدلی یم چې افغاني هزاره کېدای شي، لکه څنګه چې پوهاند شهرستاني د دودیانوس په اخځ وایي، تر چنګیز پېړۍ پېړۍ له مخه به لومړی شمال لوېدیز خُراسان ته رالېږدېدلي او بیا له چنګیز سره اوسني ایراني أُستان خراسان او تر پرسنازېشن او جعفري کېدو وروسته هزاره جاتوته رارسېدلي وي او د پېړیو په پوړیو کې یې نه یوازې له خپلو تورکې تربورانو، بلکې له ساکو او پارسیانو سره هم لړوډ پراسېمبلېټ شوي اوسي. څکه په لومړۍ زېږدي پیړۍ کې غرج و غورد ساکه سیمواکو (محلـ واکمنو) او بیایي وروسته د ځایناستو بچیانو (کوشانیانو او یپتلانو) د امپراتوریوله غورو مرکزي ایالتونو څخه ګڼل کېده او ان د کابلشاهانو او غوري سیمواکانو تر وروستیو پاتې شونو پکې د تورکو یا مغولو د مېشتیا څه څرك نه ولګېدلی. (غبار ۶۰-۹۰ مخ).

کوم ځاینومونه چې له بامیانو تر روزګان، غور او هېلمند د راپاتې دي، نه مغولي تورکي او نه پارسي دي، بلکې په ساکې او بیا باختري (یپتل ـ کوشاني) ژبې اړه لري او دغه راز په هزاره ګي پارسۍ کې زاړه خوندي پاتې ویېونه (ارکاییزمونه) هم همداسې دراخله.

دپوهاند شهرستانی دا دلیل بیا سم برېښي چې د پروفیسر هملم د ورمند (حکم) په توپیر هزاره وو خپله ژبه په پنځلسمه پېړۍ کې پر پارسۍ (دري) اړولی نه ده، بلکې هرومرو تردغه مهالېږ یې څو پېړۍ له مخه دغه اوښتایې بهیر (تبدیلی روند) تر شا پریښی دی او د هرات او میمنې هغه کېدای شي، ان تر چنګیز هم وروسته سیده له مغولستان یا هم فراقورمه رالېږدېدلي اوسي.

له بده مرغه ترڅو کلنو ژبنیو څېړنو وروسته چې ما د شوروی پوهاند دېبېتس په ملګرتیا او لاربنوونه د هرات د کندې د مغولو او

بیا د بهسودو او پنجاب هزاره وو کوم اتنوګرافیك کچ ومېچ تر سره کړی و، وارله واره راته تر دا مینځ کوم توپیر نه و جوت شوی او کله چې پر (۱۹۶۶) هغه پروفیسر د افغانستان د ټولو توکمونو او ټبرونو په لړ کې دغه برخه هم خپره کړه او بیا یې انګرېزي ژباړه سم له سموني په نیویارك کې خپره شوه، تر اوسه یې پر لوستو بریالی شوی نه یم؛ خوهغه مهال یې راته همدومره ویلي وو چې په ټولیز ډول د نژدې همتبرو وګړو غوڅ بېلتون دومره اسانه هم نه دی او په دې ډله کې د مغولو او تورکو بېلول سره همدومره ګران دي، لکه د پښتنو او پارسیوانو چې دواړه په یوه آریاني (ایراني) ټبراړه لري. نوددې لپاره په کارده، د ټول (کل) پرځای ټوك (جزء) یا په بله وینا "دیتالز" په پام کې ونیول شي او په ژوره توګه یې بېلندویه پېژندنې (علامات ممیزه) وپلټل شي.

بل خوا نوموړي شوروي پوهاند نوره داکابوونه موندله چې د هزاره وو نورو برخو، په تېره د شیخ علي، سیغان وکهمرد او بامیانو خواته هم خپلې اتنوګرافیکي څېړنې پلټنې پرمخ یوسي چې اوسیدونکي هزاره یې تر مغولو زیات تورکوته ورته بریښي. اروابناد "میر علي ګوهر" ما ته د څهاردهي غوربند د پارسي ګړدود د څېړنې پر مهال په یوه دوستانه کتنه کې (د ۱۳۴۴ چنګابن) د هغې ډډې د هزاره وو په اړه ویلي وو: "داخنګه کېدای شي، دغه خلك دې له چنګیز خان سره راغلي اوسي؟"

## ۴-۱۶-۲: له شهرستاني تر راغي

په هره توګه پوهاند شهرستاني دغه سکالو (مساله) لږ ترلږه د یوې علمي انګېرنې (فرضیې) یا تېزس په توګه وړاندې کړې او زموږ د ګن ژبتوکمیز ترنګ (ethno-linguistic composition) په اډانه کې ترې د کوم لمسوني او ملي ضدنیت ونمات او بېلتونپالنې تورم نه لګي، حال دا چې د آریانا په همدغه ګڼه کې د جلا وطني له

برکتـه نـوي ډاکـتـر شـوي او پروفيسـر شـوي قيـام الديـن راعـی بـرلاس لنـډه تنګه او يـادښت ډولـه ليکنـه "پس منظـر تـاريخي سـلاطين دهلـی و پيونـد آن بـا تـاريخ افغانسـتـان" پـر هـېـڅ ډول علمـي بنسـټ تيکـاو نـه لـري او تـش د چينـي تـاريخوالو پرناسـمو نومونـو (نـامګذاريو) ډډه لګوي او د ساري پـه ډول سـکه کوشـانيان، يـوچيـان او يپتـلان، سـپين هونـان يـا پـه بلـه وينـا تورکـان بولـي، بـې لـه دې چـي سـوچ وکـړي، د قفقـازي، هنـدو اروپـايي او بيـا آريـاني سـاك لـه سـکه زوزات سـره منګولي، التـايي او بيـا تورکي توکم اړوندېداى شـي؟

دا سـمه ده چـې ډېرو تـاريخوالو، ان تـر حبيبـي او غبـار همدغـه نومونـې پـه تقليـدي ډول کـارولي، خـو لـه واقعيـت سره سم يـې آريـاني بللي دي همفريـز (**۷۵**مـخ). دغـه ټکـي پـوره رڼا اچولـې ده.

هـره نـابېره نومونـه (تصادفي تسـميه) د نومولـي (مسـمی) رغـښت و مـاهيت بدلـولای نـه شـي او بيـا نـن سـبا د انسـان طبيعـي تـاريخ (انـتراپـالوجي) دومـره پرمختللـې چـې کـولای شـي، د ډبروزمـو (فوسـيلونو) لـه مخـې ميلونونـه ميلونونـه کلونـه پخوانـی انسـانان لـه نژادي ببلتيـا (تفکيـك) سره جـوت او زبـات کـړي. دلتـه پراتنوګرافيـك کچ وپېچ (اندازه ګيری)، يا پـه بلـه وينـا د انسـاني پـړی علمـي مـېچنـې (anthropometry) سـربېره دمـاليکولي بايولوجسـتيانو سـانتېفيك، فارمولونـه او مېتودونـه هـم پرکـار لـوېږي. د ايرانـي فيلالوجـی لـه مخې خو پـه هر ډول تـر ابدالـو او يپتلانـو پـورې تول سـکه يـا سـاك چـي ښاعلی راعـی سره پـه يوه بله ليکنـه کې اړونـد ګڼلي، د اوسـتاييانو تـر څنـګه دويـم لرغونـی آريـانی تېـردی چـې د اريانـا لويديـځ تـه لـه پارسـيانو او شـمال تـه لـه ماديـانو او پارتيـانو سـره بيـا پنـځم ښاخ جـوړوي. زه دلتـه پـر خپلـو اړونـدو ليکنـو او پـه تـېره د ۱۹۹۸ کـال "د نيمـروز افغانسـتـان" پـه وروستـی چـاپ شـوي ګڼه کـې پـه برخـيز او د شمشـاد د ۱۳۷۷ پـه ۲-۱ ګڼه کـې پـه بشـپړ ډول خپـور شـوی غـبرګون

(نگرش گذرایی اتنولنگویستیک برمضحکه ارتباط خلجی‌های ترک باغلجی های پشتون و همچنان ارایه ابدالی ها ویفتلی ها به مثابه هونهای سپید!) بسنه کوم.

زه باور لرم، که زموږ دغه تورکتومي ليکوال دغه غبرګون، يالږ تر لږه د آريانا په تېرو دوارو ګڼو کې زما دري او پښتو ليکنې لوستی او بيا يې پرې څان ناګاره اچولی نه وای، دا زړه يې نه کاوه چې ورته تېروتنه، يا په ژوره مانا لمسوني ليکنه دغې درې مياشتنۍ ته راولېږي، هغه هم چې زه يې د کتونکې ډلې له غړيو څخه يم او که وغوارم ونه غوارم، په علمي -خپرني مسووليت کې يې ګډون لرم.

دا چې ډاکتر راعی برلاس په چين او ترکيه کې لومړی مسلکي زده کړې بشپړې کړي، ورته په کار وه، له همدغې جلاوطنۍ څخه په ګټنه يې د اروند کور به هېواد (المان) د ختيځپوهنې له رښتينو او ساتيفيکو آرونو او معيارونو سره کره او عياري کړي او په دې ډول ورته پوره څرګنده او جوته شي چې تر دغه مينځه څومره توپير پروت دی!

بيا تري هله داهيله کېدای شوه چې ښاغلي راعی څومره د عينيت او علميت ښکارندويې او نماينده ګي کولای شي. له اوسنيو يادوشويو غبرګو ليکنو څخه يې خو د تورکو لوجی پر ځای د پان - تورکيزم ودېم راپورته کېږي. ان تر دې چې پر منلو او مسلمو ژبتوکميزو ډلبنديو (اتنولنګويستيکي دستبنديو) سترګې پټوي اوله سره يې له نوي چلنج سره مخامخوي، هغه هم د خپل ټاټوبي (افغانستان) د تاريخي هستی او خپلواك هويت په بيه!

دا به څومره ستر علمي او ملي کار وای چې زموږ دغه افغاني تورکپوه د پوهاند شهرستاني له خوا د رامخته کړې سکالو په څېر په زيات څانګيز (مسلکی) ډول د هېواد او بيا تر هند او چين پورې

د ګاونډيو هېوادونو ټول التـايي (تورکـو مغولـي) ټبرونـه پـه پورتنيـو علمـي آرونـو (اصولـو) څېړلـی او نومېرلـی وای او پـه دغـه لړکـې يـې د هزاره وو برخـيز (قسـمي) تورکيوالـی ښه تـرا پلټلـی او جـوت کـړی وای. تـر جـوت شـويو (ثـابت شـويو) آريـاني توکموسـاکو، کوشـانيانو، يپتلانـو، ابدالـو، غلجيـانو، غوريـانو، لوديـانو او سـوريانو څخـه ورتـه د خپلـو همتوکمـو بيلونـې او نومېرنـې (تفلکيـك او تشـخيص) زيـات علمي بری پـه برخـه کـاوه، بې لـه دې چې پـر "غلـط مشـهورو" تـاريخي کـړنو انګېرنـواو افسـانو پـه رامختـه کولـو سره د يـوه بشـپړ تـاريخي او مسـتقل هويـت لرونکـې آريـاني او بيـا اوسـني افغانسـان ګڼ ژبتوکمـيز ملـي ترکيـب لـه ننګونـې (چېلنـج) سـره مـخ کـړي او تـر مينـځه يـې د بيلتونپالنې لګېدلو لمبو ته نـوره هـم لمـن ووهـي!

پـه ژبپوهنـه کـې د ښاغلـي تورکپـوه دا لاسـوهنه هـم د ختـدا وړ بـرېښي چـې وايـي، لـه سـاکانو او کوشـانيانو يپتلانـو نيولـې، تـر درانيـانو (ابداليـانو)، غلجيـانو، غوريـانو، لوديـانو او سـوريانو پـورې دغـو ګردو خپلـه آره (اصلـه) تورکـې ژبـه پـر آريـاني ژبـو بدلـه کـړې او لـه دې سره يې پښتانـه لـه يـوې مخـې "پښتـو ژبـي تورکـان" ګڼلـي، بې لـه دې چې سوچ وکـړي، دا پښتـو ژبـه لـه کـوم اسمانه را پرېوتـه؟ بـل خـوا تورکـان لـه دومـره ډيموګرافيـك او سياسـي لوړتيـا (برتـری) سـره سـره څنګه لـه التـايي غـرو څخـه لـه رالېږدېدو سره سم لـه سـموني د آريـاني ژبـو تراغېز لاندې خپلـه پيوندي ژبـه لـه لاسـه ورکـړه؟

کـه د يپتـال او ابـدال تـر مينـځ فونولوجيکـي ابـدال د منلـو وړ دی، نـو خلجی څنګه پر غلجي (غلځي يـا غلـزي) بـدل شـي، لـه دی پرتـه چې accidntal words يـا تصادفـي وييونـه وبلـل شـي او ددغـي پـېښې سـاري د نـړی پـه ټولـو ژبـو کـې هـم خـورا ډېر دي: پښتـو کـور (خانـه) او پارسـي کـور (نابينـا) يـا هـم پارسـي "بـد" او انـګرېزي bad پـه وينـګ او مانـا دواړوکـې پـه ښکـاره اړونـد او خپلـوان (همريښه) بـرېښي، حـال دا

چې لـه اتمولوجيك پلـوه داسـې نـه ده، لكـه څنـګه چـې روان فرهـادي (صفحـه و) ورتـه نغوتـه كـړې ده. غلجـي د پښتـو د تـاريخي فونولوجـۍ او اتيمولوجۍ له مخې لـه "غـر" يـا "غـرج" څخـه سـرچينـه او آره اخلـي او غلجي د توركيې له خلـج نومـي ځاينـوم څخـه!

د هـېرودت (۴۲۵-۴۸۵م ز) پكتويـس يـا ويـدي پكتـهـا لـه ټول تـاريخي -جغرافيـايې زبـات سـره سـره لـه پښتـو او پښتـو ن سـره ددغـو ژبپوهنيز وآرونـو لـه مخـې اړخ لـګولای نـه شـي او پـرځای يـې تـر سـوا او پرسـوانا پخوانـۍ بنې بـاوري بـرېښي چـې لـه پـارس، پـارت او پـهلوا... سره همريـښه راځي.

ان د راعـي تېرنـي نـوم "بـرلاس" لـه پښـتـو بـرلاس (زبردسـت، برتـر) سره هسـې تصـادفي ورتوالـي لـري. هغــه مـهال چـې سـاكو لـه مصـر و بابلـه تر قفقاز، روسيې او بيا تر لويديزو چيني پولو، يا پـه بلـه وينـا لـه پـامير و بلـخ و ساكسـتانه واكمنـۍ چلولـې، تـورك لالـه التـايي سـيمو څخـه هېڅ راوتلـي نـه وو. (غبـار ۶۰مخ). د افغانسـتان شـمال تـه توركـي خانـان (هونـان) مـتې پـه شـپږمه پـېړۍ كـې هغـه مـهال لـه آمـو څخـه راپورېوتـل چـې د ساسـانيانو پـه ملتيـايې د يپتلانـو كمـزوري پـاتې شـوني لـه پښو وغـورځول او همـاغې خواتـه يـې ۲۷ خانخانـۍ رامنځتـه كـړې.

د انګلسـتان د تلويزيـون پنـځم چـاينل پـر ۱۹-۳-۱۹۹۹ نـېټه د يـوه اركيـالوجيكي پـلاوي هغـه ګزارش خپـور كـړ چـې پـه تكلـه مكـان كـې يـې د ۳۰۰ م.ز كلونـو مونډلـي او رابرسـېره كـړي موميـايي مـړي او ډېرليكونـه او انځورونـه د هغـه اروپـايي، يـا پـه بلـه وينـا سـاكو او توخاريـانو ښكارندويـه وو ـ توخاريـان يـا تخاريـان د اروپـايي برخـې كوچيـان وو چې د ختيز توركسـتان پـه نيونـه كـې لـه سـاكو سـره ملګرى پـاتې شـوى وو او دوى هـم پـه "غلـط مشـهور" د آريانـا او بيـا افغانسـتان لـه بومـي او سـېدونكيو(!) څخـه ګڼل شـوي دي.

په هره توګه د پروفیسر راعي برلاس له ساکانو، کوشانیانو، یپتلانو نیولې، تر ننني زوزات پښتنو، پامیریانو ټول تورکان کړي او په دې ډول یې یو بشپړ هېواد له ټول تاریخي موجودیت او خپلواك هویت سره چلنج کړی او له صفر سره یې ضرب کړی دی، یا په بله وینا له افغانستانه یې "تورکستان" جوړ کړی دی!

زه بیا هم ښاغلي راعي صاحب ته دا سپارښت کوم چې که غواړي، خپل زاړه تاریخي او یا هم اتنولنګویستیکي معلومات نوي او کره کړي، لږ تر لږه دې له اوسني کمپیوتري ساینس او تخنیك څخه په ګټنه په یوې تنۍ (دکمه) وهلو سره په انټرنېټ Internet نړیواله شبکه کې "افغانستان" تر سترګو تېر کړي چې د تازه ترینو او باوري ترینو علمي بریاوو د راسمبالونې په لړکې زموږد تاریخي هېواد پېژندنه له ساکانو څخه راپیلوي، په منځني "خراساني" پېرکې یې د هغو له بچیانو (کوشانیانو، یپتلانو، کابلشاهانو، غوریانو، لودیانو، سوریانو...) او په اوسني (معاصر) پېرکې یې د هغو له سکه نمسیانو (ابدالیانو یا په بله وینا درانیانو او غلجیانو) سره اړوندوي. په بله وینا همدغه یو آریاني تېر د افغانستان پخواني بومي (aborigine) او خپلواك هویت لرونکي واکمن (حکمران) تبر ګڼل شوی او د لویدیزو آریانیانو (پارسیانو، بلوڅو او کوردو...) په ګډون یې دالتایي (تورك-مغولي)، سامي او دراویدي ټولې لویې وړې ډلې ټپلې له راوروسته رالېږدېدلو استوګنو څخه.

یو هېواد چې هر څومره ګڼ نژادي او ګڼ ژبېزوي، دوه آره (اصله) پکې هرومرو سهي کېدای شي، بومیوالی او ډېروالی، هو، که بومیان پکې پر لږه کې (اقلیت) واوړي، نو دا یو آر خو د تل لپاره خوندي پاتې کېږي، لکه انګریزان د پخوانیو بومیانو (کېلتیانو)، امریکاییان د سورپوستانو، هندي اریاییان د بومي دراویدیانو او دغه راز د منځنۍ اسیا د ټولو تورکي مېشتو جمهوریتونو په تېره پخپله تورکیه چې د اریاني، بومي مادیانو

"کوردانو" او نورو آریانیانو ځمکې یې لاندی کړي او په لږکیو (اقلیتونو) یې اړولي دي.

په پای کې به بېځایه نه وي، د یا دشوي پارسي غبرگون یو وروستنی ټوکر (پاراگراف) دلته کټ مټ را واخلم:

"اگر ادعای راعی برلاس، به فرض محال بنیاد سانتفیك میداشت، میتوانست سرنوشت و موجودیت تاریخي - جغرافیایي، و در نتیجه هویت مستقل ملی کشور مانرا در دوره های سه گانه اش زیر سوال برده و باصطلاح آنرا با صفر ضرب نماید ودرآنصورت تکلیف همهٔ ما افغانهای بلاکشیده و آواره درقبال مصیبت های گریبانگیر موجوده یکطرفه شده و باتشکری از پروفیسور صاحب راعی در جهانی از بی تکلیفی و بی تفاوتی نفسی به راحت میکشیدیم!"

# ۵- څپرکی

## پښتو او پښتانه په درېم ژبني "اسلامي" پېرکې

۵-۱ : پـه تـېرو څپرکـو کـې د پښتـو او پښتنـو د آريـانيوالي، (شـمال-) ختـيزوالي او بيـا سـاکيوالي د زبـاتونې لپـاره ژبپوهنـيز او تـاريخي لاسـوندونه وړانـدې شـول او پـه زاړه او منځنـي ژبنـي پـېر کـې مو تر هر څه لـه مخـه د ژبپوهنې او څه نـا څه تـاريخ پـه لاربنـې دغـه ژبـه او ويونکـي لـه پـاميرو بلخـه تـر سيسـتان او بيـا هېلمنـد، اراکوزيـا (کندهـار)، غـور او کسـې غـره پلـه پـر پلـه پسـې را واخېسـتل، خـو پـه نوي ژبنـي پـېر کـې (لـه اتمې زېږدې راهيسـې) زيـات دېتـه اړوڅو چـې د اسلامي پـېر لـه اړونـدو تـاريخي – جغرافيـايي او نـورو اړونـدو سـرچينو او لاسـوندونو پـه مرسـته يـې د منـدو نـو څرك ولـګوو او بيـا يـې د ګړدودې وېش، يـا پـه بلـه وينـا ژبنـي جغرافيـا لـه مخـې تـر څېرنـې او څېړنې لاندې ونيسو:

۵-۱-۱ : مـير غـلام محمـد غبـار (افغانسـتان بـه يـك نظـر ۹۴-۹۶ مـخ) د اسـلام پـه درشـل کـې د خراسـان (افغانسـتان، اکروکـر داسـې څېړلـې دي: "پـه شـپږمه زېږدې پـېړۍ کـې د افغانسـتان يفتلـي ټولواکمنـۍ لـه پـښو وغـورځېده او د پـارس د ساسـاني ټولواکمنۍ اود مـاورا النـهر د نويـو را ټوکېدلـو تورکـانو او ور پسـې د چيـن د امپراتـورۍ د نيـو اکـګرو لاسـونه دِ افغانسـتان شـمال ختيـځ او شـمال

لویدیځ ته را وغځېدل. په نوږ هېواد کې تېرواکي واکمنه شوه او بې شمېره سیمه ییزو سرغنه وو سر را پورته کړ. د افغان هېواد له دې سیاسي شنني او وېشني او ور سره ورسره د بېلا بېلو (باختري او هندي) ژبو او تورکي، چیني او نورو پور وییو نواو بېلا بېلو زرتشتي، بودایي، برهمني، هندویي او نورو دینونو یوې ګډولې افغان ولس یوه پېړۍ د ټوټه ټوټه کېدو او شیت پر شیت کېدو لوري ته را ورڅکاوه. بله خوا د سیاسي ادارې د منځوالي نشتوالی د اقتصادي دفاعي ځواك د له منځه تګ لامل شو او د ولس او هېواد مشرانو هم د دښمنو له تمبونی او د هېواد له ژغورنې نهیله شول.

**۵-۱-۲**: په همداسې یوه بد سیاسي (او اقتصادي، اکرکې د اسلام دین را څرګند شو او د عربي لښکرو په زور یې پر افغانستان خپل اغېز وښانده او د هېواد په ټولنیزو بنستونو کې یې یو ستر اوړون (انقلاب) را وست... پر (۲۲ ل) کال یې چې درېم یزد ګرد پسې راواخېست او افغانستان ته را وتښتېد، نو افغانانو عربو ته مخه ورکړه او پر (۳۱ ل) کال یی هغه خپل پخوانی دښمن وواژه او په دې توګه افغانانو له درېګونو بلوسګرو ځواکونو (پارسیانو، تورکانو او چینیانو) خپل هېواد ازاد کړ. خو عربي لښکرو چې غوښتل د مروې، نیشاپور، کرمان، زرنج او نورو افغانی سیمو تر لاندې کولو وروسته بلخ او هرات نیونې ته هم را ودانګي، نوره یې افغانانو مخه ونیوله او د هراتی قارن په مشرۍ یې پر ۳۲ ل کال د نیشاپور پر عربي بولندو یی (قوماندانی) یرغل وکړ او تری یې ونیوه او بیا یې له سیستانه هم وکښل. په دې ډول د عربو او افغانانو د جنګونو پیلامه را ونښته او پوره دوی پېړۍ یې اوږدوالی وموند، تر څو چې بری د افغان په برخه شو او هېواد ازاد شو".

**۵-۱-۳**: د ابو مسلم خراساني تر مشرۍ لاندې د ټولو سیمو سر غنه وو او تېرواکانو ګډ ځواك په ښکاره د عباسي خلافت په ملاتړ لومړی اموی خلافت را وپرځاوه او بیا یې د اسلام د خپرونې په پلمه

تـر سـويل ختـيزو پولـو ټول افغانـان سـره يـو مـوټی کـړل او بيـايې
ځايناسـتو برمکيـانو، پوشـنګيانو، غزنويـانو، غوريـانو، صفاريـانو او
نـورو هغـو ازاد يـپالو ملـي غورځنګونـو تـه تـوره هـم پرلـه پسـې وده
ورکړه. اسلام يې لـه ټول پـر مختللـي فرهنـګ سره ومانـه. مـګر د عربـو
سياسـي ښکـېلاك تـه يـې تـر پايـه غـاړه کښېنښوه. سره لـه دي داسـې
بـرېښي چـې د خراسـان لـه اډانـې وتلـې پښتنـې ټبـر واکـې، لـه کسـې
غرونو لـه لمنو نيولـې تـر اباسين پـورې تـر ډېره خپلواکـې پـاتې شـوې او
وروسـته وروسـته يـې اسـلامي ګروهـې تـه غـاړه ايـښې ده، لکـه څنـګه
چې استاد حبيبـي د پټې خزانـې (۲۵۴ مـخ) او ګرديـزي تـاريخ لـه مخـې
کښلي چې شيخ حميد د (۳۵۱ - ۳۹۰ ل) کلونـو پـه اوږدو کـې چـې د
ملتـان واکمـن شـو، خپـل وراره شـيخ رضـی پښتونخـوا تـه را واسـتاوه
چـې د غـرو وګړی يـې اسـلامي ګروهـې تـه را واړوي، هغـه دوه کالـه د
کسـې پـر غـرو ګرځېده او هلتـه يـې ډېر خلـك مسـلمانان کـړل. تـرې هـم
پـه څلـورم فصـل کـې ورتـه کيسـې راوړي دي. پـه دې تـوګه زيـاتره
هـرات، سيسـتان، هلمنـد، زمينـداور، غـور او کندهـار او څه نـاڅه د
غزنـي او کـابل شـاوخوا سـيمو پښتانـه د اسـلامي خراسـان د سـيده
اسـتوګنو پـه تـوګه تـر نـورو پښتنـو لـه مخـه مسـلمانان شـوي او لـه دې
سره يـې لـه يـېبـرور فرهنـګ څخـه هـم ښه تـرا برخمـن شـوي دي د محمـد
علـي بسـتي، هاشـم سـرواني، شـيخ کـټه، سـليمان مـاکو او نـورو
غونـدي ادبـي - فرهنـګي مخکـښان را زېږوي، پـه دې کـې شـك نشـته
چـې پـه هـرات او سيسـتان او نـورو لوېديـزو سـيمو کـې فرهنګيـال
پښتانـه هـم تـېر شـوي، پـه دې تـوګه دا کومـه هېښنـده پـېښه نـه ده چـې
د پښتـو شـعر و ادب پيلامـه لـه غـور زمينـداوره آره اخلـي، او "پـټه
خزانـه"، "تذکـرة الاوليـاء" يـا "لرغونـي پښتانـه" او نـورې تذکـرې يـې
راخونـدي کوي، خـو د برلاسـې عربـي او بيـا پارسـي ژبـې تـر اغـېز لانـدې
يـې پـه خپلـه مورنـۍ پښتـو څه ليکنـې زېږونـې را پـرې ايـښی نـه دي او
يـا لاسـته راغلـې نـه دي، لکـه ابـو نصـر فراهـی يـا مـلا حسـين سبزواری

او داسې نور. استاد حبیبي د غزني لویکان پښتانه بولي چې تر غزنوي امارته یې هم له مخه هلته سیمه یېزه واکمني درلوده (لویکان غزنه، د استاد لیکنه چې لاسته رانغله). دغه راز د محمود غزنوي د واکمنۍ په وختوکې د پښتنو د پوځي ونډې تر څنګه فرهنګي دا هم لږ و ډېره سهي کولای شو او د استاد حبیبي او پوهاند رشاد په ګډون زموږ ډېر پښتانه پوهان پردې باور دي، چې د سلطان محمود په دربار کې د حسن میمندي یا میوندي په نامه یو فرهنګیالی وزیر پښتون هم و چې ددغه پاچا په سپارښت یې اوسنۍ عربي آرې پښتوابېځې (الفبې) را منځته کړې وه. هر ګوره د غزنویانو او غزني واکمنانو یا امیرانو تر منځ شخړې او جنګونه له دې لامله وو چې هغوی تور توکمي وو او دوی پښتانه، او استازیو یا منځګړیو به یې د ژباړونکیو په مرسته سره خبرې اترې کولې.

دا تاریخي لنډۍ د محمود د یوه پښتانه سر لښکر (بولندوی) او ور سره ور سره د یوه جنګیالي مانا بلونې (تداعی کوونکي) ده چې د یوې پښتنې له خولې وتلې ده:

بچې د خانو لښکرې راغلې

زه به ګومل ته دخپل یار دیدن ته ځمه

**۵-۱-۴:** دا هم زبات ته رسېدلې چې پښتنو د خپلو جنګیالو ساکي نیکونو غوندې له خپل غزني دریځ او نه اېلېدونکي جنګیالي لوښې سره سم له سکندره تر عربو او عجمو او بیا تورکو مغولو، له چنګیزه تر انګریزه- له ټولو بهرنیو بلوسګرو او نیواکګرو سره ډغرې وهلې او هغوی یې د دېته اړ ایستلي چې دروغې جوړې له لارې یې په پوځي ځواك کې له ځان سره را ګډ کړي او ان خپلوي او خپښي ور سره وکړي. که سکندر له ساکي "رخشانې یا روښانې Roxana" سره واده کړی و، نو سبکتګین له زابلۍ پښتنې او بابر له "مبارکې" یوسفزۍ سره د واده له لارې پښتانه د ځان ملاتړي او ملګري کړي وو. دا سمه ده چې پښتانه به تر یوه مهاله په داسې

ترموګرمو د پردیو مزدور جنګیالي پاتې شوي وي، خو په پای کې یې د خپلواکۍ او کور واکۍ په لاسته راوړنه ځایناستي شوي هم دي چې پرتمینې بېلګې یې د شیر شاه سوري، میرویس هوتك او احمد شاه ابدالي نه هېرېدونکې او تلپاتې ښادنامې دي.

پوهاند تر ډې د "پښتانه پخوا چېرې اوسېدل" تر سرلیك لاندې چې د خپل کتاب (پښتانه) څلورم څپرکي (۶۵-۱۲۳مخ) یې ورته ځانګړې کړې داسې کاږي:

"پخواني لیکل شوي اسلامي آثار او اسناد له لسمې نه تر شپاړسمې میلادي پېړۍ پورې د هغې سیمې په بېلا بېلو برخو کې د پښتنو د استوګنې یادونه کوي چې له آمو نه تر اټکه، له هراته تر کشمیره، له کرمانه تر ملتانه او له چترال نه د عربو د بحیرې تر حدودو پورې امتداد لري..."

ښاغلي تر ډي وروسته بیا په نومېرلي توګه په غزني، پکیتا او نورو شاوخوا، ننګرهار او پېښور سیمو او بیا اوسني افغاني اوېجه کې د پښتنو تاریخي جغرافیا ښه ترا څېړل او زباته کړې ده. دلته پتلېز دا خبره هم رامخته کېږي چې که په دغو ټولو سیمو کې د پښتنو شتوالی او مېشتوالی تر یو زر زېږدي کلو لیکنې لاسوندونه لري، هرو مرو څو پېړۍ نور هم تر شا اټکلېدای شي او په دې توګه د پښتو له ژبوهنیز تاریخ سره پوره سمون پیدا کولای شي.

څه چې ډېره خواشینوونکې بریښي، هغه دا چې پښتنو د سکه نیکونو په تو پیر په تېره د آرت و فرهنګ په اړه د ټولواکمنیو تر لاسته راوړنې او منځته راوړنې وروسته دومره زور و زغم، یا په بله وینا کابو او فرصت موندلي نه دي چې د پښتنو د ټولنو ټېز (اجتماعي، اقتصادي) او فرهنګي ـ سیاسي بدلون اوښتون لپاره کوټلې هاندو هڅې وکړي. شیر شاه په پنځکلن لنډ پېر کې همدومره وکړای شول، لږ و ډېر پښتانه له غرونو را کښته کړي او متې یې له ځمکواکي (جاګیر داري) او ډون سره روږدي کړي او احمد شاه بابا

يې د تېرنۍ تلوالې (قبيلوي كنفداسۍ) له لارې له څمكواكۍ او تېرواكۍ څخه. ښاري - اقتصادي ژوند توګې سره څه نا څه پخلا كړي، خو لكه څنګه چې د پښتنو ژوند همداسې راغلی، نه يوازې يې نو يو ژوند توګو ته وده او وش ور ښبلي، بلكې بېر ته زړو هغو ته پرښا شوي هم دي. پوهاند تږی (۱۶۱ مخ) په دغه اړه ورته څرګندونې لري:

"د معاصرې پښتنې تولنې د اقتصادي او اجتماعي ژوند څرنګوالی او پخوانی مسير تحريري اسنا د داسې ښيي چې په دې دوره كې ډېر زيات پښتانه كوچيان او مالداران دي خو كليوالي او ښاري ژوند هم پكې رواج شوی او زراعت ته يې هم مخه كړې ده...)، دا تول ناوړه تولنيز، تاريخي اكربكر (وضع و احوال) دا مانا نه ده لرلې چې پښتنو ګوندې له هماغه لاسته ورغليو "او راوركي ورته" لنډو لنډو لارغو (وقفو) او كابو ګانو (فرصتونو) څخه يوه لړه كې هومره ګټه هم نه ده اخيستې او هيڅ فرهنګي هستونې يې نه دي كړې، لكه واخلي په غور او زمينداور كې سوري، غوري واكمنې پېرونه، يا په ملتان كې لودي، نيازي، سوري او يا هم راوروسته په كندهار كې هوتكي او ابدالي هغه. همداسې د روښانيانو، ختېكو او يوسفزو سياسي، فرهنګي غور څنګونه هم در واخله. په دغه لړكې د غوري مرغې، د كسې غره شمالي لمنې او نورې پښتنې تېرواكۍ هم بې ونډې او بې نقشه نه وې چې له هماغو لومړيو څخه د اسلامي - خراساني فرهنګ تر چمبر لاندې راغلې وې او تر هر څه له مخه يې له غور سره نه شلېدونكې تېرنۍ اړيكې او راشې درشې درلودې. په لره پښتونخوا كې چې د هر پښتنې خېل او تبر له عادي وګړو څخه د آرې او ريښې پوښتنه وشي، خپله پښت لړۍ او شجره له غور او "غوري مرغې" را پيلوي. دغور "سوري" كورنۍ تر اسلام له مخه خپله سيمه ييزه واكمنې درلوده او له

لومړۍ تر څلورمې اسلامي پېړۍ د عربي خلافت لاسکتوې پاتې شوې ده. (غبار، افغانستان بيك نظر ۱۲۳ مخ).

انگلز په خپله ليکنه (افغانستان، ۱۸۵۷ د اگست لسمه) کې د افغانانو (پښتنو) د بشپړتيايي بهير دسستوالي د کوششونو او لاملونو (علل او عوامل) داسې را کوټلي کوي: *"افغانان سخت سري او ازادي‌پال دي. دوی ځانونه په پووند کلي او کرکيله بوختوي. له سوداگرۍ او پېشي لرې گرځي، نه يې خوښوي او په سپکه سترگه ورته گوري. هنديانو او تباريانو ته يې ور پرېږدي. جنگ د افغانانو لپاره يوه پارنده سرگرمي ده چې په يوه دوله (يو تواخته) ژوند کې يې رنگارنگي او بدلون راولي. افغانان پر تبرونو (قبيلو) وېش دي چې سرغنه ورباندې يو راز ځمکواکي (فيوډالي) واکمني کوي. د کينې او غچ اخېستنې ولوله افغانان د هر لاسبرۍ په وړاندې پياوړي کوي. او د بېخرته ځانتني (فردي) ازادۍ مينې دېته پرې ايښي نه دي چې يو غښتلی ملت ځنې جوړ شي.* (روهي ۱۴۷ مخ).

## ۵-۱-۵: پټه خزانه له غور و ادبي، تاريخي سر چينو څخه

"پټه خزانه" د مورگنستيرنې د "نېټه بدلونې" له خرخشې سره سره د دغو ټولو واقعيتونو ځلندويې کوي چې يې نه يوازې لومړنۍ ادبي، فرهنگي هستونې را خوندي کړې، بلکې د استاد تږۍ خبره، "د پښتنې تاريخ هماغه نا څرگند څېرکی" يې هم د تېر مهال له تورتمه رڼا ته را ايستلی او له دې پلوه له لومړنيو اسلامي، پښتنې سرچينو او اخځونو څخه هم گڼل کېدای شي.

له غزنويانو سره د غوريانو له سياسي سيالۍ سره، فرهنگي، ادبي دا هرومرو تړلې وه، نو که پخپله واکمنانو يې پښتو د دوتر او دربار په کچه نه پالله، د شاعرانو مخه يې خو په هيڅ توگه نه نيوله

او د اسعد سوري یا ښکارندوی غوندې شاعرانو ته یې په هره توګه سرونه ټيټول. ان احمد شاه بابا چې پخپله پښتو شاعر هم و، ونه شواي کړای، سم له سمونې ور پاتې ايرانـي دوترونه پښتو ته را واړوي، نو خپل را تلونکي ځايناستي زوی شهزاده سليمان لپاره يې لاره هواروله او تر روزنې لاندې يې نيولی و. همسې خو د غور د سيمې پر سنايزيشن د هرات او سيستان غوندې له اسلامي پېر سره پيل شوی و او د غور جغرافيا د ليکوال پوهنوال عزيزاحمد "پنجشيري" په وينا په دې کې شك نشته چې د غور ژبه پښتو وه، خو د يوې سيمه ييزې ژبې په توګه يې له واکمنې پارسي ژبې سره په هيڅ ډول سيالي نه شوه کولای. (جغرافيای غور- پوهنتون کابل ۱۳۶۲ ) تورك و مغولي ايماقونه چې را وروسته غور ته را لېږديدلي، هم پرستايز شوي دي. دا چې محمد هوتك (۳۲ مخ) د تاريخ سوری له مخې ليکي : دا اميران له پېريو په غور او بالشتان کې بست کې وو او د هغه سور نومي له اولاده دي، چې د سهاك له پښتنه وو ...." دغه پاسني څرګندونې او همـهال د اروند شاعر "امير کرور" او بيا پټې خزانې يو بل پخلي ګڼلای شو. د پښتني واکمنيو په لړ کې د شاه حسين هوتکي يوازينی شاهي پېرو چې له پارسي سره يې د يوې مثبتې سيالۍ له مخې پښتو د دربار جوګه کړې وه او پښتانه شاعران او اديبان يې پر ځان را ټول کړي وو. خو له بده مرغه بيرته هر څه له افشاري تاتار سره انګړه دنګړه شول او متې تړې هماغه ګرانبيه "ګنجينه" د يوه تلپاتې يادګار په توګه را پاتې شوه.

### ۵-۱-۶: تذکره الاولياء د ليکنۍ پښتو لومړنۍ لاسوند

دغه تذکره تر پټې خزانې څه له پاسه پنځه پېړۍ مخکې (۱۲۱۵ ز کال) د سليمان ماکو په لاس کښل شوې او استاد حبيبي يې متې ځلور پاڼې موندلي چې د ځلورو شاعرانو شعرونه پکې راغلي، خو لومړۍ بېلګه يې د پټې خزانې تر رومبنۍ بېلګې (ويارنې) څه له

پاسه دوی پېړۍ را وروسته ویل شوې ده. نومیالي (لېمه، لسمه ګڼه ۷ مخ) "د سلیمان ماکو تذکره د یوه تاریخي مدرك په توګه" تر سر لیك لاندې داسې لیکلي دي:

"هغه پاڼې چې ارواښاد حبیبي د "تذکره الاولیاء" په نامه موندلې دي، که یې کاغذ او سیاهي همدا اوس د ۷۵۰ کلونو لرغونتیا ولري اوسنۍ یې هم تیك لیکلې شوې وي او له هیڅ پلوه ددې مدرك یا منبع په خصوصیاتو کې هیڅ فني نیمګړتیا نه وي، نو ددې منبع منځ ته راتله، یوازې د پښتو ژبې پر موجودیت، کتابت او هغه ضرورت باندې دلالت کوي چې د اولیاوو د پېژندنې په ساحه کې یې لیکونکي احساس کړې دي. د شعر او ادبي ښېګڼو له پلوه ددې منبع ادبي محتویات د سوچه شفاهي ادبیاتو په اندازه هنري ارخونه نه لري"

ښاغلی نومیالی په دې ګروهه دی چې دغه بېلګې له آره ګړنی او وګړنی (فولکوریك) رنګ لري او یو نیم شعر یې د نکل نارو ته ورته برېښي او سلیمان ماکو ورته لومړی ځل لیکنۍ بڼه ورکړې ده. په هره توګه دا هم څه نا شوني نه ده چې له ۹۱۶ ز نیولی تر ۱۰۲۰ز او له ۱۱۸۴ ز تر ۱۲۰۳ ز پورې دې د نومېرلو شاعرانو له خوا داسې ساده او وګړنۍ ډوله شعرونه کښل شوي، لږ تر لږه په همداسې ګړنۍ توګه را منځته شوي او خو له په خوله تر سلیمان ماکو رسېدلي وي. او هستونه یې هم څکه باوري برېښي چې پخپله د پښتنو بدایې او ارکاییکې فولکوریکې مخبېلګې پېړۍ پېړۍ له مخه شته وې او په دې توګه د شیخ اسعد سوري او ښکارندوی د بوللو په څېر د خورا پخو پنځونو لپاره لاره هواره وه. همدارنګه د سلیمان ماکو غوندې د یوه مخکښ پښتو لیکوال منځته راتګ هم د پخوانۍ اراکوزیا (ارغستان) په یوه سمسوره فرهنګي سیمه کې له کیدونه لرې نه برېښي. کوم لیك هم چې دغه پښتانه لیکوال کارولی دی، ښایي تر ده له مخه دود لاره او ډېر کېدون لري، لکه ددغه څېرکي په سر کې چې ورته نغوته وشوه، غزنوي محمود

(۹۹۸-۱۰۳۰ ز) د وزیـر حســن میمنـدي لــه خـوا یــې لــه هماغــه رامنځتــه شــوې پښتــو ابېځې (الفبې) څخــه ســرچینــه اخیســتې وي. هسې خو ورتـه د پارسـي لیـك یـوه مخښلګه هومـره هـم مـخ تـه پرتـه وه او هـر لوسـتي پښتانــه کـولای شـول، د هغـه لیـك لـه مخې پـه خپـل ځانګړي نـوښت یـو دم دعـا یـا شعر نیـم پـه پښتـو ولیکـي. ان پښتانـه ملایـان او تبلیغیـان هـم دېتـه اړوتـل چـې د لمـانځه اوداسـه او نـوري دینـي سـکالووي، ورمونـه ورمندونـه د پښتنـو لپـاره پـر پښتـو راوژبـاړي او همداسې یې پـه لیکنۍ بڼه خپـاره کړي.

د پټې خزانـې او تذکـره الاولیـاء لومړنـي شـعرونه هـم کـېدای شـي، اړونـدو وینـا والـو پخپلـه کښلـې وي او یـوازې ګړنـۍ (شـفاهي) یـا وګړنـۍ (فولکوریـك) ډولـه ښېلـګې یـې، لکـه د بېټ نیکـه، خرښبون یـا اسماعیل، د یو شمېر نـورو هغـه بیـا ښایـي تـر تذکـره لیکونکیـو پـوري همداسـې سـینه پـر سـینه را لېږدېدلـې وي، لکـه څنـګه چـې دغــه راز خوندیینـه او لېږدېدنـه تـر اوســه دوددي.

لـه دې کبلـه دا بـه څومـره بـې لـوري او بـې نیـاوي وي چـې د لیکنـۍ پښتـو او ادب پیلامـه د ختیـځپوهـانو پـه پېښولـه روښانـي پـېر سره سمه لـه پنځلسـمې زېږدي پـېړۍ را ونښلـوو او د نومیــالي خـبره "تـر دې دمـه نـور هـر څه د پښتـو د مـا قبـل التـاریخ پـه دوره کـې راوړو" (د لېمـې هماغـه یـاده شـوې ګڼه ۵ مـخ).

**۵-۲: پېتـال او ابـدال:**

**۵-۲-۱**: د پښتــو او پښتنــو د ســاکیوالي لیــد تــوګه را ســره دا مرسـته کـولای شـي چـې د خپـل تـاریخ ډېر "نـا څرګنـد څېرکـي" ځانتـه څرګنـد کـړو. او هغـه هـم د همتېـرو او سـکه خپلوانـو د څرګنـد تـاریخ لـه مخـې. پـه تـېر څېرکـي کـې مـو د اسـتاد مورګنسـتیرنې د پښتــو او پښتنـو د سـاکیوالي د لاسـوندونو پـه لـړ کـې لـه پامیریـانو، اوسـېتیانو، کوشـانیانو او یفتلیـانو (یېتلانـو) سـره د پښتنـو پـر همتېـرې رڼاواچولـه او بیـا مـو د تـاریخي ژبپوهنـې او پـه ځانـګړي ډول د خاشـرود، هېلمنـد

او ژوب، اورګون، ګومل، متون فونېتيکي شنني له مخې تر کسي غره پورې د پښتنو او پښتنو د پلونو څرك وکيښ، خو په دې څېرکې کې مو زيات زور پر تاريخي او يو لړ ادبي، فرهنګي او وګړنيو روايتو اچوو. دلته را ته هر ګوره دا هم اړينه برېښېده چې د اسلام په درشل کې د نژدې خپلوانو (يپتلانو يا يپتليانو) (۲-۵) د وروستيو پاتورو سيمه ييزو شاهانو ترسيوري لاندې هم د خپلې ورکې څرك ولګوو.

له پښتنو ابدالو سره د يپتالو فونېتيکي او اتنيکي سمون زموږ پر خپلو تاريخپوهانو سربېره مورګنيسترن (۱۹۷۵) او بيا روسي پښتو پوهاند نيکولای دووريانکوف هم څېړلی او زبات کړی دی، پروفيسر راعي بر لاس (د غلجي او ابدالي د تورکيوالي ببولالـه) بيا د سينو لوجيست او پان تورکيست په توګه د چينيانو له ناسمي نومونې "سپين هونان" د لاسوند له مخې د هغه پخلی ددې لپاره کړی چې هونان هماغه "تورکي خانان" دي او له دې سره ابدالي پښتانه هم تورك آري دي!

**۵-۲-۲**: دلته ډېره په زړه پورې دا ده چې ارواښاد غبار او دوريانکوف دواړو په لړ توپير د يپتل او ابدال ويېزه (لغوي) آره له "اتل" سره تړلې ده. غبار (افغانستان به يك نظر ۸۰-۸۱ مخ) ليکي: يفتليان له نژادي پلوه زياتره تاريخپوهانو د يوچيانو (کوشانيانو) يوه څانګه بللې او له دې کبله په هندو اروپا يي کورنی. او بيا په سيتي (ساکي) پرګنې اړه لري. يفتليان د ۳۸۵ - ۴۲۰ ز کلونو تر منځ د افغانستان په باختر کې را څرګند شول او د يوه دولت په رغاونه يې لاس پوري کړ. تر دې دمه چينيانو دوی (هوا) يا (هواتون) او د دولت تر رغاونې را وروسته "يتا = Yeta" يا "ايتا Epta" بلل، د چين د کانتو په سيمه کې "ييتات Yiptat" او په کوريا کې د "يپتل Yeptal" په نامه يادېدل. د بېزانس ليکوالو په خپل ګړ دود او ليکدود "اتهالي توی، تهالي توی، نفتهالي توی، ابدلوی" يادول

او کـښل او ځینـو ورتـه "لیکـوی- او نـوی - خونـوي" نومونـه هـم اخیسـتل. پارسیانو تـرې "هیطـل" جـوړ کـړی و او عربـو ورتـه پـه ډېر ګړي تـوګه "هیاطلـه" ویـل. هنـدي سـرچینـو یفتلیـان د (سـیتا اونـا) او "شوته هونـا" پـه نومـو یـاد کـړي "چـې مانـا یـې سـپین هونـان" او "سـپین پوستی بـهرني" راځي. حـال دا چـې د افغانسـتان پـه غـورو ملـي ژبـو، پښتـو او پارسـی کـې "اتـل" د پـهلوان او هیتـال د ځواکمـن او زورور مـېړه مانـا ښنـدي. پـه دې کـې اړنـګ نشـته چـې د افغانسـتان د یفتلیـانو آر نـوم "اپتـل" و او را وروسـته وروسـته پـر افتـال " او "یفتـل" اړول شوی او تر ننه پورې د یفتل په نامـه پـه بدخشـان کـې ځایونـه شـته او استوګن یـې یفتلـي (یفتلیـان) بلـل کـېږي. پـه هـر حـال یفتلیـان یـوه تپه (طایفه) وه، چـې سـپین پوسـتي وو او مدنـي ژونـد یـې درلـود او ژبـه یې هم هندو اروپـایي وه. دغـه وګړي هماغـه کوشـني (کـوچنـي) یـوچیـان (کوشـانیان) وو چـې د چـین لـه "کـان سـوی" څخـه لویدیـزې آسـیا تـه تـر لـېږد را وروسـته لـه مشـرانو "یـوچـي" ورونـو تربورانـو څخـه پـه منځنـی آسیا کـې جـلا شـول او څه مـهال د تبت د غرونـو شـاوخوا تـه اوسـېدل او څنګه چـې لـوی یـوچیـان پـه پـای کـې د تـارم او سـیحون و جیحـون لـه برخو څخـه بـاختر تـه راغلـل او کوشـاني ټولواکمنـي یـې را منځتـه کـړه، نـو کوشنیو یـوچیـانو یـې هـم هماغـه لاره پسـې را واخیسـته او پـه پـای کـې یې په باختر کې یفتلي دولت اعـلان کـړ... دغـه دولـت لـه ۴۲۵ تـر ۵۶۶ ز اوږدوالـي وموښـد".

غبـار د اسـتاد حبیبـی، کـهزاد او نـورو پـه تـوپـیر پـه نومېرلـې تـوګه یپتـال او ابـدال سره همغـاړه کـړي نـه دي، خـو داسـې بـرېښي چـې ردوي یـې هـم نـه. پـه هـر ډول لـه ژبپوهنـیز پلـوه سـره دواړه نومونـه سـمون درلـودای شي. دا بېله خبره ده چـې عربـي لـه یـوه هیطـل او هیاطلـه جـوړ کـړی او دا بـل تـه یـې لـه جولـیز بدلـون سره مـانیز بدلـون هـم ورکـړی او "روحاني" جـاج یـې پکـې را نغښتـی دی، لکـه څنګه یـې چـې بغپـور پـر فغفـور راړولـی دی.

دا اړینه نه ده چې سړبني ابداليان دې کټ مټ هماغه پېټلان اوسي، بلکې يو کېدون يې دا راوتای شي چې تش به دغه نوم را خپل شوی يا اداپت شوی وي او يا هم دا کېدون چې يو شمېر پېټلان به تر واكمنۍ وروسته په پښتنو کې ويلې شوي اوسي او دغه اداپتېشن ناشونی په دې نه ایسي چې پېټلان د پښتنو خپل سکه تربوران ګڼل کېږي او ژبې يې هم سره خوېندې دي او ښايي نومونې بهيران د منځني پېر له هغې پېړۍ را پيل شوی وي چې پېټلان زاول (زابل) ته را رسېدلي وو. مګر د خلجي او غلجي ترمينځ بيا جولېز (شکلي) همرنګي هسې يوه نابېري "accidence" ګڼل کېږي. ځکه د جاج او مانا له پلوه سره هېڅ کوم سمون نه لري. او په ټکرويېو (accidental words) کې راځي. د پکتويس او پکتويکې او پښتنو او پښتونخوا تر منځ ژبپوهنيز اړيکي ناشوني دي او که په کوم معجزه يې ډول يې نومولي (مسماوي) سره زبات ته ورسي، نو هله به اړوند نومونه هم سره په همداسي معجزه يي توګه ژبپوهنيز کېدون پيدا کاندي! اراکوزي /الکوزي يا اپاروتي/ اپريدي سره ژبپوهنيز سمون درلودای شي او د پېټال /ابدال په ډله کې راوستل يې کېدون لري. داسې ډېر پښتني ټبر نومونه نور هم ډېر دي چې تر اړوندو ټبرونو ( نومولیو) څخه پېړۍ پېړۍ له مخه را پيدا شوي دي. په دې اړه دا اټکل کېدای شي چې دغه نومونه يا له آره پخواني پردي ټبر نومونه وو، بيا پښتنو را وروسته د وګړ نومونو په توګه را خپل کړي او وګړ نومونه هم را وروسته پر ټبرنومونو اوښتي، لکه له "مغول خان" نومي پښتانه څخه چې مغول خېل ټبر را زېږېدلی دی، بل اټکل به دا وي چې نومړي ټبر نومونه به له آره ځاينومونه اوسي او هماغه اوسېدونکي يې پرې نومول شوي دي، چې دا کېدون د اراکوزي /الکوزي او اپاروتي /اپرېدي په برخه کې له ورايه څرګندېږي. هسې خو جوته ده چې نه ابداليان او الکوزيان تر ګڼه نيکه (سړبن) له مخه پيدا شوي او نه اپريديان تر اړوند نيکه "کرلاڼ"

ځخه له مخه، که نه د بېلګې په توګه چې هېرودت "اپریدي" یادول، ولې یې ددوی نیکه یا نیکونه نه یادول چې هرومرو به ددغه تاریخ پوهاند پر مهال (۴۸۶-۴۲۶ م ز) تر ټولو ورو ورو خپلونو او پښو له مخه هغه له جغرافیایي پلوه د هېواد په ور مختنه سیمو (باختر، سیستان، اراکوزیا، کسي غره، غور...) کې زیات نومور وو او بله دا چې همدا سیمي یې د لومړني پنځګوني تېر وېش منځي (مرکزونه) هم نومېرل شوي دي. بیځایه به نه وي، دلته د دوریانکوف (۴-۱۲-۲) د اړوندي شنني یوه برخه یو ځل بیا را واخلو چې د اروابښاد غبار له هغې سره څومره نژدېوالی لري:

"... د نومیالو سترو پوهانو، لکه واسیلي ابایف او ګیورګ مورګنستیرنې د اثارو له مخې ویلای شو چې افغان او پښتون د یوه ولس دوه نومونه دي چې لومړنی ماناوې یې سره نژدې دي. په پښتو پېژندنه کې څو ځلې ښوول شوې ده چې پښتو له سکیفو - ساك ګړدودو (ډایلکتو) سره اړوندي لري. ما دا ښوولې چې یوازې په پښتو کې د "سکه" ویی را خوندي شوی دی چې مانا یې "خپل" ده، د سکه ویي ستاینګونه (صفتونه) لکه سکه ورور، یا سکنی ورور او داسې نور اوس هم لادود دي.

ابایېف دا وایي چې د ساکانو د ژبې آره (ریښه) ap "اوبه" وه او av/af=av-darak "اوبلري، اوبه ورکوونکی" مانا لري. دا بېلګه مورې ته دا لیاره هواروي چې یو پښتني تېرني نوم "ابدال یا ابدل abdal" ځانته څرګند کړو. دغه ویی تاریخي اوګړدودي بڼې لري، لکه:

abdal/ avdal/ awdtal (atal?)

له لومړنی مانا څخه یې نوې ماناوې را منځته شوې او په دې لړ کې "ابدل" د "تېنګ سړی"، "بهادر سړی" پر ماناوو بدل شوی. دغه ماناوې له مورې سره دا مرسته کوي چې د "افغان" ویي awɣān/aɣ̆an=aw+xān بڼې سره پرتله کړو. دلته خان "Xān" له

"خاقـان" څخـه اخيسـتل شـوی او د "darak" پـر ځای راغلـی دی. د ژبـې د تـاريخ يـوه برخـه د لرغونـي ليكـدود لـه مخـې څرګنـدېږي لكـه "اوغـان "awγān".

بـل خـوا د "پښتـون" ويـې آرپوهـه (اتيمولوجـي) خپلـې ځانګړتيـاوې لـري چې ريـښه يـې پـښت pašt ده.

ددغـه ويـې تـاريخي ګړدودي بـڼې دادي:

pašt>pašt>pax̌t>paxt

ګ. مورګنسـيرنې د pašt ويـی لـه اوېسـتا paršta"شـا، پـښت، " سـره اړونـد وي چـې سانسـكرېټ انـډول يـې پرشـتهه Pṛstha"شـا" راځي چـې د دواړو څرمـه مانـاوې "ستونځ يـا د غـره څوكـه top، لوړوالـی height" دي. مارګنستيرنې د همدغې وروسـتنۍ مانـا لـه مخـې پښتانـه "غرنـي وګړي (The hill people)" مانا كړي دي، ډېر پښتانه د پارسي "پشته" پښتو بڼه " پښتـه" د غونـډۍ لپـاره هـم كـار وي. او بلـه مانـا يـې تـرې "غـوره، زبـر Prominent ones" مانـا اخيسـتې ده [پـه دې اړه دې پخپلـه د اسـتاد څرګندونې ته هم مخه وشي : EVP ۶۱ مخ].

پـه دې ډول د بـاوري اتيمولوجيـو پـر بنسـټ نـه يـوازې دا چـې د پښتنـو او سـاكانو نيكونـه سـره نـژدې خپلـوان وو، بلكـې لـه دې راز ويپونـو څخـه غـورې ژبپوهنيزې پـايلې هـم لاسـته راځي. پښتنـو سـاكان "سـكه ورونـه" بلـل ...

## ۵-۳: پښتانه د اسلام پـه درشـل كـې:

لكـه څنګه چـې تـاريخونو را اخيسـتي، د يپتلانـو د سـترې تولواكمنـۍ (۴۲۵-۵۶۶ ز) تـر ړنګېدو وروسـته پـه شـمال كـې د توركـانو سـيمه يـيزې خانخانـۍ را منځتـه شوې او پـه سـويل لويديـز كـې ساسـاني ښكيـلاك خپلـې جـرړې را وغځولـې، مـګر سـوېل ختـيزې، منځنـۍ او د كـابل پـه ګډون تـر اباسـينه پـورې د كوشـنيو كوشـانيانو (كيداريـانو) او بيـا د يپتلانـو پـاتې شـونو واكمنـۍ تـر ۲۵۸ ل (ش هـ) پـورې پـاتې وې چـې د كابلسـتان تـر نامـه لاتـدې پخپلـه د

افغـاني صفاريـانو لـه خـوا لـه پښتو و غـورځېدې.[1] پـه کابلسـتان کـې سـوېلي افغانسـتان ان تـر هنـدي بريدونـو د ننـه تيکـاو درلـود او پـه هېلمنـد او غـور کـې سـيمه يـيزو حکومتونـو تـر ساسـاني واکمنـۍ لـه کابلسـتان سـره زياتـه اړونـدي ښوولـه او رادېخـوا تـه هـم ټول سـيمه يـيز حکومتونـه، خانخانـۍ او ټبـر واکـۍ ور پـورې تړلـې وې. نـو پـه دې لـړ کـې د غـور پـه ګډون چـې تـر ټولواکمنـي پـېر (۱۱۴۸- ۱۲۱۴ ز) لـه مخه او را وروسته يـې خپلـه سيمه واکي او کـور واکي درلـود لـې ده او تـر اوسـه يـې زوی زات ځانونـه پښتانـه "کـاکړ" بولـي، د کسـې دواړو شـمالي او سـوېلي لمنـو تـه نـورې ټولـې پښتني ټبرواکـۍ بيـا لـه غـوري مرغـې او ارغسـتان (پخوانـۍ اراکوزيـا) نيولـې د اباسـين تـر وروسـتيو ورشـوو او نـورو پرتـو پښتنـو پرګنـو، ان د نـوي افغانسـتان تـر منځتـه را تـګه پـورې همداسـې خپلـواك دريځونـه ټينـګ سـاتلي وو. غبـار افغانسـتان بـه يـك نظـر ۸۸-۹۰ او ۱۲۳ – ۱۲۶ مخونـه، دغـه راز پـه دغـه او نـورو اړونـدو څېړکـو کـې ورتـه سـکالووې).

## ۴-۵ : يوازينـي ملـی دولـت او کنفدراسـي د پښتنو يو بشـپړتيايي پـړاو:

**۵-۴-۱** : د پرمختـايي او بشـپړتيايي آر لـه مخـې هيـڅ يـوه ټولنـيزه پـېښه او پديـده نـابېره نـه را منځتـه کـېږي او پـه دې لـړ کـې لـه بېلابېلـو سـيمه يـيزو ځواکمنځيـو (ټبرواکيـو) څخـه يـوه يوازينـۍ دولتـي او ټبرنـي کنفدراسـي بشـپړتيايي پـړاو تـه د پښتنـو را ګډېدل هـم د کومـې نـابېرې (تصـادف) زېږنـده نـه بلـل کـېږي، لکـه څنـګه چـې د نـړۍ ټول يـاد هېوادونـه او ولسـونه هـم پـه همـدې تـوګه اوسـنيو ملـی او دولتـي اډانـو تـه را لـوړ شـوي دي.

دا سـمه ده، لکـه چـې لـه مخـه ورتـه نغوتـې وشـوې، تـر مخـه هـم پښتنـو د غـوري، لـودي او سـوري ټولواکمنيـو پـه نومونـو دوه درې ځلـه

---

۱ – ظفر کاکاخېل (۳۳۲ مخ) په صفاري لښکرو کې د پښتنو ګډون هم يادوي.

دغـه پرمختـايي پړاوونــه وهلـي وو، خـو د خپلـو سـاکي نيکونـو او بيـا کوشـاني او يپتلـي تربورانـو پـه ځېر بيرتـه را پـر شـا شـوي او تېـر واکيـو او خانخـاني نظـامونو او لاان کـوچيتـوب تـه را سـتانه شـوي دي. مـګر د اوسـني افغـاني دولـت تـر بنسـټ ايښوونـې را وروسـته لـه ټولـو لـوړو ځوړو سره سره همداسي شا تـګ نـه منونکـي پـاتې شـوي دي، کـه نـه لـه پورتنيـو دروګونـو ټولواکمنيـو پرتـه لـه ۱۷۰۹ ز تـر ۱۷۳۷ ز پـورې د هوتکيـانو ټولواکمنـي هـم را منځتـه شـوې وه، خـو لـس يوولـس کالـه افشـاري ايرانـي ښکـېلاك پـه منـځ کـې لارغـه (وقفـه) راوسـته او تـاريخوال يـې هـم لـه دې پلـوه د اوسـني افغـاني دولـت تـرا ډانـې بـهره ګڼي چې د کـابل او شـمال پـه ګډون نـورې کښتنـی سيمې يې پـه ولکـه کې نه راتلې، بلکې ټول زور يـې د لويديـځ خـوا تـه و.

کـوم ملـی - سياسـي غورځنګونـه چـې پـه شپاړسـمه پـېړۍ کـې د بايزيد روښان او په اوولسـمه پـېړۍ کې د خوشـال خـان ختـك پـه مشـرۍ د مغولـي ښکـېلاك پـه وړانـدې را منځتـه شـوی وو، بـې لـه شـکه د هوتکـي او بيـا ابدالـي دولـت لپـاره ړومبنـي بنسـټونه ګڼل کـېدل. احمـد شـاه بابـا د نـوي افغـاني دولـت د بنسـټوال پـه تـوګه لـه هغـو ړومبنيـو بنسـټونو څخـه پـه ګټه اخېسـتنه پـه دې هـم بريـالی شـو چـې د ټولـو پښتنـو او ان نـاپښتنـو ټبرونـو کنفدراسـي (Confederacy) خپـل بشپړتيا يي پړاو ته ورسوي. ناويلې دې پاتې نـه شي چې پـه پنځلسـمه پـېړۍ کې د شيخ ملي لـه خـوا پـر کـار اچـول شـوی ځمکـو ېش چـې د ځمکواکـۍ (فيوډالـيزم) پـه وړانـدې را پيـل شـوی و او لـه انګريـزي فشـار سره سره يې تر اوسه لا نـښې نښانې را پـاتې دي، د پښتنـو پـه دغـه لوړتيـا يـې بـهير کـې زياتـه ونـډه اخيسـتې وه. څکـه پـر يوسـفر يـو سـربېره پکـې نـور ډېر ګاونـډي ټبرونـه هـم را ګډ شـوي او لـه پـاړکيز (طبقـاتي) پلـوه خـو بيـا تـر ابدالـي "مرکـزي ځمکواکـي دولـت" هـم يـوه زياتـه پـر مختللې ښکـارنده ارزول کـېدای شـي. دغـه ځمکـو ېش دومـره نوم پيـدا کـړی چـې ان فريدريـښ انګلـز د خپلـو مخالفـانو د بسـيا کولـو

لپاره د یوې ژوندی بېلګې په توګه وړاندې کاوه. (روهی ۱۴۷ مخ) په شیخ ملی پسې روښانی ضد فیودالی غورځنګ هم د پښتنو یو ټولنیز ډینامیزم بلل کېږي.

د احمدشاه بابا له خوا د کنفدراسي او یو موټی ځمکواکي دولت له بنسټ ایښوونې سره پتلیز د افغان" ملت Nation د رغښت خښته هم کېښېښوول شوه، خو دا په دې مانا نه چې یوازې پښتنو په یوازینۍ توګه دغې پوړۍ ته لوړتیا موندله، بلکې پښتانه د افغان ملت یو رغنده توك وګرځېد. یا په بله وینا له نورو توکمونو او ژبنیو ډلو سره یې په ګډه یو "ملت" را منځته کړ، نو که څوك یوازې پښتنو ته "پښتون ملت" ووایي، سمه به نه وي. دا بېله خبره ده چې له تاریخي پلوه پښتون او افغان سره همانیز راغلي دي او یا دا چې ددغه ګډ ملت بشپړ ډېری (مطلق اکثریت) یې جوړ کړی دی. زموږ خپله دودیزه نومونه (اصطلاح) پښتون ولس" یا "پښتني ټولنه" د اروپایي نومونې" Pashtun society" د اندول په توګه بیا دومره له کومې نیوکې سره نه مخامخېږي.

**۵-۴-۲**: دا به هم ډېره بې نیاوې وي چې ووایو، یو موټی مرکزي افغان دولت" د امیر عبدالرحمان خان له خوا رښتیاینه موندلې. (رسول امین تعصبها خطری به تمامیت افغانستان ۱۳ مخ) زما په اند دغه ستر تاریخي ویاړ تر دغه زور واك واکمن څخه نژدې یوه نیمه پېړۍ له مخه د لوی احمد شاه په برخه شوی دی. په دغه اړه چې کومې بریاوې هغه ستر انسان د پوهې او تدبیر له لارې دوې نیمې پېړۍ مخکې لاسته راوړې دي، په رښتیا سره ساری نه لري، له دې ټولو سره سره هغه د افغان ولس د ارادې یو ځلندویه اورګان "لویې جرګې" واك او ځواك ته رسولی و. حال دا چې امیر عبد الرحمان خان د زور او چل ول له لارې، هغه هم د ملي واکمنۍ، خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا په بیه واکمنۍ یا په سمه نومونه، زورواکۍ ته رسیدلی و او د خپل ټینګښت او پایښت لپاره یې پر

تـــاريخي دښمـــن ډېره لګولـــې وه. د تـــاريخي افغـــان دښمـــن د ټولـــو نیواکګرانه شـرایطو پـه وړانـدې یـې همـدا یـو ځانګړی شـرط ور مختـه کـړی و چـې د یـوه زور واك پـه تـوګه یـې د شـاه شـجاع پـه څېر ملاتـړ وکـړي او کورنـي د ښنـه یـا پـه رښتنـي جـاج تـرې خپـل تـر بـوران او انګريـز ضـد ملـی اتـلان او جنګيـالان دفـع کـړي. پـه سـیمه یـیزو ځواکمنځيـو او ټبرواکيـو کـې یـې یـوازې هماغـه انګریـزي ضـد ملـی اتلان لـه منځه وړل چـې د محمـد جـان خـان وردګ پـه څېر يـې ورسـره نـه پخلاکېدونکـې جنـګ جـګړه پـر مـخ وړه، دا خـو پـر ځای پـرېږده چـې د هېواد او ولـس یـو بـدن یـې لـه هماغـه تـاريخي دښنـه سـره سـم نیـم ووېشـه او لـه دې ملـي خيـانت سـره یـې یـو تلپـاتې کـړاو را پـه برخـه کـړ. کـه رښتیـا هـم دغـه امیر کومـه مثبتـه تـاريخي بريـا افغـاني ټولنـې تـه پـه يـاد ګار پـرې ایښی وای، پکـار وه چـې دغـې ټولنـې ورسـره د ډيورنـډ را تپـل شـوې کرښه هـم منلـی وای.

۵-۴-۳: پښتنـې پـر ګنـې کـه هـر څومـره د کورنیـو او بـهرنیو لـه لاسـه لـه پوهـې او تمدنـه لـرې سـاتل شـوي، خـو سیاسـي پوهـه او اګاهـي یـې دومـره ده چـې رښتینـی ملـي، امرلـي دولتونـه او حکومتونـه لـه زورواکـي او خپلسـري هغـو سـره پـه پـوره تـوګه تـوپـېرولای شـي. دا څه هېښنـده نـه ده چـې د پکتیـا، خوسـت او پکتیکـا او ان تـر راتپلـې پولـې اخـوا سـوېلی پښتنـو تـر داودي جمـهوریت پـورې ټولـو چـارواکو او کارمندانو، سر تـېرو اوسـپایانو تـه لـه خنـدي څخـه "پاینده کـول" وايـه، ځکـه د هغـو پـه وړانـدې تـر ابدالـي واکمنـانو را وروسـته ټول خپلسـري او زورواك بـرېښېدل. پـاتې لا د عبـد الرحمـان خـان غونـدې ظـالم چـې هېڅ قـوم وقبیلـه يـې لـه ګوزاره بچ پاتې شوې نـه وه. کلـه چـې د چـا خـبره "د کـابل کمونیسـتي انقلابـې حکومـت" د قبـایلو وزیـر "فیـض محمـد مسـید" د پکتیـا ځدرانـو سـپینږیرو او مخـورو تـه ورغلـی و او تـرې یـې پوښتلی وو چـې ولـې یـې حکومـت نـه منـي، هغـوی ور غـبرګه کـړې وه:

"کوم حکومت؟ مور، خو نه جوړ کړی او نه یې خپل حکومت ګڼو!"

ان د داود خان جمهوریت د خپلو کندهاري سردارانو له خوا د دولت او حکومت په توګه ونه پېژندل شو، پاتې لا د نورو پښتنو اونا پښتنو له خوا، هماغه وه چې د نړیوال اخوانیزم او نړیوال پرولتاریزم استازیو ته یې پلمه برابره کړه، خو تر لومړیو، وروستي هغه له مخه پر افغان ولس را وتپل شول. دا چې رنګوونکي واك او ځواك د کومو زیات پیاوړی او هر اړخیز و، د لمر غوندې ټولو هېوادوالو او نړیوالو ته ښکاره ده، دا به دلته سم له لاسه تاریخ ته پرېږدو چې د کمونېستي او اخواني دواړو ناورینونو رښتیني اور لګوونکي او بیا ملاتړي روسان وو که امریکاییان!

**۵-۵ : د "پښتون" څرمه نومونه: افغان – اوغان – روهي- روهیلی – روهیله – سلیماني – پټهان...**

**۵-۵-۱** : دا یو ټولیز نړیوال دود دی چې هر ولس او هېواد د آر کورني نامه تر څنګه یو یا څو څرمه نومونه هم لري چې په بېلا بېلو مهالپېرونو کې پرې د نورو له خوا ایښوول شوي وي. که څه هم اړینه نه ده، هغه څرمه نوم یا نومونه له آر کورني نامه سره جولیز یا مانیز اړیکي ولري. بلکې کېدای شي، د هماغو نوموونکیو له لید توګې یې آره اخیستې وي. لکه واخلې المانان چې آر کورني نوم یې Deutsche (دایچ) دی، فرانسیان Alemand (المان) بولي، انګرېزان یې German (جرمن) او روسان یې نیمېسکي "ګونګیان" او داسې نور.

همداسې یې ور سره ژبه او هېواد هم په اړوندو همرېښه نومونو یادوي او همدا راز له یوه څرمه نامه "پټهان" له"پښتون": "پښتو" او "پښتونخوا" سره ګډه آره او رېښه لري، خو له درو نورو څرمه نومونو سره یوازې د جاج او مانا (مفهوم و مانا) له پلوه اړوندي درلودای شي.

۵-۵-۲: کـه د اسـتاد مـورگن سـتیرني (EVP، ۶۰ مـخ) لـه دوو اتیمولوجیکـو شـننو څخـه یـوه دا را واخلـو چـې د "پښتـون" مانـا تـرې "غرنـی" راوځي او "افغـان" هـم د بېلـو (تـرې ۵۴ مـخ) د شـننې لـه مخـې په ورتـه مانـا "غرنـی" واخلـو، نـو "روهـي" د هنـدي روهيلـه تـر څنگه لـه روه څخـه جوړ شوی ستاينوم دي چـې خوشـال خـان پـه خپلـو شـعرونو کـې کـارولی دی او پـه جوتـه تـوگه يـې د - ي روسـتاړی ور پـورې نښلولـی دی. د دوست شـينواي (پښتانـه څوك دي؟ ۶۰ مـخ) د اخـځ لـه مخـې پـه يـوه سـوېل لويديـز پنجـابي گړدود او د ډېرو پـه بلـوڅي گړدودو (حبيبـي، تلوسـه ۲۰ مـخ) کـې روه " غـره" تـه وايـي او پـه سانسکرېټ کـې هـم روهتـي rohati "پـر لـوړه خـېژی" مانـا ښنـدي. د روه پـه اړه بشـپړې څرگندونـې، تـرې ۲۱۵ – ۲۱۸ او ۲۲۹ – ۲۳۰ مـخ) پـاتې شـو "سليماني؛ چـې بيـا هـم، څرمـه مانـا يـې لـه "غـره" سـره اړونـدي پېدا کـوي. هنديـانو هـم هرومـرو د "روهـي" پـه نومونـه کـې لـه همدغـو سـليمان غرونـو څخـه االـهام اخيسـتی چـې د الفنسـتن د څرگندونـې پـر بنسـټ د هندوسـتان تـر هـوارو ورشـوو پـورې ور غځېدلي ټول سوېل ختيځ غرونـه د سليمان پـه غرنـۍ لړۍ کـې شـمېرل کـېږي (الفنسـتن ۱۳-۱۵ مـخ) او شـمال لويديـځ تـه يـې بـې لـه هغـې غرنـۍ لـړۍ تـر کشـميره رسـي. د "روهـي" تـر څنـگه "روهيلـی" او "روهيلـه" هـم د "روه" لـه نيـم هنـدي - نيـم پښتـو لـه بېلنگونـو څخـه گڼل کـېږي او دا چـې پښتنـو شـاعرانو يـوازې "روه" لـه "روهيسـتان" سـره هـم همهـانيز کـارولی، څه نـا څه هېښنـده بـرېښي. پـه يـوه ځاينـوم رو هيلکند کـې ورسـره بيـا هماغـه سـاکي او سـوغدي کنت "ښار" راغلـی، لکـه څنگه يـې چـې د سـاکي - پښتـو د ويـيزې (لغـوي) پرتلـې پـه اړه پـه (۴-۵) کـې شـننه شـوې ده. (تـرې ۲۱۵-۲۱۸ مـخ) د پښتنـو د غرنـي والـي سـتاينگ ښايـي لـه لومـړي انگيرلـی غرنـي ټاټوبـي "پـامير" را وروسـته را منځتـه شـوی وي چـې لومـړی يـې د بـاختر، بيـا د مرغـاب لـه هـواری ورشـو او وربسـې لـه سيسـتان او

هېلمند دښتو او جلګو او په دويم پړاو کې له غور و غرج او کسي غرونو څخه د هند هوارو او سمسورو ورشوو ته له ورشيوه کيدو سره رښتيايښه موندلې ده.

**۵-۵-۳**: د "پټهان" سپيناوی خو مورګنستيرنې کړی چې د "پښتانه" هندي وينګ دی" نه له عبری- عربي" "بتن" يا "بيتهنی" سره اړه لري او نه له پارسيانو سره چې دوست شينواري د اېبتسن Ebetson له مخې ورته اړيکې ورکړی دی. (پښتانه څوك دی؟ **۵۳-۵۵** مخ).

په هر ډول "پښتون" له دوه ګونو ژبپوهنيزو شننو له مخې چې پروفيسور مورګنستيرنې (هماغه پاسنی اخځ) کېدونې (ممکنې) بللي - له "پارسا" او "پرشته" سره تر نورو څرمو نومو هم آر دی او هم لرغونی. پټان "پټهان" دپښتانه (Paštāna) د اوښتي (يا ډېرګړي) بڼې په توګه په منځني ژبپېر (۳ مخز پېړدي - ۷ زېږدي) کې هندي، هغه هم شمال لويديز پراکرېټ ته ورغلی او اداپټ شوی دی او ډېر کېدون لري چې دا بل سوچه هندي آری نوم روهي له نورو بېلنګونو (مشتقاتو) سره هم په همدغه پراکرېټي يا منځني ژبپېر کې وړاندې يا وروسته دود موندلی وي. (مورګنستيرنې(VP۶٤، مخ همدارنګه ۴-۲-۱).

**۵-۵-۴**: که په ناشوني اټکل (فرض محال) د يوناني او هندي پکت او پکهت... چې له ژبپوهنيز پلوه يې له پښتون سره اړيکې ناسم زبات شوی، بيا هم تر زاړه ترين څرمه نوم "افغان" زياته مخينه درلودای شي، هر ګوره له "پښتون" سره د "پارسا" او "پرشت" د اړوندې پر بنسټ د مخينې سيالي نشي کولای. که رښتيا هم اړوند اټکلي هندي نوم په ځانته ډول هم له "پښتون سره اړخ لګولای، نو دا کېدون هم را منځته کېدای شو. چې هماغه نوم به هنديانو تر اوسه راتينګ کړی وای او روهي او پټهان ته به يې هډو اړتيا نه وای پاتې شوی! يا که لږ تر لږه اوه ګانه (Avagana) هغې خوا ته د شپږمې

زېږدي پېړۍ په سر کې دود درلودلای. لکه څنګه چې "ورها میهیرا Varha Mihira" هندي ستور پوه یې له یادوونکیو څخه ګڼل کېږي. (دوست، هماغه اخځ ۴۲ مخ او تېرې، پښتانه ۵۴ مخ) هم ښایي هغې خوا ته تر اوسه ژوندی پاتې وای، حال دا چې "افغان" او "افغانستان" متې اوس اوس په هندي (او پاکستاني، بنګله دیشي، سریلانکایي....) رسنیو کې دود موندلی دی چې هغه هم یوازې له پښتون او پښتونخوا سره په هماغه پخواني جاج نه اخیستل کېږي. هر ګوره عام وګړي یې بیا هم پښتون پټان بولي او لوستي یې بیا په ټولیز ډول هر افغان ته که پښتون دی، که نا پښتون، کابلي والا او یا کابلي وایي"

بیا همداسې که په اوومه زېږدي پېړۍ کې هیونځن O-Po-kien (او-پو-کین) "افغان" ته ویلی وي، په کار وه چې چینیانو مونږ هم همداسي بللای، حال دا چې هغوی "افغانستان" "یېشی" بولي او افغان ته هم ښایي همداسې ورته نومونه ولري. داسې برېښي چې "افغان" تر ټولو وروستی او عربي شوي (معربه) بڼه وي.

**۵-۵-۵**: له دې ټولو سره سره داسې برېښي چې افغان تر ټولو مخکې د پارسیانو له خوا د پښتون لپاره د یوه ستاینوم (صفت) په توګه را منځته شوی او باوري لاسوند یې هم په پخواني هخامنشي پلازمېنه "پرزی پولیس (تخت جمشید)" کې د ساساني ټولواك لومړي شاهپور (۲۷۳ ز مړ) د مړستون "کعبه زردشت" ډبر لیك دی. په دغه ډبرلیك کې چې په پارتي (پهلوي یا منځني پارسي) او یوناني لیك کښل شوی، د "ابه ګان" یا "ابګان" نوم یاد شوی او ډېر ختیځپوهان تر مورګنستیرنی پورې دغه نوم، لکه هندي "اوه ګانه Avagana) او چیني O-Po-kien (او – پو – کین) " له "افغان" سره تړي چې تر درېمې زېږدي پېړۍ پورې یې مخینه پر شا ځي. همدا راز وایي چې د ستر ساساني ټولواك درېم شاهپور (۳۰۹-۳۷۹ ز) ستاینوم هم "اپاکان " و چې بیا هم مخني ؛"ابګان" سره سمون

خوري. د فردوسي په شاهنامه کې د "افغان" تر څنګه "آوګان" هم راغلی او دغه وروستی بڼه بیا "اوکان" ته نژدې برېښي چې د اپاکان یا اپه کان تر څنګه یې په ساساني واکمنې پېر کې څرك لګېږي.

اروا ښاد علامه حبیبي (تلوسه ۱۱ مخ) د یوه "بوستي" نومي الماني لیکوال د اخځ له مخې لیکي چې د "اوه –" آره او ستایي ده چې "مهربان، لاسنیوونکی" مانا لري او "کان" یا "ګان" خو یې په هره توګه ډېر ګړي روستاړي ګڼل کېدای شي. ځکه فردوسي ځانته "آوه" هم کارولی دی. (تلوسه ۱۳ مخ)ا لهام ابګان د ابګ (بې خدایه، بېدینه) ډېرګړي بولي، مانا دا چې د لومړي داریوش د وینا له مخې دغه خلکو اهورا نه پرښته او "بېدینه" وو. بګ (=خدای) د سر الف یې یو "الف، نېګتیوم" دی (د پوهاند الهام ګړنې څرګندونه).

له یوه پارسي ویي افغان (فغان) سره زموږ د افغان همجولیزوالی هسې یو برابری دی چې په ویي پوهنه او مانا پوهنه کې داسې ویونو ته "ټکروییونه accidental words) وایي. د تام تجنیس په توګه شاعرانو له دغو دوو ویونو هم کار اخیستی دی.

۵-۵-۶: پوهاند تږی (پښتانه ۵۶ مخ) په اسلامي پېر کې د "افغان" مخینه لږ تر لږه یوه زرې پر شاوړي چې لومړی ځل په همدغه بڼه حدود العالم (د ۹۸۲ ز لیکنه) را خوندي کړی دی.

را وروسته "تاریخ یمني" څو واری را اخیستی او په نورو اثارو لکه، "طبقات ناصري"، "تاریخ ګزیده" او "فرشته" کې "افغان" او افغاني یا اوغاني قبایل په وارو وارو یاد شوي دي. (حبیبي تلوسه ۱۷ مخ).

خو لکه څنګه چې ښاغلي تږي ورته د پورتنیو څرګندونو په پای کې نغوته کړې، د "افغان" په پرتله په اسلامي اثارو کې "پښتون" نوم ډېر وروسته کېښل شوی دی، هغه هم په ناپښتو یا په بله وینا په هغو کې چې د پښتنو له خوا نه دي لیکل شوي. په دې توګه دا خون درویزه ننګرهاری "مخزن الاسلام" (۱۶۰۳ او ۱۶۱۲ ز کلونو تر

منځ) د پښتو او پښتنو نومونو د یادونې له پلوه سم له لاسه لومړی اثر برېښي مانا دا چې پښتنو تل خپل ځانونه له پخوا څخه پښتانه بللي او نورو افغانان بللي دي. په دې کې هم اړنګ نشته چې پښتو کلاسیکو شاعرانو او لیکوالو د پارسیوانو او نورو ناپښتنو په پېښو "پښتون" او "افغان" سره هممانیز کارولی دی. په همدې ډول زیاترو ختیځپوهانو هم دواړه نومونه په یوه جاج را اخیستي دي او را وروسته چې "افغان" د هر پښتون او ناپښتون لپاره د یو راز هېوادني او ولسي وکر (ملي هویت) ښکارندوی شوی دی، نو د پښتون او افغان ترمنځ توپیر ته هم اړتیا پیدا شوې ده، د پوهاند تړي (هماغه اثر ۵۷ مخ) دا خبره خورا په زړه پورې ده چې داحمد شاه بابا له خوا د افغانستان په نامه د را منځته کړي نوي افغاني دولت (۱۷۴۷ز) له مخه ان په څوارلسمه او پنځلسمه زېږدي پېړۍ کې زموږ د هېواد ناپښتانه، لکه تورك و مغول یا هزاره هم "افغانان" بلل شوي او د "افغاني مغول" او "افغاني تورکان" او "افغاني هزاره" په نومونو یاد شوي دي.

**۵-۶: د سلیمان او سلیماني اره او ریښه:**

**۵-۶-۱**: د پښتنو د نورو څرمه نومونو یا ستاینو مونو په لړ کې "سلیماني" دا هم د پوره پام وړ دی چې هغه هم ورته د عربو له خوا ورکړ شوی برېښي او نور یې هیڅوك په دغه نامه نه یادوي. دلته تر هر څه له مخه دا پوښتنه را مخته کېږي چې ایا پښتانه له سلیمان غره سره د اړوندتیا (انتساب) له مخې په دغه نامه نومول شوي او یا په سرچپه ډول، غر ددوی په یوه مخکیني څرمه نامه "سلیماني" "سلیمان غر" نومول شوی دی؟ (دوست، افغانستان په اوېستا کې ۲۷-۲۸ مخ).

که لومړی کېدون را واخلو، نو ربړه یو څه اسانتیا مومي او که دویم دا تر پاملرنې لاندې ونیسو، نو بیا خبره د پښتنو د اسرائیلي تابه له افسانې سره تړاو پیدا کوي، یا په بله وینا ددغه الواك

پلویانو ته یو بل لاسوند پر لاس ورځي چې کـه پښتانـه د داود (علیـه السـلام) لـه زوی زا تـه نـه وای، ولـی بـه کسـې غـره تـه تـر ورسـېدو لـه مخه سلیماني یا سلیمانیان بلل کېدل. بـل خـوا هـم داسـې بریښي چې دغه غر هم د نـورو لـه خـوا د همـدوی پـه نامـه نومـول شـوی دی، کـه نـه پخپلـه پښتانـه یې تر اوسـه "د کسـې غـر" بولـي" څه بـه ورسې دېته چې پخپلـه خپـل ځانونـه "سـلیماني" وبولـي یـا بللي اوسي! الفنسـتن هـم دې خـبرې تـه ګوتـه نیسـي او وایـي: دا جوتـه نـه ده چـې عربان ولې دوی سلیماني بولي، البتـه پـه دې چې پـه سلیمان غـرو کـې اوسـي یـا اوسـېدل، (دوسـت : افغانسـتان پـه اوېسـتا کـې ۲۷ مـخ) خـو لـه بلـه پلـوه دا هـم پـوره ښکـاره ده چې د پښتنـو "د اسـراییلي والـي ډمامـه" د شپارسـمې پېړۍ، یـا پـه بلـه وینـا د ابوالفضـل "ائیـن اکـبری" د لیکلـو تـر نـېټې (۱۵۹۷ -۱۵۹۸ ز ) پـر شـانه ځي او کـېداې شـي چې تر مخـه بـه یې پـه پښتنني انګېرنـو کـې هـم دومـره پـدل نـه و خپـور شـوی، حـال دا چـې د اسـتاد مورګنسـتیرنې د (۱۹۷۵) کـال د لیکنـې او ژبپوهنیزې شننې لـه مخې پـه کسـې (سـلیمان ) غـره کـې د پښتنـو مېشـتېدنه تـر دوو زریـو هـم ور اوړي، پـه تـېره د همداسـې زاړه پښتـو ګړ دود (وڼېڅی یـا ترینـو) د لاسـوند پـر بنسـټ چـې ان د لومړنـي انګېرلـي تاتوبـي (پـامیر) تـر مهالـه پـر شـا ځي. (پـر مورګنسـتیرني سـربېره) د تـړې د "پښتانـه" لومړنـي مخونـه او د سـید طیـب جـواد اړونـده څرګندونـه، روشـنی مجلـه ۵۰۶ ګڼه ۱۰ مـخ، ګیوتینـګن ۱۹۹۸ ) دا چـې ولـې یـوازې عـرب پښتانـه او بیـا ټول افغانـان "سـلیماني" بولـي، پـه دې مانـا نـه ده چـې هغـوی دې هـم پښتانـه د اسـلامي پـېر لـه همـا غـو لومړیـو وختـو راهیسـې د بنـي اسـرائیلي افسـانې لـه مخې داسـې نومولـي وي، بلکـې همـدا چـې پښتانـه تـر مسـلمانېدو وروسـته حـج تـه ورغلـي، نـو د سـلیمان غـره د اسـتوګنو پـه توګه یې پرې دا نـوم ایښی دی، کـه نـه پـه کـوم پخوانـي عربـي لیکلـي

لاسوند کې به یې را خوندي کړی وای، لکه څنګه چې په یهودي اثارو کې هم داسې کومه یادونه راغلې نه ده.

په دغه اړه د ځینو لیکوالو لکه ابوالخیر ځلاند (۴۱ مخ) دا افسانه را اخلو: "دا غر کوه سلیمان ځکه بولي چې حضرت سلیمان (ع) پر خپل هوایي تخت باندې ناست د خپلې بي بي ملکه یا بلقیس په ملتیا له دې غره څخه تېرېدی، نوي تخت دملکې په خواهش ددې غره پر یوه برخه باندې کېښته کړی و چې د خپل هېواد ننداره ترې وکړي، ځکه هغه له اره هندۍ وه. په دې توګه هغه برخه تخت سلیمان او بیا ټول غر سلیمان غر وبلل شو. ځایي خلك ورته د کسې یا کېسا غر ځکه وایي چې د پښتنو یو روایتی نیکه قیس، کیس د همدې غره اوسېدونکی و او یا هم کېدای شي له کاسی تېر سره تړاو ولري...."

۵-۶-۲: دلته په کار ده، ددغه نامه "سلیمان" اره په اریاني اتېمولوجی کې وپلټل شي:

دوست شینواری (افغانستان په اوېستا کې ۲۱-۲۸ مخ) دا سلیمان له عبري - عربي "سلیمان" سره نه تړي، بلکې له ساکي "سریمن" یا "سریمان" او اوستا "سیریم" پهلوي، "سرم" او د شهنامې له "سلم" سره یې همآری ګڼي او زیاتوي چې په اریاني مېتولوجی کې سلم (slam) د فریدون د مشر زوی نوم و او هماغه سلم ترې موخه ده چې د ناسکه ورور ایرج په وژاندې یې له درېم ورور (تور) یا "توران" سره ټلواله (ایتلاف) جوړ کړی و او ساکانو ته له همدې کبله "توران او تورانیان" هم ویل شوي دي. دغه لیکوال "سلم" او "تور" د پښتنې ټولنې له رغنده توکو "متشکله عناصرو" څخه انګېري او توران او ساکان سره هم په یوه مانا را اخلي. دغه راز دغه اټکل هم را خپلوي چې کېدای شي، دغه سلیمان له سرمات sarmat او سورو مات (suromat) څخه اره اخیستې وي. سرمات یا سرمت د تاریخي لاسوندو له مخې د ځولرغونو کوچیو تېرونو د

تلوالـې (اتحـادي) نـوم و چـې پـه ۶-۴ ز پېړيـو کـې د توبـول (Tobol) او والـګا (Volga) د سـيندونو تـر منـځه مېشـته وو. او سـورمات هغـه کـوچـی ټبـر و چـې د سـکيتيانو (سـاکانو) خپلـوان وو او د سـرمات د تلوالـې غـړي او د اورال او والـګا پـه شـاوخوا دښتـو کـې اوسـېدل (د دوسـت هماغــه اثـر **۲۵** مـخ) پـايليك - د شـوروی انسـايکلو پيـدي قـاموس پر بنسـټ).

اروا ښاد دوسـت د مومنـدو خـوا تـه نومـاند غـر "شـلمان" او سـليمانخېل ټبـر هـم لـه سـليمان سـره همـاري ښوولـی، خـو ښايـي د وزيرسـتان "شـوال" او داسـې نـور ور سـره هـم اړونـدي ولـري. (دوسـت پاسـنی کتـاب **۲۷** مـخ) دا هـم پـه زړه پـوري ده چـې د پکتيکـا ولايـت سـليمانخيل بيـا د سـليمان غـره پـه لمنـو کـې استوګن دي او دغـه راز د حدود العـالم "سول" (تـړی **۶۶** مـخ) هـم دلتـه بـې اړيکـي نـه بـرېښي چـې د پکتيـا خوا تـه يـې ټيکـاو درلـود:

"د سـول پـه غـره کـې يـو ابـادکلی دی او افغانـان پکـې هسـت دي" پـه **۱۱۴** مخ کې بيـا دا هـم وايـي: " چـې دا بـه د اوسـني شـمل د سـيمې يـوه ابـادي وي چـې اړونـد سـيند يـې هـم شـمل نومـېږي".

## ۵-۷: د افغانسـتان او پښتونخـوا نومونـه:

**۵-۷-۱**: هماغسـی چـې "پښتـون" د نـورو لـه خـوا "افغـان" بلـل شـوی، دغسـې يـې هـېواد "پښتونخـوا" هـم د نـورو لـه خـوا "افغانسـتان" بلـل شـوی دی، نـور ځرمـه نومونـه يـې، لکـه روه او داسـې نـور خـو د تـاريخ پـه يـوه ټاکلي پـېر کـې د هنديـانو لـه خـوا را منځتـه شـوي او بيرتـه لـه منځه تللـي دي چـې لـه مخـه پـرې خـبرې وشـوې، مـګر "افغانسـتان" لـه هماغـه پيلـه تـر اوسـه پـه ټول زور و ځواك را پـاتې دی. پـه تـېره د نـوي افغـان دولـت لـه بنسـټ ايښوونـې (۱۷۴۷ ز) را هيسـې چـې ګرد سـره يـې پـه يـو نـوي او پـراخ جـاج پـر لـه پسـې او ځارتيـا (شـهرت) او برمتيـا مونـدلې او پـه دې تـوګه يـې ار پښتنـي نـوم "پښتونخـوا" همـاغو مـره تـر سـيوري لاندې راغلـی، لکـه پخپلـه "پښتـون" چـې د "افغـان" تـر اغـېز

لاندې تتوالي موندلي دي. ځکه پښتون تر بل هر هېواد وال د خپل ازاد، ملي، هېوادني وکر (هويت) د ښوونې لپاره تر پښتون اوپښتونخوا، افغان او افغانستان ته لومړی حق او ارزښت ورکوي او په دې ويارې چې په همدې وروستيو دوو نومونو په نړيواله ټولنه کې خپل دريځ جوت او څرګند وساتي، ان تر دې چې تر را تېلې ډېورنډ کرښې اخوا پښتانه هم په سر کارې پېژند پانوکې خپل وکر و بکر "افغان" ليکي او د اړوند ايالت لپاره د دوو وړاندې کړيو نومونو "پښتونستان" او "پښتونخوا" دريم بلونج (الترناتيف) نوم "افغانيه" هم لري و ډېر پلويان لري، "پټهانستان" بيا ښايي د پټهان له مخې پنجابيانو را منځته کړی وي او "روهېستان" هم پښتنو شاعرانو چې يو تازه بېلګه يې هم "پښتيانا" ده. "پښتونخوا" او "افغانستان" د پښتنو او افغانانو د هېوادني نومونو په توګه پخپله د پښتنو او افغان هومره مخينه نه لري. نو که د هېرودتس (۴۸۶-۴۲۶م ز) پکتويس او پکتويکې او ياهم د زړې هندۍ (سانسکرېټ) پکهت او پکتاس له ژبپوهنيز، يا په بله وينا اريانې فونولوجيکي اوښتون له پلوه له پښتون او پښتونخوا سره سمون درلودی وای، بيا نو د لاسن، جکس يا ګريرسن او بيا زمونږ د خپلو کورنيو پوهانو (استاد حبيبي، دوکتور تړي، کهزاد، دوست....) د پښتونخوا مخينه هم همدومره پر شا تلای شوه، خو له بده مرغه، لکه څنګه چې په تېر او همدې څېرکي او نورو برخو کې پرې رڼا اچول شوې، دغه مخينه زياتېدای نه شي او البته پخپله د پښتون او پښتو دا د نوموړي št<rs اوښتون پر بنسټ ان د هېردودت تر مهاله هم زياته پر شا تلای شي. (حبيبي، د پښتو ادبياتو تاريخ اړونده سکالو او پټه خزانه ۲۰۷-۲۰۹، تړي، پښتانه ۵۰-۵۲، کهزاد، تاريخ افغانستان ۹۱-۹۸، دوست، پښتانه څوك دي؟ ۳۳-۳۸ مخ) له دې کبله د "افغانستان" په څېر "پښتونخوا" هم تر اسلامي پېر را وروسته پلټل په کار دي.

ACKU

تـر کـوم ځایـه چـې د اسـتاد حبیبـي ۹تلوسـه ۱۷ مـخ) او دوکتـور تـږي (۲۲۱-۲۳۱ مـخ) لـه څېړنـو څخـه جوتـېږي، د "افغانسـتان" مخینـه تـر پښتونخـوا څه نـا څه دوی پـېړۍ زیاتـه ده او هغـه دا چـې "افغانسـتان" لومـړی ځل سـیفي هـروي پـر (۱۳۲۱ ز کـال) د هـرات پـه تاریخنامـه کـې یـاد کـړی او "پښتونخـوا" ړومبـی ځل اخـون درویزه ننګرهـاري پـه خپـل کتـاب مخـزن الاسـلام (د ۱۶۰۳-۱۶۱۲ ز کلـو تـر منـځ) کـارولې ده.

**۵-۷-۲**: دا جوتـه ده چـې د دوارو هېوادونـو نومونـو نومولـي (مسـماوې) تر یـوه وختـه څه نـا څه یـو راز پراختیـاوې درلودلـې او یـو راز یـې پراختیـا یـي پراوونـه وهلـي دي، خـو ورو ورو د افغانسـتان دا، پـر دې بلـی لـه مخـه شـوې او پـر ۱۷۴۷ ز کـال لـه دولتـي نومونـې سـره خپـل لوړترین بشـپړتیا یـي پړاو تـه رسـېدلې ده. اوسـنی را تراشـل شـو-ې بـڼه یـې د نولسـمي پـېړۍ لـه وروسـتی لسـیزې را هیسـې غـوره کـړې چـې همـمـهال یـې د ار پښتنـي – افغـاني ټاټوبـي لـه یـوې سـترې برخـې سـره میلونونـه اسـتوګن هم لـه لاسـه وتلـي دي. زمـوږ د پښتومتنپوهنـې سـر څېړانـد زلمـي هـېواد مـل د پوهـاند تـږي "پښتانـه" د سـریزې پـه وروسـتیو ۳-۴ مخونـو کـې لـه خپلـې ځانسـاتې لـوښې سـره سـم زړه نـازړه غوښتـي، د ښاغلـي تـږي یـوه نیمـه څرګندونـه، د چـا خـبره ور سمه کـړې او پـه دې لـړ کـې دا خـبره چـې د پښتنـو او پښتونخـوا نومونـه تـر اخـون درویزه لـه مخـه نـورو پښتنـو هـم کښلـی دي، پـه زغـرده نـه پـه ورګوتـه کـوي او لـه هغـو څخـه پښتونخـوا بیـا د ښکـارندوی پـه بولـله (۵۷۱ ل)، د سـلیمان مـاکو پـه تذکـره الاولیـاء (۶۱۲ ل)، د شـیخ کـته پـه "لرغونـي پښتانـه" او د بـا بـا هوتـك (۶۶۱ ل زوکـړی) پـه شـعر کـې پښتانـه او پښتونخـوا دواړه، خـو د اچـې پوهـاند تـږي لـه اړونـدو تذکـرو (تذکر ه الاولیـاء او پټي خزانې) څخـه پـه خپلـو ټولـو لیکنـو څېړنـو کـې د اخځونـو پـه تـوګه کلکـه ډډه کـړې نـو هـېواد مـل هـم تـش د پښتـون د یـادونې پـه اړه پـر ارزانـې او لـواني بـس راوړې دی. دوکتـور تـږي چـې

کله (۱۳۵۲ ل کال) د اوسني کتاب "پښتانه" يوه برخه د "پښتنو اجتماعي تاريخ" تر نامه لاندې د پوهنوالۍ لپاره په ادبياتو پوهنځي کې دفاع کوله، له ورته پوښتنو سره مخامخ شو، خو په خورا هوښيارانه توګه يې پوښتونکي غلي کړل. خو زه د "پښتانه" له ليکوال څخه په زغرده پوښتم چې ايا نومورې تذکرې د هغو تولو

ما ويليو تا ويليو، کيسو او افسانو هومره هم تش په يادولو نه ارزېدې يا لږ تر لږه يې يو رد هم پرې نه لوراوه؟ (۴-۳-۵)

که پوهاند تری "د پکتويس او پکتويکې" او داسې نورو شخړه ييزو او ناڅېپوهنيزو سکالوو په برخه کې استاد مورګنستيرنې تر سيده او ناسيده ګوتنيوی لاندی نيسي، نو د نومورو پښتو تذکرو او بيا پټې خزانې به برخه کې يې تش يو نوم هومره نه يادوي او بيا يې له وروستی الواك څخه هم ځان نه خبروي چې پر ۱۹۶۸ کال يې د ايټاليې ختيځپوهاند الېژاندرو بوساني د غبرګون په ترڅ کې د هغې په اړه ځرګند کړی و او له شل کلن زاړه الواك او ورمندانه (قضاوت) سره يې کورټ توپير لاره. هغه په دغه نوې کتنه کې دا خبره ورنده نه ده بللې چې پټه خزانه دې استاد حبيبي يا محمد هوتك او يا بل چا له ځانه را ايستلې وي، بلکې داتکل له مخې همدومره يادونه کوي چې هوتك به د يو نيم شعر نښته مخکې وروسته کړې او يا هم هماغسې ناسمه پر لاس ورغلې وي او په پای کې يې په زغرده کښلي دي:

پټه خزانه په رښتينه هغه کم پېښې او مغتنمه ګنجينه ده چې د پښتو ژبې او ادب يوه نه اټکلېدونکې ګرانبيه زړه پانګه يې له ورکې را ژغورلې او دا چې څومره به زړه وه، څه ويلای نه شم، خو زه پر دې باور يم چې هماغه زاړه ترين شعرونه يې را خوندي کړي دي. ؛"بوساني، ۲۵۹ مخ).

زه پر خپل وار دلته دسترخوشال هغه شعري بېلګه وړاندې کوم چې درې- درې نیم سوه کاله له مخه یې پکې "پښتونخوا" له څومره خوند او راکښون سره یاده کړې ده!

نوره درسته پښتونخوا پر ځای مېشته ده
خویو زه دې زماني پکې منصور کړم

## ۵-۸ : خراسان (خوراسان)

**۵-۸-۱:** پوهاند تړې د پښتونخوا، افغانستان یا اوغانستان اوروه تر څنګه له افغان سره نور تړلي نومونه هم یادوي چې په اسلامي پېر کې له لسمې زېږدي تر شپاړسمې زېږدي پېړۍ پوري بېلا بېلو لیکوالو او تاریخوالو کارولي دي، لکه : "جبال الافغانیه"، "جبال الافاغنه"، "کشور افغان"، "حد افغانیان"، "مرز افغان" او "افغان". خو په دې لړ کې د یوه بل تاریخي نامه "خراسان" یادونه هېڅ نه کوي چې تر دغو ټولو نومونو له مخه یې تر لومړي تاریخي پېر یا "اریاني پېر" را وروسته له پنځمې زېږدي پېړۍ را نیولې د نوي افغاني دولت "افغانستان" تر بنسټ اېښوونې پورې. زموږ د هېواد پر اوسنیو شمالي او سویل لویدیزو سیمو سربېره یې څه نا څه د ماوراء النهر او د لویدیز ایران هغه لتې هم را اخېستې چې د ابدالي ټولواکمنۍ له رغندو توکونو څخه شمېرل کېدې او د صفویانو په وخت کې ان کندهار هم په خراسان کې راته. تر مخه خو یې غزنی هم په خپله اوبجه کې رانغښته او په دې توګه یې داستوګنو ډېری (اکثریت) هم پښتانه وو او داسې هم نه ده چې دغه نوم پښتنو ته نا بومه و او پخپله نومولی "خراسان" یې خپل هېواد او ټاټوبی نه دی ګڼلی. که داسې نه وای، نو دا لنډۍ څنګه را زېږېدلې دي:

پر هندوستان مې ګل کرلی
پر خراسان ولاړه یم بوی یې راځینه

د خراسان د سـهار بـاده
پر جانان وايـه د پردېسـو سـلامونه
خوشال خان تر هند را پـورې سيمه خراسـان بللې ده:
دا څو لارې پـر سـرحد د هندوسـتان دي
نـورې لارې پـر سرحد د خراسـان دي

د پوهـاند تـړي پـه ټول کتـاب کـې خراسـان هسـې د افشـار يـزدي پـه اړه (۲۱۱ مـخ) تـش يـو ځل يـاد شـوی دی، کـه څه هـم پـه نومليـك کـې يـې پـه ناسم ډول شپږ ځلي راوړی دی. دا بـه زه هـم لـه ښاغلـي هېوادمل سره ومنم چې د پوهـاند تـړي کتـاب دده د خپلې وينـا پـر خـلاف "دا کتـاب پـه عمومـی ډول د پخوانـو متونـو او د نـورو د اقوالـو يـوه مجموعـه ده" څه نـا څه شـننيز "تحليلـي" اړخ هـم لـري او هغـه دا چـې د ځينو اروپايي پوهـانو او څېړونکيـو لـه نظريـو سره يـې علمـي، انتقـادي چلنـد کـړی او همدارنـګه يـې د پښتنـو خپلـو کښليـو کتـابو، روايـاتو او وينـاوو تـه هـم د شـك پـه سـترګه کتلي، ځينـې خبرې يـې ور رد کـړې او پـه ځينـو برخـو کـې يـې د متنونـو د روايـاتو لـه مقايسـې کتنـې کـار اخېسـتی دی. (هېواد مـل، د اړونـدی سـريزې ۱۶ مـخ) هـو، تـر کومـه چې استاد تـړي زور و زغـم پـر کـار اچولـي، خپلـه انتقـادي ليـد تـوګه او کـره کتنـه يـې وړانـدې کـړې او ان شـپږم څپرکـی (فصـل) يـې هـم "يـوه تحليلی تبصره" نومولـی ده.

خـو د ايرانـي محمـود افشـاريزدي د اپلتـو (چرنديـاتو) پـر هوبـهو راخېسـتنه بس راوړې او بيـا يـې د يـوې کابلـۍ سـاده ګڼنـې "بـلا کـوي" تـر څرګندونـې وروستـه ليکلـې غونډلې داسـې را ژبـاړې:

"کـوم هېواد چې د افغانسـتان پـه نامـه يـادېږي او د ايـران د شـرقي سيمې پـه يـوه برخـه او د خراسـان پـه ولايـت کـې جـوړ شـوی دی، پـه تاريخ کـې سـابقه نـه لـري.... او څرنـګه چې يـو شـمېر افغـاني امـراوو د نولسمې پېړۍ پـه وروستيو وختـو کـې پـه دې سيمه بـاندې تسـلط پيـدا کـړی او يـو څه مـوده يـې حکمرانـي پـرې کـړې ده، نـو لـه دې املـه دا

ځای د افغانانو دولت او وروسته افغانستان بلل شوی دی" (پښتانه ۲۱۱-۲۱۲ مخ)

تیك همدلته ورته د افشاریزدي هم دغه سپکو ورکو یوه ډېره ښه پلمه په لاس ورکولای شوه چې اوسني ایراني "خراسان ایالت" یا "استان" د پخواني لوی خراسان د یوې کوچنۍ پاتې شونې په توګه په ستر ګو ور ننه باسي او بیا یې پر ۱۷۴۷ کال نوی ارت و بیرت "افغانستان " ځایناستی ور زبات کړي!

افشار یزدي له هغو سوګند خوړلو افغاني - پښتني دښمنو ژورنالیست ډوله ایراني لیکوالو څخه دی چې په ساز ماني توګه یې په خپل نامه نومولې خپرندویه دستګاه د ورته انګروزو لپاره له ښایسته ډېر مهال را هیسې په ایران کې پر کار اچولې او د "بېلتونپالو" افغانانو دغوټو هوارونې خورا په زړه پورې منځۍ ګرځېدلی چې د نجیب مایل هروی یو زهرژلی اثر یې له تازه خپرونو څه ګڼل کېږي. د زیاتې څرګندتیا لپاره ، د شمشاد شپږ میاشتنۍ ۱-۲ ګڼه، د زیار لیکنه).

**۵-۸-۲**: په هره توګه زموږ خپلو تاریخوالو خراسان د افغانانو د سیاسي رغښت منځنی پېر ګڼلی او د لویدیزې اریانا په وړاندې یې هم د ژبنۍ برید بندۍ له مخې په افغاني دولت پورې اړه درلودې ده، لکه څنګه چې پخپله خراسان Xor-āsān هم د لمر اسمان (لمر ختیځ) مانا شوې دی. دا چې له سیاسي پلوه تر زاړه او منځني ساکي (یپتل - کوشاني) پېر را وروسته دغه سیمه زیاتره د لویدیزو اریانیانو (ساسانیانو او سامانیانو) او تورکانو تر ولکې لاندې پاتې شوې ، مګر له دیموګرافیکي پلوه یې له پښتنو (افغانانو) سره اړوندي پوره جوته وه. د اسلامي پېر د لومړیو سیمه ییزو واکمنیو یا امارتونو (لکه هرات، سیستان، غور،...) له هغو را نیولې تر غوري او غزنوي ټولواکمنیو پورې یکې د پښتني ټبر ونډه له تاریخه لرې پاتې نه ده. د ابومسلم خراساني تر سر لارۍ لاندې یې په

ازادېپالو غورځنګونو کې هم همداسې درواخله چې له ۷۴۱ ز يې تر ۷۵۴ ز کاله پورې د عباسيانو په وړاندې سترکورواکي خراساني دولت را منځته کړی وه (محمد ناصر کمال ۸ مخ). ځوان افغان تاريخپوه محمد ناصر کمال په خپل يوه تازه خپور شوي تاريخي اثر (افغانستان سر زمين اريا ، ۱۵ مخ) کې پر خراسان داسې رڼا اچوي : " د خراسان ويی تر دويمې او درېمې زېږدي پېړۍ را وروسته پيدا شو او له څلورمې تر اتلسمې زېږدي پېړۍ نږدې يو نيم زر کاله د افغانستان د هېواد نوم و..." او بيا دا لتې د خراسان اړوندې ښيې: ابيورد (د اوسني تورکمنستان يوه سيمه)، اسروشنه (د ماوراء النهر له سيمو څخه)، بخارا ، بلخ، خوارزم (د اوسني وزبکستان يوه سيمه)، سرخس (د نيشاپور او مروې تر منځ سيمه)، سمرقند (وزبکستان)، غزني، فرغانه (وزبکستان)، هرات او نور.

الفنستن (۱۵۸ مخ) وايي: "کوم نوم چې د اړوندو استوګنو له خوا پر ټول هېواد اطلاقېږي، هغه "خراسان" دی، خو څرګنده ده چې ددغه نوم کارونه سمه نه ده، ځکه يو خوا د افغانانو ګرد ټاټوبی د خراسان په بريدونو کې نه راځي او بل خوا ددغه لتې په يوه غوره برخه کې افغانان نه اوسېږي".

په هره توګه بيا هم داسې برېښي چې په شمال کې بلخ د ټول اوسني شمالي افغانستان ښکارندويي کوله او هرات او غزنی دم له کابل او پکتيا او نورو شمال ختيزو او سويل ختيزو سيمو پرته نور د ټول اوسنی سوېلي افغانستان را چاپېروونکي ګڼل کېدل او له همدې لامله پکې د برې پښتنې ـ افغاني سيمې او اوسېدونکي راښکېل وو. دا جلا خبره ده چې هغه مهال د پښتنو اړوندې سيمه يېزې خانخانی او تېر واکی څومره د مرکزي واکمنی لاسکتوې (تحت الاثر) وې اوتر کومې کچې يې کور واکي او خپلواکي درلوده!

# ٦ - څپرکی

## د افغانستان اوسنی ژبتوکمیز رغښت

## (Ethno – lingustic composition of Afghanistan)

ACKU

**۶-۱: پــه افغانســتان کــې د ژبتوکمــیزې (اتنولښګوېســتیکي) رنګارنګۍ پیلامــه:**

۶-۱-۱: د شپږمې زېږدي پېړۍ په نیمايي کې د یپتلي ټولواکمنۍ له پای ته رسېدو سره، لکه څنګه چې له مخه (۵-۲-۲) ورته نغوته وشوه، له شمال څخه د نویو را ټوکېدلو تورکانو او له شمال لویدیځ او لویدیځ څخه د ساسانیانو نیواکګرانه لاسونه را وغځېدل او په پاتې هېواد کې سیمه واکۍ را منځته شوې، د ښه لاره هواره شوه چې په بېلابېلو سیمو کې بېلا بېلې ژبې، توکمونه، تېرونه او ګروهې دینونه را څرګند شي. د افغاني "ساکي" ژبو لکه باختری، پښتو او پامیري ژبو تر څنګه منځنۍ پارسۍ او پهلوی، تورکي ګړدودونو او هندي پراکرېتونو په خپلو خپلو سیمو کې دود پیدا کړ او په ګروهو کې د آریاني، زرتشتېزم او میترایېزم تر څنګه بودایي، برهمني، هندویي او نورې را دود شوې او په دې توګه د اسلام تر راتګه ټول هېواد له هره پلوه ټوټې ټوټې شوی و، نه یې یو یوازینی مرکزي حکومت درلود او نه اقتصادي او سیاسي ټیکاو، له همدې کبله اسلامي ګروهې دغلته یو ستر اوړون او اوښتون راوست او تر ړومبیو دوو پېړیو وروسته یې تر کابل او آباسینه پورې پرله پسې یو ټولیز منښت او ګرانښت وموند.

۶-۱-۲: یپتلي - کوشاني (باختري) ژبه په پښتني سیمو کې له خپلو یونکیو سره یو ځای" پشتونایز " شوه او په هرات، سیستان (نیمروز)، وغور، بادغیس او بیا کابل او یو لړ نورو ښارونو کې "پرسنایز"، خو په شمال کې یې ځای پامیري ژبو ونیوه، یا په بله وینا تري دغه ژبې را وزیږېدي او ښایي یوه برخه یې په باختر، او په تېره بیا په ماوراوالنهر کې له تورکي ژبو سره همرنګ شوې وي، لکه څنګه یې چې ددغې شاوخوا سیمې نورې خویندې ژبې، لکه سوغدي او خوارزمي له ورته برخلیك سره مخامخ شوې چې یوازې یغنوبي او اوسیتي ترې تر اوسه د پاتې شونیو په توګه را پاتې دي. په دې توګه په هېواد کې د ساکې ژبتوکمیزي ډلې یوازینی غورې او پیاوړې استازې "پښتني" دې له هماغه زاړه پېره تر اوسه خپل برمیالی دریځ خوندي ساتلی دی.

۶-۱-۳: د پرستایزېشن بهیر (پروسه) په پوره څرګد ډول له دویمې اسلامي پېړۍ را وروسته چې د خراسانیانو له ملي پاڅونونو سره د عربي ژبې ځایناستې شوه او نوې ژبني پېرته را ګډه شوه، را پیل شوه.

د سامانیانو په ۱۲۸ کلن (۲۶۱-۳۸۹ هـ) پېر کې چې پر شمال او لویدیځ یې د اسلامي خلافت تر سیوري لاندې واکې چلولې، اسلامي فرهنګ او پارسي ژبې او ادب په ټول شور و ځوږ خپل وازره را خپاره کړل او دا چې تر عربي را وروسته پارسي دویمه دیني ژبه هم منل شوې وه، نو تر کابله یې اغېز را خپور شو. که څه هم پخپله ساماني واکمنانو د یخوا ته کوم سیاسي واك اغېز نه درلود، او سیمه ییز حکومتونه په خپلو خپلو اوېجو کې د پښتو په ګډون له باختري ژبو سره. د پخوا په څېر هماغسې ټینګ پاتې وو. خو دا سیالي یې تر منځ هم را منځته شوې وه چې د پارسي غوندې یوه دیني او ادبي ژبه د پخوا په څېر خپلو مورنیو ژبو ځایناستې کړې، هغه هم داسې یوه شیروشکر ژبه چې دیني نوم پوهنه (ترمینالوجي) یې له (نماز،روزه...) پرته ټوله عربي وه او د چا خبره یو" سپېڅلی ګروهیز "راکښون یې درلود. د تورکي آروغزنویانو پېر (۹۶۲-۱۱۴۸ ز) د پارسي ژبې ادب او فرهنګ خپل لوړترین پرمختیایي پړاو ته ورسول چې نه یوازې

د افغانستان او پارس، بلکې د نړۍ په کچه يې يو تلپاتې نوم په برخه شو. را وروسته نو که مغول راغلل يا تورك و وزبك، پارسي يې رسمي او دوتري ژبه وه. ان پښتانه هم چې واکمنۍ ته رسېدل، له دغې ديني - رسمي ژبې يې رغېدن نه و چې يوه غوره بېلګه يې د هند لوديان وو هغه دا چې د سکندر لودي (جاويد دمرات سکندرى له مخې) په نوښت پارسي ژبه او ليك په پنځلسمه پېړۍ کې هند ته ورولېږدول شول او بيا نورو افغاني، تورکي، او مغولي واکمنانو ته هغه مخبېلګه وګرځېده، همدا راز په هوتکي او دراني پېرونو کې پارسي درباري او دوتري ژبه پاتې شوه.

۶-۱-۴: که څه هم د حسين هوتکي او بيا احمد شاه بابا په وختو کې د پښتو روزنې او دود ونې لپاره څه نا څه هاندو هڅې پر کار لويدلې وې، خو کوم ځای ته نه وې رسېدلې. د امير شير عليخان عملي هلې ځلې د ور پسې زورواك امير عبدالرحمان په پېر کې له پامه وغورځېدې او امير حبيب اله خان تر پلاره هم زيات انګريزي لاسکتوی و او په سراج الاخبار کې يې له يوې پښتو ليکنې سره داسې وګواښه او وډاروه چې نوره يې پکې يوه کرښه پښتو پرې نه ښووه، متې له اماني روښانتيايي ـ ملي پېر سره د پښتو آر وربشتينى سياسي - فرهنګي پرمختيايي بهير يوه نوي پر له پېيلي او پر له غښتې پړاو ته را ګډېږي او دادی، د يوازينۍ ستړې بومي افغاني "ساکي آرې" ژبې په توګه د خپلې مېلمنې ترلې (پارسۍ) په وړاندې د وروستۍ اتيا کلنې رغنده او سوليزې ملي - سياسي سيالۍ له ډګره بريالۍ او مخسورې راوځي او په ټول واك و ځواك د علمي - تخنيکي نړۍ پرله پسې برياوو ته خپله غېږه پرانيزي.

**٦-٢: له چنګېزه تـر انـګرېزه:**

۶-۲-۱: اوومـه اسـلامي، يـا ديارلسـمه عيسـايي پـېړۍ، نـه يـوازې د افغانسـتان او نـورو اسـلامي هېوادونـو، بلکـې پـه ټول بشـري تـاريخ کـې د يـوه تـور او کرغـېړن داسـتان پيلامـه ګڼل کـېږي چـې يـې پـه نړيوالـه کچـه پـېژنـدل شـوي خونـړي چنـګېز زمـوږ پـر لرغونـي آريـاني

آري ساکي ستي ولس راتپلی دی. پښتني ولس د لرغوني آريانا، منځني خراسان او اوسني افغانستان د يوه يوازيني آرو رښتيني ژبتوکميز پاتوړي (وارث) په توګه له هغه را هيسې تر هر نومېښتي لړه کي، له نوموړي توکم سره نه پخلا کېدونکی پاتې شوي، که په هماغه لومړي سرکې يې پخپله له چنګېز او هلاکو سره ډغرې وهلې، را وروسته يې د هغوی له ځايناستو ګورګانيانو سره خپل زور پر له پېيلی ازمايلی او د ماتو او بريو يو ګډ داستان يې ور سره د خپل لرغوني تاريخ پر بې شمېرو داستانونو ور زيات کړی دی.

کومې اغېزې چې "مغولي" نا تار له چنګېزه تر انګرېزه د پښتني ټولنې پر توکميزې او مانيزې هستی را پرې ايستې، لږ تر لږه د سيمې په کچه بې سارې دي. تر دې چې دا دومره پېړۍ يې پښتني فولکلور او ادب هم تر سيوري لاندې راوستي دي او مغول او مغلواله يکې د "دښمن" او "دښمنی" د سيمبولونو په توګه انګازه شوي دي. دغه راز په پښتو کې د يو لږ تورك مغولي پورويونو راګډېدل هم ددغه ويرژلي اوږده پېر ښکارندويي کوي، خو بيا هم په شپاړسمه اواولسمه پېړۍ کې د بايزيد روښان (۱۵۷۹ز مړ) او ستر خوشال خان (۱۶۱۳-۱۶۸۹ ز) په سرغندويی مغولي ضد غورځنګونو د پښتني او افغاني سياسي تاريخ پاڼې زرينې کړې دي او ورسره ورسره يې پښتو ادبي تاريخ ته هم تلپاتې ښکلا او رنګينی ښښلې ده او له بده مرغه په دې کې هم څه خرخشه پاتې نه ده چې مغولي ناتار د افغان او بيا د پښتني ټولنې پر بشپړتيا يي بهير هم دومره ژور اغېز ښندلی چې په مخ ځمکواکي (قبل فيوډالي) او ټبرنی کوچاني پړاو کې يې پښه پر ځای ساتلې دی.او کومې هاندو هڅې چې لوی احمد شاه بابا ددغې ټولنې د ښاري کولو لپاره په اتلسمه پېړۍ کې تر سره کړې وې، هغه بيا په نولسمه پېړۍ کې د انګرېزي ښکېلاکګرانه ناخوالو بلهارې شوې دي.

۶-۲-۲: په شلمه پېړۍ کې هم له درې ګونو سیاسي او ټولنو ټیزو غورځنګونو، لومړي "روښانتیایي" هغه د هماغه زاړه ښکېلاک تر ګونډو لاندې ساه ورکړه او دویم "ویښتیایي" او وریسې دریم "اوښتیایي" هغه هم بیا د نویو ښکېلاکي او نړیواکي سیالیو لوبونې شول. په دې توګه که د نړۍ نورې پر مختللې او پرمختایي ټولنې د نوې (یوویشتمې) پېړۍ او نوې "دریمې" زرۍ پر درشل پلونه کېښوول، پښتني - افغاني دا د تېرو پېړیو او زریو خوا ته پر شا یون ته اړ ایستل شوې ده، ګوندې د تېرو پېړیو او تېرو زریو د ټولو هاندو هڅو او غورځنګونو ګرمانه (کفاره) تري همدا اوس په یوواریز ډول اخیستل کېږي.

۶-۲-۳: سره له دې چې د نړۍ زیاتره هېوادونه له اره پر توکمیز یا ژبتوکمیز بنسټ را منځته شوي یا لږ تر لږه په څو توکمو کې د هماغه ډېره کیو په نامه نومول شوي دي، خو نن سبا له دغو هېوادونو څخه یو هم پر هماغه لومړني اکر پاتې نه دی، که یو توکمیزو، څو توکمیز شوی او که څو توکمیزو، نور هم پسې ډېر توکمیز شوی دی. خو له دې سره سره اړ او بومي او بیا ډېری توکم یې ډاګېز او څرګند وي. او اوسني افغانستان هم په دغه دویم لړ کې راځي چې د اتلسمې زېږدي پېړۍ په نیمایې کې یې د نوي دولتي بنسټ له اېښوونې سره د ارو او ډېره کیواستوګنو "افغانانو"، یا په بله وینا "پښتنو" په نامه نومول شوی او له هماغه نېټې د "افغان" او "پښتون" همانیزوالی هم پای ته رسېدلی، په دې مانا چې له هغه را هیسې "افغان" نور د "پښتون" تر جاج (مفهومه) ور اوښتی او ددغه هېواد د ټولوتوکمونو او ژبتوکمیزو ډلو ټپلو ګډه ملي - هېوادنۍ پېژند نښه ګرځېدلې ده. کوم ژور منطق اوسول چې په دغو نومونه کې نغښتی دی، په نړۍ کې تر اوسه ساری نه لري او هماغسی یې چې په ملي کچه منښت او ګرانښت پیدا کړی، په نړیواله کچه هم هیڅکله له خرخشې سره مخامخ شوی نه دی.

۶-۲-۴: دا چې وروستیو سیاسي کړکېچونو په ټول هېواد کې ژبنتوکمیزې رخې سخې را وزېږولې او په نومړولې توګه ترې خپلو او پردیو سیاسي سوداګرو د "هزارستان" په نامه د بېلتونپالنې ډمامه جوړه کړې ده، نه یوازې د نورو بېلا بېلو پرګنو له کرکې او رغا سره مخ شوې، بلکې د خپلې خاموشې زیارکښې هزاره پرګنې ملاتړ او منښت ور سره هم ملګري نه دي، اّن د هغه "ستمي اندیوالانو" له خواخوږۍ او همکارۍ هم نور لاس پر سر شوي چې دا کلونه یې دوی دغې بېلتونپالنې ته لمسولي وو، له همدې کبله یې نن سبا پر خپلو همګروهو ګاوندیانو سر بېره لویدیځیانو ته هم مخه کړې چې د ځپل شوي او ځورول شوی دیني، نژادي لږه کې په توګه یې له بشري خواخوږۍ او زړه سوي څخه ګټه واخلي، د نومړو بېلتونپالو یوازینی شعارد ستمیانو په پېښود پښتنو تر درې سوه کلنې "زورواکۍ" لاندې د اړوندې پرګنې د ځپښنې او ځورونې ډمامه ده، په تېره د امیر عبد الرحمان هزاره ضد ناخوالې چې د ټولو پښتنو نا بښل کېدونکې ګناوې یې ګڼي!

*دغه ناخوښې، ناکټلې او ناسکه ورونه دومره سوچ نه کوي چې هغه تش په نامه پښتانه څو پښتانه تر ټولو زیات ځپلي، ځورولي او وژلي دي.*

*دوي کاشکې د احمد شاه بابا غونډې د نیاومنو شاهانو هغه ښېګنې هم یاد کړې وای چې د نادر افشار له ټولوژنې یې ژغورلي وو او کله چې واکمن شو، د مشهد، نیشاپور او هرات له درو ګونو شیعه والیانو یې یو سوچه هزاره "درویش خان" ته ددغه وروستي، ستر ولایت واك و ځواك ور سپارلی و او په دغه ډاډ د مشهد زیاتره هزاره په ډله ییز ډول دېخوا ته راولېږدېدل.*

یا دا چې په کمیونیستي واکمنۍ کې یې تر بل هر "ملیته" زیاته ونډه او ګټه واخېسته او کله یې چې په اسلامواکۍ کې د کابل ښار پاسنۍ برخه تر لاسه کړه، څه ناخوالې یې پر پښتنو استوګنو را کوزې نه کړې، که په دغه غچ اخېستنه هم بسیا شوی نه دي، نو پښتانه به ورته د خپلو چنګېزي نیکونو تاریخي وحشتونه ور په یاد کړي!

او دا چې نن سبا شاهي نظام کورټ له منځه تللی او دا د څو ورځو ملا واکې هم هرو مرو خپل ځای یوه ملي – ولسواکې (دیموکراتیک) حکومت ته پرېږدي، نو دغه راز بې بنسټه او بې سر وبوله بېلتونپالو هلو ځلو ته هم نوره څه پلمه نه پاتې کېږي. اوس خو سم له لاسه ټولې افغاني پرګنې له پښتنو نیولې، تر تاجیکو او وزبیکو پورې له خپلو بنسټیزو انساني رښتو (حقوقو) یو راز بې برخې دي او یو شان ترې کړېږي. پرېږده چې د ټولو مېشتو پرګنو خاموش ډېری (اکثریت) سره په ګډه د ملي پخلاینې او یو موټي ملي - انتخابي حکومت د را منځته کولو لپاره متې را ونغاړي او ټولو جنګ جګړو او سیاسي لمسونو ته د پای ټکی کېښېږدي!

## ٦-٣: څلور ګونې ژبتوکمیزې ډلې:

۶-۳-۱: زموږ لرغونی هېواد له تاریخي پلوه د هند نیمې وچې دوره په توګه د بېلا بېلو توکمونو، کولتورونو او مدنیتونو یوه څلاري بلل شوی او له جغرافیایي پلوه بیا یو داسې غرنی هېواد چې د ستغیونو (صعب المرور) دنګو غرونو، کوتلونو، څپاندو او سرکښو سیندونو، ناوونو او یو لړ لویو لویو تودو تبجنو ډاګونو په درلودلو سره یې د بېلا بېلو وګړ ډلو د مېشتېدنې او ګنو ژبو او ګړ دودو د منځته راتلنې لپاره لاره هواره کړې ده.

۶-۳-۲: د ختیځپوهانو او بیا آریانپوهانو او په تېره تېره د شپېتمو زېږدي کلونو اتنو ګرافیکي، اتنولوجیکي او په ځانګړي ډول د یو نسکو د ۱۹۶۴ کال د مونشن د غونډې د سپارښت پر

بنسټ د افغانستان د ژبپوهنې اتلس لپاره د استاد مورګنستیرني تر مشرۍ لاندې د افغاني او اروپايي څېړونکيو په ګډه مرسته ګړدودي څېړنو را څرګنده کړه چې افغانستان د څلورو (آريايي- تورك مغولي- سامي - دراويدي) نژادي ډلو له څه له پاسه ۴۰ ژبو سره يو ډېر ژبی (Multy lingual) هېواد دی. د نوموړی پروژې په ترڅ کې ۲۶ ژبې له اړوندو ۲۸۰ ګړ دودونو سره کښل شوي چې آره بنه يې د سويس د ملي فنډ په لګښت د اتلس د جوړونې او خپرونې لپاره په برن پوهنتون کې تر کار لاندې نيول شوی او په دا دومره کلونو کې يې متې څلور ټوکه چاپ ته چمتو شوي دی. له بده مرغه د ټاکلي پازوال پروفيسر ژارژردار د کورناستي او ناغېړۍ له کبله يې نور کار په ټپه درېدلی او په کابل پوهنتون کې يې خوندي کړې کاپي هم د جنګونو بلهاري شوې ده.

۶-۳-۳: آريايي ژبتوکميزه ډله لومړی پر هندي او آرياني څانګو وېشل کېږي او بيا دغه هر يوه څانګه پر پراکرېتي او دردي څانګورو، پراکرېتي، لکه پنجابي، سندي، لهندا (هندکو)، شکار پوري او دردي، لکه پشه يي، ګوربتي، پلوړا، ساوي، زماکي، تيراهي او نورې چې په افغانستان کې يې ټول شمېر تر شلو ژبو ور اوړي، پنځه نورستاني ژبې بيا تر هندو آرياني وېش له مخه په زړو آريايي ژبو کې راځي.

آرياني څانګه هم پر خپل وار پر ختيزو او لويديزو څانګورو وېشنه مومي، ختيزې آرياني، لکه پښتو، پراچي، اور مړي او ۱۱-۱۲ پاميري ژبې. له دغه وروستيو ژبو څخه پښتو او پاميرۍژبې په شمال ختيزو او بيا ساکي ژبو کې شمېرل کېږي او پراچي او اور مړي په سوېل ختيزو کې، چې له ګډې مور او نيايې تر اوسه کوم څرك نه دی لګېدلی.

لويديزې آرياني يا ايراني ژبې، لکه پارسي، بلوڅي، کوردي چې په دوی کې پارسي له سوېل لويديزو ژبو څخه ګڼل کېږي او دا

نوري دوې له شمال لویدیزو ژبو څخه. (اړوندو لښتیلیکو ته دې د کتاب په پای کې مخه وشي).

**۶-۳-۴**: ښکاره ده چې نه یوازې ټوله آریایي ژبتوکمیزه ډله تر دا نورو درو (دراویدي، تورك مغولي او سامي) ژبتوکمیزو ډلو زیاته ده. بلکې یوازې آریاني او بیا په ځانګړې توګه ختیزه آریاني ډلګۍ یا ځانګوړې ترې هم د ځومره والي او ور سره ور سره د آروالي (بومي والي) له پلوه مخکې ده، ان که پامیري ژبې او پراچي او اور مړي ژبې هم په پام کې ونه نیسو، یوازې ښتانه او ښتو ژبې د هېواد یو بشپړ ډېری (اکثریت) جوړوي. تر ټولو کوشنو ته ژبتوکمیزې ډلې دراویدي (براهوي ژوبي) بیا سامي (عربي ژبي) او تر ټولو وروسته د هرات مغولي ژبي دي چې د نورو مغولي ډلو (هزاره وو، چغتاییانو...) په تویېر یې خپله ژبه تر اوسه ژوندۍ ساتلې ده، په تورکي توکمو کې او یغور له کوچني ترینو ډلو څخه ګڼل کېږي، افشارو، قزلباشو او نورو ډلګکیو خو خپل تورکي ګړ دودونه له وخته له لاسه ورکړي او پارسي ژبي شوي دي. په ختیزو ښتني سیمو کې هم یو شمېر هزاره او چغتایي مغول او داسې نور بېلا بېل ژبتوکمیز پاتې شوني ښتو ژبي شوي، خو بیا هم په خپلو خپلو پخوانیو نومونو یاد ېږي او د نومېرنې (تشخیص) وړ دي. د نیمروز خوا ته د کوردي ژبو لړه کې او په لوګر کې اورمړي هغه خپل نیمژواندی عمر تېروي، له تیراهي یا تیروخو متي ما ۲-۳ سوه وییونه را خوندي کړي دي.

**۶-۳-۵**: که څه هم په افغانستان کې تر اوسه په سم ساتیفیك ډول وګړ شمېرنه نه ده تر سره شوې، خو له کورنیو کارپوهانو نیولې، تر اروپایي ختیځپوهانو، یونسکو او پخوانیو شورویانو پورې چې کومې شمارنې (احصاېې) او اړوندې ژبتوکمیزې سلنې (اتنوېنګولیستیکي فیصدۍ) له شپېتمو کلو تر اوسه تر سره کړې دي، یوه څه نا څه د منننې وړ منځنه (اوسط) پر لاس را کولای شي. د

بېلګې په توګه ماکس کليمبورك په خپل کتاب "افغانستان" کې چې د يونسکو تر پروژې لاندې يې پر ۱۹۶۷ کال په ويانا کې خپور کړی او په دغه هېواد کې يې د خپلو اوږدو ډګرڅېړنو (فيلډ ريسرچ) پېبره ده، د پښتنو سلنه "۶۰" ښوولې: د شوروي بروك په "د نړۍ وګړي" کې پر ۱۹۸۱ کال ۵۲,۹، واك فونډېشن په "د افغانستان قومي جوړښت" کې پر ۱۹۹۸ کال ۶۲,۷۳. دغه وروستي اثر د يو لړ تازه علمي سرويو او پلټنو پر بنسټ کښل شوی دی.

۶-۳-۶: دلته هغه اړول شوې او درغلي شمارنو او سلنو چې "د غويي انقلاب" په اوږدو کې لنډ اندو "انقلابيانو" او "ضد انقلابيانو" را ايستلي او هډو په يوه علمي ارزونه لاڅه، چې په يوه لنډه ژورناليستيکي کتنه هم نه ارزي، پورتنۍ سلنه تر څلوېښتو را ټيټه کړې ده، نو ان که دغه کمترينه درغلي سلنه هم په پام کې ونيول شي، پښتانه د هېواد تر بل هر توکم و ټبر بيا هم زيات راځي او د پخوا غونډې د ټولمو اوسېدونکيو يو ډېرى جوړوي. دا خو هم روغ سول او منطق منلای نه شي، لکه څنګه چې د کار ملي شوونيستي ډلې ټپلې يو جګپوړي پان تورکيست "نجم الدين کاوياني" په خپلو ګونډي وينا ووکې پرې ټينګار کاوه، پښتانه دواړو (انقلابي او اخواني) خواوو ته په تېرو کورنيو جنګ جګړو کې زيات له منځه تللي او په دې توګه يې پخوانۍ شمېره او سلنه هم را ټيټه شوې ده! د همدغو بې پازو (بې مسوولیتو) انګروزو تر هر چا له مخه د هزاره پرګنې سياسي سوداګرو ته دا پلمه په لاس ورکړې چې خپل ټبر په سل کې د ۸,۶ پر ځای د هېواد دويم ډېره کې وښيي او د "هزارستان" نقشه ورسره هم همداسې له کابله تر ايراني بريد ليکې وغځوي. (سمسور، دويمه سقاوي ۱۵۲، ۱۵۶-۱۵۷ او ۱۳۲، ۱۳۴ مخونه، سيد عسکر موسوی، په اکسفورډ پوهنتون کې د ۹۹ کال د مې ۱۵مې د سيمينار له ويناوو څخه.)

په دې کې هم څه ارزښت برنګک نشته چې داسې اتنیکي او ګروهیز لرې کې په ټولو هېوادونو کې همېشه د کورنیو او بهرنیو سیاسي لوبونې وي، له همدې کبله ورته تر خپلو اړوندو سیاسي سرکښانو هم بهرني بلوسګر او زېښاګر زیات ارزښت ورکوي او خپله ځانګړې خوا خوږې ورسره څرګندوي، لکه څنګه چې ګورو د نورو جلا هېوادو او کډوالو افغانانو په پرتله هر چېرې هزاره هغو ته زیاته پاملرنه کېږي او دا خوارکي هم پرې غولېږي او تش په نامه "روښاندانو" او "خپلواکي سرکښانو" ته یې د سیاسي اواقتصادي ګټو لارې چارې برابروي. دا هم په زړه پورې ده چې تورکتومي قزلباش هم تش د شیعه تابه له لارې د هزاره ورونو په سر ورته سوداګري کوي، لکه قوي کوشان چې په امریکا کې د "امید" خپرونې له لارې پر دغه تیار سره تناره خپلي ډوډۍ تپي او بې فرهنګه"فرهنګک" یا سید فرهاد او غوریاني ورته د پښتنو دوه نیم سوه کلن "اپارتاید" انګروزه کوي، او دا هم څه هېښنده نه ده چې آریاني توکمي دولس امامه اسماعیلي زېښناګر یې هم د سر غندو یې د زبات لپاره په نړیواله کچه د لوبغیو غوندې لوبوي، د چا خبره "تر مور پرې دایه ډېره مهربانه ده"؛ د ایرانیانو "آریا مهر" پلوي او خواخوږي خولا پر ځای پرېږده.

*د غوبي انقلاب له ناسکیندونا تارونو یو دا هم وچې د "ورونو ملیتونو" او "لرې کیو" د پاملرنې په پلمه یې ټول یو موټی افغان ولس پر دوو (پښتني) او "ناپښتني" مورچلو وویشه او ځیناستي "ضد انقلاب" یې هم هماغه لار پسې را واخیسته او په دې توګه سوېلي افریقایي دوله "لرې پر ډېرې" اپارتاید را منځته شو، که څه هم په تېرو دوو پېړیو کې هم همدغه ټیپ اپارتاید چلېده او تش په نامه پښتني واکمني هسې د پښتني پرګنو د پزې پېزوان ګرځېدلې ده!*

۶-۳-۷: د ملیتونو یا لږه کیو د سیاست په برخه کې یوه ستره تخنیکي تېروتنه او ناپږ یته دا وه چې د یوه یوازیني توکم (نژاد) بېلا بېل ژبني ټولګي او غونډ ګي هم په دغه نومونپوهنه terminalogy کې راوستل کېدل، لکه تاجیك، پښتون، بلوڅ، پامیریان، پشه یان، نورستانیان...یا وزبیك، تورکمن، قزاق، قرغز او داسې نور، له همدې لامله ما په خپلو څېړنو لیکنو کې د "ملیتونو" پر ځای "ژبتوکمیزي ډلې Ethno linguistic groupes نومونه پر کار اچولې او دود کړې ده او "ملیت" یوازې او یوازې "Nationality" د انډول په توګه د افغاني ملیت Afghan Nationality لپاره ځانګړې کړې، لکه څنګه چې له پېړیو پېړیو راهیسې همداسې د یوه یوازیني افغان ملت د پېژند نښې په توګه کارول شوې دي.

لنډاندو پښتني او افغاني ضد ګونډي چارواکو غوښتل، د ملیتونو په لړ کې د غور "چار ایماق" هم را ګډ کړي، خو چې ما ورته په یوه لیکنه کې له هغو څخه درې ګوني ایماقه "زوری (سوري)، تایمني او فیروز کوهي" پښتون آري ور زبات کړل او د سني هزاره وو جمشیدیانو او تیموریانو هغه مې د اړونده ژبتوکمیزو (تورك ومغولي) ډلو استازي، نو بیرته پر ځای یخ کښېناستل.

د اړونډو "پوهنتوني تیوریسنانو" څرګندونې یې چې په ښکاره ډول یې ورته "تاریخي" جړاو ورکړې و، هم دومره بېخرته منطقي او تخنیکي نمیګړتیاوې او ور سره ورسره اړوپېچ (ضدو نقیض) یا پرادوکسي رنګ لاره چې په پای کې یې پخپله ګونډي چارواك له درسي کاریکولمه ایستلو ته اړوتل، لکه د جلال الدین صدیقي "د تاریخ نوین افغانستان او افغانستان در قرون جدیده" هغه او یو لړ ګونډي لوستونه (درسنامې)، د بېلګې په توګه صدیقي دا بیولاله غږوله چې تاجیك او نور تېرونه د پښتنو د وروسته تېرني - کوچیاني ژوند تر اغېز لاندې د تمدن له کاروانه وروسته پاتې شوي،

*بې لـه دې چې سـوچ وکـړي، ایـا پښتنـو هغـه پـه زوره افغانسـتان تـه راوسـتي او یـا یـې بلنلیکونـه ور استولی وو؟ پـه رښتینـه خـو د همدغــو لــړه کیــو تــا ړاکړو نیکونــو دغــه هــېواد او ولــس د پرمختـگ لـه بـهیره پـاتې کـړی او بیـا بیـا یـې اره افغـاني تپولنـه کـوچیاني او تپرنـي ژونـد تـوکي تـه اړ اېستلې ده (۶-۷).*

همداسـې یـې دا څرګندونـه هـم در واخلـه چـې پښتانـه لـه اره بلځاییـان وو او اوسنی اریـاني (ایرانـي) ژبـه "پښتـو" یـې هـم را وروسـته زده کـړې ده. ددې بېځایـه تـورتپې غـبرګون هم دا دی چـې کـه پښتانـه هـر څوك وي، خـو لـه زاړه پـېره تـر ننـه د اسـتوګنو ډېرى (اکـثریت) دى او اکـثریت د نـړۍ پـه هـر هـېواد کـې د واك و څواك څښتـن ګڼل کـېږي، کـه دغـه واکمنـي او څواکمنـي مـیراثی شـاهي وي او کـه انتخـابي جمـهوري، نـو کـه ور سره ګډ کـور کـول نـه غـواړي، نـور بـه څه چـاره ولـري، د وېشـاك او بېلتونپـالنې هـڅې یـې خـو پـه هماغـه تومنـه کـې شـنډې شـوې او د شـمارنو (احصـاییو) لـه درغلونـو هـم پـه دې اړه د غـرض لېونیانو څه تر لاسه نه شـو کـړای!

۶-۳-۸: د پښتنـي ضـد "سـتمي" غورځنـګ چـې د غویــي انقـلاب پـه دویـم پېرکـې ورتـه د امیـن – تـره کـي د نـاخوالو پـه پلمـه بـڼه ورکـړ شـوه، د هـېواد "د سـوېل او شـمال" ربـړه هـم را مختـه کـړې وه چـې د لومړۍ اخوان – ستمي واکمنۍ تر پایـه ورتـه نـوره هـم لمـن ووهـل شـوه. پـه دې اړه ددغــه غورځنـګ والاوو یــوه بنسـتېزه نـاره (شـعار) بیــا دا و چـې پښتانـه لـه اره د سـوېل اوسـېدونکي دي او پـه ناحقـه یـې د تـورکـي توکمـو سـیمې تـر بلوسـاك او نیـواك لانـدې راوسـتې، نـو بـاید بېرتـه سـوېل تـه یـو سـر او دوه غوږونـه سـتانه شـي! بـې لـه دې چـې دوی تــاریخي جغرافیــایي او اتنوېنګویســتیکي واقعیتونــه چــې زمــوږ اوسـنۍ څېړنـه ور بـاندې تپکـا ولـري، پـه پـام کـې ونیسـي او دې منښتـې (اعـتراف) تـه سـر تیـټ کـړي چـې د تورکـي توکمـو تـر راتـګ (۵۶۶ز) لږ تر لږه یـو زر کالـه لـه مخـه نـه یـوازې اوسـنۍ شـمالي برخـه،

بلکې تـر جیحـون او سـیحون آ غـاړه تـر ققفـاز، کاسـپین، روسـیې او چینـي تورکسـتان پـورې د پښتنـو د نیکونـو "سـاکانو" د واك و ځواك اوږجـه وه او خپـل لومړنـي ټاټوبـي یـې هـم بلـخ و پـامیر ګڼل شـوي دي او پـه سـرچپـه ډول پـه دویمـه مخزېږدي پـېړۍ، کـې لـه نوروسـاکي ټبرونـو سره سیسـتان اونـورو سـویلي او سـویل ختـیزو سـیمو تـه رالېږدېدلـي دي. ور پسـي بیـا پـه منځنـي آریـایي پـېر کـې دوه سـترو کوشـاني او یپتلـي ټولواکمنیـو بیـا هـم پـر دواړو برخـو واکمنـي چلولـه. (۲-۷). کـه *لنډ اندي تاریخوال حافظه نـه لـري، تـاریخ خـو یـې لـري او لـه دې سـره سـره کـه تـاریخ رښتیـا هـم ببرتـه را ستنېدونکی وي. نـو یـوه بېلـګه بـه یـې پخوانـي ټاټوبـي تـه د پښتنـو همـدا لېږدېدنـه او مېشـتېدنه وي.*

ستمیان او نـورو بېلتونپـال انډیوالان یـې دلتـه بیـا پـردې خـبره ځان نـاګاره اچوي چې تـاجیك خـو تـر تورکـانو هـم ډېر را وروسـته لـه آمـو را پـورې وتـي او د هـزاره وو، بلـوڅو، پشـه یـانو اونـورو پـه ګډون خراسـاني پارسـیوان تـر هغـو هـم ډېر را وروسـته، بـه بلـه وینـا لـه پښتنـو سـره هممـهال د کـډوالو (نواقلـو) پـه تـوګه لـه لویدیـځ او سـوېل څخـه ور لـېږدول شـوي دي. ، ډېر تـاجیك، وزبـك، تورکمـن او نـور لـوی واړه تورکی توکمي لـړه کـې خـو تراکتوبـر انقـلاب وروسـته را پوریوتـي دي.

نومـوړی تاریخپوهـاند صدیقـی (سمسـور افغـان ۴۸ مـخ) د یـوه دروغجـن پـه څېر دومـره یـاد (حافظـه) هـم نـه لـري چـې لـږ تـر لـږه د اتلسـمې پـېړۍ لـه نیمـایي راهیسـې پـر شـمال بـاندې د پښتنـو د واکمنـي یـوه یادونـه هومـره وکـړي، بلکـې د سـتمي انډیوالانو لـه بـې سـرو بولـه شـعار سـره سـم یـې لـه امـیرعبدالرحمن (۱۸۸۰-۱۹۰۱ ز) څخـه را پیلـوي: "در زمـان امـیرعبدالرحمن خـان بـود کـه رهـبران فیوډالـی محمدزایـی توانـایی یـافتند، تـا تمـام اراضـی واقـع در میـان دریـای آمـو و کـوه هندوکـش را تصـرف نمـایند و ازیـن تـاریخ ببعـد خانـات ازبـك بـه حیث یکـی از ولایـات سلسـله محمـد زایـي متمرکـز

گشت. در طی مدتی که ازبکان مورد تاخت و تاز فیودالان و سرداران محمد زایي و اتحادیه قبایلی ان قرار داشتند، بخش بزرگ نفوس ازبك نشین از مناطق مسکوني مجبور به ترك مناطق شان گشتند و به نواحی راست کنار دریای آمو یا دامنه های کوه هندوکش اجباراً نقل مکان کردند...."

۶-۳-۹: اړوند سیاستوال او تاریخوال دغه سکالو یا ربړه د خپلو "مارکسیستي سرکښانو" له باتو شره سمه له ټولنوټیز (اجتماعی-اقتصادی) پلوه ولی نه را مخته کوي. دا به پر ځای پرېږدو چې دغه لېږد له تورکي نیواکګرو یا کډوالو څخه د شمالي برخې د "بیا افغاني کولو" او "د ځمکنی بشپړتیا د بیا را سمبالولو" لپاره شوی او دا ځکه چې، برخه له هماغه لرغوني آریاني - باختري پېره د یوه یوازیني هېواد یو رغنده ټوك (متشکله جزء) پاتې شوې وه، بلکې تر هر څه مخکې به یې باید د ځمکسمون (ارضي ریفورم) له پلوه تر غور لاندې ونیسو چې په نړیواله کچه د یوه منلي ټولنوټیز آراو دود په توګه ان تر سوسیالیستی نظامه پېړۍ پېړۍ له مخه پر کار لویدلی او پلی شوی دی. پر ۵۶۶ ز کال د یپتلي دولت له ړنګېدو او د تورکانو له نیواك سره (۲-۷) آر او "بومي" ساکي توکمونه له شماله د سوېل پر لور یو ډله ییز لېږد ته اړوتل او بل خوا هم د پارس له لوري د ساسانیانو او نورو بلوسګرو له راننوتو سره د دواړو تاریخي - جغرافیایي برخو تر منځ وګړنی (دیموګرافیك) اندول ورو ورو ویجاړ شو او تر ټولو له مخه په پښتني ټولنه کې هغه ددې لامل شو چې له بنایسته ډېرې مېشتېدنې سره سره یې یو ځل بیا د کوچیاني ژوند لاره را خپله کړه او له یو څو لکو څخه یې خبره ۶ میلونو کوچیانو ته ورسېده. له همدې لامله ان د احمد شاه بابا له وخته دا اړتیا ونګېرل شوه چې یو لړ پرګنې یې بیا شمال ته مخه کړي، خو دغه خپلسري لېږد نه پخپله د لېږدېدونکیو په ګټه و او نه د اړوندو حکومتونو، ځکه زیاتره یې کوچیاني او موسمي بڼه

درلوده او بله خوا څنګه چې د شمالي سیمو هغه پخوانی "باختري" ښېرازتیا او سمسورتیا دومره را پاتې نه وه او د هماغو او یا تورکي خانخانیو د پاتې شونیو ځمکواکانو د ناغېړی او اغېز له لاسه شاړې، بنجر او ځنګل شوې وې، نو یو زیات بشري ځواك ته یې اړتیا درلوده، له همدې کبله د زور واك امیر عبدالرحمان له پېر راهیسې نوموړي دودیز لېږد ته یوه سرکاري اجباري بڼه ورکړ شوه او موسمي کوچیان یې هم هلته د مېشتېدنې لپاره اړ ایستل. ځکه د تلپاتې مېشتېدنې او کلیوالي ژوند لپاره یې هغه مهال هېڅ وړتیا نه درلوده او هغه شاړې او شډلې بیا ودانول د چا له وس و واکه پوره نه وو. ماشیني ځواك خو هغه مهال لا په اروپا کې هم دود نه لاره. زیاتره کورنۍ به د ماشیو او ملاریا له لاسه بېرته تېښتې ته اړوتلې او دغه متل هم په پارسي او پښتو کې بې شانزوله نه و چې ویل به یې: "که مرګ غواړي، کندوز ته ولاړ شه!" او اوس دغه متل سرچپه شوی دی"، "که ژوند غواړې، کندوز ته ولاړ شه!"

وګړپوهان او تولمپوهان دې پایلې ته رسېدلي چې پخوانۍ مدنیتونه په اوبه لرونکو ناوو کڅونو کې د ګڼ مېشتی او وګړګڼتیا زېږنده دي، لکه د مېزوپوتامین (بین النهرین)، باکتریا، موهنجدارو، مصر، یونان، او د چین، هند او نورو هېوادونو دور ته یېږورو سیمو هغه.

ستمي سېکتاریستانو او تش په نامه انقلابیان او بیا بېلتونپال هډو پردې سر نه ګرځوي چې که رښتیا د پښتنو په ګډون دا څه له پاسه څلور میلونه پرګنې شمال ته په زور و ځواك نه وای لېږدول شوی، دا دومره شاړې او ځنګلې او ورسره ورسره وچ ډاګونه څنګه بېرته اباد بدل او د ټول هېواد لپاره د غلې پر زېرمه بدلېدل؟

*تش په نامه کمونیستانو که په رښتیا سره د دورانسازې مارکسیستی - لیننیستي لیدتوګې استازي کولای، باید دغلته یې د پښتنو او وزبکو یا نورو پرګنو تر منځ جړې او*

*ټکرونه له پارکیز (طبقاتي) او بشري پلوه ارزولی وای. خو د دوی مبارزه له بېخ وبنسټه کومه پارکیزه او بشري مبارزه نه وه او د دوران سازې اندتوګې تر نامه لاندې یې ستمي او شوونستي غوښتنې پر مخ وړې.*

دا چې افغاني شاهانو په لوی لاس د بړې ځمکې پښتنو ته ورکړې او د لویو لویو ځمکواکانو (فیوډالانو) په توګه یې پر تورکو او تاجیکو یا هزاره وو بر لاسي کړي او بیا یې هغه د خپلو کپوکو ډلو پرهبنوولو ته اړ ایستلي او یا یې هم پرې نور زور زیاتی کړی دی، چاره یې دا نه ده چې وینې ببرته په وینو ومینځل شي او پښتانه ببرته سوېل ته په اجباري ډول وشړل شي. بلکې د نوي مهال یو دیموکراتیك هواری ورته پلټل په کار دي. دغه راز ځمکسمون په نورو هېوادو کې هم په ورته زاړه مېتود تر سره شوی او نومېشتو تر زوړ مېشتو زیاتې ځمکې تر لاسه کړي دي چې یوه غوره بېلګه یې شمالي امریکا ده چې اروپایي کډوالو تر بومیانو پر زیاتو ځمکو لاسبری موندلی دی او د افغانستان غوندې هلته هم پخوا ډېرو ځمکو ته زړه نه ښه کاوه، نو هر څوك ازاد وو. څومره یې چې غوښتل او تر افریقایي مرییانو پورې بشري ځواك هومره ځمکه تر کار او کرنې لاندې راوړې. لکه څنګه چې پاس وویل شول، د شمال ځمکې شاړې او ځنګلي وې او هرې کورنۍ چې ډېر مېړونه لرل، هماغومره ځمکه یې ودانوله او په پای کې هم پر سترو ځمکوالو او ځمکواکو بدلېدلې دا چې امیر عبد الرحمان یا بل واکمن یو لړ سردارانو او سرغنه وو ته تیارې ابادې ببخرته ځمکې ور ببنلې، هرومرو به یادولتي تولواله (ملکیت) ګڼل کېده او یا به د وخت له شرایطو سره سمې په استملاکی ځمکو کې راتلې، په هره توګه یې هغوی ته باید په سوېل کې د پرې ایښو ځمکو پوره انډول ور کړی واي، دا ببله خبره ده چې په دغه برخه کې یې له څومره زور وظلمه او یا عدل و نیاوه کار اخیستی دی. خو اوس هغه ټول را لېږدېدلې

پښتانـه د نـورو را لېږدېدلـو وګړ ډلـو غونـډې دغلتـه مېشـت دي او همدغـه يـې ټاټوبـي ګرځېدلـی او د سوېل غونـډې دلتـه هـم تـر بـل هـر توکم ټبره يو ډېرې جـوړوي او هماغسـې چـې نـن سبا پـه ټولـه هېوادنـۍ کچه ډېره کي او بومـي پښتانه حق نـه لـري، نـابومي لـړه کيـو تـه د پـردو پـه سترګه وګوري او خپلـو اړونـدو سيمو يـا هـېوادو تـه يـې پـه بېرتـه تـګ اړ باسـي، دغسـې دغـه لـړه کـي هـم دا حـق نـه لـري، آر استـوګن پښتانـه لـه دې سيمې يـا هغـې سيمې څخـه وشـړي، لکـه څنـګه چـې د وګړ رښتـو (بشـري حقوقـو) پـه نړيـوال دوی ليـك (منشـور) کـې پـر اجبـاري لېږدونـه او شـړنه (تبعيـد) بنديـز لـګول شـوی او هـر چـا تـه پکـې د استوګنځي او لـېږد د امرنـې (انتخـاب) حق پـه ګوتـه شـوی دی.

۶-۳-۱۰: د تېرونـا سـمو او وګړنـي ضـد حکومتونـود "بېل يـې کـړه - اېل يـې کـړه" سياسـتونه لنډاندو سياسـي سـوداګرو تـه دا سـر ګرمـي او بوختيـا هـم برابـره کـړې وه چـې پـه ښکـاره پښتـو د لومړنـۍ ملـي – سرکاري ژبـې پـه تـوګه انـګروزه کـړي او د تـش پـه نامـه کورسـونو لـه لارې يـې زده کـړه اجبـاري وښيـې، خـو پـه کـړن کـې يـې د پاړسـۍ لاسکتوې وسـاتي، نـه ورتـه اداري او دوتـري رښتـه ورکـړي او نـه ورتـه بشـپړ زده کړيـز (تعليمـي) حـق، همداسـي يـې پـه خپرنـي او رسـني اونورو ورځنيو کاروني ډګرونـو کـې هـم در واخلـه، کـه نـه هسـې خـو پـه کـاغذونو او ان قـانوني لاسـوندونو کـې ملـګرو ملتـو او نـورې بهرنـۍ نـړۍ تـه هـم د يوازينـۍ چـال چلنـد ژبـې پـه تـوګه ور پـېژنـدل شـوې وه، مګر بيـا يې هم پـه کړنـيز ډګر کـې يـې چـا پلـو لـه مخـه نـه دی اخېستی او پر ځای يـې هماغـه نارسمي يـا دويمـه رسمي پارسـي د ټولـو نړيوالـو پـه سـترګو کـې ور ننـه ايسـتې وه. د ۱۹۶۴ ز کـال د چـا خـبره پـه لومړنـي "ديموکراتيـك" اساسـي قـانون کـې يـې ددې لپـاره چـې پارسـۍ تـه يـې هـم د پښتـو تـر څنـګه د دويمـې رسـمي ژبـې دريـځ ور ښنلـی وي، نو نـوم يـې پـر "دري" ور واړاوه چـې ځوك پـرې د بـل ځايـي ژبـې پـه تـوګه د ګوتنيـوي حق ونـه لـري او دادی، نـن سـبا يـې بـير تـه هماغــه آر ژبنـۍ

نـوم "پارسـي" يـا "فارسـی" را خپـل کـړ او اړونـد ليکـوال او پوهـان يـې ئور پـه همدغـه پخوانـي او ار نامـه دودول غـواړي.

کـه تېرو شـاهي حکومتونـو، چـې لـه بـده مرغـه يـې لـه تېرنـي پلوه د پښتنـو د پـزې پـېزوان پـاتې شـوي دي، پـه رښتيـا سـره سـمه ژبنـۍ پاليسـي پـاللاي، د پښتـو کورسـو پـر ځای بـه يـې هـم پخپلـه پښتـو زده کـړی وای او هـم بـه يـې پـه عملـي تـوګه د کـارمندۍ (اسـتخدام) يـو بنيـادي شـرط ګرځولـی او پـه زده کړيـزه خپرنـيزه برخـه کـې بـه يـې هـم بشـپړ، يـا پـه بلـه وينـا د دويمـې سـرکاري ژبـې "پارسـۍ" تـر څنـګه يـو برابر عملی حق ورکړی وای او تر هر څه لـه مخه بـه يـې بيـا هـم لـه ځانـه را پيـل کـړی واي او لـږ تر لـږه بـه يـې رسـمي وينـاوې پـه پښتـو کـولای!

دا څومـره د خندۍ خـبره ده چـې د بـې فرهنـګه صديـق فرهنـګ او جـلال الديـن صديقـي غونـدې لنډ انـدي ليکـوال او تـاريخوال تـش پـه نامـه دوه نيـم سـوه کلنـه پښتنـي واکمنـي د نـا پښتنـو پـه وړانـدي پـه "اپارتـايد" تورنـوي او پـه دې ځان نـاګاروي چـې پـه کـړن کـې خـو د سوېلي افريقا غونـدې پر ډېره کي بـاندې د لـږه کـي لـه خـوا اپارتـايد تـر سره شـوی، ځکـه ار لوبغـاړي او سياسـي، فرهنـګي واکـوال يـې تـل لـږه کـي پارسـي ژبـي او نـور لـږه کـي وو. د ډېره کيـو يوازينـۍ ونـډه پکـې پـوځي او دفـاعي وه او د هـېواد د خپلواکـۍ، ملـي واکمنـۍ او ځمکنـۍ بشـپړتيا د سـمبالونې پـازه پـه بنسـټيزه تـوګه د همـدوی پـر غـاړه وه. کـه د تـوپير پـالنې (نـژادي تـوپير) او جـلا سـاتنې (اپارتـايد) لاسـوند دا و چـې هماغـه د سـر سـړي (شـاهان) پښتانـه وو، نـو پـه دې تـوګه د فرانسـې تـر انقـلاب لـه مخـه د نـړۍ هـېڅ يوولـس او هـېواد لـه نومـوړي تـوره پخشـو (خلاص) نـه و، ځکـه چـې پـه سـر کـې يـې مـيراثي او زور واکـي (مطلـق العنـانو) شـاهانو او تولواکمنـانو تيکـاو لاره، ښکېلاکګر هغـه خـو پـه هـر ډول تـر هغـوی هـم بـتر وو او لـه زبېښاکـه نيولـې تـر نـژاد پـالنې او اپارتـايده پـورې ورتـه د هـرې نـاروا او نـاخوالې ګوتـه نيـول کـېده.

په ټول دوه نیم سوه کلن شاهي پېر کې خو له پاچا او کورنۍ او څوتنو پوځیوالو پرته زیاتره ګټې له اقتصادي ببخبنا څخه تر فرهنګي مخبنا پورې د هماغو نا پښتنو درباریانو او تکنوکراتانو په ټیکه (مونوپول) کې وې او په وړاندې یې پښتنو د خپلې ژبې او فرهنګ د پالنې او سمبالتیا یوه سمه رښتنه (حق) او واك هومره هم نه درلود، د سمسور افغان (۱۴ مخ) خبره رښتیا چې په واکمنۍ کې یې ببواکي وه. که لنډ اندو تاریخوالو او سیاستوالو یو لړه کې سول و سنجش درلودای، په دې لامل پسې به شوی وای چې د هماغه شاهي نظام په رنګونه کې پښتنو ولې مخکښانه نقش لوباوه!

دوی به په راتلونکیو ملي - دېموکراتیکو حکومتونو کې بیا هم د ډېره کیو پښتنو مخکښانه نقش څنګه رد کړای شي، بیا خو دانه شی ویلای چې ولې یې په پارلماني جرګو او حکومتي اډانه کې شمېر زیات دي. " ډېری" خو په نړیواله کچه یو ټولمنلی ولسواکي او دیموکراتیکي آر واصل دی. همدا چې څا په سل کې ۵۰+۱ رایې تر لاسه کړې، هماغو مره واك اوځواك ور پورې اړه پیدا کوي او د مشرتابه دریځ را خپلوي. د پښتنو په برخه کې هم بیا څوك دا ویلای او انګروزولای نه شي چې دغه واك و ځواك او مشرانه دریځ یې په زور یا درغلۍ تر لاسه کړی، یادا چې هغه پخوانی "کارملي - کاویاني" سیکتاریستي استدلال را مخته کړي چې "که پښتانه ډېری هم دي، خو بې کولتوره دي"(!)

۶-۳-۱۱: لکه پاس (۶-۳-۵، ۶-۳-۶ او ۶-۳-۷) چې څرګندونې وشوې، سره له دې چې په افغانستان کې ټولې کورنۍ او بهرنۍ سر شمېرنې دومره علمي او کره نه برېښي، بلکې د ټولو یو غورچاڼ یا اوسط ښایي، څه نا څه یو باور وړانځور را تر لاسه کړي. په دې لړ کې د شپېتمو کلونو هغه که د یونسکو (کلیمبورګ ) له خوا شوې او یا د شوروي او نورو له خوا، را وروسته پکې لږو ډېرې کرونې او سمونې را منځته شوي دي، لکه واخلې د شوروی بروك هغه چې پر ۱۹۸۱ کال یې په اړوند اثر

(دنړۍ وګړ شمېره) کې وړاندې کړې ده، او دا دی نژدی شل کاله وروسته د واك فونډېشن او د ملګرو ملتو تازه وګړشمېرې (وارلډ بوك انسايکلوپېډيا اټوك ۹۲ مخ ۱۹۹۸ کال ۲۳۷۳۱۰۰۰ اټکل کړې ده) بيا نورې هم پسې کره شوې او سهي کړ شوې او له دې سره سره يکې نوې زياتېدنې هم په پام کې نيول شوې دي، په تېره د واك فونډېشن وګړ شمېره په پوره ميتوديك ډول د يوې رښتېنې سر وې او ډګر څېړنې (فيلډ ريسرچ) پر بنسټ برابره شوې ده او په دې توګه تر نورو ډېره باورې برېښي. ددغې وګړ شمېرې يوه غوره ځانګړتيا داده چې د هر توکم و ټبر سلنه يې هم د آرې او ستې له مخې ښوولې او هم د ژبې له پلوه، حال دا چې نورو پر يوه يوازينۍ سلنه بس راوړې دی. د بېلګې په توګه کليمبورګ زياتره اتنيکي سلنه په پام کې نيولې او بروك زياتره ژبنۍ سلنه او په ځينو برخو کې دواړو تر دا منځ له ګډوډۍ هم کار اخېستی، لکه: کليمبورګ پښتانه له اتنيك پلوه په سل کې ۶۰ او پارسيوان يې بيا له ژبنی پلوه په سل کې دېرش او بروك په سرچپه توګه پښتانه له ژبنۍ پلوه په سل کې ۵۲،۹ او پارسيوان له اتنيکي پلوه په سل کې ۱۹،۸ ښوولي دي. واك پر خپل وار د پښتنو اتنيکي سلنه ۶۲،۷۳ او ژبنۍ هغه ۵۵ او د پارسيوانو (تاجيکو) اتنيکي سلنه ۱۲،۳۸ او ژبنۍ هغه ۳۳ کښلې ده، مانا دا چې پښتانه په سل کې ۷،۷۳ پارسيوان شوي او پارسيوان په سل کې ۲۱،۳۸ زيات شوي دي. (سمسور افغان ۱۸مخ).

۶-۳-۱۲: سمسورافغان (۱۷مخ) د پښتنو اونورو د پرسنايزېشن يو لوی لامل دا په ګوته کړی چې پارسي د دوترو دربار ژبې په توګه هغه دېته اړ ايستلي چې خپله ژبه ورو ورو هېره کړي او پارسي را خپله کړي او له دې لارې د پارسيوان غونډې په سرکار کې ومنل شي، بل لامل يې د شوروي اکتوبر انقلاب را وروسته د منځنۍ اسيا د تاجيکو را لېږدېدنه ښوولې ده. زما په اند پر دغو دوو لاملونو سربېره ددغې لويديزې اريانۍ ژبې، لکه څنګه چې په دې کتاب کې ورته نغوته شوې، ديني (اسلامي) ارزښت هم له دغه پلوه لومړی او بنسټيز نقش لوبولی دی او د نورو غونډې پښتنو ته هم له

هماغو لومړیو څخه تر عربي ژبې وروسته دویمه "اسلامي" ژبه، یا په بله وینا د عربۍ ځایناستې تلقین شوې ده او په افغانستان او بیا پښتني سیمو کې تر نومهالو ښوونځیو او زده کړو پورې پېړۍ پېړۍ زده کړیزه (تعلیم) ژبه پاتې شوې، په نوي پېر کې هم ترې پښتو ډېر وروسته سر هومره راهسك کړې او د نورو برخو په څېر یې ورسره په دغه برخه کې هم سیالۍ ته را دانګلي دي، خو بیا هم پوره سیالۍ ته نه دي پرېښوول شوې او ډېر پښتانه دېته اړ ایستل شوي، چې د مورنۍ پښتو پر ځای نه یوازې لوړې زده کړې، بلکې د کابل په ګډون په نورو ډېرو ګډوله سیمو کې لومړنۍ هغه هم په پارسي ژبه تر سره کړي. همدغه ژبني -فرهنګي زبېښناك د هېواد پرتولو لړه کیو لکه وزبیکو، تورکمنو، قزاقو، اویغورو، اورمړو، پراچیانو، کوردو، بلوڅو، پامیریانو، پشه یانو (له لغمان او کونړ پرته) او نورو هم تپل شوی او له دې سره د پرسنایزېشن بهیر نوره هم پراختیا او چټکتیا موندلې ده. که نه په کار وه، پښتو د لومړنۍ ملي - رسمي ژبې په توګه د ټولو لړه کیو دویمه ژبه منل شوې وای او که لا کېدونې وای، لومړنۍ زده کړې د ټولو په خپله خپله مورنۍ ژبه وای. دغه رښتیا یې نه یوازې ملي او دیموکراتیك، بلکې په نړیواله کچه یو بشري حق دی، البته منځنۍ زده کړې او لوړې هغه په لومړنۍ ملي – رسمي ژبه قانوني بلل کېدای شوې.

له ژبپوهنیز پلوه له کوردي، پراچي او څه نا څه پیوندي (تورکومغولي) ژبو پرته نورې ټولې لړه کۍ ژبې تر پارسۍ، پښتو ته ډېرې نژدې دي، یا په بله وینا د هېواد زیاترو لړه کیو ژبتوکمیزو ډلو ټپلو لپاره تر پارسۍ، پښتو اسانه ده، که هغه پامیري ژبې دي، که دردي، یا هندي او دراویډي او ان آریاني اورمړي او بلوڅي له پښتو سره د یوه اوږده ګاونډیتوب له کبله ډېر نژدې غږپوهیز او ویېز (لیکزیکي) اړیکي لري. که د سرکاري زور و زبېښناك خبره نه وای، پارسي له ټولې بېخرته ګرامري او فونېتیکي ساده ګۍ او اسانتیا سره سره بیا هم دومره سراسر یوالي او ټولیزوالي موندلای نه

شو. په همدا ورته زور وزبښناك د انګريزي، فرانسي، پورتګالي، اسپانيي... غونډې ګرانې ژبې هم په اړوندو ښکېلو هېوادو کې واکمنې شوې دي. (۶-۶-۳ او ۴-۱-۹ دې هم وکتل شي).

۶-۳-۱۳: د افغانستان د بېلابېلو توکمونو او ژبتوکميزو ډلو شمېرنې او سلنې:

| ژبتوکميزې ډلې | سر شمېر | سلنه | کتنه |
|---|---|---|---|
| پښتانه | ۸۰۰۰۰۰۰ | ۵۲،۹ | اټکلي ۶۰-۶۵ په سل کې |
| تاجيك (پارسيوان) | ۳۰۰۰۰۰۰ | ۱۹،۸ | له ژبني پلوه ۳۰ په سل کې |
| وزبيك | ۱۳۰۰۰۰۰ | ۸،۶ | |
| هزاره | ۱۳۰۰۰۰۰ | ۸،۶ | فيروز کوهي، تايمني او |
| څهارايماق | ۴۵۰۰۰۰ | ۳ | زوري (سوري) |
| تورکمن | ۳۰۰۰۰۰ | ۲ | له آره پښتانه دي |
| بلوڅ | ۱۳۰۰۰۰ | ۰،۹ | |
| نورستاني | ۱۲۰۰۰۰ | ۰،۸ | |
| پشه يان | ۱۰۰۰۰۰ | ۰،۷ | تن سا ترشېرلکوهم وراوړي |
| پاميريان | ۱۰۰۰۰۰ | ۰،۷ | |
| پارسيان | ۴۰۰۰۰ | ۰،۳ | |
| افشار او قزلباش | ۳۰۰۰۰ | ۰،۲ | |
| عرب | ۳۰۰۰۰ | ۰،۲ | |
| پنجابي،هندوان اوسيکهان | ۲۵۰۰۰ | ۰،۲ | دا شمېر هم ډېر کم ښوول |
| تيرايي | ۲۰۰۰۰ | ۰،۱ | شوی دی |
| جټان (ښنګړيوال) | ۳۰۰۰۰ | ۰،۲ | |
| مغول | ۲۰۰۰۰ | ۰،۱ | |
| کورد | ۱۰۰۰۰ | ۰،۱ | |
| قرغز | ۱۰۰۰۰ | ۰،۱ | |
| اورمړ | ۵۰۰۰ | ۰ | |
| پراچيان | ۵۰۰۰ | ۰ | |
| قزاق | ۵۰۰۰ | ۰ | |

* بروك د نړۍ وګړ شمېر، مسکو، د پوهنو اکادمي له خپرونو ۱۹۸۱ او د واك فونډېشن له "د افغانستان قومي جوړښت" ۱۹۹۸ څخه.

## ۶-۴: پنځګوني پښتني ټبرونه

۶-۴-۱: هماغسې چې پښتانه له پنځګونو آرياني ټبرونو څخه د ساکانو له ستړو پاتې شونيو څخه ګڼل کېږي او له دې سره د ختيزې آريانا يا اوسني افغانستان لومړني آرو بومي (Aborigine) استوګن. دغسې پخپله هم پر ستړو پنځګونو ټبرونو يا ښاخونو وېشنه مومي او بيا يې دغه ستر ټبرونه يا ښاخونه په جلا جلا توګه پر بېلا بېلو ښرانګو او ښرانګوړو، زيپونو، خېلونو او وړو وړو پښو وېشل کېږي. لومړني ستر پنځګوني وېش او نور لوی لوی او واړه واړه وېشونه او پښتونې (شجرې) د ټبرنې اوډون (نظام) زېږنده ده او د همدغه اوډون د پايښت له کبله د پښتنو د بې شمېرو انګېرنو او روايتونو د يوه رغنده توك په توګه تر اوسه تاند و تازه پاتې دي او په پای کې يې هم له ګړنې ښې څخه ليکنۍ ته هم لاره موندلې او له ښايسته ډېر مهاله را هيسې شاعرانو، ليکوالو، پښت پوهانو او تاريخوالو راخوندي کړي دي، په دې لړ کې ورته خوشال بابا درې – درې نيم سوه کاله پخوا داسې پېيلې جوله ښنلې ده:

پښتون په اصل سړبنی دی يا غورغښتی دی يا بېټنی دی

لودی، غلجی د بېټ له لوره په سړبن پورې بيا کـرلاڼی دی

د پښتنو ټبرنيو روايتونو له مخې دغه پنځه ټبرونه په لومړي سر کې د يو ګډ ور نيکه "قيس= کاس= ساك" يا په اسلامي نامه "عبدالرشيد" له درو زامنو څخه آره اخلي سړبن- غرغښت- بېټ (بېټ نيکه).

د دغو درو پلرونو زوزات په "اصلي" پښتنو کې راځي او د پاتې دوو زوزات (متوزي او کرلاڼي) د "وصلي" پښتنو په نامه بلل کېږي. مانا داچې د لومړنيو درو پلرونو يا په بله وينا د بېټ نيکه د زامنو پر ځای د لوڼو له زوزات څخه دي.

د ظفر کاکاخېل (۱۲۶۵-۱۲۶۶مخ) له وينا سره سم پنځه ګوني ښاخونه ټول ۴۰۵ غوره ټبرونه را اخلي، په دې ډول:

سړبني ټبرونه ۱۰۵

غرغښتي ټبرونه ۹۵

بېټني ټبرونه ۲۵

متوزوي ټبرونه ۵۲

کرلاڼي ټبرونه ۱۲۸

۶-۴-۲:


قیس (کاس= ساک)
عبدالرشید
ببت
غرغښت
سړبن
پاینده خان
خرښبون
شرخبون
امیر دوست محمد
سردار
میانه
اورمړ
برېڅ
ترین
شېراني
غازي محمد اکبر
شیرعلي
محمد افضل
محمد اعظم خان
یحیی
اشکون
غرشین
غوري
بور
سپین
تور
دور
عبد الرحمن
حبیب الله
امان الله
آصف
یوسف
ابدالیان
اختر
سلیمان
خاکو
ماکو
عیسی
ادو
علي



غازی ایوب
یعقوب خان
عبد الله خان
محمد ظاهرشاه
محمد عزیز
محمد هاشم
شاه محمود
زیرک
میر
تور
سهاک (اسحاق)
ساکزي
نورزي
پوپل
بارک
الکو
مستی
سدوزي
نصرت
الکوزي
نور الدین زي
محمد زي
یارو
یوسف
جمال خان
پاینده خان

۳-۴-۶:



قیس (کاس= ساک)
عبدالرشید
سربن
غرغښت
ببټ
شرخبون
خرشبون
داني
بابي
مندو
بي بي متو
مندوخېل
تور
سپین
بور
ابدالیان
کاکړ
ناغر
پني
داوي
میرز
کیرزي
غلجي
لودي
توخي
هوتک
تره
سهاک
اندړ
خروټي
علي
سلیمانخېل
نیازي
سوري
سیاني
دوتاني
لوهاني
مروت
کدون
موسی
ساپي
مشواني
کیسرخېل
اسمایلزي
احمدزي
ستانیزي (سلطانیزي)
کوربز
کندهاري
ودبر
مسوود
جبارخېل
بابکرخېل
عبدالرحیمزي
کروخېل

۴.۴.۶:


خرښبون (خير الدين)
کاسی
خمند
کند
جمرياني
شينواري
انوزي
...
خوبنی
غوريا
بوسفزي
ترکاني
خوبشکي
کتاني
بنکي زي
عمرزي
ملازي
بنک زي
دولت يار
خليل
خمکني
زيراني
موسند
داودزي
...
متي زي
سالارزي
ترکزي
ساک زي
باروزي

۵.۴.۶:


کرلاڼ
کودی
ککی
دله زاک
ورکزي
وردګ
منکل
خاخی
اپریدي
خوګیاڼي
ختک
بنګښ
خدراڼ
اتمانخېل
تڼي
وزیر
خدری
ولي
موسی (درویش)
محمود
مبارک
استانزي
احمدزي
مسعود

ACKU

# ۷ – څپرکی

## د پښتو ګړدودي وېش

### د پښتنو د ټبرني او سیمه ییز وېش ښکاروندی

۷-۱: موږ د ژبپوهنې له پلوه په دوو ټبرو آریاني ژبپېرونو کې د پښتو او پښتنو د څرګ ایستنې او نومېرنې (تشخیص) لپاره تر هر څخه له مخه پر تاریخي ژبپوهنه ډډه ولګوله او دا دی، په دریم پېر کې د هماغې تاریخي ژبپوهنې پر بنسټ دېته اړ وځو چې په دغه اړه د نورو سرچینو تر څنګه پر جغرافیایي ژبپوهنې، یا په بله وینا ګړدود پوهنې ډېر زور واچوو، پښتو ګړدود پوهنه ددې جوګه ده چې هم مو پخپله د ټولیزې پښتو ژبې له پرمختیایي بهیره خبر کړي او هم مو د ویونکیو (پښتنو) له مېشتځایونو، لېږدلوریو، سیمه ییزو او ټبرنیوو بشونو څخه. څکه تر کومه ځایه چې اړوندو څېړنو را جوته کړې ده، پښتو ګړ دود وېش تر ډېرې کچې له سیمه ییز او ټبرني وېش سره اړوندي لري. په بله وینا له یو خوا تاکلې سیمې خپل تاکلي ګړ دودونه لري او ور سره ورسره بله خوا، تاکلي ټبرونه خپل تاکلي ګړدودونه، او یا هم همزمان د یوې تاکلې سیمې تاکلي

ACKU

تېر د خپل ځانګړي "سيمه ييز-تېرني" ګړدود استازي او ښکارندويي کوي.

تاريخي ژبپوهنې او بيا تاريخي غږ پوهنې را جوته کړه چې کوم ګړدودونه له تاريخي او جغرافيايي پلوه مخنى دريځ لري او کوم منځنى او کوم وروستنى. بلـه خـوا مـو د استاد مورګنستيرنې (۱۹۷۵ کال د ليکنې له مخې د پښتو او پښتنو لېږد لاز او وروستى، او په يو مهال کې لومړنى باور وړ مېشتځاى "کسى غر" سهى کړاى شو چې له همدغه مېشتځايه بيا د هغو خپرېدنه تر څېړنې لاندې ونيسو، هغه هم تر هر څه له مخه د دوه ګونو غږونو "ښ" او "ږ" پر بنسټ چې ټول پښتو ګړ دودونه له خپلو ويونکيو سره پر څلورو ډلو وېشي، په دې ډول:

| سويل لويديز ګړدودونه | سويل ختيز ګړدودونه | منځني ګړ دودونه | شمال ختيز ګړدودونه |
| --- | --- | --- | --- |
| ښ ş̌ | ښ š | ښ x́ | ښ x (خ) |
| ږ ẓ̌ | ږ ž | ږ ğ | ږ g (ګ) |

مانا دا چې له اتمې زېږدي پېړۍ را هيسې او سنى پښتو دغه بدلون له سويل لويديځه را پيل کړى او تر شمال ختيځه يې را رسولى دي، په دې راز: x > x́ > š > ş̌ او g > ğ > ž > ẓ̌، پرخپل وار د ş̌ > s̄ > s او z پر خپل وار د ẓ̌ > ṣ > š اوښتيايي بهير (تحولي سير) پايله ده. دغه اوښتيايي بهير له زماني بهير سره سم يون کړى او پر شانه دى تللى، له دې کبله لکه څنګه چې د پکټ، پکتويس په اړه ويل شو، د ننګرهارى خ پر شا تګ ناشونى دى. دلته او په لښتليک (جدول) کې د ښ (ş̌) وينګ دداسې "ش" ښکارندوى دى چې ور سره په خوله کې ژبه را غبرګېږي، کټ مټ، لکه د ټ، ډ، ړ، ڼ.... په څېر، همداسې د ږ (ẓ̌) وينګ د داسې "ژ" غونډې دى چې

ژبه ور سره په خوله کې را غبرګېږي، مانا دا چې په سوېل لویدیزه (کندهارې) ګردودي ډله کې غبرګژیز ش او ژ لږو او دلته یې په نړیوالو فونیمیکو سېمبولونو یا توریو š او ž سره نومېږو (تشخیصوو). بله خوا څنګه چې په پاس ډول د دارمسېټېټر، ګایګر او مورګن ستیرنې تاریخي – پرتلیزو فونېټیکي بدلونو را وښوولـه، دغه دواړه پښتو اوازونه (فونیمونه) د زړو غږونو د ادلون بدلون پایله (نتیجه) ګڼل کېږي او تر دا نورو درو جوړو یې زیات اروالي او لرغونوالي زیات شوی دي. په دویمه (سوېل ختیزه) ګردودي ډله کې په ډېر ناجوتوړ تویېر ښ پر ش او "ږ" پر "ژ" اوړي، په منځنۍ ګردودي ډله کې ښ د ښ + خ یو منځګوره غوندي وینګ لري چې له روسي x او جرمني "ch-(i)" غږ سره ورتوالي ښیي او فونېمیکي یا غږیز سېمبول یې x دی او ږ له اره د ګ + غ یو ګډوله غوندي ترښتي (ترکیبي) غږ دی او غږیز توری (سېمبول) یې هم g، خو تر څنګه یې د تش ګ g وینګ هم لږ و ډېر دود لري، په شمال ختیزه ګردودي ډله کې ښ یو مخیزه پر خ او ږ یو مخیزه پر ګ اوښتي، یا په بله وینا هم ښ او خ سره یو شان ویل کېږي او هم ږ او ګ.

په دې توګه یوازې سوېل لویدیزو یا کندهارې ګردودونو، یا په دوده نومونه "پستې پښتو" دغه دوه ګونې تاریخي غږونه په څرګند او بشپړ ډول خوندي ساتلي دي او دا نور چې څومره له ار ناتویې لرې لېرېدلي، هومره یې ګردودي توپیرونه له کندهارې (سوېل لویدیز) دوې سره زیات شوي دي.

له دغه څلور ګوني ګړ دودي وېش سره پتلیز ګورو چې بېلا بېلې څلورګونې سیمې او څه ناڅه څلور ستر تېرونه یا تېرنۍ ډلې تړاو لري.

۷-۱-۱: لومړۍ ډله لویدیز یا کندهارې ګړ دودونه په لومړنۍ لیکه کندهار، هېلمند، سیستان... کې، د غلجي، غرغښتي... لړه کیوتر څنګه، زیاتره په سرېني پښتنو اړه لري.

۷-۱-۲: دویمه ډله یا سوېل ختیځ ګړ دودونه د لومړۍ ډلې په مخامخ جغرافیایي دریځ کې ټیکاو لري. یا په بله وینا زیاتره له کسې غره سویل او ختیځ ته راځي، په داسې اکر کې چې لومړۍ ډله زیاتره ددغه تاریخي پښتني ټاټوبي شمال او لویدیځ ته راځي. په دغه دویمه ډله کې له ټبرني پلوه د لړه کیو سرېنو تر څنګه زیاتره غرغښتي او کرلاڼي ټبرونه راځي، لکه کاکړ، کاسي، شیراني، وزیر، مسید، ګنداپوري، بنوڅي او ختک دغه راز ښېټني چې له پنځو بنستیزو ټبرو څخه کوم ځانتني دریځ نه لري او له پخوا راهیسې په وزیرستان او ور څرمه سیمو کې اوسي، هم په همدغه دویمه ګړ دودي ډله کې شمېرل کېږي. له بلې خوا یو لړ کرلاڼي ټبرونه، لکه ځدران، تڼي، منګل، ځاځي، او ان وردګ یو بېدودي (استثناء) را منځته کوي او اوسنیو سیمو ته تر رالېږدېدنې مېشتېدنې را وروسته یې زیاتره هغه هم د "ښ" او "ږ" له پلوه د ګاونډو غلجي ټبرونو ګړدود را خپل کړی. یا په بله وینا په دریم ګړ دودي ویش (ږ ğ، ښ x̌) کې یې ټیکاو موندلی دی او د خپل کرلاڼي ګړ دود یا ګړدودونو هماغه خپلواکو نج (واولي بدلون) او "ش" (شته...) او داسې نورې نښې نښانې یې څه نا څه ساتلي دي.

۷-۱-۳: دریمه ډله (منځنۍ) ګړدودونه د درانیو - غلجیو له پخوانۍ ټبرنۍ پولې "جلدك" څخه د جلال اباد سره رود تر دو سرکې پورې نژدې په یو مخیز ډول ټول غلجي ټبرونه را نغاړي. هر ګوره د متوزیو دویمه ډله ټبرونه، لکه د غزني د کره باغ خروټي، دوتاڼي همدا راز د ښرني علیخېل یا د زرملې مینزي په استثنايي توګه د دویمې ګړدودي ډلې (ښš – ږ ž) استازي کوي. په زړه پورې بیا دا چې دغو ټبرونو د کاکړو، شیرانیو او د سوېلي پښتونخوا نورو شاخوا ټبرونو د (ښš) تر څنګه د (ږ z) دویمې بدلون (ز) هم را خپل کړی دی.

۷-۱-۴: څلورمه (شمال ختیزه یا ننګرهاری) ګړ دودي، یا "د زوړ پښتو" ډله له جغرافیایي پلوه له غلجایي حصارك او سره رود (له غلځایي ټبرونو پرته) ټول ننګرهار، کونړ، لړو ډېر باجوړ، د موملندو سیمه، شاوخوا پېښور، سوات، چچ هزاره ضلع، هریپور، اټك تر تاریخي هندي برید "مارګلی" پورې ټولې سیمې را نغاړي چې په ټولیز ډول یکې مومند، شینواري، ساپي، ترکاني، یوسفزي، دله زاك، خلیل، داودزي، ګدانه او نور لوی واړه ټبرونه راځي، نو که د احمد شاه با با له وختو راهیسې دوده نومونه (اصطلاح) "بردراني" په پام کې ونیسو، نو ددغو ټبرونو بشپړ ډېری بیا هم په سرېښو کې شمېرلای شو(!). په دغه ډله کې دواړه تاریخي غږونه (ښ او ږ) پر (خ او ګ) اوښتي دي، په دې توګه دواړه غږونه دغلته هسې په لیکنۍ پښتو کې تر پام لاندې نیول کېږي او په ګړنۍ پښتو کې له کره (معیاري) غږپوهیز (فونیمیکي) لیکلړه غورځېدلي دي. او که ژ، ځ او ځ ور سره هم ملګري کړو، د ټولو غورځېدلو یا له منځه تللو غږونو شمېر یکې له "۳۶" څخه "۳۱" اوازونو (فونیمونو) ته را ټیټېږي. په دغه سخته ګړ دودي ډله کې د نورو درو ډلو په توپیر کوم ټبرنی یووالی دومره نه لیدل کېږي او د چا خبره د پنځګونو پښتني ځانګو د لړو ډېرو استازیو یوه ګډه زېرمه بلل کېږي. په دغه لړ کې د شمالي سپین غر خوګیاڼي چې پېړۍ پېړۍ له مخه له خپلو سویلي کرلاڼي خپلوانو څخه دېخوا ته را اوښتي دي، له یوه څه واولي بدلون پرته یې نوره ننګرهاري‌پښتو را خپله کړې ده. له دې لامله له لومړۍ ګړدودي ډلې پرته پښتو معیاري فونیمیك کچ (کمیت) پرله پسې را نیمګړی شوی دی.

۷-۲: دوکتور شارل کیفر د استاد مورګنستیرنې تر لارښوونې لاندې د افغانستان د ژبپوهنې اتلس د اړوندو را ټول شویو ګړدودونو له مخې د پورتنې وېش تر څنګه یوازې د "ښ" د څلور ګونو وینګو پر بنسټ دا لښتیلیك هم وړاندې کړی دی:




پـه دغـه وېش کـې A د کندهـارۍ یـا پسـتې پښتـو ښکـارندویې کـوي چـې پـه وړانـدې یـې B د ننګرهـارۍ یـا سـختې پښتـو، C بیـا ددغـو دواړو تـر مینـځ د یـوې منځنـۍ پښتـو ښکارندویـه ده او اړونـد اواز "ښ" پکـې د خ او ښ یـو ګډوالـه جـوړوي او D پـر ش بـاندې د ښ š لـه اړونې سره بیـا هـم د کندهـارۍ یـا نرمـې پښتـو استـازې کـوي چـې د دود لـه مخـې ورتـه کرلاڼۍ یـا وزیـرۍ پښتـو هـم ویـلای شـو، ځکـه د واولـې بدلـون لـه مخـې چـې "الف" پر "و" بدلـوي او "و" پـر (ې) یـا (ي)، پـه بلـه وینـا، اوږد (مجـهول) "و" پـر اوږده (مجهولـه) "ې" بدلـوي او لنـډ (معـروف) "و" پـر لنـډه (معروفـه) "ي"، لـه کندهــارۍ، ننګرهــارۍ او منځنـۍ درو واړو ډلـو سره مخـامخ (تقـابل) پیـدا کـوي او ان لـه "ښ- š" او "ږ ž" سره یـې لـه کاکړستانۍ او نـورو اړونـدو (خـروټي، میـنزي....) هغو څخه هـم بېلتـون راځـي.

پـه هـره تـوګه سـم لـه لاسـه د ږ او ښ د بېلا بېلـو وینګونـو لـه مخـې پورتنـۍ څلوګونـۍ ګړ دودي وېش د منلـو وړ بـرېښي، داسـې یـو وېش چې تر زیـاتې کچې د پښتنو لـه ټبرنـي او سیمه یـیزو پېش سره هـم لـږو ډېر اړخ بدلـولای شي، نـو کـه کومـې استثناوې (بېدودۍ) چـې تـر دا منـځ لیـدل کېږي، د پښتـو د ټولـیزو ګرامـري بېدودیـو تـر کچې نـه ور اوړي. پـه ټولنـیزو پوهنوکـې تـر دې زیـات دود والـې (بـا قـاعده والـی) هم تـل کېدون درلودای نه شي.

۷-۲-۱: لـه دې درې ډولـه (ګړ دودي، سـیمه یـیز او ټبرنـي) وېش سره پـه جوتـه تـوګه لیـدل کېږي، هماغـه پښتـانه چې د هیـواد پـه سوېل لویدیـځ کـې راځي او د نرمـې (کندهـارۍ) پښتـو اسـتازي کـوي، نـه

يوازې تـر نـورو پښتنو انګېرليـو تـاريخي ټاټوبيـو (کسـې غـره او غـوړې مرغـې، هېلمنـد، غـور او سيســتان) تـه نـژدې پراتـه دي، بلکـې لـه دې سـره سـره لـه پـاميره تـر دغـو ټاټوبيـو پـورې د راغلـې لـېږد لارې پـه لومړۍ ليکه کې هـم تيکـاو لـري. او دا نـورې ډلـې چـې تـرې هـر څومـره را لـرې شـوې دي. هومـره يـې ورسـره ګړ دودي تـو پـير هـم راغلـى دى. دلتــه د ښ او ږ تــر څنــګه نــورې ډېرې فونېتيکــي، ګرامــري او لېکزيکـي ځانګړتيـاوې هـم تـر دامينـځ شـته دي چـې د اهـم پـر خپـل خپـل وار د دويمنيـو، درېيمنيـو او څلـور منيـو بدلونونـو څرګنـدو يـې کوي او د آر لـه مخې دغـه بدلونـه سرچپه يـون نـه لـري.

۷-۳: کـه څوك تـر کندهـارۍ پښتـو را وروسـته پـه دې نـورو درو ډولـو کـې داسـې نښې نښانـې پـه ګونـه کړي چـې لـه تـاريخي پلـوه تـر کندهـارۍ هغـې هـم لرغونـې وبرېښي، خـو کـه وځيـرل شـي، بيـا هـم پـه وروستنيو بدلونو کې شـمېرل کېږي، د بېلګې پـه تـوګه

۷-۳-۱: پــه منځنــى او کــاکړۍ پښتــو کــې د کندهــارۍ او ددې نـورو دووډلـو پـه يـو لړ ويبونـو کـې د "ش" پـه وړانـدې "س" کـاروي، نکـه پـه درس، ، مسـر، کسـر، سـګه، مياسـى، مياسـت، لوېسـت (درش، مشـر، کشـر، شګه، مياشى، مياشت، وېشت) چـې پـر لـه پسـې يـې زړې بـڼې دادي:

ساکي dirsi د اوستا - θrisata. *θrisat > دېرس (ders)

اوسـتا masyah > مسـر

اوسـتا -kasu > کسـر

(سانسـکرېټ انـډول- sikatā) ;sigyā* > سـګه

-mā̄sya-ka* > مياســى

myāst* > مياســت

اوسـتا -Vītasti > لوېسـت

۷-۳-۲: بلـه بېلـګه د کندهـارۍ او څه نـا څه وزيـرۍ پښتـو د "ژ" او منځنـى پښتـو د "ز" پــه وړانــدې د ننګرهـارۍ پښتـو "ج" پـه ښکـارهٔ

لرغونی بربښي، لکه په جوند، جاوله، جور، جوره، (ژوند، ژاوله، ژور، ژوره)... کې چې پرله پسې یې زړې بڼې دادي:

(ساکي jū- "ژوند" او Jūtä "ژوند کوي") اوستا jíti- > جوند

(سانسکرېټ jatu-) ǰ̌atu- > جاوله

اوستا ǰ̌afra- > جور

(سانسکرېټ جلوکا jalūkā) *jaru > *žarw-a > جوره

(په دغه اړه دې د شارل کیفرد ۱۹۷۸ کال په لیکنه کې د "ج،ژ،ځ،ز" جدول هم وکتل شي).

۷-۴: لکه چې په سر کې وویل شول، ګړ دودونه د سیمې په پرتله له تېر سره ډېره اړونده لري. د کابل په شمال (کوهدامن، پروان، غوربند، کاپیسا کې ناصرو، کاکړو، اکاخیلو، اوریاخیلو، ملاخېلو، خوښکو، ساپیو، داود زیو...) خپل خپل تېرني ګړ دودونه ساتلي چې د وروستیو دوو (ساپیو او داودزیو) له سختې (ننګرهارۍ) پښتو پرته نور زیاتره خپله منځنۍ پښتو (ښX) کاروي. همداسې په لغمان کې د تولیزې منځنۍ پښتو تر څنګه سخته هغه هم خپل خپل ویونکي تېرونه لري، هر ګوره ساپیان، مومند او یو نیم بل ور لېږدېدلی تبر هم د خروټو، عبدالرحیمزیو، احمدزیو...تر اغیز لاندې راغلي دي.

دا چې د ناوګۍ او نور شاوخوا پښتانه د باجوړيو ترکانیان او مومندو د سختې شمال ختیزې یا ننګرهارۍ پښتو دویونکیو په منځ کې دمنځنۍ پښتو استازی کوي، د هښتیاوړ ده. ځکه په ښکاره له ترکاني تبرونو څخه ګڼل کېږي او پخپله خلك هم له منځني افغانستانه دراليږدېدنې کومه کیسه روایت نه لري، یا ترې اورېدل شوي نه دي.

۷-۴-۱: تر هندوکش اخوا پښتنو له پېړۍ یا څه زیات مهال راهیسې چې د سوېل له بېلابېلو سیمو او تېرونو څخه ورلېږدېدلي دي، د خپلو خپلو ګړدودونو استازي کوي، د ساري په توګه د بغلان

ګاړي مومند او د کندوز زاخیل، ساپیان، د خپلی اري ننګرهاری
پښتو او خروټي، دوتاني له کندهاریانو سره د نرمې پښتو ویونکي
دي، همداسې د شمال په نورو ۷-۸ ولایتو کې سره د را لېږدېدلو
پښتنو ګړ دودونه توپېرېدای شي. هن، په يو نیم ځای کې واړه واړه
خېلونه یا ټبرنی پاتې شوني د اړوندو ډېریو (اکثریتونو) تابع شوي
دي. د غوربند د شینوارو غونډه علاقه داري د اړوندې ولسوالی د
ډېریو (ملاخېلو، خوېشکو، بابکرخیلو...) تر اغېز لاندې منځنی
پښتو را خپله کړې ده، همداسې یو لړورته بېلګې نورې هم په ټوله
پښتونخوا کې پیدا کېدای شي.

۷-۴-۲: د بادغیس، بالامرغاب، نیاز کلا، غورماچ، د هرات د
پشتون زرغون، ګلران، او کهسان پښتانه د نرمې یا کندهاری پښتو
له پاتې شونیو او لېږدېدونکیو څخه ګڼل کېږي. څه له پاسه دوه
میلونه پښتانه کوچیان چې په ټولیز ډول پر غلجیانو او درانیانو
وېشل کېږي، د اړوندو (منځنیو او کندهاریو) ګړ دودونو استازي
کوي. ونېځی یا ترینو چې له پښتو څخه په منځنی اریاني پېر (۲م :
- ۷ ز پېړۍ) کې را جلا شوې او د کسې غره د سویلي لړۍ وزمې په
تړو "لورلایي او هرنایي" کې یو ګڼ شیمرویونکي لري، د یو لړ
لرغونو (ارکاییکو) توکونو په لړ کې پخوانی دوه ګوني فونیمونه (ښ
- ږ) ښه ترا ساتلي او دا هم ددې ښکارندویي کوي چې نرمې
(کندهاری) پښتو، نه یوازې له جغرافیایي پلوه د لېږدلاړې په
لومړی لیکه کې تیکاو لرلی او له پخوانیو ټاټوبیو څخه یې واټن تر
نورو درو ډلو لږ دی، بلکې له تاریخي پلوه هم پر دا نورو زیات
اروالی او لرغونوالی لري، حال دا چې دې نورو پرله پسې ادلونونه
بدلونونه موندلي دي. (د زیاتې څرګندتیا لپاره د مورګنستیرنې له
کنفرانسونو څخه د افغانستان ژبې، وړمه لومړۍ ګڼه ۱۳۴۶ ل
۲۰-۲۱ مخ، همداراز زیار: پښتو ګړدودونه د هماغې مجلې د
۱۳۵۴ کال څلورمه ګڼه).

۷-۵: لــه ترینــو (ونېځې) ګرڅود پرتــه چــې لــه پښتــو مورینــې ځڅــه یــې رازېږېدنــه زرې زرې لرغونتیــا لــري او څه نــا څه یــې یــوې خپلواکــې ژبــې تــه د لــوړېدو ګنې ځانګړتیــاوې هــم را خپلــې کــړې دي، د نــوي ژبنــي پــېر پــه څه نــا څه د یارلســو پېړیــو کــې د تولــیزې بــې کچــه ګړ دودي تــوپیرونــه او رنګارنــګې، د اســتاد مورګنیســترنې خــبره دا مانــا نــه لــري چــې ویونکــي یــې پــه یــو یــو ازینــي توکــم و تېــر ارېه ونــه لــري. د همدغــو بــې شــمېر وګړ دودونــو ترمنځ دومــره همرنــګې هــم تــر ســترګو کــېږي چــې دې پرېکــړې تــه مــو رســوي، چــې د هغــو بــېلا بېلــو ګړېدونکیــو ډلــو تېلــو، خپلونــو او زیبیوتــو ســره هــرو مــرو یــو ځای پــه یــوه تاکلــي مــهالپېر (مقطــع زمــاني) کــې ژونــد کــړی او پــه یــوه یوازینــې پښتــو ســره غــږېدلي دي.

دلتــه د دوســت شــینواري او مولانــا خــادم یــا نــورو خپلــو پردیــو پوهــانو دا لیدتــوګه لــه یــو بــل ګوزار ســره مخــامخېږي چــې ځینــې پښتنــي تېرونــه لــه اړونــدو مېشــت ځایونــو ســره پــه بــېلا بېلــو آرو او توکمونــو پــورې تــړي او دا نــاسم انــځور پــر لاس راکــوي چــې ګونــدې لــه هماغــه لومــړي ســره یــې همداســې جــلا جــلا بشــپړتیا یــې او پرمحتــایي پراوونــه تــر شــا پــرې ایښــي دي.

هــو، دا د یــوه یوازینــي ژبتوکمــیز (ethno-linguistic) بنســټ برکــت ګڼل کېږي چې هم پــه یــوه ګډه ولســي اډانــه کــې ســره د بــېلا بېلــو پښتنــي تېرونــو د تلوالــې تــېرې هــځې بېځایــه نــه دي تللــې او هــم د یــوې یوازینې کره لیکنې پښتو پــه اډانــه کــې د بــېلا بېلــو ګړ دودونــو، یــا پــه نومېرلــې (مشــخصه) تــوګه د څلــور ګونــو پښتــو ګانــو د راغونــډونې منډې تــړې همداسې بې یېبــرې او بریــا پــاتې شــوې نــه دي.

کــه څه هــم لــه بلــې خــوا دا هــم جوتــه ده چــې د غــه غــبرګ مخبنــایي رغښتونــه لــه اړونــد تولنوتیــز (social-economic) بېخبنــایي رغــښت پرتــه خپــل پرمختیــایي بهیــر پــر مخ وړای نــه شــي. خــو دا هــم د هېرولــو نــه ده چــې مخبنــایي رغښتونــه هــم پــر خپــل خپــل وار پــر بېخبنــایي هغــه

اغېزمنې بښندي، او موږ په غږولو سترګو ګورو چې دغه غبرګ، یا په بله وینا درې ګونې رغښتونه پر له پېیلي پرمختایي او بشپړتیا یې پړاوونه وهي او د پوهې تخنیك تر نړیوال اغېز لاندې ژازو ورځ پر ورځ چټکتیا مومي.

## ۷-٦: د یوې یوازینۍ کره لیکنۍ پښتو پرمختیایي بهیر:

۷-۶-۱: دا چې د بېلا بېلو پښتني ټبرونو غوندې بېلا بېل پښتو ګړ دودونه هم یوه او ګډه آره (منشاء) لري، نو د بیا یووالي، هغه هم په لومړي سر کې د لیکنۍ یووالي کېدون یې زیات باوري ارزول کېدای شي، لکه څنګه چې یې له ټبر یو پېږ ییز او په ټبره نیم پېړییز پرمختیایي بهیر په ډاګه را څرګندېږي، په ځانګړي توګه له څه نا څه دېرشو کلو راهیسې چې دغه پرمختیایي بهیر ته د نوې ژبپوهنې په رڼا کې زیاته مېتودیکه او سېستماتیکه بڼه ورکړشوې او له دې سره یې الواکي او کړنیزې (تیوریتیکلي او پرکتیکلي) بریاوې یوه غوځ پړاو ته رسېدلې دي، نن سبا پښتو تر بل هر ټبر مهاله یو یوازینۍ کره لیکنۍ او خپرنۍ بڼه په زیاته کچه را خپله کړې او ورځ تر ورځې پرله غښتني او پرله پېیلي پرمختیایي او بشپړتیایي پړاوونه وهي.

۷-۶-۲: د کره والي (معیاریوالي) دوه ګونې بنسټیز (رغاونیز یا سترکچرال او ویيز یا لېکزیکال) آرونه (اصلونه) په څه نا څه یوه اندول سمبالتیا او رښتیاینه (تامین و تحقق) مومي. که نه شل پنځه ویشت کاله پخوا دا د چا په خواوخاطر کې هم نه ګرځېده چې د "په ځوکې" او "پر ځوکې" توپیر دې وکړای شي، یادې "-څخه، - سره، - وروسته، - راهیسې، - پرته، -سره سره، د "د-" پر ځای له "له –" سره جوړه کړای شي!

یادې هم د (ذات البینې روابط تعلقات – مناسبات) پر ځای (خپلمنځي اړیکي) وکښل شي او یا دې (په ستودیم کې د بزکشۍ د ټیمونوتر منځ مسابقه یوې قاطعې مرحلې ته رسېدلې ده) پر (په

لوبغالي کې د وزلوبې د لوبډلو تر منځ سيالي يوه غوځ پړاو ته رسېدلې ده) وارول شي او په همدې ډول نور بې شمېره بدلونونه او نوښتونه!

تر دې چې نوره "هغه پخوانی عربي وزمه او غربي وزمه، يا هم پارسي وزمه، يا اردو وزمه پښتو ليکلار له دوده لويدلې او څوك زورانـدي چې لـه دغـه غورځنګه لـرې پاتې دي او يا هم ورسره نا بـاندې دي، په بېلا بېلونومونو غندل کېږي او ليکلار يې هم لـه دود و موده وتلې، کلاسيك او يا هم "ملايي وزمه" ارزول کېږي.

۷-۶-۳: د يوې يوازينی ليکنی پښتو اوسنی بشپړتيا يي بهير تيك له هماغه مهالتکي را نښلي چې په دغه ژبه کې لومړی ځل يوه ليکنه را منځته شوې ده. تر کوم ځايه چې را څرګنده ده، ددغسې يو ليکني لاسوند مخينه سم له لاسه تر (۱۲۱۵ ز) پورې رسي او هغه د سليمان ماکو "تذکره الاوليـاء) ده چې اووه – اته مخه يې لاسته راغلي دي. کـه د نثر پر ځای نظم په پام کې ونيسو، نو دغه مخينه بيا د امير کروړ د وياړنې لـه مخې تر اتمې زېږدي پېړۍ پر شا ځي. له هغه راهيسې دغه بهير په زاره پښتو ادبي او په ځانګړې توګه په منځني ادبي پېر کې پر لـه پسې پرمختيايي پړاوونه وهلي او په نوي هر اړخيز ادبي فرهنګي پېر، په تېره بيا د روانې زېږدي پېړۍ پـه را وروستـه نيمايي، او لکـه چې وويـل شـول، د شلمې پېړۍ پـه دغـه وروستنی څلورمه کې يې لـه نويو ژبپوهنيزو سېستماتيکو هاندو هڅو، يا په ربښتينه مانا لـه نـوي يوواريـز "غورځنګ" سره د پېريو پېريو اوږده واټنونه را لنډ کړي او دا دی په پای کې هم اوسنی کره *ليکنی پښتو لږ تر لږه د چم ګاونډ او سيمې په کچ لـه نورو ژبو سره د سيالی جوګه شوې ده. دغـه سيالي تر هر څه لـه مخه داسې هم مانا کېدای شي چې پښتو په ليکنی او خپرنی برخه کې لومړی ځل له کړ دودي دريځه ژبني هغه تـه پرمختيا او لوړتيا موندلې ده.*

جوته ده چې ددغه اګاهانه وروستني غورځنګ په هښښنده برې او بریا کې د افغاني او پښتني ټولنې یو واریز او هر اړخیز خوځون او اوښتون هم یو پر ښکرونی نقش درلودی دی.

۷-۶-۴: هغه ناڅانګوال چې له ژبپوهنې او ژبنیو ربړو مسالو څخه کومه سمه خبرتیا نه لري او سوچ کوي چې په یوه ژبه کې لیکنی یووالی او معیار یوالی په خپل سر منځته راځي او هسې ښځایه لاسوهنه یې له خپلې ویونکې ټولنې څخه پردی کوي، بې له دې چې لږه تر لږه له دې ځان خبر کړي چې د نړۍ ټولی یادې ژبې په همداسې آګاهانه هاندو هڅو لیکنی یووالی او معیار ته رسېدلې دي. یا دا لږه کې هومره پوهه ولري چې ژبه له آره یوه ټروني او ټولنیزه ښکارنده ده او د خپلو اړوندو پرګنو زېږنده او په دې توګه یې لیکنی او بله هره سیمبولیکه بڼه بیا نوره هم پسې زیاته ټروني ځانګړتیا لري. په دې توګه که د ژبې پیدا ښت او وده وش تر ټولو له مخه په خپلو عامو پرګنو او ولسونو اړه لري، خو لیکنی بڼه یې بیا تر ټولو له مخه په لیکوالو او ځانګوالو اړه پیدا کوي، همدوی یې د پوهې او فرهنګ په پساله پسولي او په دې لړ کې یې د نورو بې شمېرو ربړو تر څنګه د لیکني ګړ دودي یووالي او کره والي پازه او چاره پر غاړه اخلي. یو ځانګوال او ازمېښکار ژبپوهاند او بیا فیلالوجېست ښه ترا پوهېږي چې له کومې لارې رودې یوه یوازینی لیکلار را منځته کولای او دودولای شي.

دا چې پښتانه له خپلې پښتو سره له هره پلوه وروسته پاتې دي، نو د پښتو ددغې ارزښتمنې ربړې د هوارونې لپاره یې ژبپوهنیزې سېستماتېکې هلې ځلې هم تر نورو نوماندو نړیوالو ژبو لاڅه، چې د نژدې هم هېوادې پارسي تر هغې هم ډېرې وروسته را پیل شوې دي. نومیالي روسي پښتو پوهاند اسلانوف د پښتو د نامعیاریوالی یو ستر علت پخپله د پښتنو وروستوالی ګڼي او زیاتوي: "ژبه د ولس روح دی او روغ روح په روغ بدن کې وي..." ( معتمد شینواری ، ژوند و ادب ۲۷ مخ پښتو ټولنه ۱۳۶۳).

۷-۶-۵ له بلې خوا څنګه چې له ټولنو تیز او سیاسي - فرهنګي پلوه د پښتو له بې شمېرو ګړ دودو څخه یو هم کوم بر لاسی نه لري، نو د زیاترو یا دواو وتلیو ژبنیو ټولنو په تــوپیر مــوږ د خپلې ژبې دغه بــهیر د یــوه ګړ دود د امرنــې پــر ځای د ټولــو ګړ دودو او پــه ځانــګړي ډول، د څلــور ګونــو ګړ دودي ډلــو لــه امرنــې او چــاڼ څخــه را نښلولــی او د یــو لــړ لاملونــو او ورسره ورسره د استاد مورګنستیرنې پر مشری د نــورو اروپــایي پښتــو پوهــانو پــه ســپارښت او ســلامو د دوو ټاکلیــو غــږونو "ښ" او "ږ" لــه مخــې چــې پــاس یــاد شــوی څلورګونــی ګړ دودي وېش یــې را منځتــه کــړی دی، منځنــی ګړ دودي وینــګ (x او ğ بنسټ ټاکلی دی، له همدې کبله پـه اوسنی اریـاني ژبپـېر کـې منځنـی ګړدودي ډلــه د کندهــارۍ او ننګرهــارۍ پــه وړانــدې "منځنــی پښتــو" نومـول شـوې ده.

هســې خــو د معیــاریووالي دوه غــبرګ منلــي بنســتیز آرونــه: رغــاونیز یورنګوالــی (ګرامــري توحیــد) او ویــیز رنګارنګوالــی (لغــوی تنوع) پـه پام کې نیـول شـوي دي، پـه دې مانـا چـې د اړونـدو درو څلـورو ګړ دودي ډلــو لــه بــېلا بېلــو رغــاونیزو (ګرامــري) ځیلونــو (وارینتونــو) څخــه مــو یــو یوازینــی ځېل را اخېســتی، لکــه لــه ورســېد، ورسـېدو، ورســېدلو، ورســیدئ، ورســېدلئ... څخــه لومــړی هغــه، چــې هــم تــاریخي لرغونوالــی لــري. هــم څه نــاڅه د ویونکیــو ډېروالــی او هــم لنډوالی.

۷-۶-۶: کـوم پروسیجر یـا چلنـد بېلـګه چـې د یـوې یوازینـی کـره پښتو لیکلارې لپاره پـر کـار اچـول شـوې او د هغـه پر بنسـټ مـو پـه څه لــه پاســه یــو دوه ســوه توکــیز (مــاده یــي) لیکلــر وړانــدې کــړی دی، نــه یــوازې د پورتنیــو ژبپوهنــیزو آرونــو (اصولــو) پرتلــه تلــل شــوی، بلکــې لــه دې سره سره پــر خپــل وخــت (۱۹۷۶ ز، مــارچ) د پوهــانو پــه یــوه غونــډه کــې پــه بشــپړ ډېري (اکــثریت) ســره هــم منــل شــوی او لاســلیك شــوی

دی، نوموړی پروسیجر هم د نوي ژبپوهنې د استازیو له خوا برابر شوی و او دودیز و هغو هم پکې کوم ادلون بدلون نه وراوستی.

(د پوره خبرتیا لپاره : د یاد شوي کال او میاشتې د زیري پنځلس ورځنۍ اړونده ګڼه، زیار، پښتو لیکلار ۱۱۵-۱۷۶ مخ، د ننګرهار خپرونه ۱۹۸۲ ز کال).

په ترخ کې مو دا هم ښوولې ده چې په نوموړې پښتو لیکلار کې هره سمونه او بشپړونه یوازې او یوازې د نوي ژبپوهنې په واکمنو اړه درلودای شي.

۷-۶-۷: تر پورتنۍ هر اړخیزې ژبپوهنیزې لیکلارې نژدې اوولس کاله، یا به بله وینا (تر بشپړ کتابي چاپ) او وه - اته کاله وروسته د پېښور پوهنتون د پښتو اکېډمۍ له خوا د څو تنو کډوالو افغان لیکوالو په ګډون د "باړه ګلۍ" په یوه لویه غونډه کې یوه بله "پښتو لیکلار" ومنل شوه، خو له آره یو لنډ تنګ لیکدودي لارښود و، هغه هم زیاتره پردې را څرخېده چې نور دې د پښتو غبرګږیز سېمبولونه (توري)، لکه ټ، ډ، ړ، ڼ د اردو په څېر نه کښل کېږي او عربي پورویونه دې په خپله آره بڼه په پام کې نیول کېږي. لکه: صبا، قمیص، طمع، شمع... برنیو استازیو چې د غونډې د نورو تولو برخوالو په څېر د نوي ژبپوهنې څانګوال نه بلل کېدل او بې له هغې یې هم د "تاسېپڅلي افغان دښمني جهاد" له لارې لاسکتوی شمېرل کېدل، ورسره سم لاسونه پورته کړي وو او ګوتې یې ورسره پرې لګولې وې. یوازې د "کې" او "چې" په برخه کې یې ورسره له همدومره جرئته کار اخیستی و چې له "نیم زما، نیم ستا (نصف لی و نصف لك)" له مخې ور سره لومړی د هغوی په خوښه "کښې" او دویم د دوی په خوښه "چې" لاسلیك کړي. د "ی" ګانو په برخه کې یې هم سره یوه ورته "سازښت" ته رسېدلي وو. له څرنګیز او څومره ییز پلوه یاد شوی لیکدودي لارښود د کابل پښتو ټولنې هومره هم ارزول کېدای نه شي. چې په همداسې دودیز ډول یې د پرش

څلویښت کاله پخوا لروبرو لیکوالوَ په ۲-۳ غونډو کې د لاس جګونې او لاسلیکونې له لارې بشپړ کړې و او اروابناد الفت بیا په خپل "لیکوالي" نومي کتاب کې خپور کړی و.

کله چې زه هم د "جهاد" له برکته د باړه ګلی. پر دویمه یا درېمه "تائیدي" غونډه ور برابر شوم او ربنتینې علمي کره لیکلار مې ور وړاندې کړه، بې له دې چې را رد یې کړای شي، یو "شیخ العلماء" یې د منتې او دودونې ستونزې را لړی. کړې او په مات مخ یې راڅخه ښننه وغوښته.

۷-۶-۸: تولیز کښېنې پښتانه. سره له دې، چې یو خوا ته افغانستان مشر ورور ګڼي او ددې منښته کوي چې پښتو هم برخوا یوه منلې ملي او سرکاري ژبه ده او له ره خوا هسې یو سیمه ییز (علاقه یي، دریغ ته یې هم پاکستاني واکمن غاړه نه ږدي، خو کله چې د یوې کره لیکنی پښتو د ټاکنې خبره شي، بیا یې نو یو څو تش په نامه سرکاري پښتو پوهان استازي کوي او خپل مزی مرغلین بولي.

په هغه یو نیم ګړیېزه سکالو کې چې د ۱۹۹۸ د جون پر یوولسمه د بي بي سي پښتو خپرونې له خوا په اړونده ستودیو کې د ګردي مېز په بڼه برابره شوې وه او پر ما او ویاند "داود جنبش" سربېره راسره پروفیسر سیال کاکړ له کوټې او پروفیسر قلندر مومند له پېښوره تیلفوني ګډون کړی و، دغه وروستي ښاغلي، بې له دې چې کوم علمي، څانګیز دك و دلیل وړاندې کړي، کورټ او سکوټ د یوې یوازینی کره لیکنی پښتو لپاره تولیُ هاندو هڅې بې مانا او بې اړتیا وګڼلې. تش په همدورمه لړه کې ناسیده تولنپوهنیز دلیل چې هرکله پښتانه له تېرنې او ځمکواکې پړاوه پانګوالي پړاو ته پرمختیا وکړي، د پښتو یووالی او معیاریوالی به ورسره هم پتلیز ربنتیاینه ومومي. خو کله چې تری ویاند وپوښتل، بي بي سي سم له لاسه په دغه اړه خپلې ستونزې څنګه هواري کړي

او کومه پښتو وکاروي، بیا یې نو کتبني پښتو را مخته کړه او هغه په دې لاسوند چې د همدې سیمې خوشال، رحمان، حمید،... غونډې پخو او نومیالو شاعرانو همدغه پښتو کارولې ده!

حال دا چې په برنۍ کره پښتو لیکلار کې پر دغو نومیالیو سر بېره تولنه پخوانۍ او اوسنۍ ادبي لیکنې او څېړنې پښتو لـه تولو ګړدودي رنګارنګيو سره په پام کې نیول شوې او ورسره ورسره، لکـه څنګه چې لـه مخه پرې رڼا واچول شوه، د ژبپوهنیزو آرونو پر کنډه کره شوې ده. د سیاسي او فرهنګي مشر تابه خبره خو لا پر ځای پرېږده، کـه رښتیا هـم کتبنیو لیکوالو د اردو - انګریزي ډولې پښتو پر ځای هماغه د خوشال او رحمان یا اخون درویزه پښتو کارولای، نو د ښاغلي قلندر غبرګون به د منلو وړ و!

د سوېلي پښتونخوا پښتانه پوهان او لیکوال بیا چې د پښتونولۍ یا تېرنۍ اکر لـه مخې څه نا څه سپېڅلي پاتې دي، زموږ د کره پښتو لیکلار خیال هم پوره ساتي او ان تر وسې وسې اړوند نیولو جېزمونه په خپلو لیکنو څېړنو کې هم پر کار اچوي.

## ۷-۷: نوې ویي رغاونه (نیولوجېزم Neologism):

۷-۷-۱: نیولوجېزم، نوې ویي رغاونه یا لغت جوړونه دېته وایي چې د تولیز نړیوال او ژبپوهنیز دود لـه مخې په یوه ژبه کې د نویو علمي - تخنیکي او فرهنګي اړتیاوو لـه کبلـه ویيونه په خپللاسي (مصنوعي) ډول رغول کېږي هغه هم په ژبه کې دشتو ویيونو (یووستو ویيونو) بېلښتي یا مشتقو او تړښتي یا ترکیبي ویيونو) لـه مخې، لکـه ښکـلاک، زېـښاک، بنستپال، اورلوبه، اورتـون، اورګاډی،اورین، اورنۍ، پـایلیزه، سریزه، ښوونځی، پوهنځی، پوهنتون، ګلځانګه، ګلوله، ژبپوهنه، کره کتنه، مخکتنه... هرګوره په دی لړ کې یووستوي یا ساده ویيونه د ژبې په آرې (اصلې) پانګې اړه لري او په خپللاسي توګه یې رغول لـه ژبپوهنیز او نړیوال دوده

بهر دي، که څه هم یهودود خپلې نوې عبري ژبې د ویې پانګې د بشپړونې او پراخونې لپاره دغه ناروا کار ته هم ملاتړلې ده.

۲-۷-۷: ویې رغاونه له آره له دوو لارو تر سره کېږي: د بېلنګ (اشتقاق) اوترنګ (ترکیب) له لارې. هغه هم په ژبه کې د تیارو مخ بېلګو له مخې.

۱-۲-۷-۷: بېلنګ په دې مانا چې له یوه ساده ویې سره د یوه تاړي (مختاړي یا روستاړي) په نښلونه منځته راځي، دا هم په دوه ډوله دی: نوموال بېلنګ (اسمي اشتقاق)او کړوال بېلنګ (فعلي اشتقاق).

- نوموال، لکه اور +نی = اورنی (آتشین)، کار +نده= کارنده (فعال)...

- کړوال، لکه زبېښ + آک = زبېښاک (استثمار)، رغ + نده = رغنده (سازنده، تعمیري)...

۲-۲-۷-۷: ترنګ په دې مانا چې دوه خپلواک (ساده) بېلښتي یا ترښتي، ویيونه سره په سمت ډول یا د کوم تاړي په نښلونه منځته راځي، لکه اور + ګاډی= اورګاډی (ترین)، اور +لوبه = اور لوبه (آتشبازي)، خپل + منځ +ي = خپلمنځي (خودماني، ذات البیني)، خپل +واک+ي=خپلواکي (ازادي، خودمختاري). ترنګونه کېدای شي، تر دوو خپلواکو ویيونو تېرې وکړي او څو ویيونه یکې سره راغاړه غړې شي. لکه له اوښکو ډکې سترګې، واښه پر خوله رسې پر غاړه... په ترنګونو کې د لومړنیو غړیوویيونو واولي پایلې غورځي، لکه په ژوی+بڼ=ژوبڼ، پوهنه+تون=پوهنتون... کې.

۳-۷-۷: په پښتو کې د نیولو جېزم یا (نوې) ویې رغاونې پیلامه له لومړۍ لیکنۍ یا ادبي بېلګې سره را نښلي چې هغه سم له لاسه د امیر کروړ په نامه لاسته راغلې "ویاړنه" ده چې همزمان د کره لیکنۍ پښتو پیلامه هم ګڼل کېدای شي. په "ویاړنه" کې یو لړ داسې ویيونه راخوندي شوي چې په پوره باور د شاعر "امیر کروړ"

لـه څېللاسـي رغـاونو څخـه اټكلـېداى شـي، لكـه د سـتايوال، دريـځ، هريـوال، پلـن، زړن، پـېژنـدوى، مـاتېدونى.... ېېلنګونـه (مشـتقات) او يـا كـه "مخسـور" د (سـرخرو يـا سـرخرويي) پـه مانـاوو را واخلـو، يـوه ترښتـي (تركيبـي) ېېلـګه يـې هـم شـمېرلاى شـو. پـه ويـي رغاونـه كـې د نـرۍ د نـورو ژبـو د هغـو غونـدې د پښتـو شـاعرانو او ليكوالـو ونـډه تـر اكـادميكې هغـې زياتـه مخينـه لـري، يـا پـه بلـه وينـا د ويـي رغـاونې نوښتـګر همدغـه شـاعران او ليكـوال وو. نـو كـه هغـوى پخـوا د تيـارو شـتو ګړنيـو ېېلـګو پـر بنسـټ دغـه كـار كـړى، اوسـنيو ژبپوهـانو او پوهـانو د همـاغو پـر پلـه پـل ايښى او پـر څه نـا څه زيـاتو ژبپوهنـيزو او اكـادميكو آرونـو يـې پـر مـخ وړى دى.

(پـه دغـه اړه: زيـار، پـټه خزانـه يـوه لغـوى خزانـه، دوسـت، زړه پـانګه او ژبـ ـ پـانګه،صميـم، ژبېزپرمـه)

۴-۷-۷: لـه نـوي نړيـوال تـاريخي پـړاو بيـا د نولسـمې پـېړۍ پـه دويمـه نيمـايي (۷۹-۱۸۶۸ز) كـې چـې فرهنګيـالي اوپښتومـين پادشاه امير شير علي خـان پـه هـېواد كـې د نومـهالي ښوونـې روزنـې او تولـيزو رسـنيو (mass media) بنسـټ كـېښووه، د پـوځي او اداري نومونـو (اصطلاحـاتو) لـه ټاكنـې سـره د پښتـو ويـي رغـاونې (نيولوجېزم) اكـادميك پـېر را پيـل شـوى اوتريـوې دېرش كلنـې لارغـې (وقفـې) وروسـته يـې د امـاني پـېر لـه روښانتيـا يـي يـا لويديـز ونـې (Westernisation) غورځنـګ سـره د پښتـو مركـې او را وروسـته پـه ظـاهري پـېر كـې د پښتـو لـه رسـمي كېدو سـره د پښتـو ټولنـې پـه اډانـه كـې څه نـا څه يـوه پـر لـه غښتـي (سېسـتماتيك) پـړاو تـه را ګډ شـو او څه نـا څه د پښتوويـي رغـاونې (word formation) لـه آرونـو سـره سـمې د يـو لـړ نويـو علمـي تخنيكـي او فرهنګـي جـاجونو (مفـاهيمو) لپـاره ښايسـته ډېرې نومونـې رامنځتـه شـوې. خـو د شـپېتمو زېږدي كلونـو پـه اوږدو كـې د پارسـي ژبـو د نـاندرو او انـګروزو او يـو څه هـم د پښتـو ټولنـې د ځانسـاتيو چـارواكو د نـاغېړيو لـه كبلـه د پښتـو ويـي

رغـاونې نـوي کلـن او بيـا څلـوېښت کلـن بـهير لـه ځنـډ و ځنـډ سـره مـخ شو او ان کله چې پـه کـابل پوهنتـون کـې لـه اوومـې زېږدي لسـيزې سـره د پښتنـو ژبپوهــانو او د بـېلا بېلـو علمـي – تخنيکـي ځانـګو د استـادانو پــه ګډ نـوښت د اړنـدو نومونــو(ترمونــو) ټاکنــه پــه سـم مېتوديـک او علمـي ډول را پيـل شـوه، د پښتـو تولنـې لـه ټکـر سـره مخامخ شوه. خو څنګه چې پښتنو تولنـه پـه سـرکاري کـچ نـوره تشـپانې شـوې وه او هغـه پخوانـۍ اداري او ځانګيـزه واکمنـي او ځواکمنـي يـې لـه لاسـه ورکـړې وه، نـو د دوه ګونـو خپرنيـو اورګانونـو (کـابل مجلـې او زيـري اوونـيزې) لـه لارې يـې د چـا خـبره "سـرې جـګړې" تـه اړوتلـه او پـه پـای کـې يې هـم وسله پر ځمکـه کـېښووه. پـه دې ډول نيولـو جـيزم نـور د "يوې يوازينـۍ کـره ليکنـۍ پښتـو" د يـوه نـه بېلېدونکـي رغنـده توک پـه تـوګه لـه کـابل پوهنتونـه، ننګرهـار پوهنتـون او پـه ځانـګړي ډول تولـيزو رسـينو تـه پراختيـا وموندلـه.

(زيـار، پښتـو ليکـلار، ويـي پوهنـه او ګڼ شــمېر خپـرې شــوې ليکنـې)

**۷-۷-۵**: د پښتـو ويـي رغـاونې لــه وروسـتي، دېرش کلـن چـټک پرمختـايي بـهير سـره د پښتـو ويـي پـانګې د څلـور ګونـو رغنـده توکونو تر منځ دا انـډول را منځتـه شو:

پـه سـل کـې پنـځه ويشـت د يالکتېزمونـه (ګړوېزنـه)، پنـځه ويشـت ارکاييزمونـه (زړو ېزنـه)، پنـځه ويشـت نيولوجېزمونـه (نوېزنـه) او پنـځه ويشــت اډاپتېزمونـه (راخپــل کــړي پورويونـــه)، يــا پــه بلــه وينــا فارنېزمونـه (پوروېزونـه).

او لــه دغــه انـډول سـره د پـردۍ پـانګې د پنـځه ويشــت سـلنې (فيصـدۍ) پـه وړانـدې، د کـره ليکنـۍ پښتـو لــه آر سـره سـمه ۷۵ نـږه سـلنه را سمباله شـوه. مانـا دا چـې نـور يـو پښتـو ليکـوال دېتـه نـه اړ کـېږي چـې تـر پنـځه ويشـت سـلنې (فيصـدۍ) زياتـه پـردۍ ويـي پـانګه وکـاروي. ځکـه د نـړۍ تولـې دوديـالې ژبـې لـه آره پـر همـدې انـډول

ټیکاو لري او همدغه انډول د اړوندو ژبو خپلواك پایښت و پرمختیا لومړنۍ ګره (شرط) ګڼل کېږي.

۷-۷-۶: نړیوېزونه (انترنېشنلېزمونه، لکه تېلفون، تېلوېزون، راډیو، کمپیوتر، ډیجیټال...) یا ځانګړي او جغرافیایي نومونه هم په وروستۍ ویي پانګیزه (پورنۍ) برخه کې راځي. په دې کې خو هم اړینګ نشته چې ځینو ژبو، لکه الماني او ان عربي او هندي ډېر نړیوېزونه هم را ژباړلي دي، لکه پورتنۍ یادې شوې بېلګې. له دې کبله دا هم کوم نادوده کار نه دی، په دې شرط چې د ژبې څلور ګونی انډول ور سره ویجاړ نه شي او د نړه پانګې سلنه تر ۷۵ تېرې ونه کړي، یا په بله وینا د پوروېزونو کچه یې له پنځه ویشت سلنې را ټیټه نه شي، که نه خبره پیورېزم (یو مخیزې سپېڅلتیا) ته رسي؛ دا هم کېدای شي که په یو لړ عادي لیکنو کې د نړه والي کچه یو څه لوړه شي، خو ساینسي - تخنیکي هغه یې بیا سکینده (تلافي) کوي.

۷-۷-۷: که په پښتو کې دویي رغاونې اوسنی غورځنګ رامنځته شوی نه وای، دغه ژبه د سیمې، "دریمې" یا "پرمختیایي" نړۍ تر بلې هرې ژبې د کړکیچو کېدو له ډار سره مخامخ وه، هر پښتون لیکوال، ژورنالیست، استاد او پوهاند به د پخوا غونډې د خپلې لنډې تنګې ګړ دودي ویي پانګې تر څنګه زیات زور پر پوروېزونو (پردیو لغاتو) اچاوه. بې له دې چې لړ تر لړه په نورو ګړوېزونو (دیالکتېزمونو) او زړوېزونو (ارکاییزمونو) پسې هم سر وګرځوي. په پوروېزونو کې به یې هم یو رنګي نه راتله: یو به علم الاجتماع غوره ګڼله، بل به جامعه شناسي، دریم به سوسیالوجي، څلورم به سوسیولوژي، پنځم به سوسیو لوګي...

تر را تیلې ښکېلاکي کړېنې اخوا لیکنۍ پښتو همدا اوس د اردو غونډې پر یوې ګډولې ژبې او ښتې او که همداسې پسې پاتې

شي او برني کره ليکلارې ته را سيخه نه شي، هرومرو به يې په راتلونکيو څلور پنځو لسيزو کې ژنې ور وتړل شي!

«د زياتې څرګندتيا لپاره: وګ، زيار، پښتو نيولوجېزم يا نوې ويي رغاونه (لغت جوړونه) د يوې يوازنۍ کره (معياري) پښتو يو رغنده توك، ګوريت، دوه مياشتنۍ خپرونه، دويمه ګڼه، سلواغه- کب، ۱۳۷۸ل کال».

**اریا، آریا، آریایي Arya:**

دا ویی یو ټبرنی ستاینوم (ethnical adjective) دی، دا چې آره او بنسټ یا په بله وینا اړوند نوم یې څه و، جوته نه ده اومانایې "ازاد، آر، اصیل. کرکر. پتمن..." اټکل شوې ده. اریا یا اریایي ټبرونه یا وګړي د هند و اروپایي Indo-Aryan ژبتوکمیزې ډلې آسیایي څانګه بلل شوې ده چې اریایي او یا هند و ایراني (یا هند و اریاني) څانګه هم بلل کېږي. هند و اروپایي Indo-European له مخه هندو اریان (=ارین) Indo-Aryan بلل کېده، بیا هند و جرمن Indo–german او په پای کې ټولو ژبپوهانو "هند و اروپایي" نومونه تر ټولو غوره ګڼلې ده. اریانه Aryāna د اریا Arya ترڅنګه یو بل زوړستاینوم دی او نوې بڼه یې انګریزي Iranian، فرانسي Iranniene جرمني Iranisch او پارسي "ایرانی" دود شوې ده. خو څنګه چې له ۱۹۳۶ راهیسې پخوانی پارس Persia ایران Iran ته رااړول شوی، نو افغاني پوهانو له ۱۹۷۵ز پېږدي کال راهیسې په خپلو لیکنو کې د ایران پر ځای "آریانا" او د ایراني پر ځای "آریاني" نومونه کاروي. (د اړوندې پرېکړې په اړه دي "تاریخ تلفظ و صرف پښتو، جلد اول، ص ۹ مقدمه" روان فرهادي" ته مخه وشي) پوهاند جاوید (آریانا شماره اول بهار ۱۳۷۸ ص ۶) داري "چپه بڼه" ایر "ازاد و نجیب" مانا کړی او ایران یې جمع او نسبت ښوولی دی. د اریا Arya ویی په خپلوانو (آریاني) ژبو کې په دې بڼو را خوندي شوی دی:

زړه هندي arya-،arya "اریایي مېلمه پال مېړه، کورڅښتن" څوانه اوستا -airya، زړه پارسي ariya(?ariyā)، یوناني Arioi

لومړي داریوش خپل ځان ariya "اریایي" باله. منځنۍ پارتي ry او زړه اوسیتي –زمریتي Alan هم ورسره اړه لري.

پښتو آره د کرکیلي او آر د اصل او اصیل او همدارنګه آره د اصل ، نسب او منشاء په مانا داریا Arya له انګړلو ماناوو سره اړوند بریښي. ساساني او اوسني ایران Eran, Iran له آره -Eran sahr> "د ایرانیانو هېواد" و چې "شهر" تري غورځول شوی، پخوانۍ بڼه یې <Erān-šaθr او ډېره پخوانۍ بڼه یې -Iran-šatr وه، خو آره یې بیا هم له هماغه راخوندي شوي تولي ډېرګړي (اضافي جمع) <-aryānām* ، یا په بله وینا -aryān څخه سرچینه اخلي چې یوه اوړېدلې metathes (مقلوبه) بڼه یې موندلې ده. پوهاند جاوېد "ایران" د "ایر" جمع بولي، مانا دا چې هماغه مفرده بڼه اري "ایر" ته راوښتي. (ګیرشېویچ ۱ ، راینبلت ۴۲۳ ، براندن شتاین –هوفر ۱۰۵ مخ –او د کتاب اړونده سکالو؛ جاوید ، آریاناد ۷۸پسرلي ګڼه، کهزاد (۴۲، ۸۵) یو لړ خپل او هندي نمونه.لکه هریوا ، آریا ورته... ښوولي چې له اریا سره تړاو لري).

**آریانا، آریانا Aryñā "پخوانی افغانستان"**

آریانا له Arya څخه رغېدلی بېلنګ (مشتق) دی او arya هم پرخپل وار یو ستاینوم او بیا یو تېرنوم دی ( –اریا).

دغه نوم له ډېر شمو زېږدي ( میلادي ) کلو راهیسې افغاني تاریخپوهانو رادود کړی او موخه یې تري هماغه زوړ افغانستان دی چې د آریا یي پېرله لومړیو یې راپیلوي او ترمنځنۍ پېر، "خراسان" یې را رسوي او خراسان له پنځمې زېږدي پېړۍ رانیولې، تر ۱۷۴۷زېږدي پېړۍ یې را اوږدوي او نوی افغانستان د لوی احمدشاه بابا له خوا د افغاني دولت له بنسټ ایښوونې راهیسې راپیلوي. هرګوره په آریانا کې له اوسني افغانستان پرته هغه ټولې آریایي مېښتې سیمې راتلې چې د پارس خلیج له غاړو تراباسینه او بیا له عربي سمندرګي، تر تورسمندرګي او منځنۍ اسیا پورې

غـځېدې. ترهغـه مخکـې او وروسـته چـې يـوه برخـه آريايـيـان (۱۵۰۰ مخـزېږدي شـاوخوا) هندتـه ولـېږدېدل، لـه افغانـانو سـره ددغـه ګډ تـاريخي -جغرافيـا يـې نامـه راځانتـه کـول ښايـي دادليـل ولـى اوسـي چې يوخـو بـاختراو شـاخوانژدې پرتـې سـيمې د آمـو -سـيردريا او خـوارزم سـيمې) د آريايـيـانو دلومـړي ټاټوبـي يـا آريانـا وېجـه (Ariyanavaeja) پـه تـوګه انـګېرل کـېږي او بـل داچـې لويديـزه برخـه لږترلـږه د هخامنشـي دولـت لـه منځتـه راتـګ (اوومـي مخـزېږدي) راهيسـې "پـارسPars" بلـل کـېده. د ساسـانيانو پـر وخـت پرايرانشـهراو بيـا اېران Eran بـدل شـو (جـاوېد ۱۱مخ)

خراسـان يـا د منځنـي پـېر (لـه پنځمـې تـر اتلسـمې زېږدې پـېړۍ) افغانسـتان بيـا تراوسـني افغانسـتانه هـم ډېر لنـډ تنـګ و، پـه وروانـدې يـې اوسـنى افغانسـتان لـه پيـل (۱۹۴۷) د اتلسـمې پـېړۍ ترمنځنيـو پـورې تـر زاړه آريـاني پـېره هـم زيـات ارت او بـيرت و او د شـلمې پـېړۍ پـه درشـل کـې اوسـنى کچـې تـه راواوښت. لـه ژبنـي پلـوه هـرګوره، آريانـا لـه همـاغې ډېرګړې (جمـع) بـڼې آريـان Āryān څخـه آره اخلـي، لکـه پـه تولـي ډېرګړي (اضـافي جمـع) -Aryānām* يـا اوسـتا Aryanavaejah "د آريايـيـانو ټاټوبـى "او داسـې نوروکـې. کـه بنسـټ همـاغـه اريـان -Aryan وګڼو، نـو پـاى -الـف يوتونـي (مکـاني) روسـتاړى راځي، لکـه پـه سـوغديانا، لوديانـا او ان اسـيا، اروپـا، امريکـا، اسـتراليا، انټرکټيکـا،... کـې. (د زيـاتې څرګندتيـا لپـاره دې "اريـا Arya" تـه هـم مخـه وشـي، همدارنـګه، رسـول بـاوري ۲-۳ مـخ؛ جـاويد، همـاغـه آريانـا ګڼه)

**اریاني، آرياني** Aryanian (Aryanic):

دغـه نومونـه (اصطـلاح) لکـه څنـګه چـې د "اريـا" او "آريانـا" تـر سـرليکونو لانـدې يـې يادونـه وشـوه، افغـاني پوهـانو د "ايرانـي Iranian" پـرځاى رادود کـړې او هغـه هـم د ۱۹۷۵ زکـال لـه پرېکـړې راهيسـې، چې پـه کـابل کـې د پښتـو نړيـوال سيمينار د برخوالـو لـه خوا

د اروابناد استاد مورګن ستيرنې په مشرۍ شوې وه او يوازې يې افغاني ليکوالو او چارواکو ته د کاروني سپارښت شوی و، ځکه چې ختيځپوهانو يې لړترلږه له نولسمې پېړۍ راهيسې او ښتې (مقلوبه) بڼه "ايراني Iranian" کارولې او تولوته يې د پخوانۍ بڼې بيرته را دودونه ګرانه ده اوله "ايران" څخه د لرغونې آريانا اوله "ايراني" څخه د اړوند ستاينوم جاج (مفهوم) اخلي، بې له دې چې اوسنی "ايران" او ايراني "يا" ايراني "په پام کې راوړي. دسترابون د اخځ له مخې هنديانو د آريانا اوسېدونکي آريانيان Arienians بلل. (پوهاند جاويد، آريانا شماره اول ص۹) ګېرشويچ (۱مخ) هم اريانا په ختيزې آريانا او بيا د اوستا په ويونکيو پورې تړي.

د اريانيانو ټاټوبی (د آمو - سردريا ترمنځ) هم په ختيزه آريانا کې راځي.

ايراني ژبپوهان او آريانپوهان يا ايرانپوهان (Iranists) يې هم زياتره کټ مټ داروپايي يا لويديزو ايرانيستانو په لاروۍ په هماغه پخواني جاج کاروي، خو نور ايراني ليکوال او ژورنالېستان او چارواک ترې د لوړتيا پالنې له مخې نوې مانا اخلي او په دې توګه غواړي، ټول ګډ ژبني، فرهنګي او تاريخي پاتمړې (ميراثونه) او وياړونه خپل ځانته ځانګړي او ټيکه (مونوپول) کړي، دهمدغه ورانپوهاوي (غلط فهمي) او ګډوليتيا (التباس) د مخنيوي لپاره پاسنۍ پرېکړه رامنځته شوې چې که ايرانيان يې د بهرنيو پوهانو په څېرله کاروني ډډه کوي او نه يې کاروي، افغاني دايې خو بايد هرومرو وکاروي. رښتيا هم له ۱۹۳۶ز راهيسې چې زموږ لويديزو آرياني ورونو د خپل هېواد نوم له پارس Pārs يا Persia څخه پر "ايران Irān" رااړولی، په اړوندوعلمي څېړنو ليکنو کې يې ډېرې ستونزې او ربړې را منځته کړې دي. د نوموړې پرېکړې په اړه: دکتور روان فرهادي، تاريخ تلفظ و صرف پشتو، جلد اول، مقدمه ص هـ.

**افغــان** (Afγān= Afghān): **اوغــان** (Awγān) **زړه او منځنــۍ هنـدي** (**اوه ګانـه** Avagāna) **چيـــني**(**او- پـــو –كـــين**O-po-Kien)، **منځنۍ پارسي يـا پـهلوي** (**اپاكـان، اپـه كـان، ابـګان، آوګان**):

"افغـان" يـا "اوغـان" لـه ټولـو زړو بـڼو سـره د "پښتـون" دويـم نـوم دى چـې د نـورو لـه خـوا پـرې ايښوول شـوى او لـه (۱۷۴۷ز) راهيسـې چـې "افغانســان" (د افغانــانو هـېواد) د نومــهالي افغــان دولـت رسـمي نـوم ټاكـل شـوى، نـو د افغـان جـاج (مفـهوم) ورسره هـم پراختيـا موندلـې اود ملـي هويـت د ښكـارندوى پـه تـوګه يـې ددغـه هـېواد پـر ټولـو پښتنـو او نـاپښتنـو استوګنو اړه پيداكړې ده، پـه بلـه وينـا، لـه هغـه راهيسـې يـې نـور لـه "پښتـون" سـره خپـل بشـپړ همـانيزوالى لـه لاسـه وركـړى دى. كـه څه هم پـه نارسمي تـوګه د نـاپښتنـو لـږه كيـو لـه خـوا اوس هـم پـه هماغـه پخوانـي جـاج د "پښتـون" د يـوه انـډول (معـادل) پـه تـوګه كـارول كـېږي، كـټ مـټ، لكـه پـه انګلسـتان كـې دننـه كېلتـي توكمـي سـكاټلنديان، ويلسـيان او ايريـان يـا ايرلنډيـان يـوازې آرو انګليسـانو تـه انګليسـان وايـي، مـګر لـه هـېواده بهرځانونـه انګريـزان بولـي او پـه رسـمي ډګر كـې يـې هـم همداسـې درواخلـه، پـه هـر ډول د افغـان مخينـه څه نـاڅه اوولـس پيـړۍ پـر شـا ځي خـو بيـا هـم داسـې نـه بـرېښي چـې تـر "پښتـون" هـم لرغونـــى وي.

دووريـانكوف ( ۵-۵-۲ ) افغـان پـه لرغونـي (سـاكي پـېر) ا پـه "اوبـه" او توركمغولـي "خـان" پسـې وړي او پـه دې ډول يـې ټولـه مانـا "پتمـن خـان" را اخلـي او بيليـو ورتـه د "روهـى" او "سـليماني " غونـدې لـه غـره سره تړاو وركوي، يا پـه بله وينا "غرنـى" يې مانـا كـوي چې دامانـا بيـا د ضـورګن سـتيرني لـــه "پرشـــته" ســره ســمون مومـــي. (تلوســـه ۱۰مخ) دافغـــان پخوانـــي پارســـي انـــډول Apakan شـــاهپور (۳۷۸-۳۰۹ واكمني پېر) د ستاينوم (لقب) پـه تـوګه د "زړور" پـه مانـا انګېرلـى دى. هـرګوره لـه اوسني پارسـي (افغـان =فغـان ) سـره يـې هسـې جولـيز ټكـر

راغلي او کومه ګډه اره او ريښه ورسره نه لري چې داسې وييوتو (کلمو) ته تکروييونه accidental words ويل کېږي.

**افغانســـــتان** (Afγānistān=Afghanistan):

لکه څنګه چې پښتون د نورو له خوا افغان بلل شوی، دغسې يې هېواد يا ټاټوبی "پښتونخوا" هم د نورو له خوا "افغانستان" نومول شوی دی، نور څرمه نومونه يې، لکه روه، روهيستان او داسې نور خو په يوه ټاکلي مهالپېر کې رامنځته شوي او بيرته تاريخ ته سپارل شوي دي. پښتيانا د روهيستان غوندې له رغوليو شاعرانه نومونو څخه شمېرل کېږي. د پنجابيانو له خوا څه ناڅه اړوندو پښتني سيمو ته څه ناڅه يوه بله تازه نومونه پټهانستان هم لږ و ډېر کارول کېږي، "پښتونستان" بيا له نژدې پنځوسو کلو راهيسې تر راټيلې ښکېلاکي پولې اخوا پښتون مېشتې برخې ته کارول شوی چې نن سبايې د هماغو پښتنو له خوا بلونج (الترناتيف) "پښتونخوا" هم را منځته شوی او همداسې يې بل دويم بلونج "افغانيه" هم تازه پر تازه د پاکستاني چارواکو غوږوته رسول کېږي چې د "صوبه سرحد" پر ځای رسميت ور وبښي؛ دغسې يو نوم د پوهاند تږي (پښتانه، اتم فصل) په څېړنه کې د نورو ورته نومونو لکه جبال الافغانيه، کشور افغان، حد افغانيان، مرزافغان... تر څنګه هم راغلی. ويل کېږي چې محمد علي جناح هم د پاکستان پښتو مېشتې برخه "افغانيه" بلله او له همدې کبله د "پاکستان" په نامه کې ورته يو الف په ګوته شوی دی(!). تږی (۲۲۱-۲۳۱مخ) د افغانستان مخينه تر پښتونخوا څه ناڅه دوې پېړۍ زياته ښوولې، په دې لاسوند چې افغانستان لومړی ځل سيفي هروي (۱۳۲۱ز) د هرات په تاريخنامه کې ياد کړی او "پښتونخوا" ړومبی ځل اخون درويزه ننګرهاري په خپل کتاب مخزن الاسلام (د ۱۶۰۳-۱۶۱۲ز کلو ترمنځ) کارولې ده. هرګوره پښتونخوا د ښکارندوی په بوللـه (۵۷۱ ل) کې له مخه هم ياده شوې ده. په هره توګه چې د اوسني

افغـاني دولـت تـر بنسـټ ايښوونـې ډېر مخکـې د "افغانسـتان" نـوم شـتـه و، کـه څه هـم نومولـي (مسـما) ورسـره د جغرافيـايي پراختيـا لـه پلـوه دومـره سـمون نـه درلـود، اوسنی بڼه يې هـم لـه هـر پلـوه پـه تـېره لـه ۱۹۵۳ راهيسـې د راتپلـې ښکېلاکـي "ډيورنـډ" کـرښې خـوا تـه بونـډی مونـډی شـوې ده. پـه هـر ډول اوسنی افغانسـتان لـه جغرافيـايي پلـوه لـه ډېرو لرغونـو زمـانو راهيسـې د هغـو نيواکـګرو او سـوبمنانو لپـاره يـو تګلارګرځېدلـی چـې غوښتـل يـې د هنـد ښېرازې او يېبـروري اوبجـې پـه لوريـې ونغـاړي. لـه دې سره د بيلابېلـو توکمونـو ژبـو او کولتورونـو پر مېشـتځای اوښتـی او پايلـه يـې دا شـوې چـې دغـه هېواد لـه دې پلوه يـو ه موزاييکـه (رنګانـګه) جولـه ومومـي، خـو لـه دې سـره سـره تـر ټولـو آر او پخوانـي اسـتوګن يـې "آريانيـان" او بيـا سـاکيان بشـپړ ډېری (اکـثريت) جـوړوي چـې افغانـان "پښتانـه" يـې لـه رښتينـو پاتوړو (وارثينـو) څخـه شـمېرل کـېږي. هـرګوره آريـاني او آريـايي پـېر لـه ټولـيز تـاريخي پـېر سـره هـم منـګی زبـات شـوي او تـر دې لـه مخـه استوګن يې د قبـل التـاريخ سـکالو ده، چـې تـر يـو لـك کلـو پـر شـا ځي. (د نـورو اخـځوپـه لـړ کـې دې د افغانسـتان تـر سـرليك لانـدې کولـېر او وارلـد بـوك وکتـل شـي).

**آموسيند، جيحـون، آمـو دريـا Amu Darya زوړ نـوم Oxus روسي a`mudarj`ja:**

دا سـيند لـه پـامير او تيـا نشـان غرونـو څخـه سـرچينـه اخلـي او لـه افغانسـتان سـره د تاجکسـتان، وزبکسـتان، ګډه پولـه جـوړوي. آمـو د يـوې دلتـا لـه رغونـې سـره اورال سـمندرګي تـه ورګډېږي (کولينزډيکشـنري ۵۰ مـخ)

ډېر پوهـان پـردې الـواك (نظـر) دي چـې د آمـو او سـيردريا ترمينـځ پرتـه سـيمه د خـوارزم پـه ګډون د آريـاييـانو لومـړی ټاټوبـی يـا آريانـا ويجـه Ariyanavaejah اټکـل شـوې ده. دغـه سـيمه اوس پـه

وزبکستان کې راځي او خوارزم (زړه پارسي -Uvārazmi) هم خیوه بولي (معین ج۵ ص۴۷۵، جاوېد، آریانا شماره ۱ ص ۶)

**اوستا، اوښتا، یا اوستا یي، اوستا ژبه، منځنۍ پارسي اپستاک "Apastāk" متن، بنیادي متن"، زند zend. زنداوستا...، انګرېزي Avesta یا Avestan، الماني Awesisch:**

اوستا له آره د زرتشتي دین د سپېڅلي کتاب نوم دی او له دې سره د "اوستايي" تر څنګه د هماغې ژبې نوم هم دی چې دغه کتاب پرې کښل شوی، یا په بله وینا ویل شوی دی او له ساکي سره په ختېزه اریانې کې راځي. اوستايي متن پر دوو پرمختیايي ژبنیو بنو وېشنه مومي: زړه برخه ګاثاوې Gathas یا Gaθās د اوستا ژبې د ۶۰۰ مخزېږدي مهال پړاو رااخلي چې له ویدي (سانسکریت)، یا په بله وینا زړې هندي او زړې پارسي، زړې ساکي، مړې میدي او مړې پارتي سره هممهال او همپېره دي، ګاتهاوې یا ګاثاوې د زرتشت Zarathustr پیغمبر له خوا د ویل شویو اوولس ورمونو او پندونو سرودونه دي او څه ناڅه تازه برخه یې د نوې (ځوانې) یا اصلي اوښتا یا "یسنا هپتن هایتي Yasna Haptan ,haiti" په نامه یادېږي چې یشتونه، یا سپېڅلې وراشې (دعاوې) دي؛ د ساسانفر (۵مخ) د څېړنې له مخې د زرتشت او دغې برخې مخینه څه نا څه تر اوولس سوه مخزېږدي کلونو رسېږي او د ختیځپوهنې څېړنې یې تر اوولسمې زېږدې پر شا ځي. د اوستا دویمه ژبنۍ برخه "ځوانه یا نوې اوستا" ده چې په هغه کې د بېلابېلو وختونو اړوند توکي رااخلي، داسې چې سره ورتوالی نه لري او هسې سره بابزراکوته شوي غوندې دي. په دغه برخه کې پرله پسې ګرامري ساده ګي او رنګارنګي لیدل کېږي.

کله چې د ساسانیانو په زمانه کې (له ۴ تر ۶ م- زېږدي پېړۍ پورې) اوستا د رسمي دین د کتاب په توګه لومړی ځل په پهلوي (دین دبیره) لیک وکښل شوه، د پوهېدلو وړ نه وه او یوه مړه ژبه

وبلل شوه. اټکل کېږي چې اوستا ژبه څه ناڅه تر ۴۰۰ مخزېږدي يوه ورځنۍ ګړنۍ ژبه وه او دغه راپاتې سپېڅلې متن يې پېړۍ پېړۍ سينه پر سينه رالېږدېدلی، خو يوازې يې په دينښوونو اړه درلودلې او ختيځپوهانو په اتلسمه پېړۍ کې له زرتشتيانو (پارسيانو) چې د اور پېښتو (اتشپرستو) او ګبرو په نامه هم بلل کې، تر لاسه کړې او د ليکنۍ او ګړنۍ بڼو تر پرتلنې وروسته يې پرغږېزه ابېڅي اړولې، ژباړلې او شنلې او د دېرې پاملرنې له مخې يې هرې کرښې يا کړۍ (بيت) ته ګڼه هم ورکړې ده "ايستاك زند" يا "زنداوستا" هم بلل شوې چې سم نه راځي.

"زند Zend" يې په رښتنې ډول پهلوي ژباړه، سپړنه او شننه (ترجمه شرح او تفسير) ده او پهلوي هم په ناسم ډول " زنداوستا" بلل شوې ده . د اوستا مانا "تالوستوړ" اټکل شوي ده. (کولينز ۱۷۶۶، برتانيکا ۷۳۸، هوفمن ۱مخ )

**اهورا مزدا، اوستا** _Ahura mazdāh ، **ساکي** LIrmaysde:

اهورا د آريانيانو په زاړه دين (مزدايزم = زرتشتېزم = پارسيېزم) کې تر ټولو ستر خدای دی او "مزدا" ورسره د ستاينوم په توګه ملګري کېږي چې مانايې "ويښيار ځښتن" ده. اهورا له اوستا -hvar "لمر" او پښتو نور (nwar) سره همارۍ دی . پارسي خوراو بيدغاو مونجي ormozd "لمر" هم همداسې درواخله (مورګن ستيرنې EVP ۵۴ مخ، والتربېلې ۱۳۴ مخ)" زرتشت اهورا مزداد خپل خدای په توګه له شپږو نورو ستاينګو سره هم ستايي چې راوروسته هغه ټول په يوه ترښتي نامه "امشاسپندان" ياد شوي چې له امشا "تلپاتې" او سپنتا "سپېڅلی" څخه رغېدلی دی. شپږګوني ستاينګونه دادي: (۱) آشا "ښه، غوره"، (۲) وهومن "نېکاندی"، (۳) خشتر ويري "غوره شهريار"، (۴) ارمسيتي "ارامي، نياو"، (۵) هبوروتات بشپړتيا "وياړ" او (۶) آمرتات "تلپاتبوالی، ابدي" (ساسانفر ۷۸-۷۹ مخ) دغه ليکوال د مولتون د ګروهې له مخې

ليکي: "زرتشت يوازې پردې بس رانه وړ چې د (ډېرو) خدايانو له ښتوالي غاړه وغړوي، بلکې په همدې ډول يې په خپلو ګاثاووکې د ميترا، اناهيتا، ورترغن (بهرام)، زوروان، فروشيان او هومه نومونه هېڅکله ياد کړي نه دي." (هماغه ۸مخ) له پخوانيو دودونو او دينونو څخه يې يوازې "اورپرښتي" راخپله کړې ده.

په دې مانا چې زرتشت دپخوانيو "ځمکنيو" ګروهو، کړنو، انګېرنو او خدايګوتيو پرځای د پنځباندې (ماوراالطبيعه) آهورا ګروهه انګروزه کوله او څه چې په ځانه اوستا يا پهلوي ژباړو او شننو کې ليدل کېږي، په هماغو پخوانيوګروهو انګېرنو اړه لري. د اسمان ښنومه خدايان يې، لکه رڼا او ستوري او داسې نور چې آريايانو پخوا پرښتل، زرتشتعپه دايواوو راهريمنانو) کې شمېرل، له زړو ګروهو يې تش اور منلی و. اهورا مزدادګاثاوو په ټولو بندونو کې له خپلو ستاينو (صفتو) سره ياد شوی دی. هغه د هستی يوازينی پيداګردي، اسمان او ځمکه يې پنځولي ، د لمر او ستورو چورليځونه (مدارونه) يې ټاکلي ، دوريځو او باد خوځښت او د مياشتې نر يوالی او ډکوالی وربورې اړه لري. اهورا مزدا يو داسې لوړترين ځواك دی چې ټول پنځ او پيدا ورڅخه سرچينه اخلي او له ښېګنې، سپېڅلتيا او رښتيا پرته يې نور څه پنځلي نه دي. پيدايښت او پينې پرسول او اوډون ټيکاو لري او نه شي کېدای، دوې سرچينې او دوه پيدا ګره ولري. حال دا چې په سامي دينونوکې د خدای لپاره پژنې او روانې ځانګړتياوې انګېرل کېږي، انسان ته ورته، مګر تر ټولو پياوړی ښوول کېږي. خاندي، ځاځي، غچ اخلي، ګناهونه ښښي او چې وغواړي چاته عزت ورکوي او چاته ذلت. اهورا مزدا، لکه څنګه چې په ګاثاوو کې راپېژندل شوی له انسانانو سره هېڅ ورتوالی نه لري، ګناهونه هېڅکله نه ښښي، ان په منځګړتوب او واسطه وسيله هم، غچ اخيستونکی نه دی.

بنيادمان ذليل وزبون او دلور وړ نه بولي، نه يې ترهوي او په زړو کې يې وېره او بوږن وتراه نه پيدا کوي... (هماغه ۸۱-۸۲ مخ). برېتانيکا (۱-۱۶۹ مخ) دا هورا مزدا راوروسته دودشوي لنډونونه

Ormizd او Ormazd هم را اخېستي او زياتوي چې پر نورو (ابراهيمي) دينونو يې هم اغېز ښندلی دی او لومړی داريوش (واکمني ۵۲۲-۴۸۶مز او ورپسې نور پارسي شاهان پر مزدايي دين ګروهن وو. اوستايي يا باختري فرهنګ د انسانانو د ښارمېشتې پيلامه ګڼل کېږي (اميرشاهي، مقدمه).

**باختر يا باکتريا، انګريزي** Bactria، **جرمني** Baktrien **فرانسي** Bactriene، **زړه پارسي باختري** Bāḫtri- f

اوسني بلخ Balx د پخواني بخل Baxl اوړېدلي (مقلوبه) بڼه metathese دی او بخل له ژاړه <-bāxtr او باکتر -baktr، يا په بله وينا baktra څخه رامنځته شوی دی. له اسلامي پېرراهيسې بلخ (بخدي) هم ياد شوی او وياړنومونه (القاب) يې هم (بلخ بامي، بلخ بامين، بلخ بهيه، بلخ الحسنا، بلخ ګزين، شهری بادرفشهای آفراشته، ام البلاد، خير التراب، قبة الاسلام دي. د لومړي ښاري ژوند بنسټ همدلته انګېرل کېږي. سترابون د آريانا وياړ (The pride of Arian) بللی دی. فوشې A.foucher آريان Arian د آريانا همانا بللی او باختر (Bactriene) يې د آريانا مرغلره (pearl de Arian). (جاوېد، آريانا شماره ۱ ص ۹-۱۰)، کهزاد (۷۸-۸۲ مخونه) بهليکا، بهيکه، بهلی... هم له هندي سرچينو څخه رااخلي او له بلخ سره سمون ورکوي. د دکتور معين (ج۵ص۲۰۷) د بلخ balx مخنۍ بڼه بخر baxr ښوولې او زياتوي چې بلخ د پخواني خراسان يو ښار يا سيمه وه، چې نن سبا د افغانستان، ايران او تورکستان (ماوراالنهر) تر منځ وېشل کېږي. دغه ليکوال د انوم دباکتريان bāktriānاو (فرانسي) bactriane په بڼو هم کښلی دی. باختر د لومړي داريوش (۵۲۲-۴۸۶ مز) له نيواك راوروسته د پارسي ټولواکمنۍ پنځلسم ايالت ګڼل کېده.بيا يو نانيانو په خپله ولکه کې راوست، خوله هغو سره يې هم تر پايه اخ ودب روان و. په ګډيوناني - باختري واکمني پېر کې د پارتيانو تر شړلو وروسته ورسره ساکانو څه ناڅه برخه درلوده، تر څو يې په دويمه زيږدي پېړۍ کې ځايناستي زوزات (کوشانيان) د لويې خپلواکې

تولواکمنۍ جوګه شول او ورپسې نورساکي ځایناستي پېتـلان (یفتلیـان) راغلل او خپله خپلواکي يې څه ناڅه تر اسلامي پېره وساتله. (همفریز ۷۵ مخ) بخدي د بخد ستاینوم دی خو بخدیانا بنايي د باکتریانا کورنۍ بڼه وي. برتانیکـا (۷۷۹ – ۷۸۰). باکتریـا Bactriana-Bactria، اوان زریـا سپه Zariaspa کېښلی او زیاتوي، دا هغه لرغونی هېواد و چې د هندوکش د غرونو (Paropmisus) "د ګوربت تر الوت او چت" او آمو (لرغونـي Osus اکسـوس) سیند ترمنځ يې تیکـاو درلـود چې نـن سبا يـې يـوه برخـه پـه افغانستان اړه لري، یوه برخه يې په وزبکستان او درېمه يې په تاجیکستان. باکتریا د ۶۰۰ م ز او ۶۰۰ ز کلو ترمنځ یو خورا غوره دریځ درلـود او نـه یوازې د ختیځ او لویدیځ ترمنځ یوه ځمکنۍ سوداګري څلاري وه، بلکې د دیني او هنري اندونو (ایدیاوو) یو منځټکی (نقطه تقاطع) هم بلل کېده. د باکتریـا منـځۍ (پلازمېنـه) بکترایـا بـاکترا نومـېده او همدارنـګه بـاکترا زریاسپه Bactr- Zariaspa ورته هم ویل کېده چې په زیات باور له اوسني بلخ یا لرغوني Vahika سره اړخ لګوي. دا یو ېبرور هېواد و او د کانالونو لـه سیستم سره يې د لرغونی مهال لـه خورا پرمختللیو سیمو څخـه ګڼل کېده، چې لـه دویـم کیروس څخـه د دریـم دارا تـر راپـرځېدو (۳۲۳م ز) څه نـاڅه دوه سوه کالـه د هخامنشیانو تـر ولکې لانـدې پـاتې شـوی دی. دلتـه برتانیکا د زریني په مشرۍ د مساګیتو ساکو له خوا پارسي دولت ته اړولي زیانونـه او بیـا دکور وش (کیروس) وژنـه نـه یـادوي چې مـتې د لومړي داریوش له خوامات شول (دوست: افغانستان په اوستا کې، ۵۴مخ)

**پارسـي (فارسـی)، انګلیسـی**Persian، **المـاني** das Perische **فرانسي** Le Persan:

اوســنۍ پارســي ژبــه لــه اتمــې زېږدي (میــلادي) پــېړۍ څخــه راپیلـېږي، ترمخــه لــه دویمــې مخــزېږدي تــر اوومــې زېږدي منځنــۍ پارسي، پارسیك او پـهلوي بلـل شـوې او لــه دویمــې (م ز) لــه مخــه لــه شـپږمې (م ز) راهیسـې چـې د هخامنشــي شـاهانو نیمـه رسـمي ژبــه وه. (فرهــادي ۷مــخ) زړه پارســي یــا فارســي باســتان (Ol d Persian)

نومول شوې او دا چې خپل کورنی نوم یې هغه مهال څه و، پوره جوته نه ده، خو دغه نوم ورته له پېړۍ دوو راهیسې ختیځپوهانو ورکړی، لکه څنګه یې چې ساساني پارسي، پارسیك یا پهلوي " منځنۍ پارسي Middle persian، نومولې ده. هسې خو یې آره او ریښه څرګنده ده او له پارس persia (یونانيpersis) سره اړوندي لري چې د لویدیزې آریانا یا اوسني "ایران" نوم پاتې شوی و او له ۱۹۳۶ راهیسې پر "ایران" را اړول شوی چې له آره د هماغې زړې "آریانا" همانیز بلل کېږي. "فارسي" یې عربي وینګ دی، لکه څنګه چې فارس د پارس معرب بلل کېږي. له بلې خوا څنګه چې اوسنۍ پارسي (Newpersian) له اسلامي پېر سره له منځنۍ پارسۍ څخه د دوو پېړیو تر لارغې (وقفې) وروسته سر راپورته کړی او ورسره ورسره یې د یوې زیاتي پوروییپانګې ترڅنګه د پخواني پهلوي لیك (دین د بیره) پرځای عربي دا راخپل کړی دی، نو په همدې "فارسي" وینګ یې دود موندلی دی. بل خوا اوسني زرتشتیان هم نن سبا پارسیان او دین یې پارسېیزم بلل کېږي چې "پارسي" یې یو ګړی راځي او ژبنۍ مانایې پر دینې مانا اوښتې ده.

پښتانه ورته له خپل وینګ سره سم هماغه زوړ نوم "پارسي" اخلي او ځینو لا د "پښتو" او نورو ژبو (هندکو، ګوجرو، ترینو، تیرو... پخوانۍ "خوتنو") غوندې "پاړسو" هم نومولې ده. لکه چې د "پښتو" په برخه کې ورته نغوته شوې، د "پښتو - پارسي - پهلوي - پارتي" اتېمولوجي سره ګډه او یوه ده او په <پرثوه parθawa او بیا <پارساpărsa پسې ځي، سره له دې چې پښتو له تاریخي پلوه په ختیزه آریانا اړه لري او دغه پارسي آري نومونه په هماغې خوا (لویدیزه آریانا یا پارس) پورې، خو ښایي تش همدغه "نوم" یې په زاړه یا منځني پیرکې له هغې خوا څخه رااخېستی وي. یو لاسوند یې هم دا چې د اوسني ایراني ایالت "خراسان" پخواني استوګن "پهلو" او "پرثو" ښوول شوي چې تر ختیځ – لویدیځ ژبني برید "دشت

ACKU

طالوت" یې را دېخوا ټیکاو درلود او له پښتنو سره په نژدې ګاونډ کې راتلل. (د استاد ژارژردار له لکچرونو څخه، برن پوهنتون ۱۹۶۸) په ایران، افغانستان او تاجکیستان کې د پارسۍ دربګونی ګړدودې وېش د بېلابېلو ژبو ښکارندویه نه، بلکې ټول یوه "پارسي" ژبه ګڼل کېږي. تاجیکان ان له هخامنشي او بیا ساساني پېړه اوسنیو ختیزو آریاني سیمو ته را لېږدېدلي او هماغه لویدیزه آریاني (پارسي) یې تر اوسه پاللې او ساتلې ده. او هسې یې له جغرافیایي پلوه پارسي، تاجیکي بللې ده همداسې "دري" هم درواخله چې د افغاني پارسۍ لپاره کارېدلې ده. حال دا چې ایرانیان هم په خپلو لیکنوکې "دری" د ټولیزې "پارسۍ" د ستاینوم په توګه کاروي او "فارسي دري" یې بولي. دلیل یې هم دا چې اوسنۍ پارسي د رسمي ساساني پارسي یا پهلوي سیده زېږنده نه، بلکې کله چې پارسیوانو د عربو تر ولکې لاندې دوې پېړۍ وروسته د خپلې ژبې واك ترلاسه کړ، اړوتل چې له غررودروڅخه یې له سره راټوله کړی نو ځکه "دری" ستاینوم ورکړ شو، افغاني پارسي ګړدود د شمال ختیز تاجیکي "بلی" ګړدود او سوېل ختیز خراساني (آری) ګړدود یو ګډوله پارسي ګړدود دی، باختري یا توخاری لور ګڼل یې بې سرو بوله دي. (اړوند جدول او سکالو دې وکتل شي).

**پښتو** Paštó (Paxtó, paxtó) **(ژبه)**

پښتو له آره شمال ختیزه آریاني ژبه ده او د لېږد له لارې له باختر (بلخ) څخه سویلي افغانستان ته له خپلو ویونکیو سره راغلې ده او د اټکل له مخې یې ویونکیو په یوه سکه (ساکې) تېر اړه درلوده چې په دویمه مخزېږدې پیرۍ کې ساکستان (سیستان) ته را لېږدېدلي و، پښتو تر دغه لېږد له مخې له نورو ساکې ګړدودونو، لکه پامیري هغو په تېره له مونجی او ییدغا سره په یوه لته کې ویل کېده. همدارنګه یې له باختري (یفتل -کوشاني) ژبې سره نژدې اړیکې درلودې دي. زړې پښتو (Proto Pashto) له

اوستا ژبې سره ښاسته ډېر نژدېوالی لرلی ، خو له ساکي سره یې تر هغې هم زیات ښوول شوی دی. داسې برېښي چې پښتو تر پامیر و بلخ راوروسته خپل (پاتې) زور او منځنی پړاو په سیستان، هېلمند، غور او اراکوزیا (کندهار) کې وهلی او بیا یې نوی پړاو په کسي غره (سلیمان غره) کې پیل کړی او په نوره پښتونخوا کې یې پرله پسې بشپړتیا ته رسولی دی. (مورګن ستیرنې، د پښتو نړیوال سیمینار لیکنه، کابل ۱۹۵۷) د پښتو pašto ویي له یوې زړې بڼې Parsauḩ* یا parsa/u څخه آره اخېستې اوستا نومیز(یانسبتي) روستاړی āw- ورسره نښلول شوی دی. (سکېرو ۳۸۴ مه) براند نشتاین (۱- ۲) مخ ددغې بڼې آره په یوه ځاینوم پسې وړی چې پرسواش Parsuaš اثوري اندول یې Parsu او یوناني یې پرسیس Persis، هخامنشیانو پارس Pars بللی اواړیکنوم یې pārsa (پارسي یا د پارس استوګن). پهلو Pahlaw تېرنوم چې پهلوي ورسره اړوندي لري، هم په زړې بڼې پرثوه Parθawa پسې ځي (براندنشتاین ۶۴ مخ) پروفیسر مورګن ستیرنې (۶۱EVP مخ) بیا پښتو pašto له زاړه <-Parštawā* بڼځینه ستاینوم څخه منځته راغلې انګېري او دغه ستاینوم له -parštu ځیزنوم (اسم) څخه؛ د هیرودت له پکتویس سره یې اړیکې هرګوره ردوي چې Lassen او Jackson ورته په ناسمه توګه له اوسني پښتون Paštun یا په بله وینا پختون؛ (paxtun) سره ورکړی و او دودیزو پښتنو پوهانو پرې تراوسه ټینګار کړی او د ریګویدا له پکت او پکتیکا(!) سره یې هم پرتله کړی دی (حبیبي، پټه خزانه ۲۰۷ مخ، کهزاد ۹۰ -۹۱ مخ). لکه څنګه چې ددغه کتاب په اړونده برخه کې پرې پوره رڼا اچول شوې، دغه اړوندي او پرتله پر ژبپوهنیزه کنډه سم نه خېژي، که څه هم اېتنولوجیکي اړخ یې څه ناڅه باوري اود منلو وړ برېښي او په دې توګه زیات غور او پلټنې ته اړتیا لري. دلته د پښتو له دویمې مانا " پښتونولي " سره څه کارنه لرو.

(paštún, paštun (paxtún , paxtún) Paštún **پښتون**

پښتون له خپل ژبني نامه "پښتو" سره ګډه آره او ريښه لري او لکه څنګه چې پښتو يوه ساکي ژبه ګڼل شوې، دغه راز پښتون ددغې ژبې د ويونکي په توګه هم له سکه (ساکي) تېر سره اړوند بلل کېږي. د آرپوهې (اتېمولوجي) او تاريخي غږپوهې (فونولوجي) له مخې د پښتو آره parsauah * يا parsa/u اټکلېږي چې -āw روستاړی پرې ورزيات شوی او د پښتون (h)prstānā*او يا هم parsawānā کېدون درلوداى شي، څکه په دواړونومونو کې -rs-يا په بله وينا -rst – پرst- (-ښت-) اوښتي دي، په پښتون pastun کې بيا له دودسره سم -u- د زاړه -a- يا په بله وينا -un- د -an- يا-ana- استازي کوي. که د دواړو ويپونو آره د Pārsa (پارس او پارسيان) پرځای دويمه کېدونې آره اوستايي -paršta "شا" را واخلو چې سانسکريټ انډول يې -Prstha* "شا، اوچت، لوړتيا" راځي، نو د پښتون زړه بڼه (h)prstānā* بيا "غرنی، اوچت يا جوت او وتلی" مانا ښندي؛ پښتو پښت (نسل) ورسره هم نژدې برېښي (مورګن ستيرنې EVP ۶۱مخ، سکېرو ۳۸۴مخ، مکنزي ۵۴۹مخ). پټهان pathan بيا له ډېرګړي (جمع) پښتانه peštāna يا په بله وينا paṣtāna څخه منځته راغلی چې شمال لويديز پراکرېټ (ترسانسکريت راوروسته منځنۍ هندي) راخوندي کړی دی او په اوسنيو هندي ژبو کې تر اوسه يوګړي (مفرد) "پښتون" ته پټهان pathan ويل کېږي (د مورګن ستيرني هماغه اخځ اومخ). د هېرودت پکتويس Παχτυες او پکت ويکي paktuTke نومونه ورسره لکه د پښتو په برخه کې چې وويل شول، کوم فونېتيکي اړخ لګولای نه شي، بلکې د بطليموس يا په بله وينا په نورو يوناني سرچينوکې له راخوندي شويو تېرنومونو pārsava,pārsa ، parsuētai,pársioi سره سمون خوړلای شي. (د زياتې ځرګندتيا لپاره دې د همدغه کتاب اړوند ځپرکي ته مخه وشي) "د پښتون" نورځرمه نومونه (افغان يا اوغان، روهي، روهيلي، سليماني) هم د پټهان غوندې د نوروله خواپرې اېښوول شوي دي. پښتون له

پښتو سره پر همرېښه والي سربېره ژبتوکميز او ژبتولنيز تړاو هم لري، لکه چې وايي: پښتون هغه چې دی چې پښتو لري، نه هغه تشه پښتو وايي."

**تخاري يا توخاري ژبه، انګرېزي** tocharian, Tocharish **الماني** das Tocharis:

دغه ژبه له آره يوه لويديزه (اروپايي) هندواروپايي ژبه وه چې په اروپايي آرو کوچيانو"توخاريانو Tocharians" يې اړه درلوده. داسې برېښي چې دغه وګړي له ساکانو او نورو سره له ققفازه د تورسمندرګي غاړوته راکښېوتي او وروسته د چيني تورکستان په تارم ناوه کې مېشتېدلي، ترڅو په اته سوه زېږدي (ميلادي) کې اويغورو لاندې کړي او له هغه ځايه يې ايستلي دي. دا هم د پرکښدون لري چې د کوچيانو په توګه يې د منځنۍ اسيا او د افغانستان شمال ختيزو سيمو، لکه بدخشان او اوسني تخار تر منځ خپل کوچياني ژوند پرمخ بېولی وي. د تخاري ژبې متنونه په اوومه او اتمه زېږدي پېړۍ کې (د خوتن ساکي په څېر) د يوه شمال هندي (براهمي) ليك په وسيله راخونديي شوي دي چې يې د دوو ګړ دودونو A او B ښکارندويي کوي. د هندي او ارياني تر څنګه پرې تورکي اغېز هم پرېوتي دی. دغه منځنۍ اروپايي ژبه هسې په ناسمه توګه د افغاني پارسۍ "دري" مورينه انګېرل شوې ده. (کولينز ډېکشنري ۱۵۹۹ او د دغه کتاب اړوندې سکالووې) استاد حبيبي باختري (يفتل -کوشاني) ژبه "تخاري" بللې اودري (پارسي) يې بيا د هغې لور، چې هيڅ کوم پوهنيز بنسټ درلودای نه شي. (حبيبي مادر زبان دری ۱۳۴۱ کابل، تاريخ تلفظ و صرف پشتو، جلد دوم، تعليقات ۶۲۲ مخ. د کتاب پای ته دې د هند و اروپايي ژبو اړوند انځورونه هم وکتل شي) پوهاند جاوېد د يو لړ اسلامي او ختيځپوهو ځمکپوهانواو تاريخپوهانو، لکه ياقوت حموي، بطليموس، کرېستن سن... د روايتونو له مخې تخاريان له ساکي تېرونو او بيا

کوشانیانو "یوچیانو!" سره ګډوي چې له منځنۍ اسیا څخه د هېواد شمالي سیمو ته رالېږدېدلي وو او همدغه سیمې یې په نامه "تخارستان" نومول شوې وي، په دې مانا چې د خراسان تر څنګه د افغانستان له نومونو څخه ګڼل کېده، که داسې وي، نو باید ساکستان، کاپیسا، کابلستان او ګندهارا هم په دغه لړ کې وشمېرل شي(!) بیا زیاتوي چې لومړي پیټلانو پر تخارستان واك چلاوه او بیا د ساساني لومړي شاهپور (۲۶۰-۲۷۳م ز) په لاس کې هم کېوتی و او په دې توګه د کعبه زرتشت په ډبرلیك کې هغه د هندوسکستان او تخارستان شاه بلل شوی دی. (پوهاند جاوېد، خراسان" اریانا برون مرزي د ۹۹ د دوبي "دویمه" ګڼه ۱-۲ مخ) له دغو څرګندونو بیا هم دا په ډاګه څرګندېږي چې تخاریان په ناسم ډول له ساکي تېرونو سره ګډ شوي، که نه د تاریخی ژېپوهنې له مخې دیخواته ددغو اروپایي کوچیانو کرښپل دومره باوري نه برېښي.

**تورسمندرګی (توره بحیره)، انګرېزي Black Sea او Euxinus sea زوړ (یوناني) نوم potus Euxinus:**

یو چاپېروچی (په وچه کې راښکېل) سمندرګی دی چې د جنوب ختیزې اروپا او اسیا تر منځ غځېدلی دی. د باسفورس، مرمر سمندرګي او درداینل له لارې له ایجېن سمندرګي دغه راز کاسپین او نورو سره اړیکي لري. تول کچه یې ۴۱۵۰۰۰ کیلومتر مربع ته رسېږي. (کولینز ډېکشنري ۱۶۰ مخ) براندشتاین او هوفر(۵مخ) د پارادریا (ترآمو آغاړه) ساکان د سویلي روسیې استوګن ښوولي چې د تورسمندرګي پورې آغاړه سیمه ګڼل کېږي . هسې خو په ټولیز ډول له منځنی ختیځه تر سوېل ختیزې اسیا او بیا له قفقاز، کسپین، منځنۍ اسیا او تورسمندرګي، اورال او دانیوب تر کڅونو خپاره شوي او ستري واکمنۍ یې را منځته کړې دي.

**چيني يا ختيز تورکستان، سينکيانګ** Chinese Turkestan, Sinkiang, Xinjiang:

دا د منځني اسيا د تورکستان ختيزه برخه ده چې ختيز تورکستان او لرې ختيځ (شرق اقصی) هم بلل شوی او نن سبا ورته د سينکيانګ - او يغور کورواکې سيمه وايي او د چين يو شمال لوېديز ايالت ګڼل کېږي.

تورك مغولي تبر په اتمه زېږدي پېړۍ کې له منځنۍ اسيا دغلته راليږدېدلی او د پخوانيو آرياني توکمو واکمنو ساکو او را وروسته اروپايي آرو کوچي واکمنو "تخاريانو" ځينې لړه کي پاتې شوني پکې هم ژوند کوي. چينيان پرې د ساکي آروکوشانيانو تر واکمنۍ وروسته لاسبري شوي دي. چيني تورکستان د خوتن او ختا په نومو هم ياد شوي دي خو اوس خوتن ددغه ايالت له مرکزي ښارونو څخه ګڼل کېږي. زما په اټکل سينکيانګ کېدای شي، د کاشمير او کاشغر... غوندې له "کاس" يا په بله وينا ساك سره اړوندي ولري، ځکه چې پېړۍ پېړۍ د ساکو او ساکي تبرونو (کوشانيانو، يفتليانو...) تر واك لاندې و. (کولينز ډکشنري ۲۷۷ مخ). داسې برېښي چې هنديانو دغې سيمې ته لوی چين (ماچين، مهاچين) وايه او کاشغر و خوتن، تورفان او نورې برخې پکې راتلې. له همدې کبله زموږ په فولکلورکې "چين ماچين" د يوه هېواد په نامه ياد شوی دی، يا په دې پارسي شعر کې:

خوشانهر ايران وايرانزمين

*که يك شهرآن به زماچين وچين*

(دکتور جاويد، آريانا "برون مرزي"، شماره اول ص ۱۳)

ددکتور معين (ج ۵ص ۴۷۵) د شنني له مخې چيني تورکستان پر ختيز تورکستان يا ختا او شمالي تورکستان يا خوتن وېشل کېږي او کله هم دواړې برخې د خو تن په نامه يادي شوې، خو په اسلامي پېرکې ټول چيني تورکستان په ترښتي (ترکيبي) نامه

"ختاوختن" هم نومول شوی دی. په دې توګه يې چين و ما چين يا چين ماچين هم ورته نومونه دي.

**خراسان Xvar-āsan>Xor- āsān " د لمر اسمان "لمرختيځ"**:

خراسان تر لرغوني پېر (آريانا) وروسته لږو ډېر د افغانستان نوم پاتې شوی چې له پنځمې پېړۍ رانيولې، د نوي افغانستان تر پېر (۱۷۴۷ز) دود و او دا ايالتونه پکې راتلل: ابېورد، اسروشنه، بخارا، فرغانه، خوارزم، سرخس، سمرقند، هرات، غزني. د معين فارسي فرهنګ (۴۷۶ مخ) له مخې په پخواني خراسان کې اوسنی ايراني خراسان ايالت او (د اوسني افغانستان) سوېل لوېديزې او شمال لوېديزې سيمې تر ماوراء النهر راتلې. اوسنی خراسان د ايران نهم ايالت (اُستان) دی چې ختيځ ته يې افغانستان او شمال ته يې تورکمنستان پروت دی له سوېلي خوا په کرمان او سيستان او له لويديزې خوا په اصفهان او ګورګان (ګرګان) پورې نښتې دی. منځی يې مشهد دی او کاشمرېې يو له ولسواليو (شهرستانونو) څخه ګڼل کېږي. نو ماند افغاني سيند هريرود هم هغې خواته ور بهېږي. خوارزم (زړه پارسي Uvarazmī) چې د هخامنشيانو له ختيزولتوڅخه و، هم خور – بنسټ درلوداي شي که څه هم ټول نوم "خپله واکمني هم مانا شوی دی. (براندنشتاين ۱۵۰ مخ)" د خراسان Xor-asan آره Xor " لمر" او اسان asan "اسمان" ده او په دې توګه ټوله مانا يې "ختيځ" راځي.

خور –Xor له پښتو nwar (د نمر، لمر... ترڅنګه) سره ګډه آره لري او پارسي انډول خور او خورشيد ورسره کټ مټ سمون خوري، مهرېې بيا له پښتو مېر (لمر) سره نژدې برېښي چې آره يې د لمر خدای ميترا او مهترا ده (مورګن ستيرني، nwar ۵۴ مخ)

د خور اوستايي انډول -hvar دی. هندي -svàr، لاتين sāuel->sōl*. په اهورا کې هم ورته توکی اټکلېدای شي.

په پارسي آسياب، دستاس، خراس (په څارويو په تېره خرو سره ګرځېدونکې ژرنده)... کې هم اس له دويمې برخې سره اړه لري. او اسان asān له آره د سنګ (تيږي) په مانا دی او په دې انګېرنه چې اسمان له ډبرې رغېدلی، ياور سره ورته برېښي، نو د -asān دغه دويمه مانا اسمان ده. په اوستا کې -asān او -āsman دواړه د تيږې په مانا دي. هندي -asan او -asman" تيږه، اسمان". په اکا شواتي (راديو) کې اك له اس سره همآری دی.

زړه پارسي -asan او ,-ap̄anga "تيږه" او اسمان -asman" آسمان " چې منځنی او نوی پارسي اندولونه يې سنګ او آسمان دي او سوغدي sng چې ورته وينګ لري.

(رايښلت ۴۲۲، مايرهوفر۱۰۷مخ، دکترمعين، فرهنګ فارسی ج ۵ اعلام ص ۴۷۶)

دا چې خراسان ولې د ختيځ (مشرق، خاور) په مانا اخيستل شوی ، دليل يې دادی چې اسمان دلته د څنډ ( افق ) جاج ښندي يا په بله وينا هغه ځای يا اسمان چې لمر ترې راپورته کېږي. (د زياتې شننې لپاره، زيار، مختصری پيرامون وجه تسميه خراسان، مجله خراسان ۱۳۶۲)

**خوتن، ختن** Hotan,Khotan,Hotien

دا سيمه د چيني تورکستان (سينکيانګ) په منځنۍ کې د تکله مکان د شامو دښتې يوه ګړۍ (واحه) ده چې د خوتن موسمي سيند يا خوړشاوخواغځېدلې ده. په کلاسيک ادبي پېرکې خوتن، ختا هم بلل شوی دی، لکه چې خوشال وايي:

پښتنې نجونه مې وليدې په سترګو

څوك چې تورکې دخطا ستايي خطا دي

معين (ج۵ص ۴۷۵) کله خوتن د ختيز تورکستان يوه برخه يا هم ټول تورکستان بلل شوی او کله يې شمالي برخه ختا او بياهم په اسلامي پېرکې خوتن وختادواړو برخو ته ويل شوي دي.

هـر ګوره. کومـې افسـانې او اسـطورې چـې د خوتـن د بنکلیـو، هوسیو، کبلیـو ونـافې او مشـکو پـه اړه تـرې د پښتـو، پارسـي او نـورو شـاوخوا ژبـو ادب او فولکلـور ډك دی، د آریـاني توکمـو سـاکو او اروپـایي آریـو کـوچیـانو "توخاریـانو" او بیـا سـاکي توکمـو کوشـانیانو – یفتلیـانو لـه بې کچـه بنایسـت ښکـلا څخـه سـر چینـه اخلـي. چینیـان یـا تور کمغولـې او یغـور، قرغـز او نورخـو تراتمـې زېږدي پیـړۍ راوروسـته دغلتـه مېشـت شـوي دي؛ د منځنـۍ سـاکي "خوتـن سـاکي" ژبـې لیکلـي لاسـوندونه هـم لـه خوتـن او څرمـې سیمې "تومشـوق" څخـه لاسـته راغلـي دی. (کولنیز ډیکشنري ۷۴۱ مـخ او ددغـه اثـر اړونـدې سـکالووې)

**زرتشت انګلیسي** Zoroaster ، **اوستا زره ثوشتره** Zaraθuštr

زرتشـت (Zartošt, Zartašt) پـه پښتـو ،پارسـی او نـورو اوسـنیو شاوخواژبو کـې د زاړه اوسـتایي نامـه دود شـوې لنـډه بڼه ده چـې ځینـې یـې پـه ناسـمه تـوګه زردشـت هـم بولـي. لکـه د تخـت جمشـید پـه "کعبـه زردشـت" کـې. زرتشـت د مزدایـی دیـن یـا مزدایـېزم (Mazdaism)، پارسـییزم Parsiismیـا پـه بلـه نومونـه زرتشـتېزم ,Zoroastrianism (Zoroastrism) بنسـتو ال او سـمونوال او پیغمـبر دی . اوسـتا ( ›) یـې سـپیڅلی کتـاب دی چـې رومبـۍ زړه برخـه ګاثـاوې ( Gāθās) یـې پخپلـه د زرتشـت لـه سـرودونو څخـه ګڼل کېږي او دویمـه څه نـاڅه تـازه برخـه "نـوې یـا ځوانـه اوسـتا" یـې پـه نـورو دینښووانـو (موبدانـو) اړه لـري. زره ثوشـتره zaraθuštra- د یـوه ترېښتـی ویـی (ترکیبـي لغـت) پـه تـوګه لـه دوو توکـو رغېدلـی او دوی مانـا وې یـې اټکـل شـوی دی: (۱) کـه یـې د لومـړي توك آره -zarant "زوړ" وګڼل شـي، نولـه دویـم توك uštra "اوښ" سـره ګډه مانـا یـې "زوړاوښی". یـا "هغـه چـې زاړه اوښان لـري"، راځي او (۲) کـه یـې د لومـړي توك آره -zaranya "زر، سـره زر" وګڼل شـي. نولـه -uštra "اوښ" سـره یـې ګډه مانـا "زریـن اوښی" یـا "هغـه چـې زریـن یـا سـره زریـن اوښان لـري" راځي . دا چـې د زرتشـت دیـن د ټولـو پخوانیـو ځمکنیـو دینونـو پـر ضـدو، نـو د خـوارزم واکمـن

ویشتاسپه یې لـه ګروهنېدو سره ستر ملاتړی و. اریاني ژبپوهان (لکه راینبلت ۵مخ) د زرتشت ژوند د ګاثاوو پر بنسټ تراوومې مخزېږدي پېړۍ پرشاوري. خو داچې اریانا تـه د یوناني سکندر ترراتګ (۳۲۲ م ز) پورې د اوستا سپېڅلی کتاب کورټ او سکوټ بشپړ شوی و، نو دزرتشت ژوند نورهم پخواني اټکلېدای شي. ساسانفر (۷۶-۷۷ مخ) د ذبیح بهروز "تاریخ وتقویم ایران" لـه مخې دزرتشت ژوند (۱۷۲۲ م ز) ښیي چې د ملاتړي ګشتاسپ لـه تخت ناستي (۳۰ - ۱۷۲۰ م ز) سره سمون خوري. پـه کټ مټ ډول زرتشت د ۱۷۶۷ م ز د وري (فروردین) پر شپږمه د دوشنبې پرورځ زېږېدلی ښیي او پـه ۴۲ کلنۍ کې یې د لاربنۍ او پېغمبرۍ پیلامه او ۷۷ کاله یې ژوند کړی دی. برېتانیکا یې زیږ نېټه ۵۵۱ مړینه ۶۲۸ م ز ښوولې ده، د زرتشت زېږځای (تاټوبی) ختیزه اریانا او بیا باکتریانایا بخدیانا ګڼل کېږي، ځکه چې اوېستا ژبه د ژبنۍ - جغرافیا یې ډلبندۍ پربنسټ پـه همدغـه سیمه کې راځي، خو دینی لارویان یې زیاتره پارسیان پاتې شوي دي. زرتشت پریوه یوازیني خدای، اهورامزدا(Ahuramazda) باندې ګروهـه لري چې تردووالې (دوالېزم) یې د یووالی یا یوګروهۍ (توحید) زیات پیاوړی دی او پـه دې توګه لومړی مونوتایست دین ګڼل کېږي.

اهورا مزدا زرتشت ددې لپاره پـه خپلـه استازۍ ټاکلی چې "ربنتیا" انګروزه (تبلیغ) کړي. سپیتامه spitāma دزرتشت دویم نوم یا ستاینوم دی چې مانا یې (ځلاند ځواکی) اټکلېږي. راینبلت (۵۰۰ مخ) یې دا نوم کورنی نوم بولي چې پـه همدغـه نامـه یې کورنۍ بلل کېده "سپین تمان" هم دهمدې نامه اوښتی پـېر (مغیره حالت) ګڼل شوی دی (همدارنګه "زرتشتېزم" او نورې اړوندې سکالووې او بر ېتانیکا ۱۲ټوك ۵- ۹۳۴مخ)

**زرتشتېزم** Zoroatrism,Zoroatrianism **یامزدایزم** Mazdaism **پارسیېزم** Parsiism:

زیات یو ګروهی یا یو څښتنی (monotheistic) زبات شوی آریانی دین چې زرتشت یې داوومې مخزېږدي په پای او دشپږمې مخزېږدي پېړۍ په سرکې د آریاني پیغمبر په توګه بنسټ اېښی دی، د سپېڅلي کتاب ( اوستا) یې داروند و دینپوهانو (موبدانو) له خوا ویل شوي دي. د ټولې اوستا په پهلوي لیک آړه او ژباړه " زند " Zend نومي او شننه ستړنه یې (شرح) یې پازند Pazend له همدې کبله له ځانګوالو اوستا پوهانو پرته اوستا ته ډېر زند یا زند - اوستا هم وایي د زرتشتېزم د یوه پنځباندې (مېتافزیکي) لوی خدای آهورامزدا او آهریمن Ahriman(شیطان) تر منیځ د همېشنۍ جنګ جګړې پراند توګه تیکاو لري. آهورا د پنځون (خلقت)، رڼا او ښېګڼې خدای دی او اهریمن د شیطان او تورتم اروا. دا دین د یوه خورا لوړ اخلاقي ټول (کود) لرونکی دی او دا چې د نړۍ تر ټولو لومړی یو ګروهي اسماني دین ارزول شوی پر سامي دینونو یې پوره بدل واغېږ ښندلی دی لو مړی ښاري ژوند له دغه دین سره پیل موندلی او ترساکانو پورې ټول اریانی کوچانی ټبرونه ورهڅولی دي. مزدایزم له آره یوسېکولر دین دی. زرتشت خپل لاروي په دودونو جالونوکې ازادپرې اېښې او کوم بندیز یې پرې که څه هم دزاړه مهال او پښتنی ته یې هم پاېښت وربښلی‌دی (برېتانیکا).

د ګاثاوو له مخې وګړي ازاد دي چې ځانته غور اند ولټي، بې له دې چې په وړاندې یې کوم امر و نهی تیکاو ولري. زرتشت یوازې له هغو بېزاري ښوولې چې زاړه ناوړه دودونه، کړنباو انګېرنې پالي. لکه راوروسته چې زرتشتیانو د پخواني میترا mitra دین تر اغېز لاندې د څارویو بلهاري کول او د ښېرازۍ په انګېرنه یې وینه پر ځمکه پاشل دود کړي دي او داسې نور. (زیاته څرګندتیا: ساسانفر ۱۵۸مخ) نېك پندار، نېك ګړهار او نېك کړه وړه د مزدایي دین له بنسټیزو لوښیو (اخلاقو) او لارښوونو څخه ګڼل کېږي.

پر مېتراییزم سربېره زورو انېزم او مانېزم یا مانېکېزم manichaism هم راوروسته د ساسانیانو له خوا په زرتشتېزم کې راګډ شوي او له دې سره يې هغه پخواني مزدایي دین له راز راز ګروهو انګېرنو سره اخښلی را اخښلی دی. (هماغه اثر ۶۶ او ۷۲ مخونه، همدارنګه آریا همایون **۲۵۳-۲۵۸** مخونه، خانك عشقي **۲۳۱-۲۳۵**مخ) دا چې براندنشتیان (**۱۵۴**مخ) ویشتاسپه -vistaspa د داریوش پلار ښوولی او ایرانیانو ترې ګشتاسب جوړ کړی، ښایي له هغه ویشتاسپه سره توپیر ولري چې د باختر په ګاونډه یا په بله وینا اړونده سیمه "خوارزم" کې (**۵۸۸**م ز) د زرتشت ملاتړی پاچا ښوول شوی دی، ځکه اسپه شاهي کورنۍ د کهزاد (**۲۴۵**مخ) له مخې په باختر اړه درلوده او بریتانیکا (۱۲ ټوك **۹۳۴**مخ) هم دغه ویشتاسپه د خوارزم واکمن ښوولی دی. مزدایي دین اخوا ته لومړي د اریوش رسمي کړی و او وریسې یې نورو ځایناستو تر پایه **۳۳۰-۵۵۹**م ز) راتېنګ کړ و. او د ساسانیانو هم همدا رسمي دین و. تر څو له اسلام سره له رسمیته ولوېد، خو لارویان یې زیاتره هند ته ولېږدېدل.

## زړه پښتو Proto Pashto:

زړه پښتو یا د اوسنۍ پښتو نیا یوه داسې ژبه وه چې د زړو آریاني ژبو (ساکۍ، اوستا، میدۍ زړې پارتۍ او زړې پارسۍ) او بیا د ساکۍ او اوستا ترڅنګه په ختیزه آریانا "باختر" کې له اوومې مخزېږدي تر درېیمې زېږدي پېړۍ ویل کېده چې د آریاني ژبو په زاره پېر یې اړه لرله. دا چې هغه زړه پښتو به په همدې نامه یا دغه نامه ته ورته نامه یادېده، پوره جوته نه ده. که دا وانګېرو چې په همداسې یوه ورته نامه یادېده، نو هغه به له اړوند غږ بدلون سره سمه پرسوه *Parsauh یا parsa/u (سکېرو **۳۸۴** مخ) او یا هم پرښتوا parštu-> parštwā (مورګن ستېرني ۴۱EVP مخ) نومېده. د هیرودت له پکتویس سره اړیکې ورکول، هغه هم د اوسني بشپړ نوي وینګ (تلفظ) " پختون paxtun په لاسوند، هېڅ غږ پوهنیز (فونولوجیکي) بنسټ درلودای نه شي. لکه څنګه چې یوه

پېږي لـه مخـه يـې لاسـن Lassen او جكسـن Jackson اټكـل كـړی و. تـر دې لابـې سـرو بولـه د داريـوش (۵۲۲ -۴۸۶ م ز) د بېسـتون ډبرليـك پښتـو انګېرل دي (ـــ←ګلجنـان ظريـف). د زړې پښتـو لـه نښـو نښانـو څخـه ترهـر څه لـه مخـه او زيـات بـاوري هغـه يونـاني پورويېونـه دي چې پـه درېيمـه مخـزېږدي پـېړۍ كـې د يونانيـانو لـه خـوا د باكتريـا (بـاختر) د نيـواك پـر مـهال پښتـو تـه راګډ شـوي دي، لكـه مـېچـن mečán چې زړه بـڼه mēkanē يـې ټيـك هغـه پـېر تـه پر شـا ځي چې پـه پښتـو كـې kh لاهغسـې يـو سـاييز k و. انـګرېزي machine د لاتيـن machina لــه لارې راغلــی دی؛ يــا مچنوغــزه mačanoγza د يــوې وسلې د نامـه پـه تـوګه پـه يونـاني <manganiká پسـې ځي چـې عربـي شـوې بڼه يـي "منجنيق" ده او پـه انګريـزی يـې mangonel، پـه لاتيـن يــې manganellus او پــه زړه يونــاني يــې manganon هــم بولــي. همدارنـګه ښايـي مرغلره لـه يونـاني margaritēs څخـه سيده او يـا هـم د زړې پارسـي -mārgarita* يـا وروسـته د پـارتي او يـا سـوغدي لـه لارې پښتـو تـه را ننوتـي وي. همدارنــګه د زړې پارســې پورويېونــه، لكـه بـګ لـوی <-Baga "خـدای"او پخپلـه خـدای هـم له پارسـی <خوتـوه " خپـل ځواكـی" راغلـی ښكـاری. څېره <-čica، تـيږه <-tiš او داسې نـور. همداسې هنـدي هغـه درواخلـه. لكـه ژرنـده <Jandar او جنـدره يـا ژنـدره (كولـپ)<Jandrā (مكـنزي ۵۴۹ مـخ). د اوسـتا او سـاكي هومـه داوم او اومـان پـه بـڼه تراوسـه لاشـته. پـردې سـربېره بيـاهم د پښتـو "كېدونـې زړه بـڼه <پرسـه وو parsau Paršuā او پرشـتوا او د پښتـون كېدونـې زړه بـڼه پرسـوانا parsawānā چـې دا ټولـې بـڼې لـه يوازينـی لرغونـی ويـې پارسـا pārsa* څخـه آره اخلـي (سـكېرو ۳۸۴مخ، مـايرهوفر ۱۳۸ مـخ) اوپـه پـای كـې بيـا هـم د پښتـو بـې كچـه لغـوي او ګرامـري اركـاييزم چـې د مكـنزي خـبره يواركيـالوژيـك موزيـم تـه ورتـه ژبـه بلـل كـېږي، تـر دو وزريـو و ر اوړي (د مكـنزي پاسـنی اثـر او كتـاب اړونـدې برخـې).

ACKU

ساک یا ساکان زړه پارسي سکه saka، یوناني سکیت، سیت scyth، روسي سکیفي، انګریزي Saka (Sakas) او سکیتین scythian (Scythians)، آثوري Achkuzai، چیني Sai او نور:

ساك یا ساكان د آریایي یا هندو آریاني او بیا آریاني ژبتوکمیزې (اتنولینګوېستیکي) څانګې له پنځو څانګو څخه یوه ستره او بیا "باختري" څانګه ده چې په دې کتاب کې یې د نورو ختیزو یا باختري آریانیانو، لکه پامیریانو، اوسیتیانو، یغنابیانو، کوشانیانو، یفتلیانو (پیټلانو)، سوغدیانو او خوارزمیانو تر څنګه له پښتنو سره پر اړوندی رڼا اچول شوې، پخپله د پښتنو نیکونه او ژبه یې (ساکي) د پښتو نیا (آنا) ښوول شوې ده. "ساګ" او اوښتې (مقلوبه) بڼه "کاس" یې په بېلا بېلو ځاینومو او په تېر پښتني تېرنومونو کې راز راز را څرګند یږي، لکه په ساکستان Sākistān (سیستان)، کاشمیر، کاشغر، سکالاد سیالکوټ، کاسپین، کوکاس (ققفاز)، کاسي، کسې غره، کشم، اشکاشم، کوچه... کې. همدارنګه د پېښور پخواني نوم کسپاتو او د ملتان پخواني نوم کستاپاپوره هم در واخله او بیا په سهاك، کاسي (کاسیان)، ساکزي، سګزي، دله زاك، قیس (کاس)، ضحاك (سهاك)، کوشان، چیني تورکستان (ختن) خواته د یوه کوچي kuchean پاچا نوم سکه راجه Sska-rāja یا د یوه سړي نوم سکام ښوول شوی چې کېدای شي سکام "د کېږدۍ منځني تیر" سره تړاو ولري.

سکه یا کسنی د یوه ستاینوم "اعیاني" په توګه لګه په سکه ورور، سکه خور، سکه پلار، سکه مور... کې. له پښتنو څخه نورو افغاني ژبو ته لار پیدا کړې دی. هرګوره دا د "سکه" دویمه (مجازي) مانا ده، یانې هغه چې رښتینی خپلوان یا کورنی غړی دی، هرو مرو له سکه تېر څخه دی. د سکه (ساك) ویزه (لغوي مانا) "ګرځنده" او "کوچی" ده، داسې چې ښست یې سك (-sak) "خوځېدل"، "ښورېدل" مانا ښندي او هغه هم په دې دلیل چې سکېدل، څکېدل،

ACKU

یا کښېدل په پښتو کې ژوندي کړونه (فعلونه) دي، لکه څنګه چې والتر بېلي (۱۳۲مخ) يې د نورو اتکلي ماناوو په لړ کې "تېرېدل pass" هم په ورته جاج (مفهوم) را اخېستی دی. همدا راز يې د ريګويدي سرچينې له مخې su-śáka- د يوه سړي د وياړنوم (لقب اعزازي) په توګه هم کارول شوی دی. نورې ماناوې يې ورته "پياوړی" او "ماهر" هم کښلې دي. چې پښتو اسك او تېکمن ورسره اړخ لګوي.

ساکانو تر هخامنشيانو هم لويې لويې تولواکمنۍ رامنځته کړې، خو پر باختر، خوتن، ساکستان او هندو کشمير سربېره يې له آريايي او آرياني اومچې (قلمروه) بهر هم تر اشور، کلای فلسطين، کاسپين، کوکاس (قفقاز) تورسمندرګي او سوېلي روسيې هم د خپلې تولواکمنۍ پولې او بريدونه رسولي دي او له بېلا بېلو ګړدودو سره پر بېلا بېلو تېرونو وېشل شوي وو (اړوندې سکالووې دې هم وکتل شي).

**ساکي ژبه** Saka language (=Scythian):

له دغې ژبې څخه موخه د ساکانو هغه زړه ژبه ده چې د زړې پارسۍ زړې ميدۍ، زړې پارتۍ او اوستا تر څنګه يې په زاړه آرياني پېر اړه درلوده، او له اوستا سره د نورو درو لوېديزو زړو ارياني ژبو په وړاندې يوه باختري يا شمال ختيزه آرياني ژبه ګڼل شوې ده. څنګه چې ساکان همېشه په باختر او نورو ختيزو آرياني سيمو کې بنکېل پاتې شوي نه دي او له منځنۍ ختيځه نيولې تر اروپايي او افريقايي پولو او بيا تر هند و کشميره يې سوبې کړې او تولواکمنۍ يې جوړې کړې دي، نو په هماغه سر کې يې تر بلې هرې خپلوانې ژبې بېلا بېل ګړدودونه رامنځته کړي، په منځنۍ پېر (۲مز-۷ز) کې يې بيا دغه ګړدودونه پر څوڅو خپلواکو ژبو اوښتي دي، لکه خوتني ساکي، کوشاني (باختري)، د پښتو مور، د پاميري ژبو مور، د يغنابۍ مور، د اوسېتۍ مور يا الاني او ښايي سوغدي

او خوارزمي يې هم په دغه منځني پېر اړه ولري؛ په نوي پېر (له ۸ مې پېړۍ راهيسې) کې د زړې ساکۍ نمسياني پښتو، وېڅۍ (د پښتو يو زوړ اوځه ناځه خپلواك ګړدود)، ييدغا او مونجي، شوغني او روښاني (روشني)، اشکاشمي اوروشوري، يزغولامي او نورې پاميري ژبې، يغنابي يا يغنوبي (د سوغدۍ لور) او اوسېتي دا چې هېننګ (۲۰مخ) زړه اوسېتي له سکيتۍ سره ماتي -Skythisch Sarmatisch سره يوه ژبه ګڼلې، دا پايله په لاس راکوي چې زړه ساکي ژبه هغه مهال له سرماتي ژبې سره ګډوله شوې وه. د بنوېنست له څرګندونې سم د مادي غونډې له زړې ساکي ژبې څخه يو لړ ځانګړي نومونه را پاتې دي چې په اسوري او يوناني متنو کې يې څرك لګول شوی دی. له دغې زړې ساکي ژبې يوه را ببله شوې ځانګه يو کوچنی تبر په نهمه مخزېږدې پېړۍ کې د امو له سيمې څخه د روسيې سويلي دښتو ته لېږدولې وه چې اسې (اوسېتي) يې په قفقاز کې له پاتې شونو ګڼل کېږي (فرهادي ۶ مخ).

خو نور پوهان وايي چې د زړې ګډې ساکي يا سيکتي ژبې ډېر لږ توکي په تېره نومونه له يوناني او اسوري پرته له پارسي او هندي سرچينو څخه هم يادګار پاتې دي. په منځنۍ ساکۍ "خوتنۍ ساکۍ" کې چې په براهمي هندي ليك کښلو بودايي متنو کې ښايسته ډېره را خوندي شوې، ډېر د زړې ساکۍ ښکارندويه هم دي. (د والتر ببليوه‌ستن کنو، هوفمن، مورګن ستېرن، د وريانکوف او نورې اړوندې څرګندونې).

**سردريا، سيحون، انګرېزي Syr Darya، زوړ (يواني) نو Jaxartes، روسي** (Sidarʲja):

دا سيند له دو سترو سنيدونو څخه رغېدلی چې د تيانشان له غرونو سرچينه اخلي او مخ پر لوېديځ پر اورال سمندرګي پای ته رسي او د منځنۍ اسيا له اوږدو ترينو سيندونو څخه ګڼل کېږي، چې ټول اوږدوالی يې ۲۹۰۰ کيلو متره دی.

د سیر دریا او آمو دریا تر منځ سیمه او خوارزم د آریاییانو یا په بله وینا آریانیانو رومبی ټاټوبی (آریانا وېجه) انګېرل شوی او بیا د ختیزو (باختري) آریانیانو په تېره ساکانو د ټولواکمنیو له مرکزي لتو څخه ګڼل کېږي.

**سیستان** [Sīstān=seistān]، **ساکستان** sāke-stan، **یوناني** Sakastāna، **هندي** Sakasthāna **نور نومونه یې [سګستان** Sagaŝtān= **سګزستان= سجستان، سقستان]**:

اوسنی سیستان چې د افغانستان او ایران تر منځه پر دوو سیستانو وېشل شوی، له آره ساکستان و او هغه هم له دریمې مخزېږدي (ق م) راهیسې چې یو ساکي ټبر له باختر، یا په بله وینا شمالي آریانا څخه دغلته را ولېږدېد او یوه ټولواکمني یې رامنځته کړه. د ساکو تر راتګ له مخه دغه سیمه زرنګ zarang (زرنج) نومېده، په زړې پارسۍ کې drangiana> z(a)ranka>zarana یوناني Δραγγιανή دغه سیمه تر ساکانو له مخه د هخامنشي ټولواکمنۍ یو ایالت ګڼل کېده او مخ پر ختیځ بل ایالت وریسې اراکوزیا Harauvatī اوستا -Haraxvaitī (هره خویتي) Αραχwбια و، بیا پاروپامیزوس او وروستی ایالت یې هم ګندهارا -gandāra. داسې برېښي چې تر هندو کشمېر پورې له دریمې مخزېږدي بیا تر دویمې زېږدي پېړۍ چې کومه "هندوساکايي" نومې ټولواکمني ټېکاو لاره او آشوکا رنګه کړه، په همدغه ساکستاني ساکانو یې اړه درلوده او وروسته یې ځایناستو کوشاني بچیانو هغه بیا له سره را جوړه کړه. زموږ لنډ اندو تاریخوالو او چارواکو افغاني سیستان ۳۰-۴۰ کاله مخکې پر نیمروز را واړواوه او ورسره ورسره یې د مرکز نوم زرنګ (زرنج) هم پر چخانسور بدل کړ، لکه څنګه چې یې "کاسي" د غور د پخوانی مرکز د نامه په توګه "چخچران" ته راواړاوه او له دې سره یې د افغانستان په تاریخ کې د لومړي را څرګند شوي او زبات شوي

واکمن تېر یو لړ راپاتې نښې نښانې له مینځه یوړې، بې له دې چې ځانونه له خپل آر و رښتني تاریخ او تاریخي ویاړونو خبر کړي او بیا له دې څخه چې د لوی احمد شاه ابدالي په لاس اوسنی رامنځته شوی افغاني دولت هم له هماغو پاتمړو (میراثونو) څخه ګڼل کېږي او له ژبتوکمیز (اتنولېنګوېستیکي) پلوه ورسره یو نه شلېدونکی تاریخي او منطقي پیوستون لري.

دکتر محمد معین، فرهنګ فارس، ج ۵ ص ۸۴، ، مایر هوفر ۱۵۷ او ۱۲۰ مخونه، والتر بېلي ۱۳۲مخ او اړوندې سکالووې).

**قفقاز، کوکاس، انګریزي Caucasia، لاتین و یوناني Cauasus :**

دا د روسیې یو سوېل لوېدیز کورواکي جمهوریت دی چې د ختیځ له خوا د کاسپین او د لوېدیځ له خوا د تور سمندرګي تر منځه پروت دی. د قفقاز غرنۍ لړۍ دغه سیمه پر آریا شمال او ماورا یا سوېلي قفقاز وېشلې. د غرونو لوړتیا یې زیاتره ۲۷۰۰ متره او لوړ ستونځ یې "البرز" ۵۶۴۲ متره کېږي. قفقاز د نړۍ تر ټولو ګڼ توکمي سیمه ګڼل کېږي چې څه له پاسه ۵۰ بېلا بېل وګړ ډلې پکې اوسي (کولینز ډېکشنري ۲۵۱ مخ). قفقاز د کوکاس Caucas یا کوسکاس د "کاس غر" په مانا دی او کاس د ساك اوړېدلې بڼه ده چې هماغه آریاني تېر دی او نوموړی غر او سیمه ورپورې اړه لري یا په بله وینا په کاس نوموړی شوی دي، لکه په کاسپین، کاشغر، کاشمیر، کسې غر... کې. کاشمیر د ایراني خراسان یو ښار هم دی (معین ۴۷۶مخ). اوس په کوکاس کې څه له پاسه درې لکه اوسېتیان اوسي چې د پښتنو غوندې دلته په دې کتاب کې یو له ساکي یا سکه تېرونو څخه تر څېړنې لاندې نیول شوي دي.

(پر دې کتاب سربېره د کاظم جاجرمي لیکنه ۴۶۵مخ، معین ج۶ ص ۱۴۷۴).

د کوکاس ترنګ (ترکیب) د لومړي توك آره په ساکي Kαufaka* کې له ورایه برېښي چې د ختن- ساکي -kuvaa پر

بنستې بيا رغولی شوی دی. زړه پارسي -kaufa> منځنی يا پهلوي kōf> نوې پارسي kōh، اوستا -kaofa د غره شا، کوپ، کوپان، کوهان"، سوغدي qwp'n، ليتاوي kaupas "کوټه، ډېری" الماني Haufen (کوټه، ډېری)، انګليسي heap او داسې نور چې پښتو کوپ (شاکوپ)، کوپان (د اوښ کوهان) ورسره په يوه لړ کې ټيکاو نيسي. (براندنشتاين ۱۳۰مخ).

دا هم په زړه پورې خبره ده چې يو له درو ګونو نړيوالو توکمونو څخه چې ټول هندو اروپايي او سامي هغه پکې راځي، ققفازي caucasoid يا سپين توکم بلل شوی دی، دوی نورې بشري ډلې Mongoloid يا ژړ نژاد او Negroid يا تور نژاد نومول شوې دي. (Collins)

**کاسپين يا کسپين سمندرګی، انګريزي Caspian يوناني او لاتين Caspian:**

يو ستر مالګين ډنډ دی چې د سوېل ختيزې اروپا او لوېديزې اسيا تر منځ ټيکاو لري. غوره سرچينه يې والګا سيند دی او د نړۍ (په وچه کې راښکېل) د لوی ترين سمندرګي په توګه **۳۹۴۲۹۹** کيلو متر مربع سيمه را اخلي. (کولينز ډيکشنري **۲۴۵**مخ).

۱۸۰۰۰ کاله پخوا يې د کنګل پېر په پای کې له تور سمندرګي سره د کاظم جاجرمي پيوستون راغلی دی. (**۶۵**مخ) د څېړنې له مخې دغه نوم هم، لکه کوکاس (ققفاز له کاس =ساك) ټبر سره اړه لري. دغه ويي له کاس او پي pi رغېدلی چې دويمه برخه يې د ګېلګي او نورو ورځرمو ژبو کې د "اوبه: مانا را اخلي، په دې توګه د کاسپين Caspian ټوله مانا "سرزمين کاس های کنار آب نشين" ده.

د کاسپين نور نومونه دا دي: د خزر، ګيلان، مازندران، هيرکانيا، آبکون، قرقوم، قزاقيه سيند (دريا) او نور. د کاسپين سمندرګي چاپېر هېوادونه،ايران، تورکمنستان، اذربايجان، قزاقستان او روسيه دي.

کاسپین د کوکاس (ققفاز) غونډي لـه کـاس (ساك) سره اړوند بـرېښي کـه کوکاس Caucas د "کاشغر" او کسي غـر" غونډي مانا ښنـدي، نـو کاسپین Caspian کـڅوال کـاس "د اوبـو د غـاړې کـاس" مانا کـېدای شـي. (کـاظم جاجرمي ۴۶۵ ، ۱-۳-۴)

**کشمیر، کاشمیر** Kashmir:

دا د منځنۍ اسیا یـوه سوېل لوېدیـزه سیمه ده، چې لـه شپاړسـمې زېږدې پـېړۍ راهیسـې پـرې مغولـو، افغانـانو، سـیکهانو او انګرېزانـو یـو پـه بـل پسـې واکمنـي چلولـې او لـه ۱۹۴۹ راهیسـې د هنـد، پاکسـتان، تـر منـځ تـر شـخړې لاندې دی. ۸۴۰۰۰ کیلومـتره شـمال لوېدیـزه برخـه یـې د "ازاد کشـمیر" پـه نامـه د پاکسـتان، ۴۲۷۳۵ کیلـو مـتره ختـیزه برخـه یـې د چیـن او پـاتې برخـې یـې پـر ۱۹۵۶ کـال پـه رسـمي تـوګه د جمـو او کشـمیر ایـالت پـه نامـه پـه هنـد پـورې اړه پیـدا کـړې ده. لـه کشـمیر څخـه د هېمالیـا او کراکـروم (قراقـرم) غرنـۍ لـړۍ او جمـو او آباسـین (سـیند) سـیندونه را څرګندلـي دي. د ازاد (پاکسـتاني) کشـمیر منـځی مظفـر آبـاد او د جمـو – کشـمیر هغـه سـرېنګر دی، سـرېنګر (دوبـی) او جمـو (ژمـی) مانـا لـري. کولینـز ۸۳۴مخ) سـرینګر لـه آره "ښکلی ښار" مانـا لـري.

د پاکسـتاني پنجـاب د جېلـم (جلـهم) لـه ننداتـې پـه لاسـته راغلـي ډبرلیـك کـې څښتننـه Caştana یونـانـي Tiastanes د کشـمیر (کاشمیر) او شـاوخوا د دویمې زېږدي (میـلادي پـېړۍ د سـاکي واکمـن (ګورنـر) د نامـه پـه تـوګه دا را څرګنـدوي چـې کاشـمیر بـاید لـه آره "کـاس مـیر" اوسـي، څکـه "څښتننـه" هـم، لکـه مـورګن سـتېرني (۱۹۷۵لیکنه) چې نومېرلې، د مشر او میر مانا ښندي، لکـه څنګه چې کاشغر، کاسپین، کوکـاس (ققفـاز) یـا کسـی غـر... هـم لـه کـاس (سـاك)، سره اړونـد بـرېښي. د ایـران د خراسـان ایـالت یـوه ولسـوالي (شهرسـتان) کاشـمیر نومـېږي، همدارنـګه کاشـان او نـورو ایرانـي ځاینومونه دلته بې اړیکي نه بـرېښي.

اوسیتي یا اسیتي او آسي د اوسنی ساکي ژبې د نامه په توګه د ساکي له یوناني نامه Scyth څخه راغلی برېښي او د اوسیتیانو پخوانی نوم الانیان بیا له اریان سره سمون خوري او الانې هم د زړې یا منځنی اوسیتي ژبې نوم ښوول شوی دی.

د پېښور لرغونی نوم کسپاتور Kaspatur او د ملتان هغه کسپاپوره Kasyapapura (۴-۲-۲) هم له "کاس" یا په بله وینا "ساك" سره هم اړوند ګڼل کېدای شي، ځکه دواړه هندو ساکایي Indo-Schythian پېره راپاتې نومونه دي.

## منځنی پښتو یا منځپېرې پښتو (Middle Pashto):

له منځنی پښتو څخه موخه د منځني آریاني پېر (۲مې مز-۷مې ز) پښتو ده، چې د زړې پښتو (←) لور او د اوسنی پښتو مور وه او همدا راز د منځنیو آریاني ژبو (پهلوي یا منځنی پارسي، پارتی یا اشکاني پهلوي، سوغدي، خوارزمي، خوتني، خوتنی ساکي او کوشانی یا باختري) خور بلل کېده.

د استاد مورګن ستیرني (۱-۹-۴) دیوه الواك له مخې پښتو په دغه منځني پېر کې له پامیر څخه له خوتنی سیده نږدې اړیکې درلودې دي.

له بده مرغه د دغه نورو خویندو په توپیر له منځنی پښتو څخه په نومېرلې (مشخصه) توګه کوم متنونه او توکي تر اوسه لاسته راغلي نه دي، خو لکه څنګه چې له اړوندو شننو او په ځانګړې ډول د استاد مورګن ستیرني د۱۹۷۵ کال له یادې شوې لیکنې (←) څرګندېږي، منځنی پښتو باید په سوېلي افغانستان او بیا سیستان، هېلمند، غور، کندهار او یا هم د کسې (سلیمان) غره په شاوخوا سیمو کې له زړې پښتو را زېږېدلې وي او په ۷مه زېږدې پېړۍ کې یې په همدغه وروستي ټاټوبي (دکسې په لمنو) کې اوسنی پښتو را زېږولې اوسي. د ځینو نښو نښانو له مخې په دغه منځني پېر کې یو خوا باید هغه غږونجونه د پښتو نه برخه شوي وي

چې زاړه او لوېديز آرياني (ګ- د- ب) پر (غ- ل- و) را اوښتي، يا په بله وينا دغه اوښتنګ پېر و پړاو يې بشپړتيا ته رسېدلی اوسي. د داسې غرونج څرك له منځنيو آرياني خويندو ژبو په تېره باختري هغې څخه لګولای شو، څکه د سره کوتل په ډبرليك کې "شاد" "شال" کښل شوی او بګ، بغ (خدای) لکه په بغپور (فغفور) او داسې نورو کې. ونېڅي يا ترينو چې مورګن ستيرني (۷۵ ليکنه) يو زوړ ګړدود بللی، ښايي د منځنۍ پښتو له يادګارونو څخه وي. د جېلم (جهلم) د دويمې پېړۍ په را برسېره شوي ډبرليك کې ځښتنه Caṣṭana (يوناني Tiastanes) چې د يوه ساکي چارواك نوم يا ستاينوم او يا چارنوم په توګه د استاد مورګن ستيرني له خوا "مشر، واکمن، مير يا امير" په مانا وو را اخېستل شوی دی. د منځنۍ پښتو يوازينی توکی "ويی" دی چې په ليکنۍ بڼه را خوندي شوی دی. په دې ويي کې ګورو چې بنسټ دلته د پخواني <-شت- او لا پخواني <-rs- استازي کوي او په دې توګه دا رابښيي چې د اوسنۍ پښتو دغه غږ ونج لا په منځني پېر کې بشپړ شوی و او ښايي پخپله "پښتو" او "پښتون" وييونه له منځنۍ پښتو يا پېړۍ نيمه ورله مخه دغه بڼو ته راوښتي وي. د استاد مورګن ستيرني (۱۹۷۵) دپخوانيو ځاينومونو په لړ کې د خوست متون Matun د منځنيو پېړيو له Maštān* څخه منځته راغلی انګېري، مانا دا چې د منځنۍ پښتو -št-- پر t اوښتی دی هغه مهال mašt د غزني خو اته يو ښار و. بل لاسوند يې دا چې د مورګن ستيرني د شتنې له مخې پټهان Paṭhān د هندي ژبو د منځني پېر، يو شمال لوېديز پراکرېت ژبې له "پښتانه" څخه د paṣṭāna* په بڼه را خپل کړی دی او همدارنګه پښتو ته د هندي پوروييونو راګډېدل په همدغه پېر کې را پيل شوي او غبرګژبېزوالی retroflexion ورسره هم په همدغه پړاو کې بشپړ شوی بريښي. په ځښتنه کې يوازې داګرامري بدلون راغلی چې پر نرينه "ځښتن" اوښتی، په منځني پېر کې ښايي د ګډ نوريو (همجنسو) ستاينومو،

لکه ښایسته، نږه... غونډې کارول کېده. (اړونډو سکالوو ته دې مخه وشي).

**هندو اروپايي ژبنۍ کورنۍ Indo-European language familay**

د نړۍ د نژدې نيمو استوګنو مورنۍ ژبې په دې کورنۍ اړه لري او په دې توګه تر ټولو ستره ژبنۍ کورنۍ بلل کېدې. د تازه را برسېرونو له مخې د دې کورنۍ ګډه مورينه په اروپا کې نه، بلکې په اسيا کې د قفقاز يا په بله وينا د تور سمندرګي په شمالي جلګو کې له ننه څخه ناڅه شپږ زرې پخوا ويل کېده چې په درېيمه م ز زرۍ کې پر ګړودونو وېشل شوې او دغه ګړودونه بيا څلورو خواوو (آريانا، هند، ختيز تورکستان، اروپا) ته په څلورو ډلو کې لېږدېدلې دي: ۱- آريايي ارمنبي- يوناني ډله، ۲- بالتو- سلاو- ژرماني ډله، ۳- کېلتو- ايتالو- توخاري ډله او ۴- اناتولي ډله.

لومړۍ ډله ړومبی پر (زړې يوناني) او اريايي - ارمني) ډلګيو وېشل شوې او بيا آريايي (هندو آرياني) ډلګۍ پر آرياني او هندي (هندو آرين ډلګۍ)،او همداسې پسې نورو ډلو پر خپل خپل وار پر ډلګيو، او ډلګيو پر ډلککيو وېشنه موندلې ده. د آرياني ډلککۍ يا څانګې له پنځو زړو ژبو څخه دوې (اوستايي او ساکي) په ختيزو آريانيو (باختري) ژبو کې راڅي او درې نورې (زړه پارسي، مادي او زړه پارتي) په لوېديزو آريانيو (پارسي) ژبو کې.

په داسې حال کې چې د هند و آرين Iindo-Aryan لرغونې لاسوندونه په بودايي، هندويي او جېنېستي او د آرياني Arianian ژبو نبني نبناني په زرتشتي، ماني او (د ساکي په اړه) بودايي ديني متنونو کې راپاتې دي. له آرياني ژبو څخه اوستايي ژبه د زرتشتي سپېڅلي کتاب (اوستا) پر بنسټ تيکاو موندلی، زړې پارسۍ پر هخامنشي ډبرليکونو او زړې ساکی، پارتی او مادی پر يوناني سرچينو.

د هندو آرياني (آريايي) ژبنى ټاټوبى پيليځ (مبدا) يا مورينه په آريانا وېجه يا پخوانى باكتريانا كې انګېرل كېږي چې تر دويمې مخزېږدي زرى له مخه پر (آرياني) او (هندو آرين) ښاخونو هغه مهال وېشل شوې چې يوه ډله ويونكي يې د هند نيمې وچې ته ولېږدېدل او دغه وروستنى ښاخ‌ګه يې هلته را منځته كړه، هر ګوره د دغه وېش يا لېږد لاملونه لا پوره څرګند شوي نه دي.

(برتانيكا ۶ ټوك، ۲۹۵ -۲۹۶مخ، كابل مجله، دربېمه ګڼه ۱۳۷۰ له اړوندو انځورونو سره، دغه راز دې د كتاب اړوندو څپركو ته هم مخه وشي، همدا راز د هندو اروپايي ژبو لرغونى تاريخ، د زيار ژباړه، كابل مجله ۱۹۹۱ اګست، ستمبر ګڼه، ۱-۲۸مخ).

د غږونج (صوتي تغییر) له مخې د آریاني ژبو ډلبندي.

| ختیزه آریانا (افغانستان) | | لوېدیزه آریانا (ایران) | |
|---|---|---|---|
| شمال ختیزې ژبې پښتـو اوسـېتي او پامیري ژبې | شمال سوېل ختیزې ژبې پراچي، اورمړي | سوېل لوېدیزې ژبې، پرس، لودي بختیاري... | شمال لوېدیزې ژبې، کوردي، بلوڅي، تالیشي. |
| غ γ | g | g | g |
| و w/ و υ | b | b | b |
| ل l [ذ δ] | d | d | d |

(۱) لومړی لښتیلیك: هندو آریاني (هندو آرین یا هندو ایراني ژبې)




* د استاد مورګنستیرنې په نومېرنه (تشخیص) په نورستاني ژبو کې داسې بېواکغونډونه له هندو آریاني پېره را پاتې دي چې په ویدي کې راپاتې نه دي، دا د دې خبرې ژبات دی چې نورستاني ژبې د هندوآریاني تر وېش له مخه د هماغو له ګډ مونډه راپیلې شوې دي.

(۲) لښتلیک: آریائي (ایراني) ژبې



## جېمز دار مستېټر (James Darmesteter)

(۱۸۹۴-۱۸۴۹)

د ۱۸۴۹ د مارچ پر ۲۸مه په الزاس کې نړۍ ته راغلی او په پاریس کې د کندرسې د لېسې شاګرد و. پوهه یې د استادانو د پام وړ شوه او یوې داسې پوهنیزې ځانګې ته یې مخه کړه چې د پیاوړو ذهنونو له ښتنانو پرته ورته د نور چا دده نه لګېده او هغه ژبپوهنه او ختیځپوهنه وه.

روان فرهادي (۲۹۵مخ) په فرانسه کې د پارسي ادب ستر استاد هانري ماسې د ۱۹۵۴ په پسرلي کې د دار مستېټر په اړه دا لاندې یادونه را خوندي کړې وه:

"ما په ځوانۍ کې دار مستېټر پېژندلی و. له پړني (جسمي) پلوه یې دومره ښکلا او راښکون نه درلود او شاکوپی و، خو د هوښیارتیا او ذهني وړتیا له پلوه مو بل داسې ختیځپوه نه لاره!"

برخلیك داسې و چې جېمزدار مستېټر د خپل مهالپېر ډېر ستر اوستا پوهاند او د ختیزو ژبو، لکه پښتو، اوستا، زړې پارسۍ او نورو آریاني ژبو د تاریخ یو پیاوړی ځانګوال وګرځي.

پر ۱۸۷۷ کال یې په پاریس کې د دوکتورا پوړۍ لاسته راوړه او له همغه مهال راهیسې یې د ختیځ د ژبو او فرهنګ د یوه وتلي پوهاند نوم وګاټه. د سوربون پوهنتون د لوړو زده کړو د اوستا ژبې مرستیال استاد شو. پر ۱۸۷۷ یې "د ورمزد او اهریمن، د هغو آره او تېر مهال" تر نامه لاندې د زرتشتي دین په باره کې یوه رساله خپره کړه.

پر ۱۸۸۳ یې "آریاني څېړنې" نومی کتاب خپور کړ چې لومړی ټوك یې د پارسي ژبې تاریخ دی او په هغه کې د زړې پارسۍ،

اوستا او پهلوي تاریخ، ګړپوهه (مورفولوجي). ویي رغاونه. یا په بله وینا بېلنګ او ترنګ راغلي وو، د کتاب دویم ټوك یې د بېلا بېلو لیکنو یوه ټولګه وه، لکه د پارسي ادب تاریخ، دهند و آریاني ژبپوهنې پلټنې، اساطیر او افسانې، او د وړې (نوې) اوستا، سانسکرېټ (هندي) او پارسي ژباړې.

پر ۱۸۸۵ په ۲۶کلنۍ کې د فرانسې د ښوونیزو چارو لوړ ترېنې پوړۍ ته ورسېد او د "کلژ دو فرانس" پازوال استاد شو. په ترڅ کې د اسیایي ټولنې غړی او ډېر ژر یې منشي شو. دغه بری یې په ځوانه ځوانۍ کې په برخه شو او دغه کانه (اتفاق) په دې ښه پرېوت، ځکه برخلیك هم همداسې و چې هغه مهال یې د ژوند وروستۍ شپې ورځې تېرولې او مرګ ته ور نږدې شوی و.

دغه پرله پسې پرمختګ یې د دې لامل شو چې د فرانسې د اسیایي ټولنې او حکومتي چارواکو له خوا د ژبپوهنې د څېړنو لپاره هند ته واستول شول. د فرانسې حکومت له برتانیایي چارواکو غوښتنه کړې وه چې هغه ته اجازه ورکړي. څنګه چې یې علمي څېړونې له نوماندو برتانیایي هند پوهانو څخه پټې نه وې، نو انګرېزي حکومت یې له ټګ سره خپله منښته څرګنده کړه او په بېړۍ کې د هند پر لور وخوځېد. د ۱۸۸۶ له فبرورۍ د ۱۸۸۷ تر فبرورۍ (تر دویم افغان) انګلیس جنګ شپږ اووه کاله وروسته) یې په هند او پېښور کې استوګنه درلوده. لومړی یې په بمبیي کې له پارسي (زرتشتي) پوهانو سره د اوستا او زرتشتي دین په اړه علمي سکالووې تر سره کړې، بیا پېښور او هزاره سیمې ته ولاړ. د هزاره ولسوالۍ د منځۍ ابېټ آباد په چاونۍ کې یې پښتو څېړنې پر مخ یووړې او پښتو ژبې منشیان یې ښوونکي شول. روان فرهادي (۹۶مخ) په فرانسه کې د ژبپوهنې د لوړو زده کړو پر لومړي کال ۱۹۵۲ له خپل استاد ایمېل بنوېنېست څخه د دارمستېټر په اړه پوښتلي وو چې ولې یې افغانستان ته سفر ور نه وکړ، هغه ورته په

موسکا کې ویلي وو: "څه خام سوچ! هغه مهال هېڅ د افغانستان د دننه تګ نوم هومره پر خوله اخېستای نه شو، امیر عبد الرحمن خان د ژېپوهنې څېړنو ته څه ارزښت نه ورکاوه..."

هند او پښتونخوا ته د دار مستېتر سفر خورا ګټور پرېووت او د افغاني تاریخ له پلوه یې یو ډېر په زړه پورې کتاب وکېښ چې "د هند په اړه لیکونه" نومېږي. د دغه اثر په سریزه کې یې یادونه کړې چې د کتاب دغه سرلیك یې په دې ټاکلی و چې هغه مهال: اروپا په لوستیو وګړو کې د هند پوهنې لېوالتیا زیاته وه، که نه په سل کې اتیا د افغانستان د تاریخ او په تېره د افغان و انګلیس د دویم جنګ او په ځیایي پېر کې له برتانیایي هند سره د افغانستان د اړیکو او د پښتونخوا (پېښور او شاوخوا) پښتنو د ټولنیز، فرهنګي او سیاسي اکر بکر څرګندویه دی. د روان خبره دا یو داسې کتاب دی چې زموږ په هېواد کې یې ژباړه او څېړونه اړینه برېښي.

په دغه کتاب کې د ټولنیزو او سیاسي سکالوو په اړه د دار مستېتر د لیدو کتو ځواك او له افغان ولس سره یې د زړه له کومې مینه او لېوالتیا ښه ترا ځلېدلې او د پوره ستاینې وړ دي.

بل کتاب چې دار مستېتر کښلی او پر ۱۸۸۷ په پاریس کې چاپ شوی دی، "په هندوستان کې د ژېپوهنې د ګومارنې (ماموریت) ګزارش" نومېږي او د پېښور او شاوخوا پښتو ژبیو سیمو د بېلا بېلو ګړدودونو په برخه کې یې په زړه پورې څرګندونې وړاندې کړې دي.

بل غوره او ځانګیز (مسلکي) کتاب یې "د افغانانو ژبه" نومولی دی چې د پښتو غږپوهې، ګړ پوهې، آر پوهې او د دغې ژبې د آرې (منشاء) په اړه بېلا بېل الوکونه را اخلي. دار مستېتر د اداري او حسابي چارو له مخې اړ ووت، دغه خپلواك اثر له "هار و بهار" کتاب سره په یوه ټوك کې له چاپه را وباسي، که نه په هار و بهار

ACKU

کې پښتو ولسي شعر و ادب راغلی او له ژبپوهنې سره سم وسیده اړیکی نه لري.

روان فرهادي په خپل ژباړلي کتاب (تاریخ تلفظ و صرف پشتو) کې د دار مستېټر د نومړي کتاب د ژپوهنې یوه برخه را اخیستې ده. د دغه اثر پښتو سرلیك "د پښتونخوا د شعر هار و بهار" ټاکل شوی و.

د دار مستېټر بل کتاب "د افغانانو تاریخ او آره" نومېږي په دغه کتاب کې یې د یوناني تاریخ پوهانو یادونه کړې او په ساماني، غزنوي او غوري پېر کې یې د افغانانو (پښتنو) په اړه ارزښتمنې څرګندونې وړاندې کړې او دا انګېرنه یې هم را مخته کړې چې "د خلجي" او "غلجي" وییونه سره هممانیز او همآري دي(!) په هند کې یې د تورکي آرو تغلقیانو، تیموریانو او بیا لودیانو، بابر، سوریانو، غلزیانو، درانیانو او بارکزیانو په اړه د تاریخي خبرتیاوو او سکالوو یو لنډیز وړاندې کړی دی. دا چې غلجي او خلجي یې سره یو ګڼلي، ښایي د دارمستېټر له پښتني مینې یې سرچینه اخیستې وي، خو نه د راوروسته لنډ اندو غوندې په دې موخه چې ټول پښتني غلجي ټبر خلجي تورك وښیي، بلکې په سرچپه ډول یې دا هڅه کړې چې خلجیان هم پښتانه زبات کړي. هغه مهال لاژبني څېړنې او ژبپوهنه او په ځانګړي ډول آرپوهه، ویې پوهه او مانا پوهه دومره پر مخ نه وه تللې چې د ټکرویيونو accidental words جاج (مفهوم) په پام کې ونیول شي.

سره له دې چې په پښتو کې د نوې ژبپوهنې پیلامګر همدغه ډېر کاری دارمستېټر بلل شوی دی او لومړی ځل یې پښتو غږ پوهه، ګړپوهه او آرپوهه تر ډېر ځایه له نویو آرونو سره سمې کښلې دي او د هغو په رڼا کې یې پښتو په غوڅه توګه آریاني او بیا شمال ختیزه آریاني، هغه هم اوستا او یا یوې بلې ژبې ته نژدې زباته کړې ده.

د دار مستېټر یوه بله رساله "د افغانانو د خلکو ادب" نومي چې په هغه کې لیکلی پښتو ادب، لکه د پیر روښان خیر البیان، د درویزه مخزن الاسلام، د پښتو کلاسیك شعر، لکه د خوشال خان دېوان او یو لړ ژباړې چې له نورو ژبو څخه په پښتو کې تر سره شوې، تر سکالو لاندې نیولې دي. دغه راز یې په دغه ټولګه کې د ولسي شاعرانو یو لړ بېلګې، لکه غزل، چاربیتې او بدلې او نورې اړوندې ادبي سکالووې رااخېستې او په ترځ کې یې د یو شمېر ټولمنلیو ولسي شاعرانو نوملیك هم ورسره ملګری کړی چې هغه مهال یې په پښتونخوا کې پوره منښت او ګرانښت درلود. دار مستېټر همدغه وروستی برخه د "هار و بهار" کتاب په سر کې هم راخېستې ده. (د فوکلور مجلې د ۱۳۵۶ چنګاښ ګڼه دې په دغه اړه وکتل شي، همدارنګه دې د هار و بهار هغه پښتو متن ته هم مخه وشي چې په همغه پښتو نامه پر ۱۹۷۷ کال په کابل کې د حبیب الله رفیع په زیار په جلا توګه چاپ شوی دی.)

څنګه چې د پښتو په اړه د دار مستېټر آثار په فرانسي ژبه وو، نو تر ډېره پورې ورته د لرو او برو پښتو پوهانو پام نه و شوی. په امانیه پېر کې عبدالوهاب طرزي ږومبی افغان وچې د خپل نومیالي پلار علامه محمود طرزي د فرانسې د سفارت پر مهال یې "د پښتونخوا د شعر هار و بهار" پر لاس ورغلی اولوستی و.

جېمز دار مستېټر له نورو ګټورو کتابونو څخه چې د خپل لنډ، مګر ببرور ژوند په وروستیو کلونو کې یې چاپ ته سپارلي وو، یو یې هم پر ۱۸۹۲ کال د "اوستا" د کتاب بشپړه فرانسي ژباړه وه چې له تاریخي او ژبوهنیزو لمنلیکونو او پایخوړونو سره یې کره کړې وه. دغه ستر کتاب له ټولو نورو فرانسي او الماني او نورو ژبو ژباړو سره سره تر اوسه بې ساری بلل کېږي.

دارمستېټر پر ژبنیو او ژبپوهنیزو لیکنو څېړنو سربېره له سیاسي او ټولنیزو سکالوو او د ټولو دینونو له تاریخ سره هم پوره لېوالتیا درلوده او یو لړ رسالې، کتابونه او همدا راز یې نورې

ډېرې ګټورې لیکنې پرې د فرانسې د هغه مهال په دوو "رېویو کرېتیک" او "رېویو دوپاریس" مجلو کې خپرې کړې وې.

د دغه ستر پوهاند او ځېړاند پېبرور او ګټور ژوند چې یوه زیاته برخه یې افغانانو ته ځانګړې کړې وه، ډېر ژر، د ۱۸۹۴ د اکتوبر پر نولسمه پای ته ورسېد. تر ده را ورسته یو ختیځپوهاند هم دومره ښېلا ښېلې پراخه هلې ځلې نه دي کړې. داسې چې له هغه را وروسته ختیځپوهنه هم پر ښېلا ښېلو څانګو، یا په بله وینا پر ژبپوهنه او ختځپوهنه ووېشل شوه او څانګوېش منځته راغی.

دار مستېتر بې له شك و شوپیا نه د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې د اروپا د ختیځپوهنې او ژبپوهنې ځلاند ترینه څېره وه او په دغه برخه کې یې هر اړخیز کارونه ښساري ارزول کېږي. او تر تولو وروسته یې هغه څه چې په لوېدیځ کې د پښتو غږ پوهې، ګړپوهې او آر پوهې او بیا پښتو وګړنې ادب په اړه هغه مهال کښلي دي، د یوه نبوغ ښکارندويي کوي.

که رښتیا هم دغه ډېر کاري او نابغه کاري ختیځپوهاند د ګایګر یا استاد مورګنستیرنې هومره ژوند کړی وای، خدایزده د پښتو پوهنې او پښتني تاریخ و فرهنګ په ګډون به یې څومره نورې ګټورې څېړنې پلټنې د ختیځپوهنې پر زېرمه ور زیاتې کړې وای!

(روان فرهادي، ۲۹۵-۲۹۷مخ).

# وېلهلم ګایګر W. Geiger

(۱۸۵٦-۱۹۴۳)

دغه نومیالی آریانپوهاند او پښتو پوهاند د ۱۸۵۶ کال د جولای پر ۲۱مه د آلمان په نورنبورګ کې زېږېدلی دی. پلار یې



یوهانز لیونارد ګایګر یو پروتستان ستانه او مور یې د یوه رښتپوه (حقوق پوه) لوره وه. ځواني یې په برلین او بن کې د هندو اروپایي او ختیزو ژبو پر څېړنه تېره کړه او د فون شپیګل شاګرد و. د ژوند دغه کلونه یې په اروپا کې د ژبپوهنې او جوتو (مثبتو) پوهنو له پرمختګ سره همغاړه وو او د پوهانو او بیا د الماني ژبپوهانو او ختیځپوهانو چاپېریال په اروپا کې د ژبپوهنې غور ترینه منځی بلل کېده.

وېلهلم ګایګر په ځوانه ځوانی کې خپله ورتیا وښووله، پر ۱۸۷۸ کال یې د ښوونکي پوړۍ تر لاسه کړه، پر ۱۸۸۰ کال د ښوونځي استاد شو او کال وروسته یې واده وکړ. پر ۱۸۸۴ کال په مونشن کې پر ښوونه بوخت شو او نوماند کتاب یې "د اوستا آریاتوبی او ژبه" خپور شو.

په ۱۸۸۶ یې په انګرېزي ژبه اوستا ژبه او زرتشت، نومی کتاب خپور کړ چې د بمبیي په پارسیانو کې یې د اوڅارتیا لامل شو. په هماغه کال یې د "پخوانی ایران ختیز فرهنګ" په نامه یو بل کتاب په انګریزي ژبه په لندن کې له چاپ رااووت.

ویلهلم ګایګر په هماغه ځوانی کې لا د المان له پامړو اوستا پوهانو او تاریخپوهانو څخه وګڼل شو او په ترڅ کې یې د تولیزې ژبپوهنې څېړنې پر مخ بوتلې، په ۱۸۹۱ کال په اولانګن ښار کې له پنځه دېرش کلنی سره د هندو اروپایي ژبو استاد شو او راوسته یې په مونشن کې ښوونه پر مخ یوړه. په ۱۸۹۴ کال یې فرهنګیالی پلار په ۷۴ کلنی کې له نړۍ سترګې پټې کړې. ویلهلم ګایګر یو کال وروسته د ختیځ خوا ته بېړۍ کې وخوځېد او لومړی ځل د سرېلانکا او هند پر کتنه بریالی شو.

له ۱۸۹۵ تر ۱۹۰۴ یې له کون Khun سره یو ځای "د ایراني ژبو بنستیونه" نوماند کتاب وکښه چې یوه برخه "د افغانی آر پوهه او غږپوهه "Etymolologie undLautlehre des Afghanischen" رساله وڅې په مونشن کې پر ۱۸۹۳ کال له چاپه راوتې وه. ګایګر دغه کتابګوټی پر دوو برخو وېشلی دی: ړومبی برخه "د پښتو ۳۸۹ غوره وییونه رااخلي چې له اوستا او نورو زړو ژبو سره یې پرتله کړي دي. دغه برخه استاد مورګنستیرني له نورو زیاتونو سره بشپړه کړې او هماغه پښتو آرپوهنیزه وییپانګه An Etymological Vocabulary of Pashto یې را منځته کړې چې پر ۱۹۲۷ کال یې په وسلو کې پر چاپ رسولې ده. استاد مورګنستیرنې د پاسلنې له مخې خپل دغه اثر په ټول درناوي سره ویلهلم ګایګر ته ډالی کړی دی.

د ګایګر د کتابګوټي دویمه برخه د پښتو غږ پوهنې (فونولوجی) ته ځانګړې شوې او په دې ترڅ کې یې د دارمستېتر ټول هغه څه چې پر ۱۸۹۰ کال یې د پښتو په اړه د خپلې رسالې په لومړي څپرکي کې وړاندې کړي وو، تر زیاتې او نوې کتنې څېړنې

لاندې ونیول او هغه یې د پوهنیزې څېړنې د یوې غورې بېلګې په توګه د پوهې نړۍ ته وړاندې کړه، پر دغه کال دار مستېتر ژوندی و.

د ګایګر د رسالې دغه برخه روان فرهادي له الماني څخه پارسي ته را اړولې او د "تاریخ تلفظ و صرف پشتو" تر سرلیکلاندې یې په دوه ټوکیز ډول پر ۱۹۷۷ کال د کابل پوهنتون په چوکاټ کې له چاپه راکښلې ده.

تر اوسه هېڅ یوه پوه د پښتو تاریخي غږپوهې په اړه د ګایګر لیکنې تر بشپړې نوې کتنې لاندې نه دي راوستې، تش استاد مورګنستیرنې یې د خپلو یو لړ لیکنو او پښتو آرپوهیزه وییپانګه کې ځینې څرګندونې تر غور و څېړنې لاندې نیولې چې یوه برخه یې روان فرهادي په خپل ژباړلي اثر کې را خوندي کړې ده. ویلهلم ګایګر په ورته ډول د بلوڅي په آر پوهه او غږ پوهه کې هم څېړنې کړې دي چې په خپله یاده شوې ټولګه کې یې را اخېستې او تر اوسه د خورا ښو څېړنو په توګه له غورو اخځونو څخه ګڼل کېږي او له الماني څخه بلې کومې ژبې ته را ژباړل شوې نه دي.

د ویلهلم ګایګر په ژوند کې یوه هېښنده پېښه هم دا وه چې په ۴۹ کلنۍ، یا په بله وینا په ۱۹۰۵ او ۱۹۰۶ کلونو کې د بایرن (باوریا) ایالت پارلماني غړی شوی او د ناسیونال لېبرال ګوند غړیتوب یې هم تر لاسه کړی و. هرګوره، دغه راز پېښې، یا په بله وینا سیاسي بوختیا یې دومره پایښت نه دی موندلی او په ټولیز ډول یو ختیځپوهاند او آریانپوهاند پاتې شوی دی.

دوه ځله یې واده کړی و او له لومړنۍ مېرمنې څخه یې دوه زامن او پنځه لوڼې درلودل. ګایګر له ۱۹۲۰ تر ۱۹۲۴ په مونشن پوهنتون کې د اوستا، سانسکرېت، پراکرېت او پالي ژبو په ښوونه بوخت و او د مورګنستیرنې په ګډون یې ډېر نومیالي شاګردان په

ببلا ببلو ختيځپوهنو کې د پوهې او فرهنګ نړۍ ته وړاندې کړي دي.

ګايګر که څه هم په ۶۸ کلنۍ کې کوړناستی شو، خو خپلو څېړنو پلټنو ته يې پای ټکی کېښی نه ښووه او د سرېلانکا د سنهالي ژبې او فرهنګ په اړه يې خپلې علمي هاند و هڅې پر مخ بيوولې. پر ۱۹۳۱ کال يې په زړبوډۍ کې د سيلون انګرېزي حکومت په غوښتنه د سنهالي سيند (قاموس) په کار او څېړونه کې کارنده ونډه واخېسته او په دې لړ کې يې د پالي ژبې له سرچينو څخه په ګټه اخېسته د سريلانکا تاريخ په انګريزي ژبه په لندن کې خپور کړ. له دې کبله په سريلانکايي پوهانو کې د ګايګر نوم پوره درنښت پوره او يا يې ژوندی ساتلی دی. پر ۱۹۴۱ يې سنهالي آرپوهه او پر ۱۹۶۰ د سريلانکا د منځنيو پېړيو د تاريخ او فرهنګ په اړه کتاب په انګريزي ژبه له چاپ راووتل.

ګايګر د فاشيزم په برم او برې، يا په بله وينا دويم نړيوال جنګ کې لاژوندی و او د ۱۹۴۳ دسمبر پر دويمه د ۸۷ کلونو په منګ مونشن ته په څېرمه نورنبورګ کې له نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

په هره توګه ګايګر د ځوانۍ د مهال د پښتو څېړنو ګرده پاتمړې (ميراث) استاد مورګنستيرنې ته پرې ايښې و او هغه هم پرې د خپلې پښتو آر پوهې بنسټ کېښوده او خپلې څېړنې پلټنې يې پرې ور زياتې کړې، ويلهلم ګايګر له پولنډي برنارد ګايګر (زوکړه ۱۸۸۸) سره ګډول په کار نه دی، که څه هم دغه وروستي هم پر اوستايي څېړنو لاسبری درلود. خو له آره پولينډی و او له ويلهلم ګايګر سره يې نور هېڅ آره او کورنۍ ګډه نه وه.

دا هم د ويلهم ګايګر په اړه د هغه د خپل زوی دوکتور رودولف ګايګر يوه لنډه يادنامه چې روان فرهادي ته يې پر ۱۹۷۷ کال د اړوند اثر د ژباړې د خپرونې پر مهال له يوه عکس سره ورلېږلې وه:

"زما پلار یو زیارکښ او هڅاند سړی و. سهار وختي له خوب پاڅېده، شپې ناسته یې زغملای نه شوه او ماخوستن وختي ویدېده. سیال وړچکر یې هېڅکله نه پرېښووه، ان په زړبودۍ کې یې هم پلي ګرځېدنه خوښېده. د طبیعت لېوال و. د بایرن په ځنګلونو کې ګرځېده. زه او ورونه او خویندې یې هم ازاد طبیعت ته هڅولو. د پوهې او لوستنې مینه وال و. پر ژبپوهنې او ختیځپوهنې سربېره یې د خپل مهال پر دودو پوهنو پوره لاسبرې درلود او مونږ ته به یې هم ډېر څه راښوول..."

د ګایګر د ژوند لیک یو لنډیز او د اړوند پښتو اثر له عکاسي شویو برخو سره د پلوشې مجلې دُ ۱۳۵۶ کال په لومړۍ ګڼه کې هم د لوستلو وړ دی. (روان فرهادي، ۳۰۱-۳۰۴مخ).

# ګیورګ مورګنستیرنې Georg Morgenstierne
## ۱۸۹۲-۱۹۷۸

استاد ګیورګ مورګنستیرنې د ۱۸۹۲ د جنورۍ پر دریمه د ناروې د پلازمېنې وسلو په بندر کې نړۍ ته راغلی، لاتیني او



یوناني یې زده کړې او پر ۱۹۱۰ یې په اتلس کلنۍ کې له خپل هېواد وال استاد (ستن کونو) سره د سانسکرېت پر زده کړه پیل وکړ. کونو یو له هغو نومیالیو ختیځپوهانو څخه و چې د ساکه ژبې په اړه یې ځانګړې څېړنې کړې دي. استاد مورګنستیرنې د خپل دغه استاد په زړه کې دومره ځای ونیوه چې په ځوانۍ کې یې زوم هم شو.

پر ۱۹۱۴ کال په دوویشت کلن منګ کې مورګنستیرنې د خپلو زده کړو د پر مخوړنې لپاره المان ته ولاړ. تر هغه مهاله یې سوچ کاوه چې "هندپوه" به شي او دا یې په خوا او خاطر کې هم نه ګرځېده

چې یوه ورخ به د افغانستان د ژبو او بیا پښتو تر ټولو ستر ځانګړ پوه ( متخصص) شي. د بن په پوهنتون کې له استاد یاکوبي سره د هند د فلسفې پر زده کړه بوخت شو.

د خپلې خولې خبره یې ده چې وایي: ځوان وم او له څکونې سره روږدی نه وم، استاد یاکوبي د ښوونې په ترڅ کې راته له ډېرې لورېینې د یوه پېر سیګار ست وکړ، د ادب له مخې مې هغه ولګاوه او پر څکولو مې پیل وکړ، په دغه شېبه کې راڅخه استاد یاکوبي د ویدا د فلسفې په اړه یوه ګرانه پوښتنه وکړه، په مات مخ مې ور غبرګه کړه، د سیګار لوګی او د ویدا د فلسفې شننه، او هغه هم په الماني ژبه، ټول پر یوه مهال لازما له توانه بهر دي او موږ دواړو وخندل.

استاد مورګنستیرنې په برلین پوهنتون کې د پروفیسور لیو درز تر لارښوونې لاندې د سانسکریت ادب په یوه سکالو کې دوکتورا تر لاسه کړه. دغه مهال د ۱۹۱۸ نومبر و او له الماني ټولواکمنۍ سره لومړۍ نړېواله جګړه پای ته رسېدلې وه، نو استاد مورګنستیرنې د ډاکټري بریلیك د لاسته راوړنې لپاره تر هغې سترګې پر لار پاتې شو چې د المان جمهوریت په نامه نوي بریلیکونه له چاپه راووتل.

پر همدغه کال استاد مورګنستیرنې غبرګ بري تر لاسه کړل. یو یې ډاکټري بریلیك تر ګوتو کړ او بل یې هم، لکه چې له مخه ورته نغوته وشوه، د خپل هممهوادي استاد کونو له لور سره واده وکړ. وروسته په وسلو کې پر ښوونه بوخت شو. بیا یې د المان په ګوتینګن کې د نوماند ختیځپوهاند استاد اندریاس تر مشرۍ لاندې د افغانستان او ایران د تاریخي ژبو په اړه څېړنې پیل کړې. پر ۱۹۲۱ کال یې د پښتو څېړنې په برخه کې لومړنۍ ګامونه واخېستل. له هماغه مهال راهیسې نور پوه شو چې پای موخه یې د لرغونې هند د فلسفې څېړنه نه، بلکې د غرنۍ افغانستان د زړو اونویو ژبو څېړنه پلټنه ده. دېرش کاله لاتېر شوي نه وو چې

مورګنستیرني د ټولو پښتو پوهانو او د افغانستان د نورو ژبو د پوهانو سر لاری شو.

